العلامة شيخ ابن باز

د کتابونو څخه په عقیده او لمانځه او زکاة او روژه او حج او اذکارو کښې اعلی فائده مند غور چې

ترجمه: عبدالحليم محمد فاروق الأفغاني
نظر ثاني: مطيع الله محمد فاروق

د شیخ عبد العزیز بن باز د خیر خیګړموسسي
د علمي
کمیټی د نظارت لاندی چاپ کړي شوي

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بسلطانة
تحت إشراف وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد

سلطانة
Sultanah

د العلامة شيخ ابن باز

د کتابونو څخه په عقیده او لمانځه او زکاة او روژه او حج او اذکارو کښې اعلی فائده مند غور چې

ترجمه:

عبد الحليم محمد فاروق الأفغاني

نظر ثاني: مطيع الله محمد فاروق

د شیخ عبد العزیز بن باز د خیر خیګړمؤسسي

د علمي

کمیتی د نظارت لاندی چاپ کړي شوي

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد بسلطانة ، ١٤٣٦ هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

بن باز ، عبدالعزيز بن عبدالله

المجموع المفيد الممتاز للعلامة ابن باز باللغة بوشتو / عبدالعزيز بن عبدالله بن باز ؛ عبدالحليم محمد فاروق - الرياض ، ١٤٣٦ هـ

٥٤٠ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك: ٣-٥٣-٨٧١-٩٩٦٠

١- القرآن - السور والآيات - ٢- القرآن - تفسير

أ- فاروق ، عبدالحليم محمد (مترجم) ب- العنوان

ديوي ٢٢١،٢ ١٤٣٦/٣٩٨١

رقم الايداع: ١٤٣٦/٣٩٨١

ردمك: ٣-٥٣-٨٧١-٩٩٦٠

دمترجم سریزه

الحمدلله الذي هدانا لهذا وماكنا لنهتدي لولا أن هدانا الله، ثم الصلاة والسلام على نبيه المصطفى ﷺ وعلى آله وأصحابه أجمعين،

وبعد:

دا کتاب چې د (المجموع المفيد الممتاز...) په نامه یادیږي چې د توحید دعقیدي او لمانځه او روژي او زکات او حج او دعاګانو او ذکرونو په بابله یوه دهغوارزښتناکو کتابونو څخه دي چې لوستل یې اوځان پوه کول پري ډیرمهم کاردي،اوله دي پلوه چې مؤلف ورپکي دتوحید عقیدي او لمانځه او روژي او زکات او حج أحکام او مسائل ډیر په لنډ او اسان أسلوب ـ چې عوامو لپاره مناسب دي ـ بیان کړي، او بل دا چې دتوحید عقیده دمسلمان په ژوند کښې ډیر زیات أهمیت لري ځکه که عقیده یې صحیح وي نو دغه نور ټول پور ته ذکر شوي عملونه یې قابل قبول دي، او که داسي نه وي نو هم په دنیا او هم دقیامت په ورځ دتاوانیانو څخه دي؛ نو ځکه مي دا خوښه وشمیرله چې دا کتاب پښتو ژبې ته ترجمه کړم تر څو ورڅخه عام پښتانه ورونه د خپل حاضراو مستقبل لپاره ګټه او فائده

واخلي، اودخپلو عقیدو دتصحیح کوښښ وکړي، او همدارنګه دغه نور عبادتونه د پیغمبر علیه السلام د نقش قدم او سنت طریقي موافق اداء او تر سره کړي، اوالله تعالی پرې مونږ ته اجر اوثواب راکړي،او په اخر کښې زه عبدالحلیم بن محمد فاروق ددي کتاب ترجمه خپل مور پلار اودواړوکور ودانو او ورنو اوخویاندو ته هدیه کوم. او ستاسي محترمو لوستونکو څخه ددعاء او په ترجمه کښې د خطائي او غلطي داصلاح په انتظار یم.

ستاسي ورور/ عبد الحلیم بن محمد فاروق الأفغاني.

ج/ ٠٥٥٩٧٥٧٥١٤ Email: a-haleem1979@hotmail.com

د علمي کمیټي سریزه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده وبعد:

د شیخ عبد العزیز بن باز د خیر خیګړی په مؤسسي کښې علمي کمیټي لره مناسبه ده چې د لوستونکي په وړاندی دغه فائده مند غورچنګ کیږیدي چې د علامة: الشیخ ابن باز د کتابونو اعلی فائده مند غورچنګ - په عقیده او لمانځه او زکاة او روژه او حج او اذکارو - په نوم نومول شوي، چې ځني ورونو دغه راجمع او تیار او ترتیب کړي، چې د هر مسلمان سړي او مسلمانی ښځی لپاره په دیني او دنیاوي مهمو فائدو باندی مشتمل دي.

د الله تعالی څخه غواړو چې هر هغه چاته د خیر بدله ورکړي چې ددی کتاب په راخرګندونه کښې یې کوشش کړی،او همدا راز دي زمونږ د شیخ/ عبد العزیز بن باز أجر او ثواب ډیر کړي، او د هغه فتواګانې دي علم نافع وګرځوي چې په قبر کښې ورته پري اجر او ثواب رسیږي، او دا چې الله تعالی مونږ او لوستونکي په جنت کې د محبوب محمد ﷺ او د هغه د صحابو سره او زمونږ دشیخ سره مونږ یو ځای کړي.

د شیخ عبد العزیز بن باز - رحمه الله- دخیر خیګړی په مؤسسه کښې د علمي کمیټه لخوا

د إسلامي فقهي د أهميت بيان [1]

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على نبينا محمد الصادق الأمين، وعلى آله وأصحابه ومن سلك سبيله واهتدى بهداه إلى يوم الدين أما بعد:

بيشكه د إسلامي أحكامو او فقهي دليلونو پيژندل، او د إسلام د هغو فقهاؤ پيژندل چې هغوي ته په دى هكله رجوع كيدائي شي، د هغو مهمو كارونو څخه دي چې علماؤ ته په دغه اهتمام كول ، او خلكو ته يې بيانول پكار دي ؛ ځكه الله تعالى إنسانان او پيريان خپل عبادت لپاره پيدا كړي دي، او دعبادت پيژندل ممكن نه دى مګر د إسلامي فقهي او د هغې د دليلونو او د إسلامي أحكامو د دليلونو په پيژندلو سره، او دا كار نه ترسره كيږي مګر د هغو علماؤ په پيژندلو سره، چې په دى جانب كې په هغوي باور اواعتماد كيدلاي شي، چې هغوي د حديثو او إسلامي فقهي إمامان دي.

---

(١) دا تقرير شيخ ابن باز: د رياض نښار په الجامع الكبير (مسجد) كې په دى تاريخ ١٤٠٠/٤/٢٧هـ باندې كړى دى، او د هغه په كتاب (مجموع فتاوى ومقالات متنوعة) نهم جزء صفحة/١٢٨ - ١٤١ كې هم نشر شوي دى.

نو د پيغمبرانو وارثان علماء دي، او پيغمبرانو دوي ته په ميراث کې دينار او درهم نه دي پريښي، بلکي دوي ورته بيشکه چې په ميراث کې علم او پوهه پريښودلي ده؛ نو چا چې دا پوهه او علم د ځان سره واخستلو نو پوره برخه يې واخيستله، او د بنده د خوشحالي د أسبابو څخه او د کاميابی او خلاصي د علامو او نښو څخه دا ده چې د الله تعالى په دين کې فقه او پوهه حاصله کړی، او دا چې په إسلام کې فقيه او پوهه وي، او د الله په دين کې ماهر وي، د هغه څه په رڼا کې چې قرآن کريم او د پيغمبر په سنتو(حديثو) کې راغلي وي، او الله رب العزت د علماؤ شان بيان کړی او درجې ورلره اوچتي کړي، او دوي الله تعالى او د هغه شريعت پيژني، او په هغه څه عمل کوي چې د الله تعالى او پيغمبر له طرفه راغلي وي، او دوي د هدايت او لارښودني علماء دي، او په تورو تيارو کښې ډيوې دي، او دوي د الله تعالى په کتاب او د پيغمبر ﷺ په حديثو پوهه خلك دي، اودوي هغه څوك دي چې الله تعالى د دوی په هکله فرمايلي دي: ﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِٱلْقِسْطِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ [آل عمران: ١٨].

ترجمه: الله تعالى بيان كړى دى چې نيشته حقدار د بندګئ سيوا د هغه څخه، او ملائك او علم والا كلك دي په انصاف، نشته حاجت پوره كونكي سيوا د الله تعالى څخه، زورور او حكمتونو والا دى.

او فرمايلي دي: ﴿يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ﴾ [المجادلة: ١١].

ترجمه: الله تعالى پورته كوي مؤمنانو لره ستاسو څخه، او هغه كسان چې علم وركړل شويدي په ډيرو درجو سره.

او فرمايلي دي: ﴿إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُاْ﴾ [فاطر: ٢٨].

ترجمه: بيشكه د الله تعالى د بندګانو څخه د هغه نه عالمان ويريږي.

او د نبي ﷺ نه صحيح حديث راغلي دى چې فرمائي: "من يرد الله به خيراً يفقهه في الدين"، (او په صحيح والي اتفاق دى).

ترجمه: په چا چې الله تعالى د خير إراده وكړي نو په دين كې يې ورته پوهه وركړي.

نودا عظیم حدیث مونږ ته په دین کې د فقهي او پوهي فضیلت را په ګوته کوي. او په دین کې پوهه او فقه: دا د الله په کتاب پوهه ده، او دا د پیغمبر په حدیثو پوهه ده، او همدا په إسلام پوهه ده؛ د شریعت د اصلیت له جهته، او د الله د هغو أحکامو له جهته چې په بنده یې واجب کړي دي، او د الله تعالی له ویري او لویې او ځارني له جهته؛ ځکه چې د علم او پوهي بنیاد د الله ځخه ویره ده، اود هغه د مقرراتو لویې کول دي، اوالله تعالی په هغه څه کې حاضر او ناظر شمیرل چې بنده یې کوي، اویا یې پریږدي؛ نو چاکې چې دالله تعالی ویره اومراقبت نه وي؛ نو علم لره یې هیڅ ارزښت او قیمت نشته، او بیشکه چې علم نافع او په دین کې هغه پوهه او فقه چې هغه د خوشحالي نښه او علامه وي، هغه هغه علم دی چې په علم درلودونکي کې د الله له ویري تأثیر کوي، او ده ته د الله تعالی د حرمتونو او مراقبت لوي والي او تعظیم ورپه برخه کوي، او د فرضونو أداء کولو او د حرامو پریښودلو ته یې مجبوره کوي، او الله تعالی طرف ته په دعوت او بلنې یې مجبوره کوي، او دالله تعالی بندګانوته یې د شریعت په بیانول مجبوره کوي، نو چا ته چې په دین کې فقه او پوهه ورکړي شوه په دی

طریقه؛ نو همدغه دلیل او نښه او علامه ده په دی چې الله تعالی پرې د خیر اراده کړی ده، او څوك چې ددی څخه محروم شو، اود ناپوهو او ګمراهانو څخه وګرځیدلو، چې په دین کې د پوهې څخه مخ اړونکي وي، او د هغه څه د زده کړې څخه چې الله تعالی پرې واجب کړي دي، او په هغه څه کې د نظر او سوچ فکر کولو څخه چې الله پرې حرام کړي دي؛ نو دا د هغو دلیلونو څخه دي چې الله تعالی پرې د خیر اراده نه ده کړی، او په تحقیق سره الله رب العزت د کافرو صفت د هغه څه څخه په مخ اړولو بیان کړی چې دوي د هغه لپاره پیدا کړی شوي دي، او د هغه څه څخه چې خبرداري یې ورته ورکړې شوي دا زمونږ د خبرولو په خاطر، او دا چې په مسلمان واجب دي چې د الله تعالی دین ته مخه کړي او پوهه ورپکي حاصله کړي، او د هغه څه پوښتنه وکړي چې ورته مشکل او سخت وي، او ځان پرې خبردار کړي، الله تعالی فرمائي: ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَمَّآ أُنذِرُوا۟ مُعْرِضُونَ ﴾ [الأحقاف: ٣].

ترجمه: او کافران د هغه څه څخه چې دوي له پرې ویره ورکیدلای شي مخ اړونکي دي.

او فرمائي: ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِىَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ﴾ [الكهف: ٥٧].

ترجمه: او څوك لوي ظالم دى د هغه چا څخه چې ورته ياد كړل شي آياتونه د رب دده؛ نو مخ واړوي د هغى څخه، او هير كړي هغه عملونه چې مخكې ليږلي دي لاسونو دده.

نو د مؤمن د شان څخه دا ده چې په دين كې به پوهه او د نظر پرانيي حاصله وي، او د الله تعالى په كتاب به إهتمام كوي او سوچ او فكر به ورپكي كوي، او په هغه عمل كوي، او د هغه څخه به فائده اخلي، او د پيغمبر په حديثو به إهتمام كوي او د هغي زده كړه او عمل به پري كوي؛ نو دغه دليل او علامه ددى ده چې الله رب العزت دده د خير إراده نه ده كړي، او دا علامه د هلاكت او بربادي ده، او د زړه د فاسدوالي او د هدايت څخه د مخ اړوني علامه ده، د الله تعالى څخه د هر هغه څه څخه چې هغه پري په غضب كيږي سلامتيا او بچوالي غواړو.

نو اي د مسلمانانو ټولګي مونږ لره لائق او مناسب ده چې د الله په دين كې پوهه حاصله كړو، او هغه څه چې پر مونږ واجب دي زده يې كړو، او د الله تعالى په كتاب د إهتمام كوښښ

وکړو، او سوچ فکر ورپکې وکړو، اوځان پرې پوهه کړو، او تلاوت يې وکړو، او فائده ترې واخلو، او عمل پرې وکړو، او دا چې د پيغمبر په سنتو (حديثو) إهتمام وکړو، او په هغو باندې د عمل کولو يادولو کوښښ وکړواو او ځان پرې پوهه کړو، او د هغه څه څخه په پوښتنه کولو إهتمام وکړو چې مشکل او سخت وي؛ نو ضروري ده چې إنسان دهغه چا څخه پوښتنه وکړي چې دده څخه ډير پوهه وي؛ ددی لپاره چې فائده ورڅخه واخلي، د الله تعالى پر دی وينا باندې د عمل کولوپه خاطر چې فرمائي:﴿ فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [النحل: ٤٣].

ترجمه: نو تپوس وکړئ د علم والو څخه که تاسو نه پوهيږئ.

او په مسلمان لازم دي چې دعلم او پوهې مجلسونو ته حاضر شي؛ ددی لپاره چې فائدمند شي، او د هغه ورنو سره يادداشت وکړي چې ددی اميد لري چې ددوي سره به پوهه وي؛ تر څو د هغوي د علم څخه فائده واخلي، او د هغوي علم نافع د خپل علم او پوهې سره يو ځای کړي؛ نو ددغه په سبب به ورته ډير خير ورسيږي، او په دين کې به ورته پوهه حاصله شي، او ددغه په سبب به ورته د دين څخه د مخ اړونکو او ناخبرو د

صفتونوڅخه لریوالي حاصلیږي، او په تحقیق سره نبي ﷺ فرمایلي دي: "من یرد الله به خیراً یفقهه في الدین".

ترجمه: چا لپاره چې الله تعالی د خیر إراده وکړي نو په دین کې ورته پوهه ورکړي.

او د کوم څه چې مو بیان وکړو ددغه په سبب مؤمن د إسلام د فقهاؤ فضیلت پیژني، او دا چې دوي ته ډیر خیر ورکړل شوي، او دوي د نیکبختی د أسبابو په لویه برخه کامیاب شوي دي، اود هدایت په لارو باندي روان شوي؛ ځکه علم نافع د هدایت د أسبابو څخه دي، او څوك چې د علم څخه محروم شو نو د ډیر زیات خیر څخه محروم شو، او چا ته چې علم نافع په نصیب شو نو د خوشبختی أسباب ورته په نصیب شو، کله چې ورباندي عمل وکړي، او د الله تعالی څخه ورپکي وویریږي.

او د پیغمبرانو څخه وروسته د علماؤ په سر کې د پیغمبر محمد ﷺ أصحابه (ملګري) دي؛ ځکه بیشکه چې دوي کامل فقهاء دي، چې علم یې د پیغمبر ﷺ څخه زده کړي دی، او د خپل رب د کتاب او د پیغمبر ﷺ په حدیثو کې پوهه حاصله کړي، اودا یې هغه چا ته تروتازه رسولي دي چې ددوي څخه

وروسته دی؛ نو دوي يې پوهه حاصله کړي، او عمل يې وربانده کړی، او ددوی څخه وروسته تابعينو ته يې علم رسولی، او ورستنيو ته يې د الله تعالی کتاب په لفظ او تفسير او تلاوت سره رسولی، او داسي نور.

او همدارنګه دوي ورستنيو ته هغه څه رسولي چې دوي ته ددوي پيغمبر ﷺ د الله تعالی د کلام د معنی بيان کړي دي، او همدارنګه يې ورته د پيغمبر ﷺ هغه حديثونه په انتهائي صدق او أمانت رسولي چې دوي ورڅخه اوريدلي، او يا يې ترينه ليدلي، او يا يې تري دوي نه وي منع کړي، د ثقاتو او معتمدو تابعينو په واسطه؛ تر دی چې مونږ ته په ثابته او محفوظه طريقه رارسول شوي چې هيڅ قسم شك شبه ورپکي نه شي کيدلای، معتمدو د معتمدوڅخه رانقل کړي دي؛ تر دی چې دی پيړی ته رارسيدلي، او وروسته به پاتي وي.

او دا د الله لطرفه په خپلو بندګانو باندي د حجت (دليل) قائمول دي؛ ځکه چې د علم رارسيدل او رانقليدل د نبي ﷺ څخه او بياد صحابه کرامو څخه هغه چاته چې ددوي څخه وروسته دی د معتمدو خلکو په واسطه؛ دا د حجت او دليل قائميدل او واضحه کيدل دي، او حق ته رابلنه ده، او باطل

څخه ځان ساتنه ده، او بندګانو ته هغه څه ورپه ګوته کول دي چې هغه لپاره پیدا کړي شوي دي، چې هغه د الله عبادت او تابعداري ده.

او په دی سره معلومه شوه چې ددوي په ورستنیوخلکو باندی حق دی دوي لپاره د رحمت دعاګاني کول، او دوي لپاره د بښنی غوښتل او د دوي څخه رضامندي، او د هغوي د علمونو څخه د فائدي اخستلو کوښښ کول، او د هغه څه څخه چې د نافع علمونو څخه یې راټول او رایوځای کړي دي.

ځکه بیشکه چې دی صحابه کرامو عظیم خیر او غټ علم ته مخکي والي کړي، دوي د الله تعالی د کتاب او د پیغمبر ﷺ حدیثو پوهي ته مخکي والي کړی، او دوي مونږه ته هغه رارسولي کوم چې دوي ته رسیدلی ؤ، چې هغه علم په الله تعالی او د هغه په کتاب او د هغه د پیغمبر ﷺ په سنتو باندي دی.

نو پر مونږ د هغوي د مرتبو پیژندل واجب دي، او د هغوي د عظیم علم او د هغه څه چې دوي پری د الله د دین ساتنه کړی، او خلك یې په دین پوهه کړي شکر ګذاري وکړو، او په هغه څه کومك حاصل کړو چې دوي لیکلي دي، او د نافع علمونو او

فائده مندو کتابونو څخه يې وروسته پريښي؛ تر څو ددغو په سبب د الله او د پيغمبر ﷺ د کلام او خبرو مقصدونه وپيژنو.

او بيشکه چې د غټو فائدو او خير څخه دا ده چې دوي زمونږ لپاره د پيغمبر ﷺ حديثونه ساتلي او ترو تازه او سالم او محفوظ يې رانقل کړي دي، او په دی حديثونو کې د قرآن کريم تفسير او د مجمل بيان دی، او په دی حديثونو کې د هغو احکامو بيان دی چې دويمه وحي د الله له طرفه په نبي ﷺ پري راغلي ده، او هغه حديثونه مبارك دي؛ ځکه بيشکه الله تعالى خپل پيغمبر ﷺ ته قرآن کريم ورکړی دی، او د قرآن هومره نور وحي لکه څرنګه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: **"ألا إني أوتيت القرآن ومثله معه"**.

ترجمه: خبردار شې بيشکه ماته راکړل شوي قرآن کريم، او د قرآن پشان نوره وحي.

نو په علماؤ باندي لازم دي چې نورو ته هغه څه ورسوي چې حديث پري راغلي وي، او خلکو ته يې ښکاره کړي، او چې د الله تعالى کلام او خبرو او د پيغمبر ﷺ د حديثونو مقصد ته د خلکو لپاره لارښونه وکړي: په خطبو، او نصيحتونو، او درسونو، او د علم په مجلسونو کې، او ددی څخه بغير نور د

زده کړی او لارښوني په اسبابو باندي، او له دی امله علماؤ لري لري ملکونو ته سفري کړي ، او په هر ګوټ ګوټ کې د فائدي او علم حاصلولو لپاره د نور علماؤ سره رابطي کړي ، نو د صحابه کرامو په زمانه کې ځنيي صحابو د مديني څخه مصر او شام او عراق او يمن او داسي نورو ځايونو ته سفري کړی وی د علم رسولو او فائدو حاصلولو لپاره؛ نو صحابه کرام وينو چې دوي د پيغمبرانو څخه وروسته د خلکو بهتره دي- چې د يو ملك څخه بل ملك ته ددی لپاره ځي چې د پيغمبر ﷺ د حديثونو څخه د يو حديث پوښتنه اوځان تري خبر کړي چې ور څخه پاتي شوي وي او د يو بل صحابي څخه ورته رسيدلي وي، او يا يې ياد کړي نه وي، ؛ نو يو کس به سفر ددی لپاره کولو چې خپله يې ترينه واوري او فائده ورڅخه واخلي، او نورو تابعينو ورونو ته يې ورسوي.

او بياد صحابوکرامو څخه وروسته تابعين علماء راغلل، او همدغه کار يې تر سره کاو؛ چې په علم او پوهي پسي يې سفري وکړي، او ځانونه يې د الله په دين پوهه کړل، او د صحابو څخه يې پوهنه زده کړه، او د هغوي څخه يې هغه څه په باره کښې تپوسونه کړي ؤ کوم څه چې ورته مشکل وو او عمل

يې ورباندي وکړو، او بيا يې تبع تابعينو ته ورسولو او بيا هغوي نورو وروستيو خلکو ته ورسولو، او بيا يې غټ غټ کتابونه په حديثو او تفسير او لغت عربي کې وليکل، او داسي نورو شرعي علمونو کې؛ تر دی چې خلك يې پری بنا کړل؛ او تر دی چې خلکو ته يې پري سيده لار وروښوده، او تر دی چې هغه شرعي قاعدی ورته وروښودلي چې د الله کتاب پر پيژندلي شي، او په دغو باندي معناګاني مقصدونه زده کولي شي، او هم په دغو علمونو د حديثوساتنه کيږي، او د حديثو معناګاني پري پيژندل کيږي.

او په دي سره په کتاب الله او د پيغمبر ﷺ په سنتو په ډير ښه رڼائي او بناء والي اوهدايت سره عمل کول حاصليږي، نو الله دي ورته د خير بدله ورکړي، او ثوابونه او نيکي دي ورلره ډيري کړي، او مونږ ټولو ته دي ددوي په علمونو نفعه راورسوي، او مونږ ټولو ته دی زمونږ د نفسونو د شرونو او د بدو اعمالو څخه پناه راکړي.

او د هغه څه څخه چې دی پوری تعلق لري هغه د علم مجلسونو ته حاضريدل دي؛ ځکه دا مجلسونه د علماؤ د

طريقي څخه دي، او په صحيح حديث کې دي چې فرمائي: "إذا مررتم برياض الجنة فارتعوا".

ترجمه: کله چې تاسي د جنت په باغچي تير يرئ نو څر ورپکي وکړئ.

نو ورته وويل شول چې د جنت باغچه څه شي دی؟ نو وفرمايل: "حلق الذكر".

ترجمه: د ذکر او يادداشت مجلسونه دي.

او نبي ﷺ فرمايلي دي: "من سلك طريقاً يلتمس فيه علماً سهل الله له به طريقاً إلى الجنة".

ترجمه: څوك چې روان شي په يو لاره، د علم او پوهي لټون لپاره؛ نو په دی کار به ورته الله د جنت لاره اسانه کړي.

او الله فرمايلي: ﴿فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [النحل: ٤٣].

ترجمه: د پوهي والا څخه تپوس وکړئ که نه پوهيږئ.

نو دا شيان ډير مهم دی چې د فقهي او فقهاؤ سره تعلق لري، او د علم زده کړه په مسجدونو کې او په سفر کولو هغو وطنونو ته چې په هغې کې په استقامت پيژندل شوي علماء وي

دا ټول د علم او پوهې د حاصلولو د اسبابو او د هغه لارو څخه دي، چې دغه علم ته رسول کوي، او خاوند يې د نبي ﷺ په دې وينا کې داخليږي چې فرمايلي دي: "من سلك طريقاً يلتمس فيه علماً سهل الله له به طريقاً إلى الجنة".

ترجمه: څوك چې روان شي په يوه لاره، د علم او پوهې لټون لپاره؛ نو په دې کار به ورته الله د جنت لاره اسانه کړي.

نو کله چې د علماؤ څخه تپوس وکړي، اويا د هغوي ملکونو ته سفر وکړي، او يا يې په کورونو او مسجدونو کې زيارت او ليدنه وکړي؛ نو په تحقيق سره چې روان شوي د علم او پوهې د لټون په لاره.

او علماؤ ددې يادونه کړې: چې د علم په يادولو کې د کومکي لارو دجملي څخه د علم ليکل دي، او دعلم په يادولو باندې اهتمام کول دي؛ لکه څرنګه چې سلف صالحينو او د هغوي څخه وروسته علماؤ دا کار کولو، دا ټول د علم د حاصلولو د وسيلو څخه دي، او علم ته د هغو ورسونکو لارو څخه دي؛ لکه څرنګه چې د يو ملك څخه بل ملك ته سفر او د يو مسجد څخه بل مسجد ته، او د يو مجلس څخه بل مجلس ته او د يو عالم د کور څخه بل عالم کور ته د علم طلب کولو او

په دين کې د پوهې لپاره دا ټول قسمونه او لاري د علم د حاصلولو د لارو څخه دي.

او دغه لاري د نبي ﷺ په دې وينا کې داخلي دي چې فرمائي:

"**من سلك طريقاً يلتمس فيه علماً. . .** " **الحديث.**

ترجمه: څوك چې روان شي په يوه لاره، چې علم او پوهه ورپکې لټوي. . . .

والله ولي التوفيق، وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم.

صحيحه عقيده او دهغي متقابل او منافي شيان

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده وعلى آله وصحبه. أما بعد:

هر كله چې صحيح عقيده د إسلامي دين بنياد دی، او ددين بنسټ وه؛ نودا مي خوښه وشميرله چې ددی تقرير موضوع دي وي، او د قرآن كريم او حديثو په شرعي دليلونو معلومه خبره ده، چې بيشكه عملونه او ويناګاني هغه وخت قبليږي او صحيح كيږي، كله چې د صحيحي عقيدی څخه صادر شي، او كه عقيده صحيحه نه وي؛ نو هغه عملونه او ويناګاني چې په دی عقيده بنا وي هغه باطل دي؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ [المائدة: ٥].

ترجمه: او چا چې كفر وكړو ايمان سره؛ نو بيشكه برباد شو عمل دده، او په اخرت كې به د تاوانيانو څخه وي.

او فرمايلي دي: ﴿ وَلَقَدْ أُوحِىَ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ [الزمر: ٦٥].

ترجمه: بیشکه وحي کړی شوي ده تاته، او هغو کسانو ته چې ستاڅخه مخکې دي، که چیری شرك دی وکړو نو خامخا به ستا عمل برباد شي، او خامخا به ته د تاوانیانو څخه شي.

او په دی باره کې ډېر آیاتونه شته دی، او قرآن کریم او د پیغمبر ﷺ سنت (حدیثونه) په دی دلالت کوي چې صحیحه عقیده لنډه عبارت ده: په الله تعالی او په ملائکو او د الله په کتابونو اوپیغمبرانوعلیهم السلام او په ورځ د اخرت او د تقدیر په خیر او شر باندې د ایمان لرلو څخه. نو دا شپږ شیان د صحیحي عقیدي هغه بنیادونه دي چې الله پرې قرآن کریم نازل کړیدی او پیغمبر ﷺ یې ورباندې رالیږلي دی.

- او ددی بنیادونو څخه هر هغه فروعي مسائل دي چې إیمان لرل پرې واجب دي، چې د غیبي کارونودجملي څخه دي، او په ټولو هغو څه إیمان لرل چې الله تعالی او پیغمبر ﷺ پرې خبر ورکړی وی.

او ددی شپږو بنیادونو دلیلونه په قرآن کریم او حدیثونو کې ډیر زیات دي؛ نو ددغودجملي څخه د الله تعالی دا قول دی چې فرمائي:

﴿ ۞ لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّۦنَ ﴾ [البقرة: ١٧٧].

ترجمه: نه ده نیکي خاص دا خبره چې وګرځوي مخونه خپل د مشرق او مغرب طرف ته، خو نیکي د هغه چا ده چې ایمان یې راوړي وي په الله تعالی او په ورځ د قیامت او په ملائکو او په کتابونو او پیغمبرانو علیهم السلام باندي.

او فرمایلي دي: ﴿ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ ﴾[البقرة: ٢٨٥].

ترجمه: رسول الله ﷺ په هغه څه چې نازل کړای شوي دي ده ته له طرفه د رب دده نه إیمان لري، او هر یو د مؤمنانو څخه ایمان لري په الله تعالی او د هغه په ملائکو او کتابونو او په پیغمبرانو د هغه، دوي وایې توفیرونه نه کوو په ایمان لرلو کې د هغه د پیغمبرانو ترمنځ.

او فرمایلي دي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴾ [النساء: ١٣٦].

ترجمه: أي په ظاهر إيمان والاو په زړه کې په الله تعالى يقين وکړئ او د هغه په پيغمبر عليه السلام اودهغه په کتاب، چې نازل کړى يې دى په خپل پيغمبر باندي، او په هغه کتابونو چې نازل کړي دي ددي څخه مخکي، او چا چې په الله تعالى کفر وکړو او د هغه په ملائکو او د هغه په کتابونو او د هغه په پيغمبرانو او په ورځ د قيامت نو بيشکه ګمراه شو په ګمراهي لرى سره.

او فرمايلي دي: ﴿أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾﴾ [الحج: ٧٠].

ترجمه: آيا ته نه پوهيږي چې بيشکه الله تعالى په هغه څه پوهه دى چې په اسمان او ځمکه کې دي، بيشکه دا ټول په کتاب (لوح محفوظ) کې دي، او بيشکه دا په الله تعالى باندى اسان دى.

او هر چې هغه صحيح آحاديث چې دلالت کوي په دى بنيادونو نو ډير زيات دي، يو ددغو حديثونو د جملي څخه هغه مشهور حديث دى، چې إمام مسلم په خپل کتاب کې د أمير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت کړى دى، چې جبريل عليه السلام د نبي ﷺ څخه د إيمان پوښتنه وکړه؛ نو په ځواب کې

ورته وفرمایل: "الإيمان أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره" الحديث.

ترجمه: إيمان دادی چې ته په الله تعالی باندی إيمان ولري، او د هغه په ملائکو او د هغه په کتابونو او د هغه په پيغمبرانو او په ورځ د قيامت، او د خير او شر په تقدير باندی، او دا حديث بخاري او مسلم د أبو هريرة ﷺ څخه روايت کړي دی، او ددی شپږو بنيادونو په حکم کې هر هغه څه شامل دي چې پر مسلمان يې عقيده لرل د الله تعالی او ورځ د قيامت په حق کې واجب دي، او داسي نورو غيبي شيانو په حق کې.

نو په الله تعالی باندي د ايمان لرلو دجملي څخه دا دی چې: إيمان لرل چې دا الله تعالی بر حق معبود دی، او دده څخه علاوه د بندګی څوك حقدار نشته؛ ځکه الله تعالی د بندګانو پيداکوونکي دی، او دوي سره احسان کوونکي دی، او دوي ته رزق ورکوونکي دی، او ددوي په پټو او ښکارو(کارونو) عالم او قدرت لرونکي دی ددوي څخه منونکو ته په ثواب ورکولو ، او ددوي څخه نه منونکو ته په سزا ورکولو.

اودي عبادت لپاره الله پيريان او إنسانان پيداکړي دي، او د دی عبادت أمر يې ورته کړي؛ لکه څرنګه چې الله تعالی

فرمايلي: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴿٥٧﴾ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴾ [الذاريات: ٥٦ – ٥٨].

ترجمه: او ما نه دی پيدا كړي پيرانو او إنسانانو لره مګر په دی خاطر چې خاص زما بندګي وكړي، او زه ددوي څخه د ځان لپاره هيڅ روزي نه غواړم، او ددوي څخه نه غواړم چې ماله دی خوراك راكړي، او بيشكه چې الله تعالى خاص هغه روزي وركونكي دی، خاوند د طاقت مضبوط دی.

او فرمايلي دي: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٢﴾ ﴾[البقرة: ٢١ – ٢٢].

ترجمه: اي خلكو بندګي خاص كړئ ستاسي د رب لپاره؛ هغه ذات چې پيدا كړي يې تاسو،او هغه كسان چې مخكي ستاسي څخه وو، ددی لپاره چې بچ شئ د شرك او د اور(جهنم) څخه، هغه ذات چې جوړه كړي ستاسي لپاره ځمكه غوړيدلی، او أسمان چت، او د أسمان له طرفه او به (باران) راوروي ؛ نو را اوباسي په دی اوبو سره ميوی غلي ستاسي د فائدي لپاره،

نو مه جوړوئ الله لره شریکان او حال دا چې تاسو پوهیږئ چې دا ټول کارونه الله تعالی کوي.

او په تحقیق سره الله پیغمبران لیږلي او کتابونه یې نازل کړي دي؛ د حق بیانولو لپاره، او دی ته ددعوت کولو لپاره.

او د هغه څه څخه دویرولو لپاره چې ددی ضد وي؛ لکه څرنګه چې الله تعالی فرمائي: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴾[النحل: ٣٦].

ترجمه: بیشکه لیږلي دي مونږه په هر أمت کې پیغمبر په دی خبره چې بندګي خاص کړې د الله تعالی، او د غیر الله د بندګی څخه ځان وساتي.

او الله تعالی فرمائي: ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾ ﴾ [الأنبياء: ٢٥].

ترجمه: او نه دي لیږلي مونږ ستا څخه مخکې هیڅ پیغمبر مګر مونږ هغه ته وحي کړي چې ي بیشکه نشته حقدار د بندګي سیوا زما څخه؛ نو بندګي خاص ما لره کوئ.

او الله تعالى فرمائي: ﴿الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ۝١ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ۝٢﴾[هود: ١ – ٢].

ترجمه: دا کتاب دی چې د حکمت څخه ډك شوي دي آيتونه ددی، بيا واوري چې تفصيل کړي شوي دي د ضروري مسائلو له طرفه د حکمت والا څخه دي، خبردار ذات له طرفه دي، چې مه کوئ بندګي د هيچا سيوا د الله تعالى څخه، بيشکه زه ستاسو لپاره د هغه له طرفه ويره او زيري درکونکي يم.

او ددی عبادت حقيقت دادی چې د بندګانو ټول هغه عبادتونه چې دوي يې کوي، يواځي يو الله تعالى لره خاص کړی شي، چې دغه عبادتونه ، ددعاء او ويري او أميد لرلو او لمونځ او ذبحي او منختي کولو څخه عبارت دي ، او همدارنګه د عبادت نور قسمونه الله تعالى سره د پوره محبت لرلو په طريقه د عاجزي، او أميد لرلو، او ويري کولو، او د الله تعالى لويې ته د عاجزي کولو څخه عبارت دي ، او د قرآن کريم ډيره برخه الله تعالى په دی لوي بنياد نازله کړی ده، لکه چې الله تعالى فرمائي: ﴿فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ۝٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُ﴾[الزمر: ٢ – ٣].

ترجمه: خاص يوائی الله تعالی لره عبادت او ديندارې کوه، او خبر شئ چې خاص الله لره دين (بندګي) دي.

او فرمائي: ﴿ ۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ [الاسراء: ٢٣].

ترجمه: او مضبوط حکم کړی ستا رب چې عبادت به نه کوئ مګر يوائی د يو الله تعالی لپاره.

او فرمائي: ﴿ فَٱدْعُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾[غافر: ١٤

ترجمه: نو د الله تعالی څخه حاجتونه غواړي، چې خالص کونکي يې هغه لپاره بلنه کول، اګر چې کافران دا بد ګڼي.

او په بخاري او مسلم کې د معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دی چې نبيﷺ فرمايلي دي: " **حق الله على العباد أن يعبدوه ولا يشركوا به شيئاً**".

ترجمه: د الله تعالی حق په بندګانو دادی چې د هغه عبادت وکړي او هيڅ شي ورسره شريك ونه ګرځوي.

او همدارنګه په الله تعالی باندې دإيمان لرلود جملې څخه په ټولو هغه څه إيمان لرل دي چې الله تعالی په بندګانو واجب او فرض کړي دي: چې هغه د إسلام پنځه ښکاره أرکان دي، او

هغه دا دي: کلمه د ﴿لاإله إلا الله وأن محمداً رسول الله﴾ ويل، او د لمونځ قائمول، او د زکات ورکول، او د رمضان روژه نيول، او د بيت الله حج کول هغه چا لپاره چې د ورسيدلو طاقت يې ولري، او داسي نور هغه فرضونه چې پاك شريعت پرې أمر کړی وي، او ددی ټولو رکنونو څخه مهم او غټ رکن کلمه د ﴿لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله﴾ ويل او ګواهي کول دي؛ نو کلمه د ﴿لاإله إلا الله﴾ ويل ددی غوښتنه کوي چې عبادت به خاص يواځي يو الله تعالى لره کولای شي، او نه د بل چا، او هم دا د ﴿لا إله إلا الله﴾ معنی ده؛ ځکه چې معنی د کلمي داده: چې هيڅ بر حق معبود نشته غير د يو الله تعالى څخه، نو هر هغه شي چې د الله تعالى څخه يې سيوا عبادت وکړی شي؛ که هغه انسان وي او که ملائك وي او که پيری وي، او يا داسي نور څه؛ نو دا ټول باطل معبودان دي، او برحق معبود صرف يواځی يو الله تعالى دی؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلْبَٰطِلُ﴾ [الحج: ٦٢].

ترجمه: دا مدد په دی وجه دی چې بيشکه الله تعالى لره حقه ده بندګي کول د هغه، او بيشکه د هغه چا بندګي کول چې دوي ورته رامدد شه وائي سيوا دالله تعالى څخه باطل کار دي.

او مخکې ددی بیان تیر شو چې الله پیریان او انسانان دی بنیادي اساس لپاره پیدا کړي دي، او ورته یې پری امر کړی دی، او ددی لپاره یې پیغمبران لیږلي او کتابونه یې نازل کړي دي، نو په دی کښې ډیر ښه سوچ او فکر وکړه چې تاته هغه څه واضح شي چې په هغې کښې ډیر مسلمانان واقع شوي، او هغه ددوي لویه ناپوهي ده په دی اساسي بنیاد باندي، نو په دی وجه یې الله تعالی سره د نورو عبادت کړي دی، او د الله تعالی دا خالص حق یې نورو لره ورکړي دی، الله دی زمونږ مددګار شي.

او همدارنګه په الله تعالی باندي د ایمان لرلود جملي څخه په دی ایمان لرل دي: چې الله د ټولو مخلوقاتو پیدا کونکي دی، او د ټولو کارونو تدبیر کونکي دی، او په خپل علم او قدرت باندي ورپکې تصرف کوونکي دي، څرنګه چې وغواړي، او دا چې د دنیا او اخرت مالك دی، او د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، بغیر د الله تعالی څخه بل پیدا کونکي نشته، او نه بغیر د الله تعالی څخه پالونکی شته، او دا چې الله تعالی د بندګانو د اصلاح لپاره پیغمبران لیږلي او کتابونه یې نازل کړي دي، او ددوي هغه څه ته رابلل چې ددوي ورپکی

خلاصي او إصلاح وي په دنيا او أخرت كې، او دا چې دى الله تعالى لره په دغو ټولو كې شريك نشته الله تعالى فرمائي:

﴿ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ٦٢ ﴾ [الزمر: ٦٢].

ترجمه: الله تعالى پيداكونكى د هر يو شي دى او هغه د هر څه زمه دار دى.

او فرمائي: ﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ [الأعراف: ٥٤].

ترجمه: بيشكه چې پالونكي ستاسو الله تعالى دي، هغه ذات دى چې پيداكړي يې دي اسمانونه او ځمكي په اندازه د شپږو ورځو كې، او بيا برابر شو د خپل شان مناسب په عرش باندي، راپټوي ورځ په شپې باندى چې د يو بل د رالاندى كولو كوښښ كوي، او پيدا كړى يې دى لمر او سپوږمى او ستوري چې تابع كړى شوي دي په حكم د هغه سره، خبر دار شئ چې الله تعالى لره پيدا كول دي، او اختيار دى، او بركت اچونكى دى الله تعالى، چې پالونكي د ټولو مخلوقاتو دى.

او همدارنګه په الله تعالى باندي دإيمان لرلو د جملي څخه د الله په خائسته نومونو او اوچتو صفتونو باندي إيمان لرل دي، چې د هغه په عزتمند کتاب کښې راغلي وي، او يا د هغه د امانتدار پيغمبر ﷺ څخه ثابت وي، بغير د (تحريف) د لفظ او معنى بدلولو، او يا د (تعطيل) بي معنى پريښودلو څخه، او يا د (تکييف) څرنګوالي بيانولو، او يا د (تمثيل) چا سره مشابه کولو څخه، بلکى واجب دي چې داسي پريښودل شي لکه څرنګه چې راغلي بغير د څرنګ والي نه، سره د إيمان لرلو څخه په هغو عظيمو معناګانو باندي چې دلالت وربانديي کوي چې هغه د الله تعالى صفتونه دي، او واجب دي چې هغه سره په مناسبه او لائقه طريقه باندي پري دهغه صفت وکړي شي بغير ددى څخه چې د مخلوقاتو سره په څه شي کې ددغو صفاتو نه مشابه کړى شي. لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿١١﴾﴾ [الشورى: ١١].

ترجمه: نشته الله تعالى په شان هيڅ يو شي او د الله تعالى اوريدونکي او ليدونکي دي.

او فرمايلي دي: ﴿فَلَا تَضْرِبُوا۟ لِلَّهِ ٱلْأَمْثَالَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [النحل: ٧٤].

ترجمه: نو مه بیانوي الله تعالی لره مثالونه، بیشکه الله تعالی پوهیږي او تاسي نه پوهیږي.

او همدا عقیده د اهل السنة والجماعت ده، چې هغه د نبي ﷺ صحابه دي او په ښه طریقه د هغوي تابعداران دي ، او دا هغه عقیده ده چې إمام أبو الحسن الاشعري په خپل کتاب (المقالات) کې د محدثینو او أهل السنة څخه نقل کړي ده، او د هغه نه غیر نورو د علم او إیمان خاوندانو هم نقل کړي ده.

إمام أوزاعي: وائي: د زهري او مکحول څخه د صفاتو د آیاتونو تپوس وکړي شو؛ نو دواړو وویل: داسي پریږدي لکه څرنګه چې راغلي دي.

ولید بن مسلم: وائي: د إمام مالك او أوزاعي او لیث بن سعد او سفیان الثوري څخه تپوس وکړي شو: د هغو روایاتو په باره کښې چې صفاتو په هکله راغلي دي، نو ټولو وویل: داسي پریږدي لکه څرنګه چې راغلي بغیر د څرنګوالي بیانولو څخه.

او إمام أوزاعي وایي: چې ډیر تابعین موجود ؤ او مونږ به دا ویل: چې الله تعالی د عرش د پاسه دي، او په هغه څه ایمان لرو

چې په حدیثو کې د صفتونو د جملي څخه راغلي ، او هرکله چې د إمام مالك أستاذ ربيعة بن أبي عبد الرحمن رحمهم الله نه د استواء په باره کې تپوس وکړي شو؛ نو هغه وویل: "استواء معنی معلومه ده، او (کیفیت) څرنګوالي يې مجهول دی، په عقل کښې نه راځي، او د الله تعالی له طرفه پیغام دی، او په پیغمبر باندي يې نښکاره رسَول دي، او پر مونږ يې تصدیق دي".

او هر کله چې دإمام مالك: څخه د استواء په باره کښې تپوس وکړي شو؛ نو ویې فرمایل: "استواء معلومه ده، او څرنګوالي يې نامعلوم دی، او إیمان لرل پرې واجب دي، او پوښتنه کول ورڅخه بدعت دی".

بیا يې تپوس کونکي ته وویل: ګمان نه کوم پر تا مګر د یو ډیر بد سړي، او دمسجد څخه يې د هغه د ویستلو أمر وکړو؛ نو وویستل شو، او همدی ته ورته خبره د أم المؤمنین او أم سلمة رضي الله عنها څخه روایت کړي شوي، او إمام أبو عبد الرحمن عبد الله بن مبارك: وائي: "مونږ خپل رب په دی پیژنو چې هغه د اسمانونو دپاسه پر عرش باندي دی، او د خپل مخلوق څخه

جدا دی، او د إمامانو کلام او خبري په دی جانب کې ډیري زیاتي دي چې د ټولو رانقلول په دی تقریر کښې ممکن نه دي.

او که څوك د ډیرو څخه ځان خبرول غواړي نو علماؤ چې په دی جانب کې کوم کتابونه لیکلي هغو ته دی مراجعه وکړي؛ لکه د عبد الله بن الإمام أحمد کتاب (کتاب السنة) او د محمد بن حزیمة کتاب (التوحید) او د أبو القاسم اللالکائي الطبري کتاب (السنة) او أبي بکر بن أبي عاصم کتاب (السنة) او د شیخ الإسلام ابن تیمیة جواب د حماة اوسیدونکو ته، او دغه جواب یو عظیم او ډیر فائدمند جواب دی، چې د أهل السنة والجماعة عقیده یې پکی واضح کړي ده، او ددوي ډیرې خبري او شرعي او عقلي دلیلونه رانقل کړي د هغه څه په صحیحوالي چې أهل السنة یې وائي، او د هغه څه باطلول چې مقابل خلك یې وائي، او همدارنګه د هغه رساله چې (التدمریة) یې نومولي نو ورپکي یې پوره تفصیل او وضاحت کړی، او د أهل السنة والجماعة عقیده یې په نقلي او عقلي دلیلونو واضحه کړي، او په مخالفینو یې هغه رد کړي دی چې په هغی سره حق ښکاره کیږي، او په مخالفینو یې هغه رد کړي چې باطل چق پق کوي، او حق هر هغه چاته ښکاره کوي چې د

علماؤ څخه دغه د خير خواهی په نيت او د حق په پيژندلو کې په مينه لرلو يې وګوري، او هر هغه چا چې د أهل السنة خلاف وکړو، په هغه څه کې چې دوي يې د الله تعالى د أسماؤ او صفاتو په باره کې عقيده لري ؛ نو بيشکه چې ضرور به د عقلي او نقلي دليلونو په مخالفت کې واقع کيږي ، سره د ښکاره تناقض په هر هغه څه کې چې ثابتوي او يا يې نفي کوي.

او هر چې أهل السنة والجماعة دي؛ نو هغوي الله تعالى لره هغه صفتونه ثابتوي چې خپل ذات لپاره يې په قرآن کريم کې ثابت کړی، او يا ورلره رسول الله ﷺ په خپلو حديثونو کې ثابت کړی دی، په داسی شان چې چا سره يې نه مشابه کوي، او د مخلوقاتو سره د مشابهت نه يې پاکه وي، په داسي پاکوالي چې د (تعطيل) صفتونو بې معنی پريښودلو څخه لري وي، نو د تناقض نه په سلامتيا کې پاتې شوي، او په ټولو دليلونو يې عمل کړی دی، او دا دالله تعالى طريقه ده په باره د هغه چا کې چې په هغه حق چې پيغمبر پرې راغلي ځان مضبوط کړي، او په دغه کې کوښښ وکړي، او د حق په طلب کولو کې د الله تعالى لپاره إخلاص وکړي، نو حق ته رسيدلو توفيق ورکوي، او حجت يې قوي کوي، لکه څرنګه چې الله تعالى فرمائي:

﴿ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ﴾[الأنبياء: ١٨].

ترجمه: بلکې مونږ ګوزارو حق لره په باطل باندې نو زخمي کړي دماغ د هغه؛ نو پس دغه وخت هغه روان او ختم شي.

او فرمائي: ﴿ وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾ ﴾ [الفرقان: ٣٣].

ترجمه: او نه راوړي دوي تاته هيڅ اعتراض مګر راوړو مونږ تالره جواب او خائسته بيان.

او بيشکه حافظ ابن کثير: په خپل مشهور تفسير کې د الله تعالى ددى قول په تفسير کې چې فرمائي: ﴿إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ﴾ [الأعراف: ٥٤].

ترجمه: بيشکه رب ستاسي الله تعالى دي، هغه ذات دي چې پيدا کړى دى اسمانونه او ځمکه په اندازه د شپږو ورځو کې بيا په عرش باندې د خپل شان مناسب برابر شو.

ډير ښه تفسير يې په دى باب کې ذکر کړى دى، دلته يې رانقلول ډير ښه دى؛ ځکه فائده يې ډيره لويه ده، نو فرمايلي دي: "د خلکو لپاره په دى مقام کې ډير زياتى ويناګاني (مقالي)

دي چې دا ځای د تفصيل نه دی، او بيشکه چې مونږ په دی مقام کې د سلف صالحينو لاره اختيار وو، چې: مالك او أوزاعي او ثوري او ليث بن سعد او شافعي او أحمد او إسحاق بن راهويه دي، او داسي د مسلمانانو نور مخکښي او اوسني إمامان او هغه تګ لاره (مذهب) داده چې دغه صفتونه داسي پريښودل لکه څرنګه چې راغلي بغير د څرنګوالي بيانولو څخه، او بغير د چا سره د مشابه کولو څخه، اوبغير د بې معنی پريښودلو څخه (تعطيل).

او کومه ښکاره معنی چې د تشبيه کونکو ذهن ته راځي هغه د الله څخه نفي کړي شوي ده؛ ځکه چې بيشکه الله تعالی سره هيڅ يو شي د خپلو مخلوقاتو څخه نه دي مشابه، او نه شته دی په شان د الله هيڅ يو شي، او همدا الله اوريدونکي او ليدونکي دي، بلکي خبره داسي ده لکه څرنګه چې إمامانو ويلي دي، چې يو د هغوي نه د بخاري أستاذ نعيم بن حماد الخزاعي دی چې فرمائي: چا چې الله تعالی د مخلوقاتو سره مشابه کړو نو کفر يې وکړو، او چا چې إنکار وکړو د هغه څه نه چې الله تعالی پری د خپل ذات صفت کړې وي نو په تحقيق سره کفر يې وکړو، او نشته دی هيڅ مشابهت په هغه څه کښې

چې الله تعالى پرې د خپل ذات صفت کړي او پیغمبر علیهم السلام ورلره کوم صفت بیان کړي؛ نو چا چې الله تعالى لره هغه څه ثابت کړو چې په صریحو آیاتونو، او په صحیحو حدیثونو کې راغلي وي په هغه طریقه چې د الله د شان سره مناسب وي، او د الله تعالى څخه یې نقصان او کمي نفي کړو نو په تحقیق سره د هدایت په لار روان شو". د ابن کثیر: خبره ختمه شوه.

او هر چې په ملائکو إیمان لرل دي؛ نو دا په دوي باندي إجمالي او تفصیلي إیمان لره متضمن دي، نو مسلمان به إیمان لري چې د الله لپاره ملائکي دي، چې د خپل اطاعت لپاره یې پیداکړي دي، او صفت یې ورلره بیان کړي چې فرمائي:

﴿عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسْبِقُونَهُۥ بِٱلْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِۦ يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِۦ مُشْفِقُونَ ﴿٢٨﴾﴾ [الأنبياء: ٢٦ – ٢٨].

ترجمه: دا ملائکي بندګان دي چې عزت ورکړي شوي، نه وړاندي کیږي د الله تعالى څخه په وینا کې، او دوي د هغه په حکم عمل کوي، خبر دی الله تعالى په هغو حالاتو چې وړاندي ددوي دي او هغه چې وروسته ددوي دي، اوسفارش نه شي

کولي مګر صرف هغه چا لره چې غوره کړي وي، او دوي له وجي د ويري د الله تعالى نه مينه کونکي دي د هغه سره.

او دوي ډير قسمونه دي ځنيو ددوي ته د عرش د بارولو سپارښتنه کړي شوي، او ځني ددوي د جنت او جهنم څوکيداران دي، او ځني ددوي د بندګانو د عملونو د حفظ (ساتني) لپاره مقرر کړي شوي، او إيمان لرو په تفصيلي طريقه په هغه چا چې الله او پيغمبر ﷺ يې نومونه يادکړي ددی ملائکو څخه لکه جبريل عليه السلام او ميکائيل عليه السلام، او مالك عليه السلام چې خازن (پيره دار) د جهنم دي او إسرافيل عليه السلام چې په شپيلی کې په پوکي کولو مقرر شوي، او په تحقيق سره يادونه يې په صحيحو حديثونو کې راغلي ده، او په صحيح حديث کې د عائشي رضي الله عنها روايت دی، دا وائي چې نبي ﷺ فرمايلي: **"خلقت الملائكة من نور وخلق الجان من مارج من نار، وخلق آدم مما وصف لكم".**

دا حديث إمام مسلم په خپل صحيح مسلم کې روايت کړي دي.

ترجمه: ملائکي د نور (رڼا) څخه پيداکړی شوي، او جان (شيطان) د خالصي لمبي څخه پيداکړي شوي - د اور څخه -

او آدم عليه السلام پيدا كړي شوي د هغه څه چې تاسو ته يې (بيان) صفت كړى شوي. -يعني د خاوري څخه -

او همدارنګه په كتابونو إيمان لرل واجب دي په إجمالي طور، دا چې الله تعالى په خپلو پيغمبرانو كتابونه نازل كړي د خپل حق بيانولو لپاره، او هغه ته ده دعوت كولو لپاره؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ﴾[الحديد: ٢٥].

ترجمه: بيشكه مونږ ليږلي دي پيغمبران خپل په ښكاره حكمونو سره،او نازل كړي دي مونږ ددوي ملګرتيا لپاره كتابونه او د تللو څيز؛ ددى لپاره چې پاخه ودريږي خلك په انصاف سره.

او فرمائي: ﴿كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ﴾[البقرة: ٢١٣].

ترجمه: وو خلك يوه ډله په توحيد باندي؛ (پس مختلف شوو) نو راوليږل الله تعالى پيغمبران زيري وركونكي (منونكو ته) او ويره وركونكي (نه منونكو ته)، او نازل يې كړه په دوي باندي كتابونه په حق سره؛ لپاره ددى چې فيصلي وكړي په

منځ د خلكو كې په هغه څه كې چې دوي ورپكي اختلاف كړی وو.

او په هغو كتابونو تفصيلي إيمان لرو چې الله يې نومونه ذكر كړي لكه: تورات، او إنجيل، او زبور، او قرآن كريم، چې دا يې أخري او بهتره كتاب دی، او دا حاكم دی په دی نورو، او تصديق كونكي دي دوي لره، او دا هغه كتاب دی چې په ټول أمت باندي ددی تابعداري واجبه ده، او دا فيصله كونكي ګرځول، سره د هغه څه چې صحيح حديثونه وربانديې د رسول الله ﷺ نه راغلي؛ ځكه الله تعالى خپل پيغمبر محمد ﷺ ليږلي دي ټولو إنسانانو او پيريانو ته، او نازل كړی دی پری دا قرآن كريم؛ ددی لپاره چې فيصلي وكړي په دی ددوي تر منځ، او دا قرآن كريم يې دارو درمل (علاج) ګرځولی دي د هغه څه لپاره چې په سينو كې وي، او د هر څه لپاره بيانونكي دي، او د مؤمنانو لپاره هدايت او رحمت دی؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ [الأنعام: ١٥٥].

ترجمه: او دا کتاب چې مونږ نازل کړی برکتناك دی؛ نو تابعداري يې وکړي،او دالله څخه ويره وکړی؛ ددی لپاره چې په تاسي رحم او مهرباني وکړي شي.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾ ﴾ [النحل: ٨٩].

ترجمه: او نازل کړي دی مونږ په تاباندي دا کتاب واضحه کوونکي دي د هري ضروري خبري،او هدايت او رحمت دي او د مسلمانانو لپاره زيري دی.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾ ﴾ [الأعراف: ١٥٨].

ترجمه: ووايه ای ټولو خلکو خبر شي چې بيشکه زه تاسو ټولو ته د الله پيغمبر يم، او هغه الله چې هغه لره بادشاهي ده دآسمانونو او ځمکي نشته مستحق د عبادت بغير د الله څخه، چې ژوندي کول او مړه کول کوي؛ نو ايمان راوړي په الله

تعالى، او دهغه په پيغمبر چې هغه انپړه دى، او إيمان لري په الله او د هغه په خبرو، او دده تابعداري وکړي، ضرور تاسي به هدايت بياموميِ.

او په دى هکله ډير زيات آياتونه شته دى. او همدارنګه په پيغمبرانو إجمالي او تفصيلي إيمان لرل واجب دي؛ نوايمان لرو چې الله تعالى خپلو بندګانو ته ددوي (دجنس) څخه پيغمبران ليږلي دي، چې زيري ورکونکي او ويره ورکونکي دي، او رابلونکي دي حق طرف ته؛ نو چا چې ددوي دعوت قبول کړو نيکبخته شو، او چا چې ددوي خلاف وکړو نو په ناکامى او پيښمانتيا اخته شو، او اخرني او بهتره ددى پيغمبرانو هغه زمونږه پيغمبر محمد بن عبد الله ﷺ دي؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴾[النحل: ٣٦].

ترجمه: او په تحقيق سره مونږ ليږلي هر أمت ته پيغمبر چې ويل به يې: د الله عبادت وکړي،او ځانونه د طاغوت اود غير الله نه بچ وساتي.

اوالله تعالى فرمائي: ﴿ رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ﴾[النساء: ١٦٥].

ترجمه: ليږلي مونږ پيغمبران چې زيرى وركونكي او ويره وركونكي دي؛ لپاره ددى چې خلكو لره په الله تعالى باندي كوم څه دليل پاتي نه شي وروسته د پيغمبرانو د ليږلو څخه.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾[الأحزاب: ٤٠].

ترجمه: نه دى محمد ﷺ پلار د هيڅا د نارينو ستاسو څخه ليكن د الله تعالى پيغمبر دى، او د پيغمبرانو څخه أخري دى.

او هغه پيغمبران چې الله يې نومونه ذكر كړي وي، او يا د نبي ﷺ نه يې نوم ثابت وي په هغه باندي په طريقه د تفصيل او د تعين إيمان لرو؛ لكه نوح او هود او صالح او إبراهيم عليهم السلام، او داسي نور ددوي په شان؛ الله دي رحمت وكړي په دوي، او ددوى په كورنيو او تابعدارانو باندي.

او هر چې په ورځ د اخرت إيمان لرل دي؛ نو په دي كې په ټولو هغو څه إيمان لرل داخل دي، چې الله تعالى او پيغمبر

پرې خبر ورکړي وي د هغه څه نه چې د مرګ څخه وروسته موجودیږي؛ لکه د قبر فتنې او عذابونه او نعمتونه، او هغه حیرانونکي حالات چې په ورځ د قیامت وي، او زیاتي سختیاني او دصراط پل او میزان (تله) او حساب کتاب او بدلي ورکول، او د خلکو په وړاندي دعمل نامو خوریدل؛ نو اخستونکي به وي خپلی عمل نامي لره په ښي لاس، اواخستونکي به وي خپلي عمل نامي لره په چپ لاس، او یا د شاه له طرفه، او همدارنګه په دی إیمان کي زمونږه د نبي ﷺ لپاره په حوض کوثر باندي إیمان لرل داخل دي، او په جنت او اور باندي إیمان لرل، او د مؤمنانو خپل رب لره په لیدلو او مؤمنانو سره دهغه په خبرو کولوإیمان لرل او داسي نور، چې په صحیحو حدیثو کې د نبي ﷺ څخه راغلي وي؛ نو په دی ټولو إیمان لرل واجب دي، او تصدیق یې کول په هغه طریقه چې نبي بیان کړي وي.

او هر چې په تقدیر ایمان لرل دي؛ نو په څلورو شیانو (کارونو) باندي إیمان لرلو کې رانغښتي دي.

<u>اول کار:</u> دا چې الله تعالی په تحقیق سره پوه دی په هغه څه چې مخکي وو او وروسته دي، او د خپلو بندګانو په حالاتو

باندي پوه دي، او په روزي او نيټو او کارونو يې خبردار دی، او داسي په نورو کارونو باند يې، په الله تعالی ددغي نه هيڅ شي پټ نه پاتي کيږي، لکه څرنګه چې الله فرمايلي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾﴾ [التوبة: ١١٥].

ترجمه: بيشکه چې الله تعالی په هر شي باندي خبردار او پوهه دی.

او الله عز وجل فرمايلي: ﴿لِّتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عِلۡمَۢا ﴿١٢﴾﴾ [الطلاق: ١٢].

ترجمه: ددی لپاره چې تاسي پرې پوهه شي چې الله رب العزت په هر شي د قدرت والا دی، او الله تعالی هر شي راګير کړی په خپل علم کې.

<u>دوهم کار:</u> ليکل د الله تعالی د ټول هغه څه چې فيصله او تقدير يې ورلره کړي؛ لکه څرنګه چې الله تعالی فرمائي: ﴿قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنقُصُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۡهُمۡۖ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظُۢ ﴿٤﴾﴾ [ق: ٤].

ترجمه: بيشکه پوهه يو مونږ په هغه څه چې کموي ځمکه ددوي نه، او زمونږ سره ددوي د عملونو ساتونکي کتاب دی.

او الله فرمائي: ﴿وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿١٢﴾﴾ [يس: ١٢].

ترجمه: او هر څيز راڅيړ کړي مونږ په کتاب ښکاره کې.

او الله تعالى فرمائي: ﴿أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾﴾ [الحج: ٧٠].

ترجمه: آيا ته نه پوهيږي چې بيشکه الله تعالى پوهه دى په هغه څه چې په أسمان او ځمکې کې دي، بيشکه دا ټول په لوح محفوظ کې دي، بيشکه دا کار په الله تعالى آسان دي.

دريم کار: دالله تعالى په تطبيقيدونکي إراده إيمان لرل؛ نو څه چې وغواړي کيږي، او څه چې ونه غواړي نو نه تر سره کيږي؛ لکه څرنګه چې الله فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ﴾ حج: ١٨

ترجمه: بيشکه چې الله هغه څه کوي چې وغواړي

او فرمائي ﴿إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾ [يس: ٨٢]

ترجمه: بيشکه حکم د هغه کله چې وغواړي پيدا کول د يو څه شي چې ووايي هغه ته شه نو هغه موجود شي.

او فرمائي: ﴿وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾ [التكوير: ٢٩].

ترجمة: او تاسو خو إراده نشي كولي مګر كله چې الله تعالى يې إراده وكړي، چې پالونكي د ټولو مخلوقاتو دي.

څلورم كار: إيمان لرل چې ټول موجودات الله پيدا كړي بل پيداكونكي او پالونكي يې نشته؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴾ [الزمر: ٦٢].

ترجمه: الله تعالى پيداكونكي د هر څيز دي، او دهر څيز ذمه دار دى.

او فرمايلي دي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴾ [فاطر: ٣].

ترجمه: أي خلكو په تاسي د الله نعمتونه را ياد كړى، آيا شته كوم پيداكونكي بغير د الله تعالى څخه، چې تاسو ته روزي دركونكي دي د أسمان او ځمكي څخه؛ نو نشته مستحق د عبادت مګر همدا الله تعالى دى؛ نو كوم طرف ته تاسي ګرځئ.

نو د أهل السنة والجماعة په نيزد په تقدير باندي إيمان لرل دى څلور واړو شيانو باندي إيمان لرلو ته شامل دى، د بدعتيانو په خلاف چې ددغو د ځني څخه إنكار كوي، او په

الله تعالى باندى إيمان لرلو كې دا داخل دي چې إيمان وينا (قول) او عمل دي په إطاعت سره زياتيږي او په ګناهونو سره كميږي، او دا چې د مسلمانانو څخه دهيڅ يو كس كافر كول جائز نه دي، په هيڅ قسم ته ګناهونو باندي چې شرك او كفر نه راښكته وي؛ لكه په زنا كولو او غلا كولو او په سود كولو او نشي كولو، او د مور پلار په نافرماني كولو او داسي نورې كبيرة ګناهونو؛ تر څو چې يې دغه حلال نه وي شميرلي، د الله تعالى ددى وينا له وجې چې فرمايلي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾[النساء: ٤٨].

ترجمه: بيشكه چې الله بښنه نه كوي د شرك، چې ورسره وكړي شي، او بښنه كوي د هغه ګناهونو چې د شرك نه په ټيټه درجه كې وي چا لره چې وغواړي.

او ځكه چې په متواترو حديثونو كې د رسول الله ﷺ نه دا ثابت دي چې الله تعالى به د اور څخه هغه څوك وباسي چې په زړه كې د يوي زري هومره إيمان موجود وي، او په الله تعالى باندي د إيمان لرلودجملي څخه د الله پرستي په سبب د چا سره مينه او محبت كول دي، او د الله لپاره چا سره بغض كول دي،

او د وستي د الله پرستو سره د الله لپاره کول دي، او د الله لپاره چا سره دشمني کول دي؛ نو مؤمن به خوښه وي مؤمنانو لره او دوستي به ورسره کوي، او د کافرانو سره به بغض، او دشمني کوي.

او د مؤمنانو په سر کې په دی أمت کې د رسول الله ﷺ صحابه کرام دي؛ نو أهل السنة والجماعة ورسره مينه او محبت او دوستي کوي، او دا عقيده لري چې دوي د پيغمبرانو څخه وروسته د خلکو غوره دي؛ د نبي ﷺ ددی وينا له وجي چې فرمايلي : "**خير الناس قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم**". **متفق على صحته.**

ترجمه: غوره د خلکو زما پيړۍ ده، او بيا هغه کسان چې دوي پسی دي، او بيا هغه کسان چې دغو پسي دي.

او دا عقيده لري چې بهترين او افضله ددوي أبو بکر الصديق دی، بيا عمر الفاروق دی، او بيا عثمان ذو النورين دی، او بيا علي المرتضى رضوان الله عليهم دی، الله دی د ټولو څخه راضي شي.

او ددوي څخه وروسته پاتي عشره مبشره دي، او بيا نور پاتي ټول صحابه دي، الله دی د ټولو څخه راضي شي، او د صحابه کرامو تر منځ چې څه واقع شوي په هغه کې خبري نه کوي، او دا عقيده لري چې دوي په دغه کار کې مجتهدين وو، که څوك حق ته رسيدلي وي؛ نو دوه أجرونه ورلره دي، او که څوك خطاء شوي وي؛ نو هغه لره يو أجر دی، او د رسول الله ﷺ دأهل بيتو سره محبت کوي چې إيمان يې پري راوړي وي.

او هغوي سره د زړه له کومي دوستي او مينه کوي، او د نبي ﷺ د بي بيانو سره محبت لري، چې د مؤمنانو ميانديدي، اود دوي د ټولو څخه راضي دي، او بيزاري ښکاره کوي د شيعګانو د طريقي څخه چې بغض او کينه لري د رسول الله ﷺ د أصحابو کرامو سره، او کنځلي ورته کوي،او دأهل بيتو په حق کې د حد څخه تجاوز او زياتي کوي، او د خپلي هغي درجي څخه يې اوچتوي چې الله تعالى ورته ورکړي؛ لکه څرنګه چې بيزاري ښکاره کوي د نواصبو د طريقي څخه، او دا هغه دي چې أهل بيتو ته په خپل وينا او يا عمل ضرر ورسوي، او ټول هغه څه چې مونږه يې يادونه وکړه په دی لنډه وينا کې هغه داخل دي په صحيحي عقيدي کې چې الله تعالى پري خپل

پيغمبر محمد ﷺ رالیږلي دي، او دا د کاميابي او نجات موندونکي ډلي أهل السنة والجماعة عقيده ده، چې نبي ﷺ يې په حق کې داسي فرمايلي دي: "لا تزال طائفة من أمتي على الحق منصورة لا يضرهم من خذلهم حتى يأتي أمر الله سبحانه".

ترجمه: هميشه لپاره به زما د أمت يو ډله په حق باندي وي چې إمداد به يې کړي شوي وي، ضرر نه شي رسولى دوي ته هغه څوک چې دوي پريږدي (يعني ددوي کومك نه کوي) تر څو چې د الله تعالى امر راشي (يعني قيامت قائم شي).

او نبي ﷺ فرمايلي دي: "افترقت اليهود على إحدى وسبعين فرقة، وافترقت النصارى على اثنتين وسبعين فرقة، وستفترق هذه الأمة على ثلاث وسبعين فرقة كلها في النار إلا واحدة". فقال الصحابة: من هي يا رسول الله؟ قال: "من كان على مثل ما أنا عليه وأصحابي".

ترجمه: يهود په يو اويا ډلو باندي ويشل شوي وو، او نصارى په دوه اويا ډلو باندي ويشل شوي وو، او زر دى چې دا امت به په دري اويا ډلو وويشل شي، چې ټولي به په اور کې وي مګر فقط يوه ډله؛ نو صحابه کرامو وويل: دغه ډله به څوك وي؛ نو نبي ﷺ ورته په جواب کې وفرمايل: چې دا هغه څوك

دي چې د هغې لاري پيروي کوي چې زه پري يم، او زما صحابه وربانديدي.

او دا هغه عقيده ده چې ځان سمبالول او مضبوط پاتي کيدل پري واجب دي، او د هغه څه څخه ځان ساتنه واجب دي چې ددی عقيدي مخالف وي.

او هر چې ددی عقيدي څخه اوړيدونکي دي، او ددی په ضد باندي روان دي؛ نو دوي ډير قسمونه دي ځني ددوي څخه د بوتانو او د ملائکو، او د أولياء کرامو او د پيريانو او کانو بوټو او داسي نور شيانو عبادت کونکي دي؛ نو دوي د پيغمبرانو دعوت نه دی قبول کړي بلکي مخالفت يې ورلره کړی، او ضد بازي يې ورسره کړی؛ لکه څرنګه چې د قريشو قبلي او د عربو نورو ډلو د نبي ﷺ سره کاوو، او دوي به د خپلو خدايانو څخه د حاجتونو پوره کول او د مريضانو روغول او په دشمنانو د کاميابيدلو غوښتني کولي، او ددغو لپاره به يې حلالکي او منختي (نذرونه) کولي، نو هر کله چې نبي ﷺ ددغو څخه منع کړل، او خاص يواځي د الله تعالى دعبادت أمر يې ورته وکړو؛ نو دغو ته دا خبره ناشنا ښکاره شوه او بده يې وشميرله.

او ټولو په يو اواز باندي وويل: ﴿ أَجَعَلَ ٱلْأَلِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ۝٥ ﴾ [ص: ٥].

ترجمه: آيا دا (پيغمبر) جوړ وي ډيرو معبودانو لره يو معبود، بيشکه دا کار ډير ناشنا شی دی.

نبي ﷺ هميشه دوي الله تعالى طرف ته رابلل، او د شرك څخه يې ويرول، او دوي ته به يې د هغه څه حقيقت بياناولو چې هغه ته يې رابلل کول؛ تر دی چې الله تعالى هدايت وکړو ددوي څخه هغه چاته چې هغه په هدايت شو، او بيا ددغه نه وروسته دوي د الله تعالى په دين کې ډلې ډلې داخل شو؛ نو د الله تعالى دين په نورو ټولو دينونو باندي وروسته د پرله پسې دعوت څخه وځليده، او د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو او تابعينو د اوږد جهاد څخه، بيا وروسته حالات بدل شو،او په ډيرو خلکو ناپوهي (جهالت) زوروره شوه؛ تر دی چې ډېر د ناپوهي او جهالت دين ته وروا‌پس شول په زياتي کولو باندي د پيغمبرانو او أولياء کرامو په حق کې، او د هغوي په رابللو باندي، او د هغوي په مدد غوښتلو باندي، او داسي نور د شرك په أقسامو باندي، او د (لا إله إلا الله) معنى يې ونه

پیژندله؛ لکه څرنګه چې ددی کلمي معنی عربو کافرو پیژندلي وه. فالله المستعان.

او زمونږ ددی زماني پوري په خلکو کې دوامداره دا شرك خوریدلو د ناپوهي غالبه کیدو په سبب، او د پیغمبري د زماني څخه د مسافي د او ږدیدو په خاطر، او ددی ورستنیو خلکو شبه او اعتراض خودبخود د اولنیو شبه ده، او هغه ددوي دا وینا ده: ﴿هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ﴾[یونس: ۱۸].

ترجمه: او وائي دوي چې دا کسان زمونږ سفارشیان دي د الله تعالی په دربار کې.

او دا وینا ده: ﴿مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ﴾ [الزمر: ۳].

ترجمه: او دوي وائي بندګي نه کوو مونږ ددوي مګر لپاره ددی چې نیژدي کړي مونږه الله تعالی ته په نیژدي کولو سره.

او په تحقیق سره الله رب العزت ددوي دا شبه باطله کړیده، او بیان یې کړي دی چې هر هغه څوك چې بغیر د الله تعالی لپاره عبادت وکړي که هغه هر څوك وي؛ نو الله تعالی سره یې شرك او کفر وکړو؛ لکه څرنګه چې الله تعالی فرمائي:

﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ﴾[يونس: ١٨].

ترجمه: او بندګي کوي دا خلك ما سيوا د الله تعالى څخه د هغه چا چې نه ضرر رسولي شي دوي ته او نه نفعه رسولي شي دوي ته، او دوي وائي چې دا کسان زمونږه سفارشيان دي د الله تعالى په دربار کې.

نو الله په دوي په دې وينا رد وکړو: ﴿ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ [يونس: ١٨].

ترجمه: او دوي ته ووايه آيا تاسو خبر ورکوى الله تعالى ته په هغه څيز چې نه يې پيژني الله تعالى په أسمانونو کې اونه په ځمکه کې (يعني موجود نه دى)، پاك دى الله تعالى، او اوچت دي د هغه څه څخه چې دوي شريکوي الله تعالى سره.

نو الله تعالى په دې آيت کې بيان وکړ چې عبادت کول بغير د الله تعالى څخه د پيغمبرانو او أولياؤ کرامو او يا د نور چا لپاره هم دا لوي شرك دي، اګر که کونکي يې په بل نوم يادوي،

او الله تعالى فرمائي: ﴿وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ﴾ [الزمر: ٣].

ترجمه: او هغه کسان چې نیولي دي ما سیوا د الله تعالى څخه مددګاران (وائي) مونږ ددوي بندګي نه کوو مګر ددی لپاره چې نیزدي کړي مونږه الله تعالى ته په نیژدي کولو سره.

نو الله تعالى وربانديي په دی وینا رد وکړو: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِى مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَنْ هُوَ كَٰذِبٌ كَفَّارٌ﴾[الزمر: ٣]

ترجمه: بیشکه الله تعالى به فیصله وکړي په منځ ددوي کې په هغه څیز کې چې دوي ورپکي اختلاف کوي، بیشکه الله تعالى توفیق نه ورکوي هغه چا ته چې ډېر دروغژن کافر دی.

نو الله تعالى په دی سره ښکاره کړه چې ددوي عبادت د غیرالله لپاره د هغه نه په دعاء غوښتلو او ویره کولو او أمید لرلو او دا سي نوري طریقي په الله تعالى باندي کفر کول دي.

او الله تعالى دوي لره ددوي په دی وینا کښې دروغژن کړل چې وایي: بیشکه ددوي معبودان دوي لره نیژدي کوي الله تعالى ته په نیژدي کولو سره.

او ځني د هغو کفري عقيدو د جملي څخه چې دصحيحي عقيدي سره تضاد لري او د پيغمبرانو ددين مخالف دي: هغه څه دي چې د نن زماني ملحدين د ماركس او لينن او ددوي څخه علاوه د کفر او إلحاد ته د رابلونکو تابعدارن يې عقيده لري، که دغه ته بيا ددوي اشتراکيت يا شيوعت، او يا بعثيت او نور نومونه وائي؛ ځکه ددی ملحدانو د أصولو څخه دا دي چې اله (معبود) نشته، او ژوند ماده ده (طبيعت دی)، او ددوي د أصولو څخه د بيا ژوندون (قيامت) إنکار دی، او د جنت او جهنم څخه انکار کول دي، او په ټولو دينونو باندي کفر کول دي، او که چا يې کتابونه وکتل او هغه څه يې ولوستل چې دوي يې عقيده لري دغه به په يقيني طور وپيژني، او په دی کې هيڅ شك نشته دی چې دا عقيده د ټولو أسماني دينونو ضد ده، او عقيده لرونکي يې په دنيا او أخرت کې ډيرو بدو انجامونو ته رسيږي.

او د هغو عقيدو د جملي څخه چې د حق سره ټکر لري هغه څه دي چې ځني صوفيان يې عقيده لري، او هغه دا چې ځني هغه څوك چې دوي يې أولياء نوموي الله تعالى سره د عالم په تدبير کې شراکت لري، او د عالم په کارونو کې واکداري

كوي، او د أقطاب او د اوتاد او د أغواثو نومونه ورته كيږدي، او داسي نور نومونه چې د ځان نه يې د خپلو معبودانو لپاره جوړ كړي، او دا په ربوبيت كې ډير بدتره شرك دى، او د عربو د جاهليت د شرك څخه ډير بدترين دى ؛ ځكه د عربو كافرو په ربوبيت كې شرك نه وو كړي؛ بلكي په عبادت كې شرك كاوو، او دا شرك ددوي د اساني (پراخى) او خوشحالى په حالت كې وو، او هر كله چې د سختي حالت به پري راغي نو خاص الله تعالى به يې رابللوه؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي:

﴿ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾[العنكبوت: ٦٥].

ترجمه: نو هر كله چې دوي سواره شي په كشتي كې رابلي دوي الله تعالى لره، إخلاص كوي د هغه په بلنه كې؛ نو هر كله چې بچ كړي دوي لره اوچې ته؛ نو دغه وقت دوي الله تعالى سره شريك جوړوي.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ [يونس: ٣١].

ترجمه: نو ورته ووايه تاسو ته څوك روزي دركوي د أسمان او ځمكي څخه، او يا څوك اختيارمند دي د غوږونو او د سترګو، او څوك را اوباسي ژوندي د مړ نه، او مړ د ژوندي څخه، او څوك انتظام كوي د ټولو كارونو؛ نو زر دى چې وبه وايې دوي: چې الله تعالى دى؛ نو ورته ووايه آيا تاسو ځانونه نه بچ كوي د شرك څخه.

او په دى باب كې ډير زيات آياتونه شته دي.

او هر چې دا وروستنې مشركان دي؛ نو د مخكنيو څخه له دوه جانبه زياتي كوي: يو دا چې ځني ددوي په ربوبيت كې شرك كوي، او دوهم دا چې دوي په آسانتيا او سختي دواړو كې شرك كوي؛ لكه څرنګه چې دا هر هغه چاته معلوميږي چې ورسره وخت تير كړي، او حالات يې وڅاري، او هغه څه ووينې چې دوي يې د حسين او بدوي او د نورو د قبرونو سره په مصر كې كوي، او د عيد روس د قبر سره په عدن كې او د هادي د قبر سره په يمن كې، او ابن عربي د قبر سره په شام (سوريا) كې، او د عبد القادر الجيلاني د قبر سره په عراق كې او داسي نورو هغو مشهورو قبرونو سره چې عوامو د هغوي په حق

کښې زياتي (غلو) نه کار اخيستي، او د الله د حقوقو څخه يې ورته ډير حقونه ورکړي.

او هغه څوک چې ددوي دی کار ته بد ووايي ډير کم دي، او د هغه توحيد حقيقت ورته بيان کړي چې الله پري خپل پيغمبر محمد ﷺ او دده نه مخکې پيغمبران رالېږلي دي، نو إنا لله وإنا إليه راجعون، او د الله تعالى څخه غواړو چې الله يې سمي لاري ته راستانه کړي، او ددوي تر منځ د هدايت دعوت کونکي ډير کړي، او د مسلمانانو رهبرانو او علماؤ ته ددی شرك او وسائلو سره يې د مبارزي او ختمولو وسع او توفيق ورکړي؛ ځکه دا الله اوريدونکي او نيژدي ذات دي.

او د هغو عقيدو د جملي څخه چې د الله تعالى د أسماء او صفاتو په باب کښې د صحيحي عقيدي ضد دی، د بدعتيانو هغه عقيدي دي؛ لکه د جهمية او معتزلة (فرقي) او هغه څوک چې ددوي په لار روان دي، د الله تعالى څخه د کمال صفتونو نفي کولو او بې معنى کړځولو، او الله تعالى لره يې د معدوم (ناموجود) او بې ساه او ناممکن شيانو په صفتونو موصوف کړي، الله ډير اوچت دی ددوي د هغو ويناګانو څخه چې دوي يې وائي په اوچت والي لوي سره.

او په دى كې هغه څوك داخل دي چې ځني صفتونه نفي كوي، او ځني ورلره ثابتوي؛ لكه د أشاعرو ډله؛ نو بيشكه چې په دوي په هغو صفتونو كې دوي ثابت كړي هغه څه لازميږي چې دكوم څه څخه دوي تختي په هغه صفاتو كښې چې دوي نفي كوي، او دليلونه يې ورلره د خپلو معناګانو څخه اړولي دي؛ نو په دى كار سره د نقلي او عقلي دليلونو مخالفت كوي، او په دى سره په تناقض كښې واقع شوي دي، او هر چې أهل السنة والجماعة دي نو په تحقيق سره الله تعالى لره هغه صفتونه ثابتوي چې الله تعالى خپل ذات لره ثابت كړي، او د هغه پيغمبر محمد ﷺ چې ورلره كوم نومونه او صفتونه ثابت كړي په طريقه د كمال، او أهل السنة والجماعة الله لره پاك كوي د مخلوق سره د مشابهت څخه، په داسي پاكي سره چې د تعطيل (يعني بې مراده پريښودلو څخه) د شك او شبهې نه پاك وي؛ نو په ټولو دليلونو عمل كوي، او معناګاني ورلره نه بدلوي، او نه يې بې مراده پريښي، او د هغه ضد نقيض نه په امان شوي چې ددوي نه بغير نور ورپكي واقع شوي - لكه څرنګه چې مخكې بيان تير شو - او همدا د خلاصي او سعادت لاره ده په دنيا او أخرت كې، او همدا هغه سمه سيده

لاره ده چې ددی أمت إمامان او سلف پري روان شوي دي، او هيڅکله به وروستني ددی امت إصلاح نشي مګر په هغه څه چې اولني ددی أمت وربانديې إصلاح شوي، او دغه د قرآن کريم او حديثو په تابعداري کې ده، او د هر هغه څه په پريښودلو کې ده چې ددی دواړو مخالف وي.

والله ولي التوفيق وهو سبحانه حسبنا ونعم الوكيل، ولا حول ولا قوة إلا به.

وصلى الله على عبده ورسوله نبينا محمد وآله وصحبه.

إقامة البراهين على حكم من استغاث بغير الله أو صدق الكهنة والعرافين[1]

ترجمه: دهغه چاپه حكم مضبوط دليلونه قائمول چې دالله تعالى څخه بغير بل چاته فريادونه اوچغې كوي،اويا دنجوميانو اوپالګرو تصديق كوي.

او په ديكي دري رسالي دي:

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن ولاه أما بعد:

نو هر كله چې د توحيد عقيده هغه بنياد دى چې د محمد بن عبد الله ﷺ دعوت پري بناء او ولاړ دى، او دا عقيده په حقيقت كې د ټولو پيغمبرانو ددعوت لپاره يو سلسله وار دعوت دى ؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴾[النحل: ٣٦].

---

[1] دا موضوع د علمي بحثونو او فتواګانو، او د دعوت او إرشاد د رياست د خپرونو په يو كتاب كښې په كال ١٤٠٤هـ نشر شوي

ترجمه: او په تحقیق سره مونږ لیږلي هر أمت ته پیغمبر چې دا خبره ووایې چې د الله تعالی عبادت وکړي، او ځانونه د طاغوت د بندګۍ څخه وساتي.

او د مضبوطي عقیدي لرلو د جملي څخه په دی دعوت باندي د بدعاتو او باطلو کارونو سره مقابله کول دي په مختلفه شکلونو باندي؛ نو بیشکه چې په هر مسلمان واجب دي چې ځان په خپل دین ډیر ښه پوهه کړي، او دالله تعالی عبادت د شریعت مطابق وکړي، او په تحقیق سره اولني مسلمانان (سلف) ددی امت د خپل دین په هدایت او سمي لاري وو، او دا ځکه چې ددوي عملونه بلکي ټول کارونه يې د هغه څه موافق وو چې قرآن کریم او د پیغمبر ﷺ حدیثونه پرې راغلي دي.

بیا وروسته چې هر کله ډیرو مسلمانانو ددی مضبوطي او سیده لاري څخه (چې هغه د قرآن او حدیثو لاره ده) بې لاري اختیار کړه په خپلو عقیدو او عملونو کې؛ نو ډلي ډلي او حزبونو شو، په عقیدو او مذهبونو کې، او په سیاست او حکمونو کې، او ددغي بې لاري د نتیجو څخه داوه چې په دوي کې بدعات او باطل کارونه او کوډي او جادو رواج شو،

او دا كار د إسلام دشمنانو لپاره په إسلام او مسلمانانو باندې د تهمت او طعن لړولو لپاره يوه بهانه وګرځيدله، او د إسلام علماء ددې بدعتونو څخه په خپلو كتابونو كښې پخوا او اوس د ځان ساتنې خبرداري وركړي.

او په دغه كار كې ما هم په دري رسالو (كتابونو) برخه اخيستې:

اولنی رسالة: په پيغمبر ﷺ باندې مدد اوكومك غوښتلو په حكم كښې ده.

دوهمه رسالة: په پيريانو او شيطانانو باندې د مدد او كومك غوښتلو، او د هغوي لپاره د نذرانو كول په حكم كښې ده.

دريمه رسالة: په بدعي او شركي وظيفو باندې بندګي كولو په حكم كښې ده.

او د دار الافتاء – چې د إسلامي دعوت بيرغ (جنډه) يې په دې مبارك وطن كې اوچت كړي دي – أي لوستونكي ستا په وړاندې دا دري واړه رسالې كيږدي، د بدعاتو او خرافاتو سره په مقابله كولو كښې د برخې او ونډې اخستلو په خاطر، او د

حقیقي إسلام د پوهي او ثقافت د مرتبي دلوړ والي په خاطر، د الله تعالى څخه غواړم چې په دې رسالو خپلو بندګانو ته فائده ورسوي.

والله ولي التوفيق وصلى الله على محمد وآله وصحبه وسلم.

اوله رساله:

په نبي ﷺ باندي د مدد او كومك غوښتلو په حكم كښې ده.

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وأصحابه ومن اهتدى بهداه. أما بعد:

د كويت المجتمع ورځپاڼي (أخبار) په ۱۵ شماره چې ۱۳۹۰/۴/۱۹هـ صادره شوي يو څو بيتونه ددى عنوان لاندي (في ذكرى المولد النبوي الشريف) خپاره كړي دي، چې ورپكي په نبي ﷺ باندي مدد او كومك غوښتل دي، او د هغه څخه د امت د بچاو او نجات او كومك غوښتنه شوي،او د هغه څخه دهغو ډلبازيانو او اختلافاتو څخه دامت دخلاصون غوښتنه شوي، په كومو كښې چې امت واقع دى.

او دا بيتونه د هغه چا په دستخط دي چې ځان يې په (آمنة) باندي نومولي، اودا راتلونكي هم هغه بيتونه دي چې مخكي ورته إشاره وشوه.

يا رسول الله أدرك عالماً يشعل الحرب ويصلي من لظاها

اى دالله پاك رسول (پيغمبر) هغه أمت بچ كړهٔ چې جنګ ګرموي،او دجنګ په لمبو سوزي.

يا رسول الله أدرك أمــة في ظلام الشك قد طال سراها

اى د الله پاك رسول (پيغمبر) هغه امت بچ کړۀ چې د هغوي محل د شك په تيرو کښې اوږد دي.

يا رسول الله أدرك أمة في متاهات الأسى ضاعت رؤاها

اى د الله پاك رسول (پيغمبر) هغه أمت بچ کړۀ چې د غم په بيبانونو کښې د هغوي (أميدونه) ضائع شوي.

تر دى چې ويلي دي:

يا رسول الله أدرك أمة في ظلام الشك قد طال سراها

اى د الله پاك رسول (پيغمبر) هغه أمت بچ کړۀ چې د هغوي محل د شك په تيرو کښې اوږد دي.

عجل النصر كما عجلته يوم بدر حين ناديت الإله

او زر کومك وکړۀ؛ لکه څرنګه چې تا د بدر په ورځ کومك زر کړي ؤ، کله چې تا الله ته اواز وکړو.

فاستحال الذل نصراً رائعاً إن لله جنوداً لا تراها

نو شکست په ښه کاميابي بدل شو، او الله تعالى لره لښکري دى چې ته هغه نه وينى.

الله اکبر! ! دغه رنګه توجه ده ددی لیکوالي چې پیغمبر ﷺ ته چغي وهي، او دهغه څخه د مدد او کومك غوښتنه کوي، او د هغه څخه د أمت بچوالي غواړي؛ امت سره په سمدستي نصرت کولو؛ چې هیرونکي ده او یا ناپوه ده چې نصرت او أمداد یواځي د یو الله په لاس کې دي، نه د نبي ﷺ په لاس کې دي، او نه د مخلوقاتو څخه د بل کوم چا په لاس کې دی؛ لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾﴾ [آل عمران: ١٢٦].

ترجمه: او نه دي نصرت او غلبه مګر له طرفه د الله نه، چې زورو دي او حکمتونو والا دي.

او الله تعالی فرمائي: ﴿إِن يَنصُرْكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا ٱلَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ﴾ [آل عمران: ١٦٠].

ترجمه: که الله تعالی تاسو سره إمداد وکړي نو نیشته دی په تاسو زورور، او که الله تعالی تاسو لره پریږدي نو څوك دی هغه کس چې تاسو سره به إمداد وکړي بغیر د هغه نه.

او په شرعي دلیلونو او د امت په إجماع معلومه شوي چې الله تعالی خلك د خپل عبادت لپاره پیدا کړی دی، او ددغه

عبادت بیانولواو ورته د دعوت لپاره یې پیغمبران لیږلي دي، اوکتابونه یې نازل کړي؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمایلي دي: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ [الذاريات: ٥٦].

ترجمه: او ما نه دي پیدا کړي پیریان او إنسانان مګر خاص ددی لپاره چې زما عبادت وکړي.

او الله تعالى فرمایلي دي: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾[النحل: ٣٦].

ترجمه: او په تحقیق سره مونږ لیږلي دي هر أمت ته پیغمبر ددی لپاره چې ورته ووائي چې د الله عبادت وکړي او ځان د طاغوت څخه لري، او بچ وساتي.

او الله تعالى فرمایلي دي: ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾ ﴾ [الأنبياء: ٢٥].

ترجمه: او نه دي لیږلي مونږ ستا څخه مخکې هیڅ یو پیغمبر مګر وحي مو ورته کړي ددی چې نیشته مستحق د عبادت مګر یواځي زه؛ نو زما عبادت وکړي.

او الله فرمايلي دي: ﴿الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ۝١ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ۝٢﴾ [هود: ١ – ٢].

ترجمه:الله تعالى په معنى ددي حروفو ښه پوهيږي، دا كتاب دى چې د حكمت نه ډك شوي دي آياتونه دده، بيا واوري چې تفصيل كړې شوي دى (د ضروري مسائلو) له طرف د حكمت والا او خبردار ذات څخه دى، چې مه كوئ بندګي د هيڅا ما سيوا د الله تعالى نه، بيشكه زه ستاسو لپاره د هغه له طرفه ويره او زيري دركونكي يم.

نو الله رب العزت په دى مضبوطو آياتونو كې واضحه ښكاره كړه چې الله تعالى پيريان او إنسانان نه دى پيدا كړې مګر خاص ددى لپاره چې يواځې هم دده عبادت وكړي، چې شريك ورلره ونه ګرځوي، او ددى بيان يې وكړو چې پيغمبران يې ليږلي په دى عبادت باندې د أمر كولو لپاره، او ددى د ضد نه دمنع كول لپاره، اوالله تعالى خبر وركړې دي چې د خپل كتاب آياتونه يې محكم او مضبوط كړي، او بيا يې ددى لپاره تفصيل كړى چې د الله نه ما سيوا عبادت ونه كړي شي، او عبادت د الله توحيد او د يووالي عقيده لرل او د هغه إطاعت

کول دي، د هغه د امرونو په تابعداري کولو سره، او دهغه څه په پرېښودلو سره چې منع يې تري کړي وي، او په تحقيق سره الله په دی خبره په ډيرو آياتونو کې أمر کړي دي چې د هغي د جملي څخه د الله تعالی دا قول دي: ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ ﴾ [البينة: ٥].

ترجمه: او نه دي امر کړي شوي دوي ته مګر ددی چې عبادت د الله وکړي، چې په إخلاص کوي ده لره دينداري، او کلك وي په توحيد باندي.

او د الله تعالی دا قول: ﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾[الاسراء: ٢٣].

ترجمه: او ستا رب فيصله کړي ده چې عبادت به نه کوي مګر يواځي دده.

او د الله تعالی دا قول: ﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ۝٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُ ﴾[الزمر: ٢ – ٣].

ترجمه: بيشکه مونږه تاته دا کتاب د حق سره کاره کولو لپاره نازل کړي؛ نو بندګي کوي الله تعالی لره چې خالص کونکي

خاص هغه لره بندګي، او خبر شي خاص الله تعالى لره ده بندګي خاص.

او آياتونه په دى هكله ډير زيات دي چې ټول پر دي دلالت كوي چې عبادت خاص يواځي يو الله تعالى لپاره كولو پكار دي، او د الله نه ما سيوا د بل چا عبادت پريښودل كه د پيغمبرانو وي او كه د نورو وي، او په دى كې هيڅ شك نشته دى چې دعاء غوښتل د مهمو او جامع عبادتونو څخه ده، نو واجب ده چې خاص د يو الله تعالى څخه وغوښتل شي؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ١٤ ﴾ [غافر: ١٤].

ترجمه: نو د الله تعالى څخه حاجتونه غواړي چې خالص كونكي يې هغه لپاره رابلنه، اګر كه كافران دا بد ګڼي.

او فرمايلي: ﴿ وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا ﴾ [الجن: ١٨].

ترجمه: او دا چې مسجدونه خاص الله تعالى لره دي؛ نو مه بلي الله تعالى سره بل هيڅوك مددګاران.

او دا خبره د ټولو مخلوقاتو لپاره ده: كه پيغمبران دي، او كه ددوي نه بغير نور وي؛ ځكه (أحداً) نامعلوم (نكرة) ده په

سياق د نهي كښې؛ نو هر هغه څه ته شاملیږي چې د الله څخه بغير وي، او الله رب العزت فرمائي: ﴿ وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ﴾[يونس: ١٠٦].

ترجمه: او مه رابله بغير د الله تعالى څخه هغه څه چې نه فائده دررسولي شي او نه څه ضرر.

او دا فرمان پيغمبر ﷺ ته دي، او معلومداره خبره ده چې الله تعالى پيغمبر ﷺ د شرك نه بچ ساتلي دي، او بيشكه چې مراد ددى څخه د نورو خلكو ويرول دي، او بيا ورپسې الله رب العزت فرمائي: ﴿ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٦﴾ ﴾ [يونس: ١٠٦].

ترجمه: كه دغه كار دى وكړو نو بيشكه چې شي به په دغه وقت كې د زياتي كونكو نه.

نو كله كه د بني آدمو سردار د الله څخه بغير بل څوك راوبلي نو ده زياتي كونكونه به وي ، نو بل څوك به لا څنګه نه وي، او ظلم چې كله بى له قيد او شرط ذكر كړي شي نو مراد ترينه غټ او لوي شرك وي؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ وَٱلْكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٥٤﴾ ﴾ [البقرة: ٢٥٤].

ترجمة: او کافران هم دوي ظالمان (مشرکان) دي.

او الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ [لقمان: ١٣].

ترجمه: بیشکه چې شرك خامخا ډیر لوي ظلم او زیاتي دی.

نو په دی آیاتونو او نورو سره معلومه شوه چې د الله څخه بغیر د مړو او ونوو بوټو او بوتانو او نورو څخه دعاء غوښتل الله سره شرك دی، او د هغه دعبادت سره تضاد لري چې پیریان او إنسانان یې د هغی لپاره پیدا کړي، او پیغمبران یې د هغي لپاره رالیږلي دي، او کتابونه یې د هغي د بیان او هغي ته ددعوت کولو لپاره نازل کړي، او همدا مقصد د (لا إله إلا الله) دي؛ ځکه معنی یې داده چې نشته حقدار د بندګي بغیر د الله تعالی څخه؛ نو دا کلمه د غیر الله څخه د عبادت حقداري نفي کوي، او یواځي الله تعالی لره یې ثابتوي؛ لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلْبَٰطِلُ﴾ [الحج: ٦٢].

ترجمه: دا مدد په دی وجه دي چې بیشکه الله تعالی لره حقه بندګي ده، او د هغه چا بندګي کول چې غیر د الله تعالی څخه ورته دوي رامدد شه وائي باطله ده.

او دا د دين بنسټ او اساس دی، او عبادتونه نه صحيح کيږي مګر وروسته ددی بنسټ او أساس د صحيح والي څخه؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٦٥﴾ ﴾ [الزمر: ٦٥].

ترجمه: او بيشکه تاته وحي کړي شوي ده، او هغو کسانو ته چې ستا څخه مخکې تير شوي دي که چيرې تا شرک وکړو نو خامخا برباد به شي عمل ستا او خامخا به شي ته د تاوانيانو څخه.

او فرمايلي: ﴿ وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ [الأنعام: ٨٨].

ترجمه: او بالفرض که شرک کړي وي دوي؛ نو خامخا برباد شوي به وي ددوي څخه هغه عملونه چې دوي کول.

او إسلامي دين په دوه عظيمو بنيادونو (بنسټونو) ولاړ دي:

اول: دا چې عبادت به نه شي کولي مګر يواځي د الله تعالى.

اودوهم: دا چې د هغه عبادت به نه شي کولي مګر د هغه د پيغمبر ﷺ د شريعت مطابق، او همدا د(لا إله إلا الله) د کلمي مقصد او معنى ده.

نو چا چې مړو لره راوبلل: که د پیغمبران دجملي څخه وي، او که نور څوك وي، او یا یې بوتانو لره راوبلل، او یا یې وني بوتې او کانې او داسي نور مخلوقات راوبلل، او یا یې هغوي ته د مدد حاصلولو چغې ووهلي، او یا یې د هغوي لپاره څه حلالکي او نذرونه (منختي) وکړي، او یا یې ورلره لمونځونه او سجدي وکړي؛ نو دوي یې د الله تعالی څخه ما سیوا په خدایتوب ونیول، اودغه یې الله تعالی سره هم مثله وګرځول، او دا ټول هغه څه دي چې ددغه مخکی بنیاد سره متضاد دي، او د (لا إله إلا الله) د کلمي د معنی منافي دي؛ لکه څرنګه چې چا په دین کې د ځان څخه یو نوي شي (طریقه) جوړ کړو چې په هغه باندي د الله تعالی حکم موجود نه وي؛ نو د (أن محمداً رسول الله) کلمي معنی یې ترسره نه کړه، او بیشکه چې الله رب العزت فرمائي: ﴿ وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾ ﴾ [الفرقان: ٢٣].

ترجمه: او مونږ قصد کړی دی هغه عمل ته چې دوي کړی وي؛ نو ګرځولي دي مونږ هغه دوړه اولوزولی شوي.

او دا د هغه چا عملونه دي چې په حالت د شرك کې مړ شوي وي، او همدارنګه د ځانه جوړ کړی شوي هغه عملونه چې الله تعالی پرې اجازت نه وي کړی؛ نو بیشکه چې په ورځ د قیامت به دغه وي دوړ اولوزولي شوي، له دی وجی چې شریعت سره به موافق نه وي؛ لکه څرنګه چې نبي ﷺ فرمایلي: "من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد". متفق عليه.

ترجمه: چا چې د ځان څخه زمونږ په دین کې یوه نوی طریقه جوړه کړه، چې په دی دین کې نه وي موجود نو هغه نامنظور ده.

او ددی حدیث په صحیحوالي اتفاق دی.

او دی لیکوالي خپل فریاد او چغې وهل او دعاء رسول الله ﷺ ته متوجي کړي، او رب العالمین نه یې مخ اړولی دی، چې هغه ذات دی چې د هغه په لاس کې إمداد او ضرر او نفعه ده، او د بل هیچا په لاس کې ددغو څخه هیڅ شي نشته دی.

او په دی کې هیڅ شك نشته چې دا ډیر خطرناك زیاتی (شرك) دي، او په تحقیق سره الله حکم کړی د هغه څخه د دعاء په غوښتلو، او هغه چا سره یې د قبلولو وعده کړی چې دده

څخه دعاء وغواړي، او جهنم ته په داخلولو يې هغه چا ته د همکي (تهديد) ورکړې څوک چې ددغه څخه مخ واړوي (تکبر) تري وکړي. لکه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴾ [غافر: ٦٠].

ترجمه: او فرمائي رب ستاسي چې زما څخه دعاګاني وغواړي؛ نو زه به يې قبولي کړم، بيشکه هغه کسان چې لوئي کوي زما ددعاء څخه زر دی چې داخل به شي جهنم ته ذليلان به وي.

يعني خړ سترګي او ذليلان به وي، او په تحقيق سره دا آيت دلالت کوي چې دعاء عبادت دی، او په دی دلالت کوي چې څوک ورڅخه لوئي وکړي؛ نو ځای ددغه جهنم دی؛ نو کله چې دا حال د هغه چا وي چې ځان لوی وشميري د الله تعالى د رابللو او رامدد شه ويلو څخه؛ نو څرنګه حال به وي د هغه چا چې هغه دالله څخه بغير بل چا ته رامدد شه وائي، او د الله تعالى څخه مخ اړوي، او د الله رب العزت نيژدي دي، او دهر يوشي واکدار دی، او په هر څه قدرت والا دی؛ لکه څرنګه چې

الله فرمايلي: ﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴾[البقرة: ١٨٦].

ترجمه: او کله چې ستا څخه زما بندګان زما په باره کې پوښته وکړي (نو ورته ووايه زما له طرفه) چې بيشکه زه نيژدی يم قبلوم دعاء ددعاء کونکي، کله چې زما څخه دعاء غواړي؛ نو زما حکمونه دي ومني، اويقين دي کوي په دعاء قبلولو زما؛ ددی لپاره چې ورسيږي مقصد خپل ته.

او رسول الله ﷺ په صحيح حديث کې خبر ورکړي چې فرمائي: "**الدعاء هو العبادة**".

ترجمه: دعاء عين عبادت دی.

او خپل د تره (کاکا) ځوي عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته فرمائي: "**احفظ الله يحفظك، احفظ الله تجده تجاهك، إذا سألت فاسأل الله وإذا استعنت فاستعن بالله**". **أخرجه الترمذي وغيره.**

ترجمه: د الله تعالى ساتنه وکړۀ نو تا به د هر قسمه مصيبتونو څخه وساتي، او الله په ياد لره نو هميشه به ستا مدد کوي، او کله چې دی څه غوښتل نو د الله څخه يې غواړه،

او کله که دی امداد غوښتلو نو د الله تعالی څخه یې غواړه. إمام ترمذي او نورو روایت کړی دی.

او نبي ﷺ فرمائي: "**من مات وهو يدعو لله نداً دخل النار**". **رواه البخاري.**

ترجمه: څوك چې په داسي حال کې مړ شو چې الله تعالی سره هم مثله رابلي ، نو اور ته به ننوځي.

او په بخاري او مسلم کې دي چې نبي ﷺ څخه تپوس وکړی شو چې کومه یوه ګناه ډیره غټه ده؟ نو هغه وفرمایل: "**أن تجعل لله نداً وهو خلقك**". یعني دا چې ته الله لره هم مثله وګرځوی او حال دا چې هغه ته پیدا کړی یې.

او (الند) هم منصبه او هم مثله ته وائ؛ نو هر چا چې د الله تعالی څخه بغیر دعاء وغوښتله او یا یې ورته فریاد او چغی ووهلي، او یا یې د هغه لپاره قرباني (نذر) وکړه، او یا ورلره حلالکه وکړه، او یا یې ورلره بل کوم څه عبادت وکړو ما سیوا د هغه څه نه چې مخکې ذکر یې وشو؛ نو په تحقیق سره دغه شي یې الله تعالی سره هم منصبه او هم مثله وګرځاوو ، که دغه

پيغمبر وي او كه ملائك وي او كه پيري وي او كه بوت وي، او يا داسي د مخلوقاتو څخه نور څوك وي.

او هر چې د موجود ژوندي څخه د هغه څه غوښتل وي چې قدرت وربانديي لري، او امداد غوښتل تري په هغه شيانو كې چې ليدلي او محسوسولى شي چې قدرت وربانديي لري نو دا غوښتنه د شرك څخه نه ده؛ بلكي د هغه معلومدارو كارونو څخه ده چې د مسلمانانو تر منځ جائز دي؛ لكه څرنګه چې الله تعالى د موسى عليه السلام په قصه كې فرمايلي دي: ﴿ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ ﴾ [القصص: ١٥].

ترجمه: نو مدد وغوښتلو دده (موسى) څخه هغه سړى چې دده د قبيلي څخه وو په مقابله د هغه سړي كې چې دده د دشمنانو څخه وو.

اولكه څرنګه چې الله تعالى د موسى عليه السلام په قيصه كې فرمايلي دي: ﴿ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ ﴾[القصص: ٢١].

ترجمه: نو ووتلو د هغه (ښار) څخه ويره كونكي چې خواو شاه يې څارله.

او لكه څرنګه چې انسان په خپلو ملګرو د جنګ په حالت كې مدد غواړي ، او بغير د جنګ څخه په نورو كارونو كې چې خلكو ته راپيښيږي او ځني ددوي څخه ځني نورو ته ورپكی حاجتمند كيږي.

او په تحقيق سره الله تعالى خپل پيغمبر ﷺ ته امر كړی چې خپل امت ته خبر وركړي چې دا پيغمبر ﷺ د هيڅ يو كس لپاره د نفعی او ضرر رسولو واكدار (مالك) نه دی؛ نو په سورت الجن كې فرمايلي :﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٠﴾ قُلْ إِنِّي لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ ﴾[الجن: ٢٠ – ٢١].

ترجمه: ته ووايۀ بيشكه زه بلنه كوم د رب زما ، اوهغه سره هيڅوك نه شريكوم، او ووايۀ بيشكه زه تاسو لره د هيڅ قسم ضرر او فائدې اختيار نه لرم.

او په سورت اعراف كې فرمايلي: ﴿ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِىَ ٱلسُّوٓءُ ۚ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾ ﴾ [الأعراف: ١٨٨].

ترجمه: أي پيغمبره ته ووايه دى خلكو ته چې زه د خپل ځان لپاره د نفع او ضرر واكدار (مالك) نه يم مګر هغه څه چې الله تعالى يې وغواړي (خوښه شي) نو كوي، او كه چيرې زه پوهيدلي په پټو رازونو (غيبو) نو د خپل ځان لپاره به مى ډېرې فائدي كړي وي، پداسي حال چې رسيدلي به نه وي ما ته څه تكليف، نه يم زه مګر ويره وركونكي او زيرى وركونكي هغه قوم ته چې ايمان والا وي.

او آياتونه په دى هكله ډير زيات دي، او پيغمبر ﷺ نه رابلي مګر خپل رب لره، او د بدر په ورځ يې د الله تعالى څخه نه مدد غو ښتلو، او دده په دشمن يې تري د نصرت غوښتنه كوله، او ډيره زاري يې كوله، او دا يې ويل: " يا رب أنجز لي ما وعدتني".

ترجمه: أي زما ربه ما لره هغه څه پوره كړي چې تا يې ما سره وعده كړي، تر دى چې لوي رشتني ابوبكر رضي الله عنه ورته وويل: أي د الله پيغمبره! بس دي، بيشكه الله تا لره د هغه څه پوره كونكي دي چې تا سره يې وعده كړي،او الله رب العزت په دى باره كې دا قول نازل كړو: ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ

مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ [الأنفال: ٩ – ١٠].

ترجمه: کوم وقت چې فریاد کاوو تاسو رب خپل ته؛ نو پس قبول یې کړه دعاء ستاسو، چې زه امداد کوم تاسې سره په زرو (۱۰۰۰) ملائکو، چې راځي به یو بل پسې، او نه دي ګرځولي الله تعالی (دا ملائکي رالیږل) مګر زیري، او دی لپاره چې تسلي وکړي په دی سره زړونه ستاسي، او نه ده غلبه مګر له طرفه د الله تعالی څخه، بیشکه الله تعالی زورور دی حکمت والا دی.

نو الله رب العزت په دی آیاتونو کې د دوي مدد غوښتل ور په یاد کړل، او ددی خبر یې ورکړو چې د دوي غوښتنه یې قبوله کړه په ملائکو سره د دوي په امداد کولو، او بیا الله تعالی بیان وکړو چې نصرت او امداد د ملائکو له طرفه نه دی،او بیشکه چې ددوي إمداد یې په ملائکو سره وکړو د نصرت او إمداد د زیري ورکولو لپاره په دوي سره، او ددوي د اطمئنان لپاره. او بیان یې ددی وکړو چې امداد او نصرت د الله له طرفه دی، او وفرمایل: ﴿ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾الأنفال ١٠ ترجمة: او نه دی إمداد او نصرت مګر د الله تعالی له طرفه دی.

او الله تعالی په سورت آل عمران کې فرمایلي دي: ﴿ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾[آل عمران: ۱۲۳].

ترجمه: او بیشکه امداد کړي تاسو سره الله تعالی په بدر کې، او تاسو لږ او کمزوري وي؛ نو وویریږئ د الله تعالی څخه ددی لپاره چې شکر وکړي د الله تعالی.

نو الله تعالی په دی آیت کې ښکاره کړه چې الله تعالی د بدر په ورځ باندي ددوي امداد کونکي ؤ ؛ نو معلومه شوه چې هغه څه چې هغه دوي ته ورکړي وو د أسلحي او طاقت نه، او هغه څه چې ددوي امداد پري کړي شوي وو د ملائکو څخه دا ټول د غلبی او زیري او ډاډګیرني وسیلي (أسباب) ؤ، او غلبه ددوي څخه نه وه، بلکي یوائي د یو الله له طرفه وه؛ نو څرنګه جائز کیدلائ شي دي لیکوالي او یا ددي په څیر نورو ته چې خپل فریاد نبي ﷺ ته متوجي کړي، او د هغه نه غلبه وغواړي، او د رب العالمین نه مخ واړوي، چې د ټولو شیانو واکدار (مالك) دی، او په ټولو شیانو قدرت لرونکي دي؟!

او په دی کې هیڅ شك نشته چې دا ډیر بدترینه جهالت دی، بلکي د لوي شرك څخه دي؛ نو دي لیکوالي ته په اخلاص توبه ویستل واجب دي، په داسي شان چې کوم څه ورځخه شوي وي

په هغه پيښيمانتيا ښکاره کړي، او د بيا لپاره يې پريږدي او کلك قصد وکړي چې بيا به دغه کار نه کوي د الله تعالى د لويې او تعظيم او إخلاص په خاطر، او دهغه حکمونو ته د غاړې کښودو په خاطر، او د هغه څه څخه د ځان ساتلو په خاطر چې الله ترينه منع فرمايلي وي، او همدا د إخلاص توبه ده، او کله که توبه د خلکو د حقوقو څخه وي نو بيا په توبه ويستلو کښې يو څلورم شي ضروري دى، او هغه دا چې حق به خپل حقدار ته ورسپاري، او يا به ترينه ځان په معافي خلاصوي، او بيشکه چې الله رب العزت خپلو بندګانو ته د توبې ويستلو حکم کړى دى، او د قبلولو وعده يې ورسره کړي ده؛ لکه څرنګه چې الله فرمايلي: ﴿ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ [النور: ٣١].

ترجمه: أي مؤمنانو ټول الله تعالى ته توبه وباسئ ددى لپاره چې کاميابه شئ.

او د نصارانيانو په هکله يې فرمايلي دي: ﴿ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُۥ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾[المائدة: ٧٤].

ترجمه: آيا دوي الله تعالى ته توبه نه وباسي، او چې بښنه وغواړي د هغه څخه، او الله تعالى بښونکي او مهربانه دى.

او فرمايلي دي: ﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُضَٰعَفْ لَهُ ٱلْعَذَابُ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِۦ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَٰلِحًا فَأُو۟لَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَٰتٍ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٠﴾ ﴾ [الفرقان: ٦٨ – ٧٠].

ترجمه: او دا هغه كسان دي چې نه رابلي د الله تعالى سره مددګار، او نه هغه نفس وژني چې الله پري د هغه وژل حرام كړي وي، مګر په شرعي جرم سره چې مرګ يې جائز شي، او نه زنا كوي، او كه چا دا كارونه وكړل؛ نو د ګناه د سزاء سره به مخامخ شي، ډيريولى به شي هغه لره عذاب په ورځ د قيامت، او هميشه به وي په هغې كې ذليل كړي شوي، مګر هغه څوك چې توبه وباسي، او إيمان يې راوړو او نيك عمل يې وكړو؛ نو دغه كسان بدل به كړي الله تعالى بدي ددوي په نيكيو سره، او دى الله تعالى بښنه كونكي او رحم كونكي.

او الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ وَيَعْفُوا۟ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٢٥﴾ ﴾ [الشورى: ٢٥].

ترجمه: او دا الله هغه ذات دی چې د خپلو بندګانو څخه توبه قبلوي، او د بديانو څخه معافي كوي، او په هغه څه خبردار دی چې تاسو يې كوئ.

او د رسول الله ﷺ نه په صحيح حديث كې راغلي دي چې فرمائي: "**الإسلام يهدم ما كان قبله، والتوبة تجب ما كان قبلها**".

ترجمه: إسلام رغړوي (ختموي) هغه څه چې مخكې ترينه وي، او توبه هغه څه ختموي چې مخكې ترينه وي.

او د شرك د خطري د لوي والي له وجي او دا چې د ډيرو غټو ګناهونو څخه دي، او له دی ويري له وجي چې ددی ليكوالي په خبرو به خلك دوكه شي، او د الله تعالى او بندګانو لپاره د خيرخواهي د واجب والي له وجي مي دغه لنډ تقرير وليكلو، او د الله تعالى څخه غواړم چې فائده پري ورسوي، او دا چې زمونږ او د ټولو مسلمانانو د حالاتو اصلاح وكړي، او پر مونږ ټولو ددين د پوهي احسان او نعمت وكړي، او وربانديې مو مضبوط وساتي، او دا چې مونږ او ټولو مسلمانانو ته د خپلو نفسونو د شرونو او بدعملونو څخه پناه راكړي.

إنه ولي ذلك والقادر عليه، وصلى الله وسلم وبارك على عباده ورسوله نبينا محمد وآله وصحبه.

دو همه رساله:

پيريانو او شيطانانو ته د فرياد او چغو وهلو او هغوي لپاره د منختو (نذرونو) کولو د حکم په بيانولو کې ده

د عبد العزيز بن عبد الله بن باز څخه هر هغه مسلمان ته چې دا رساله ووينې، او الله تعالى ما او دوي ته په دين باندې د مضبوطيا، او په دى دين د پاتې کيدلو توفيق راکړي، آمين.

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته. أما بعد:

زما څخه ځني ورونو دهغه څه په باره کښې پوښتنه وکړه چې ځني ناپوهه (جاهلان) يې کوي، چې هغه د الله تعالى څخه بغير د بل چا څخه دعاء غوښتل او د سختو په حالاتو کې ورنه إمداد طلب کول دي؛ لکه د پيريانو څخه دعاء غوښتل او دوي ته فرياد، او چغې وهل، او دوي لپاره منختي (نذرونه) کول، او دوي لپاره حلالکي کول، او ددى په شان نور شيان چې ددغو څخه د ځنيو دا وينا ده: "يا سبعة خذوه" يعني مقصد يې په دى سره دپيريانو اووه مشران دي (يا سبعة افعلوا به كذا) يعني أي اووه واړو داسي پرې وکړئ: هډوکي يې مات کړئ، وينه يې وڅښئ، اندامونه يې پريکړئ.

او دارنګه د ځنیو دا وینا ده: "خذوه یا جن الظهیرة یا جن العصر".

ترجمه: ای د غرمۍ پیریانو أي د مازدیګر پیریانو دی لره ونیسئ.

او دا قسمه خبرې په ځني جنوبي طرفونو کې ډیري دي [1] او ځني هغه څه چې دي خبري سره تعلق لري هغه د مړو څخه دعاء غوښتل دي، که د پیغمبرانو یا نیکان څخه وي، اوکه بغیر ددوي څخه نور څوك وي.

او د ملائکو څخه دعاء غوښتل او دوي ته فریاد او چغې وهل؛ نو دا ټول او ددی په شان د ډیرو هغو تش په نامه مسلمانانو څخه واقع کیږي (چې د ځان نسبت اسلام ته کوي) ددوي د ناپوهی په وجه، او د مخکینیو د پیروي (تقلید) په وجه، او ډیر کرته په دی کې ددوي ځني سستي کوي په دی وینا باندي: چې دا د خولي خبري دي چې نه یې مونږ عقیده لرو او نه د زړه نه دي.

---

(۱) مقصد یې د سعودي عربستان جنوبي طرفونه دي.

او دارنګه يې پوښتنه کړې: د هغه چا سره د واده کولو د حکم چې په دی کارونو مشهور وي، او ددوي د حلالکې د حکم، او په دوي د جنازی لمونځ کولو د حکم، او ددوي څخه وروسته د لمونځ کولو حکم په باره کې، او پوښتنه يې کړې د کوډګرو او جادوګرو او پالګرو د تصديق په هکله؛ لکه څوک چې د مرض او د هغه د أسبابو د پيژندلو دعوا کوي په تش نظر اچولوسره په هر هغه شي چې د مريض د جسم سره لړيدلي وي؛ لکه پټکی او پرتوګ او پړوني، او ددی په شان نور شيان.

نو جواب دا دی:

الحمدلله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده وعلى آله وصحبه، ومن اهتدى بهم إلى يوم الدين أما بعد:

بيشکه چې الله تعالى پيريان او إنسانان ددی لپاره پيدا کړي چې يوائی د الله تعالى عبادت وکړي، او خاص د الله تعالى څخه دعاګاني وغواړي، او هغه ته فرياد وکړي، او هغه لپاره حلالکه او قرباني (نذر)، او ټول عبادتونه وکړي، او ددی لپاره الله تعالى پيغمبران ليږلي دي، او په دی يې ورته حکم کړی دی، او ددی د بيان او دی ته ددعوت ورکولو لپاره الله تعالى ټول أسماني کتابونه رانازل کړي دي، چې

ددغوکتابونو څخه لوي کتاب هغه قرآن کریم دی،اودشرک څخه د خلکو د ویرولو، او د الله تعالی څخه بغیر د بل چا د عبادت کولو څخه دمنع والي لپاره يې نازل کړی، او همدا د بنیادونو بنیاد دی، او ددین او مذهب بنسټ دی، او همدا مقصد د (لا إله إلا الله) د کلمي دی؛ ځکه معنی يې دا ده چې: نیشته حقدار د بندګي مګر یو الله تعالی دی؛ نو دا کلمه نفي کوي مستحق والي د بندګي بغیر د الله تعالی څخه، او بندګي او عبادت خاص یواځی یو الله تعالی لره ثابتوي بغیر د ټولو مخلوقاتو څخه، او په دی خبره د قرآن کریم دلیلونه او د پیغمبر حدیثونه ډیر زیات دي،دهغوي دجملي څخه: د الله تعالی دا قول دي چې فرمائي: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ [الذاريات: ٥٦].

ترجمه: ما نه دي پیدا کړي پیریان او انسانان مګر ددی لپاره چې خاص زما عبادت وکړي.

او دا قول يې : ﴿ ۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ [الاسراء: ٢٣].

ترجمه: او ستا رب فیصله کړي ده دی خبري چې تاسي به عبادت نه کوئ مګر خاص یواځي د الله تعالی.

اودا قول يې: ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ ﴾[البينة: ٥].

ترجمه: او نه دى حكم كړى شوى دوي ته مګر لپاره ددى چې بندګي كوي د الله تعالى لپاره خاص چې مضبوط به يې وي په توحيد باندي.

او دا قول يې: ﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾ ﴾ [غافر: ٦٠].

ترجمه: ويلي دي رب ستاسو چې حاجتونه غواړئ زما څخه نو زه به پوره كوم حاجتونه ستاسو، بيشكه هغه كسان چې لوئي كوي ددعاء زما څخه زر دى داخل به شي جهنم ته ذليلان به وي.

او دا قول يې: ﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ﴾[البقرة: ١٨٦].

ترجمه: او كله چې پوښتنه وكړي ستا څخه بندګان زما په باره زما كې (نو ورته ووايه زما له طرفه) چې بيشكه زه نيژدى يم قبلوم دعاء د دعاء كونكي كله چې زما څخه دعاء غواړي.

نو په دی آیاتونو کښې الله تعالی ددی بیان وکړو چې هغه پیریان او إنسانان د خپل عبادت لپاره پیدا کړي، او دا چې فیصله یې کړی چې عبادت به نه شي کولای مګر هم دده، او معنی د (قضی) یعني أمر او وصیت یې پري کړی؛ نو الله تعالی خپلو بندګانو ته حکم او وصیت کړی دی په قرآن کریم کې، او د خپل پیغمبر په ژبه ددی خبری چې عبادت به نه کوي مګر د خپل رب، او واضحه کړي یې ده چې دعاء یو لوي (عظیم) عبادت دی، چا چې تري ځان لوي وشمارلو نو جهنم ته به داخل شي، او خپلو بندګانو ته یې حکم کړی چې یواځي دالله تعالی څخه دعاء ګانې وغواړي، او ددی خبر یې ورکړي چې دالله تعالی نیزدي دي، او ددوي دعاءګاني قبلوي؛ نو په ټولو بندګانو واجب دي چې خاص د خپل رب څخه دعاګانې وغواړي؛ ځکه دا دعاء د هغه عبادت یو قسم دی چې د هغي لپاره دوي پیدا کړی شوي، او په دی ورته حکم کړی شوي دی، الله تعالی فرمائي: ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُۥ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾[الأنعام ١٦٢ – ١٦٣].

ترجمه: ورته ووایه: بیشکه زما لمونځ او مالي عبادت، او زما ژوند او مرګ خاص الله تعالی لره دي، چې د ټولو

مخلوقاتو رب دی، هغه لپاره هيڅ قسم شريك نشته، او په دی سره حکم کړی شوي ماته، او زه اول د توحيد والاو څخه يم.

نوالله تعالی خپل پيغمبر ته حکم وکړو چې خلکو ته خبر ورکړي چې دده لمونځ او مالي عبادت چې قرباني ده، او دده ژوند او مړ ک ټول خاص الله تعالی لره دي، چې شريك نه لري؛ نوچا چې دالله څخه بغير بل چا لپاره حلالکه وکړه نو ده شرك وکړو؛ لکه څرنګه چې دالله څخه بغير د بل چا لپاره لمونځ وکړي؛ ځکه الله رب العزت لمونځ او حلالکه يوځای ذکر کړي دي، او ددی خبرداري ورکړی دی چې دا دواړه به خاص يواځي يو الله تعالی لپاره کولي شي، چې شريك ورلره نشته؛ نو چا چې د الله څخه بغير د پيريانو او يا ملائکو او يا د مړو او يا ددوي څخه د نور چا لپاره حلالکه وکړه چې په دغی حلالکي ورته ځانونه نيژدي کوي؛ نوداکس د هغه چا په شان دي چې لمونځ د غير الله لپاره کوي، او په صحيح حديث کې نبي ﷺ فرمايلي دي: "لعن الله من ذبح لغير الله".

ترجمه: الله تعالی لعنت کړی دی په هغه چا چې حلالکه کوي د غير الله لپاره.

او إمام أحمد په حسن سند سره د طارق بن شهاب څخه روايت کوي چې دا وائي چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "**مر رجلان على قوم لهم صنم لا يجوزه أحد حتى يقرب له شيئاً، فقالوا لأحدهما: قرّب. قال: ليس عندي شيء أقرّبه، قالوا: قرّب ولو ذباباً، فقرّب ذباباً، فخلوا سبيله، فدخل النار، وقالوا للآخر: قرّب، قال: ما كنت لأقرّب لأحد شيئاً دون الله عز وجل، فضربوا عنقه فدخل الجنة**".

ترجمه: دوه سړي په يو قوم تيريدل چې د هغو يو بوت وو، چې نه به شو تيريدلي هيڅ يوکس ددغه بوت څخه؛ تر څوچې يوڅه شي ددغه بوت لپاره قرباني نه کړي؛ نو ددغه قوم خلکو يو ددی دواړو ته وويل: څه شي (ددي بوت لپاره) قرباني کړه؛ نو هغه ورته په جواب کې وويل: چې زما سره څه شي نشته چې قرباني يې کړم؛ نو دوي ورته وويل: دی بوت لپاره قرباني وکړه اګر که يو مچ وي، نودمچ قرباني يې وکړه او مخه يې ورلره خلاصه کړه؛ نو اور (جهنم) ته داخل شو، او بيا يې دوهم کس ته وويل: قرباني وکړه، نو هغه ورته وويل: نه يم زه چې الله څخه بغير د هيڅ يو کس لپاره څه شي قرباني کړم؛ نو هغوي ورلره څټ ووهلو، نو جنت ته داخل شو.

نو کله چې مشرك کيږي او د اور دداخليدو مستحق ګرځي هغه څوك چې قرباني او نيزديکت کوي بوت او داسي نورو ته په مچ اويا ددی په شان په بل شي باندي؛ نو د هغه چا به څرنګه حال وي چې پيريانو او ملائکو او أولياؤ لره رابلي ، او دوي ته چغي او فريادونه کوي، او ددوي لپاره نذراني کوي، او دوي ته په حلالکو (منختو) ځان نيژدي کوي، چې په دی سره دخپل مال دساتني اويا دخپل مريض د روغتيا، او يا د خپلو چارپايانو او فصلونو دسلامتيا او روغوالي اميد لري ، او يا دغه کار د پيريانو د شر (ضرر) د ويري کوي، او يا ددی په شان د يو کار له وجی کوي؛ نو دا او دده پشان نور ډير لائق دي ددی چې دا دی مشرك وي، او اور (جهنم) ته د ننوتلو مستحق دي وي د هغه سړي څخه چې د بوت لپاره يې يو مچ قرباني کړي.

اوهمدارنګه د هغه څه دجملي څخه چې په دی هکله راغلي دي، د الله تعالى داقول دی: ﴿فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ۝٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ

زُلْفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَٰذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾﴾[الزمر: ٢ - ٣].

ترجمه: نو بندګي كوه الله تعالى لره خالص كوه هغه لره بندګي خبر شي خاص الله تعالى لره دين (بندګي) خالص دي، اوهغو كسانو چې مددګاران يې بغير د الله تعالى څخه نيولي دي (وائي دوي) بندګي نه كوو مونږ ددوي مګر دي لپاره چې نيزدي كړي مونږ الله تعالى ته په نيزدي كولو سره، بيشكه الله تعالى به فيصله وكړي ددوي په منځ كې په هغه څيز كې چې دوي په هغې كي اختلاف كوي، اوبيشكه الله توفيق نه وركوي هغه چاته چې ډير دروغژن دي ډير كفر كونكي دي.

اوالله تعالى فرمايلي: ﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾[يونس: ١٨].

ترجمه: او بندګي كوي دا خلك بغير د الله څخه د هغه چا چې نه ضرر رسولي شي دوي ته، او نه نفعه رسولي شي دوي ته، او وائي دوي چې دا كسان زمونږ سفارشيان دي د الله تعالى په دربار كې، ورته ووايه ته: آيا تاسو خبر وركوئ الله تعالى ته په

هغه څیز چې نه یې پیژني الله تعالی په أسمانونو کې، او نه په ځمکه کې (یعني موجود نه دي)، پاك دی الله تعالی او لوي دي د هغې څه څخه چې دوي یې شریکوي الله تعالی سره.

الله تعالی په دی دواړو آیاتونوکې خبر ورکړ چې مشرکانو دالله تعالی څخه بغیر د مخلوقاتو نه اولیاء نیولي، چې دده د عبادت سره ددغو (أولیاؤ) عبادت کوي، په دعاء غوښتلو، او په ویره کولو او أمید لرلو، او حلالکي او منختو کولو سره، او ددی په شان په نورو شیانو کې، چې ګمان کونکي دي چې ددغه اولیاؤ څوك عبادت وکړي، نو الله تعالی ته یې نیژدي کوي، او ددغو لپاره د الله په نیزد شفاعت کوي؛ نو الله تعالی دوي په دی خبره کې دروغژن کړل، او ددوي باطل پرستي یې واضحه او بیان کړه، او دوي یې د دروغژنو او کافرو او مشرکانو په نوم ونومول، اوخپل ځان یې ددوي د شرك څخه پاك کړو؛ نو وي فرمایل: ﴿سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾

ترجمه: پاك دی الله تعالی او اوچت دی د هغه څه څخه چې دوي یې ورسره شریك کوي.

نو په دى سره معلومه شوه چې چا ملائك او يا پيغمبر او يا پيرې او يا ونه او يا ګټه د الله تعالى سره راوبلل، او يا ورته چغې او فريادونه كوي، او يا ورته ځان نيژدي كوي په قرباني او حلالكي كولو سره، په دى اميد چې د الله تعالى په نيزد به ورلره سفارش (شفاعت) وكړي، اوهغه ته به يې ورنيزدي كړي، او يا په دى اميد چې مريض به يې روغ كړي، او يا به يې د مال ساتنه وكړي، او يا ورلره د مسافر سلامتيا ورپه برخه كړي، او يا ددى په شان نور كارونه نو دا په لوي شرك كښې واقع شو، او په هغه خطرناك مصيبت كې چې الله تعالى يې په هكله فرمايلي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ ﴾ [النساء: ٤٨].

ترجمه: بيشكه الله تعالى نه بښي چې شرك وكړل شي د هغه سره او بښي هغه ګناهونه چې كوم ددي څخه په ښكته درجه كي وي هغه چا لره چې وغواړي، اوچا چې شرك وكړو الله تعالى سره نو بيشكه د ځان څخه يې ډيره غټه ګناه جوړه كړه.

او فرمايلي دي: ﴿ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ﴿٧٢﴾ ﴾ [المائدة: ٧٢].

ترجمه: بيشكه چا چې الله تعالى سره شرك وكړو؛ نو يقيناً الله په هغه باندي جنت حرام كړي، او ځائي دده اور (جهنم) دى، او نشته ظالمانو لره هيڅ مددګار.

او شفاعت د قيامت په ورځ مخلصو او موحدينو لپاره حاصليږي نه د مشركانو لپاره؛ لكه څرنګه چې نبي ﷺ فرمايلي دي كله چې ترينه پوښتنه وكړى شو چې أي رسول الله څوك به نيكبخته كيږي ستا په شفاعت؟ نو وفرمايل: "**من قال لا إله إلا الله خالصاً من قلبه**".

ترجمة: هغه څوك چې د زړه له إخلاصه دا كلمه ووايي: "لا إله إلا الله" او بيا نبي ﷺ وفرمايل: "**لكل نبي دعوة مستجابة فتعجل كل نبي دعوته وإني اختبأت دعوتي شفاعة لأمتي يوم القيامة فهي نائلة إن شاء الله، من مات من أمتي لا يشرك بالله شيئاً**".

ترجمه: هر پيغمبر لپاره قبليدونكي دعاء ده؛ نو هر يو پيغمبر خپله دعاء باندي جلتي كړي، او بيشكه ما خپله دغه دعاء د خپل امت لپاره پټه ساتلي دقيامت په ورځ د شفاعت په خاطر؛ نو دغه دعاء رسيدونكي ده هر هغه امتي ته چې مړ شي، او الله تعالى سره يې هيڅ قسم شرك نه وي كړي.

او مخکنيو مشرکانو د دي إيمان لرلو چې الله تعالى ددوي رب دي، او ددوي خالق او روزي رسان دى، او بيشکه چې دوي په پيغمبرانو او أولياؤ کرامو او ملائکو او ونوو بوټو او داسي نورو باندي عقيدي لرلي چې د الله په وړاندى د هغوي د شفاعت اميد لرلو، او الله تعالى ته د نيزديکت حاصلولو په خاطر؛ لکه څرنګه چې په مخکينو آياتونو کې تير شو.

نو الله رب العزت په دغه کار معذوره ونه شميرل، او نه د هغه پيغمبر محمد ﷺ ؛ بلکي الله تعالى په خپل لوي کتاب (قرآن کريم) کې د دوي بدي ويلي، او په کفارو او مشرکانو يې نومولي دي، او په خپلو ګمانونو کې چې دا خدايان دوي لره شفاعت کوي ، او دا چې دوي الله تعالى ته ورنيزدي کوي دروغژن کړي دي.

او پيغمبر عليه السلام ورسره جنګ جګړي هم په دى شرك کړي؛ تر دى چې خاص يواځي يو الله تعالى لره عبادت وکړي، دالله تعالى دى قول باندي د عمل کولو په خاطر چې فرمائي: ﴿ وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ﴾[الأنفال: ٣٩].

ترجمه: او جنګ كوئ ددوي سره؛ تر دى چې پاتي نشي هيڅ شرك، او شي دين ټول د الله تعالى لپاره.

او رسول الله ﷺ فرمايلي: " **أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله، ويقيموا الصلاة، ويؤتوا الزكاة، وإذا فعلوا ذلك عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحق الإسلام، وحسابهم على الله** ".

ترجمه: ماته خلكو سره د جنګ امر كړي شوى؛ تر څو ددى ګواهي وكړي چې نشته لائق د عبادت مګر يواځي يو الله دى، او دا چې محمد ﷺ د الله پيغمبر دى، او لمونځونه اداء كړي، او زكاتونه وركړي؛ نو كله چې دا كارونه ترسره كړي؛ نو زما څخه يې خپلي وينې او مالونه بچ وساتل مګر د إسلام په حق باندي، او حساب كتاب يې په الله تعالى دى.

او د پيغمبر عليه السلام ددى قول معنى چې: "حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله" دا ده چې خاص يواځي يو الله لره عبادت وكړئ علاوه د بل هيچا څخه.

او مشركان به د پيريانو څخه ويريدل، او په هغوي به يې پناه غوښتله؛ نو الله تعالى په دغه كې دا آيت نازل كړو: ﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴿٦﴾﴾ [الجن: ٦].

ترجمه: او بيشكه د انسانانو څخه سړي وو چې پناهي يې غوښتله د پيريانو په سړو، نو زيات كړه دوي هغوي لره سركشي.

او أهل تفسير په معنى ددى قول: "فزادوهم رهقاً" كې وائي، يعني ويره او ترهه ورلره زياته كړه؛ ځكه پيريانو ته ځانونه غټ ښكاري او تكبر كوي، كله چې په دى پوهه شي چې دا إنسانان پناه غواړي په دوي سره او بيا په دغه حالت كې ددوي ويره او ترهه اضافه كوي؛ تر څود هغوي عبادت ډير كړي، او هغوي طرف ته پناه ويسي، او الله مسلمانانو ته ددغه په عوض كې په هغه او د هغه په كلماتو د پناه غوښتل وركړي، او په دى باره كې يې دا قول نازل كړى: ﴿وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٠٠﴾﴾ [الأعراف: ٢٠٠].

ترجمه: او که تاته د شيطان له طرفه څه وسوسه ورسيږي د غوصه کيدلو؛ نو په الله تعالى پناهي وغواړه، بيشکه هغه هر څه اوري او په هر څيز پوهه دي.

او دا قول د الله عز وجل: ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ۝١﴾ [الفلق: ١]

او دا قول د الله عز وجل: ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١﴾[الناس: ١].

ترجمه: ته اووايه پناه غواړم په رب د سبکارکولو سره.

او ته اووايه پناه غواړم په رب د إنسانانو.

اود نبي ﷺ څخه په يو صحيح حديث کې راغلي دي چې وائي: "من نزل منزلاً فقال: "أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق لم يضره شيء حتى يرتحل من منزله ذلك".

ترجمه: څوك چې يو ځاي کې دمه کيږدي اودا ووائي: أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق". نو هيڅ شي به ورته ضرر ونه رسوي تر څو چې ددغه ځايه کوچ وکړي.

او د مخکني آياتونو او آحاديثو څخه نجات طلب کونکي، او خپل دين ساتونکي او د سبکاره او پټ شرك نه سلامتيا غوښتونکي معلومولي شي چې د مړو او ملائکو او پيريانو او

داسي نورو مخلوقاتو څخه دخير او شر طمعه لرل او هغوي رابلل او په هغوي پناه غوښتل او داسي نور د مشرکانو او جاهليت والو عمل دي، او ډير قبيحه شرک دی، نو پريښودل او ځان ساتنه تري واجب ده، او يو بل ته يې د پريښودلو وصيت کول، او څوک چې کوي هغه منع کول.

او څوک چې په دی شرکي کارونو مشهور وي نو هغوي سره نکاح (واده کول) جائز نه دي، او نه د هغوي حلالکه خوړل جائز دي، اونه وربانديد جنازي لمونځ کول جائز دي، او نه ورڅخه وروسته لمونځ کول جائز دي؛ تر څوچې ددغه شرک څخه د خپلي توبي اعلان ونه کړي،او يوائي د يو الله څخه دعاء ونه غواړي، او يوائي د الله تعالى عبادت ونه کړي، او دعاء عين عبادت دی؛ بلکي د عبادت مغز دي؛ لکه څرنګه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "**الدعاء هو العبادة**".

ترجمه: دعاء همدا عبادت دی.

او د پيغمبر عليه السلام څخه په يو بل روايت کې راغلي چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "**الدعاء مخ العبادة**".

ترجمه: دعاء د عبادت مغز دي.

او الله تعالى فرمائي: ﴿وَلَا تَنكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ ۚ وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ ۗ وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا ۚ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ ۗ أُولَٰئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ ۖ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ﴾[البقرة: ٢٢١].

ترجمه: مشركو ښځو سره تر هغې نكاح مه كوي چې إيمان راوړي، او خامخا إيمانداره وينځه غوره ده د مشركې ازادې ښځه، اګركه خوشحالي وي تاسي لره ښائست او مال د هغې، او مشركانو سړو ته خپلې لونې او خويانديې په نكاح سره مه وركوئ تر هغې پورې چې دوي إيمان راوړي، او خامخا موحد غلام غوره دي د مشرك ازاد ښځه، اګر كه خوشحالي وي تاسي ښائست او مال د هغه، دغه كسان بلنه كوي اور (جهنم) ته اوالله تعالى بلنه كوي جنت اوبښني ته په حكم خپل سره، او خلكو ته خپل أحكام بيانوي، ددى لپاره چې دوي نصيحت قبول كړي.

نو الله تعالى دمشركوښځو سره د واده كولو ښځه مسلمانان منع كړي، چې د بتانو او پيريانو او ملائكو او داسي نورو عبادت كوي؛ تر څو چې يواځي د الله په عبادت كولو إيمان

ولري او د پيغمبر ﷺ تصديق وکړي په هغه شريعت کې چې په هغه نازل شوي، اودهغه د لاري پيروي وکړي، او مشرکانو سړو ته په نکاح سره د مسلمانو ښځو ورکولوڅخه يې منع فرمايلي ده؛ تر څو چې يواځې د الله په عبادت کولو إيمان ولري، او د پيغمبر عليه السلام تصديق او تابعداري وکړي.

او الله تعالى ددى خبرداري ورکړي چې مؤمنه وينځه غوره ده د مشرکي ازادي ښځى څخه، اګر که هغي ته کتونکي او د هغي د خبرو اوريدونکي د هغى په خائست او نرمو خبرو په تعجب کې غورځيږي، او دا چې مؤمن غلام غوره دى د ازاد مشرك څخه، اګر که اوريدونکي او کتونکي هغه ته د هغه په خائست او فصاحت او بهادري او داسي نور په تعجب کې غورځوي، بيا الله تعالى ددى بهتري أسباب په دى قول: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ﴾ باندي واضحه کړي چې مقصد يې پرې مشرکان سړي او مشرکانې ښځي دي؛ ځکه دوي اور ته په خپلو أقوالو او أعمالو اوکړو وړو او أخلاقو بلنه کوي، او هر چې مؤمنان سړي او ښځي دي نو دوي په خپلو کړو وړو او أعمالو او أخلاقو جنت ته بلنه کوي، نو څرنګه برابريږي دا کسان ددغو کسانو سره!.

اوالله تعالى د منافقانو په هكله فرمايلي: ﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ فَٰسِقُونَ ﴾ [التوبة: ٨٤].

ترجمه: او هيڅ چېرې لمونځ مه كوه په هيڅ چا چې مړ شي ددوي څخه، اومه ودريږه د هغه د قبر په خوا كې، بيشكه دوي كفر كړي دى په الله تعالى او دهغه په پيغمبر، او مړه شوي دي دوي په داسي حال چې دوي نافرمانه وو.

نو الله تعالى په دى آيت كريمه كښې واضح كړه چې په منافق او كافر باندي د جنازي لمونځ نشي كيدلى، او دا په الله تعالى د دوي د كفر كولو په وجه، او د هغه په رسول ﷺ او ددوي وروسته لمونځ نشي كيدلى، او نه دوي د مسلمانانو لپاره إمامان جوړيدلى شي، او دا ددوي د كفر او خيانت په وجه، او په دى وجه چې ددوي او د مسلمانانو تر مينځ لويه دشمني موجوده ده، او بل پدى وجه چې دوي د لمونځ او عبادت أهل نه دي؛ ځكه د كفر او شرك سره عمل نه پاتي كيږي، د الله تعالى نه ددى څخه د سلامتيا غوښتنه كوو.

الله رب العزت د مرداري اودمشركانو د ذبحي دحرمت په باره كښې فرمايلي :﴿ وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴾ [الأنعام: ١٢١].

ترجمه: او مه خورئ د هغي ذبحي څخه چې نه وي ياد كړل شوي د الله تعالى نوم په هغي باندي، او بيشكه دا وتل دي د حكم د الله تعالى څخه، او بيشكه شيطانان خامخا وسوسي اچوي خپلو دوستانو ته ددى لپاره چې جګړه وكړي ستاسي سره، او كه خبره ومنئ تاسي ددوي نو يقيناً تاسي به خامخا مشركان يې.

الله تعالى د مرداري او د مشرك د حلالكي د خوړلو څخه منع كړي ده؛ ځكه دا نجس دي، نو حلالكه يې هم د مرداري په حكم كي ده، اګر كه د الله تعالى نوم پري ياد كړي؛ ځكه دده بسم الله باطله ده څه أثر نه لري؛ ځكه بسم الله عبادت دى، او شرك عبادت باطلوي او بربادوي؛ تر څو چې مشرك الله تعالى ته د شرك څخه توبه ونه باسي، او بيشكه چې الله تعالى د أهل

كتابو خوراك جائز كړي دي په دى قول: ﴿وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ﴾[المائدة: ٥].

ترجمه: او خوراك د هغو كسانو چې كتاب وركړل شوي دى ستاسي لپاره حلال دي ، او ستاسو خوراك هغوي لپاره حلال دى.

ځكه دوي أسماني دين ته ځان منسوبه وي، اوګمان كوي چې دوي د موسى او عيسى عليهما السلام پيرويان دي، اګر كه دوي په دغه خبره كې دروغژن دي، او بيشكه الله رب العزت ددوي دين منسوخ او باطل كړي دى ټولو خلكو ته د محمد ﷺ په پيغمبر ي ، ليكن الله تعالى د أهل كتابو خوراك او ښځې مونږ ته د كلكو حكمتونو او رعايت كړى شوي رازونو په خاطر جائز كړي دي، چې علماؤ دغه واضحه كړي د مشركانو بالعكس چې د بتانو او د پيغمبرانو او أولياؤ د مړو او داسي نورو عبادت كونكي دي؛ ځكه ددوي ددين هيڅ أساس نشته بلكي دا د أساس څخه باطل دي؛ نو ځكه ددوي حلالكه مرداره شميرلي شي، او خوړل يې جائز نه دي.

او هر چې د يو سړي بل ته دا خبره چې (پيريان درته رسيدلي (پيريانو نيولي يې) (شيطانان درباندي ناست دي) او ددي په شان نوري خبري نو دا ټولي د بدو ردو او كنځلو له بابه دي، او دمسلمانانو تر منځ يې ويل جائز نه دي؛ لكه د عامو كنځلو او ردو بدو په شان، او دا د شرك له بابه نه دي، مګر كه ويونكي يې دا عقيده لري چې پيريان په خلكو كې تصرف كوي بغير د الله تعالى د إجازي او مشيئت نه نوكه چا دغه عقيده په پيريانو او يا په نورو مخلوقاتو ولرله؛ نو دا په دي عقيده لرلو كافر دى؛ ځكه الله تعالى د هر شي مالك او په هر شي قادر دى، او همدا نفعه او ضرر رسونكي دى.

او هيڅ شي نشي موجوديدلي مګر دالله تعالى په إجازت او مشيئت او مخكي تير شوي تقدير باندي؛ لكه څرنګه چې الله تعالى خپل نبي ﷺ ته امر كوي چې خلكو ته ددي لوي أصل خبر وركړه په دى قول: ﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١٨٨﴾ [الأعراف: ١٨٨].

ترجمه: او اوايه: زه اختيار نه لرم ځان لپاره د هيڅ نفعي او نه د ضرر مګر هغه چې الله تعالى يې وغواړي (نو کوي يې) او که زه پوهيدلاي په غيبو باندي نو خامخا ما به ډيري فائدي حاصل کړي وي، په داسي حال چې نه به رسيدلي ماته څه تکليف، نه يم زه مګر ويره ورکونکي او زيري ورکونکي هغه قوم ته چې إيمان لري.

نو کله چې د خلکو سردار او بهتر ﷺ خپل ځان لپاره د نفعي او ضرر ملکيت نه لري مګر څه چې د الله تعالى خوښ شي؛ نو نور خلك به ددغه څرنګه ملکيت ولري! او په دى هکله ډير زيات آياتونه شته دى.

او هر چې د پالګرو او کوډګرو جادوګرو او نجوميانو او ددوي په شان نورو خلکو څخه تپوس کول دي، چې د غيبو په باره کښې خبر ورکوي؛ نو دا تپوس کول يو ناروا او ناجائز کار دى، او ددوي تصديق کول ددينه ډير زيات سخت او بدکار دى؛ بلکي د کفر د څانګو څخه دي؛ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "من أتى عرافاً فسأله عن شيء لم تقبل له صلاة أربعين يوماً". رواه مسلم في صحيحه.

ترجمه: څوك چې پالګر ته راغی او د څه شي تپوس يې ترينه وکړو نو څلويښت ورځې به يې لمونځ قبول نه شي.

إمام مسلم په خپل صحيح کې روايت کړي دی.

او همداراز په صحيح مسلم کې د معاوية بن الحکم السلمي ﷺ روايت دی چې نبي ﷺ پالګرو ته د ورتللو او د هغوي نه تپوس کولو څخه منع فرمايلي.

او أهل السنن د نبي ﷺ څخه روايت کړي چې فرمايلي دي: "من أتى كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد ﷺ".

ترجمه: څوك چې پالګر ته راغی او باور يې وکړو په هغو خبرو چې هغه يې وائي؛ نو بيشکه دی په هغه څه کفر وکړو چې په محمد ﷺ نازل کړي شوي.

او په دی هکله حديثونه ډير زيات دي؛ نو په مسلمانانو لازم دي چې د پالګرو او هر قسم کوډګرو څخه د تپوس کولو څخه ځان وساتي، هغه کسان چې د غيبو څخه په خبر ورکولو مشغول وي، او په مسلمانانو ګډوډي راولي که دغه بيا د طبابت په نوم وي يا په بل نوم وي، د نبي ﷺ د منع فرمايلو له وجی نه چې مخکي تير شوه، او ددغه کار څخه د هغه د

خبرداري او ويري ورکولو له وجې ځخه، او په دې کې هغه غيبي کارونه هم داخل دي چې ځني خلك يې د طبابت په نوم دعوى کوي کله چې د مريض پټکي او يا د مريضې ښځې زړوکي بوي کړي او يا داسې نور؛ نو بيا وائي: دي مريض سړي او يا دي مريضې ښځى فلاني کار کړي دى يا يې جوړ کړي د غيبو هغه کارونه چې د مريض په پټکي يا بل څه کښې په دغه شي هيڅ قسم دليل موجود نه وي.

بلکي مقصد يې ددي ځخه په عوامو ګډوډي راوستل وي، تر څو دا ووائي چې دا په طبابت پوهه دي، او دمرضونو أنواع او أسباب پيژني، او ډير کرته دوي ته څه دوائي هم ورکړي؛ نو دالله تعالى په مقرر کړي تقدير سره دا شفاء او روغتيا ومومي؛ نو دوي دا ګمان وکړي چې دا روغتيا دده د دوائي په سبب ده، او کيداي شي ډير کرته مرض د ځني هغو پيريانو او شيطانانو په سبب وي چې د طبابت دعواګير يې استخداموي، او دغه شيطانان دى ته د ځني غيبي هغو شيانو خبر ورکوي چې دوي تري خبريږي؛ نو په دغه خبر باندي دا إعتماد کوي، او پيريان او شيطانان په هغه عبادت راضي کوي چې هغوي سره مناسب وي؛ نو پيريان دغه مريض پريږدي او تري

اوچتيږي، او هغه کوم تکليف چې دوي دغه مريض ته ورکولو هغه تکليف ورکول بيا پريږدي.

او دا کار د پيريانو او شيطانانو او هغه چا څخه معروف دي چې دوي استخدامويي.

په مسلمانانو لازم دي چې ددغه کار څخه ځانونه بچ کړي او يو بل ته هم ددی کار د پريښودلو توصيه وکړي، او په الله إعتماد وکړي او خپل ځانونه په هغه باندي وسپاري، او د شرعي دمونو او مباحه دوايانو څه ممانعت نشته، او نه د هغو ډاکټرانو څخه د علاج کولو چې هغوي د مريض تشخيص او معاينه کوي، او ځان د هغه د مرض نه په حسي او معقولو أسبابو او سامان آلاتو متأکده کوي، او د نبي ﷺ نه په صحيح حديث کې راغلي چې فرمائي: "ما أنزل الله داء إلا أنزل له شفاء علمه من علمه وجهله من جهله".

ترجمه: الله تعالى يو مرض نه دی نازل کړی مګر د هغه لپاره روغتيا او شفاء يې نازله کړي، څوك چې پيژني هغه يې پيژني او څوك چې نه پيژني هغه يې نه پيژني.

او همدا راز نبي ﷺ فرمائي: "**لكل داء دواء فإن أصيب دواء الداء برأ بإذن الله**".

ترجمه: د هر مرض لپاره دواء شته کله چې مرض ته دغه دواء ورورسيږي نو د الله تعالى په حکم روغ شي.

او همدا راز نبي ﷺ فرمائي: "**عباد الله تداووا ولا تداووا بحرام**".

ترجمه: اي د الله تعالى بندګانو دوائي وکړئ، او په حرامو تداوي مه کوئ.

او په دې هکله ډير زيات حديثونه شته؛ نو دالله تعالى څخه غواړو چې د ټولو مسلمانانو حالات إصلاح کړي او ددوي زړونه او بدنونه د هر تکليف څخه روغ کړي، او دا چې دوي په هدايت راجمع کړي، او دا چې دوي او مونږ ته د ګمراه کوونکو فتنو څخه پناه راکړي، او د شيطان او د هغه د ملګرو د اطاعت څخه پناه راکړي؛ ځکه دا الله تعالى په هر شي د قدرت والا دی.

ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم.

وصلى الله وسلم وبارك على عبده ورسوله نبينا محمد وآله وصحبه.

دریمه رساله:

په بدعي او شرکي وظیفو سره بندګي کولو د حکم په بیان کښې ده

د عبد العزیز بن عبد الله بن باز نه محترم ورور (. . .) ته چې الله دي د هر خیر توفیق ورکړي آمین. سلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

أمابعد: په تحقیق سره ستاسي محترم خط ما ته راورسیدلو، الله تعالی دی تاسي په خپل هدایت او سمه لار روان کړي، او دهغه څه خبر چې ستاسي په وطن کې یو تعداد خلك موجود دي چې په یوه برخه کلماتو په وظیفه کولو باندي ټینګ ولاړ دي چې الله تعالی پرې کوم څه دلیل نه دي نازل کړي، ځني ددغو کلماتو بدعتي کلمي دي، او ځني شرکي دي، او ددغو کلماتو نسبت أمیر المؤمنین علي بن أبي طالب ﷺ او نورو ته کوي، او دغه الفاظ او کلمات د ذکر اذکارو په مجلسونو کې وائي، او یا یې په مسجدونو کې د مانبام لمانځه څخه وروسته وائي، په دی ګمان چې دا الله تعالی ته نیژدي کول کوي؛ لکه ددوي دا وینا: **بحق الله، رجال الله، أعینونا بعون الله، وکونوا عوننا بالله.**

او همدا راز ددوي وينا: **يا أقطاب، ويا أسياد، أجيبوا يا ذوي الأمداد فينا، واشفعوا لله، هذا عبدكم واقف، وعلى بابكم عاكف، ومن تقصيره خائف، أغثنا يا رسول الله وما لي غيركم أذهب، ومنكم يحصل المطلب، وأنتم أهل الله، بحمزة سيد الشهداء، ومن منكم لنا مدداً، أغثنا يا رسول الله.**

او همدا راز ددوي دا وينا: **اللهم صل على من جعلته سبباً لانشقاق أسرارك الجبروتية وانفلاقاً لأنوارك الرحمانية، فصار نائباً عن الحضرة الربانية، وخليفة أسرارك الذاتية.**

او ستاسي رغبت (مينه) د هغه څه په بيانولو کې چې بدعت وي او د هغه څه چې شرك وي، او آيا هغه امام پسې لمونځ صحيح کيږي چې په دغه دعاګانو باندي دعاء غواړي، او دا ټول معلوم دي؟

نو ددى جواب دا دى:

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهداه إلى يوم الدين، أما بعد:

الله تعالى دي توفيق درکړي، او پوهه شه چې بيشکه الله سبحانه وتعالى خلك پيدا کړي او پيغمبران عليهم الصلاة

والسلام يې راليږلي چې خاص د هغه عبادت وکړي شي چې شريك ورسره نشته نه د بل هيڅ چا؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ [الذاريات: ٥٦].

ترجمه: او ما نه دي پيدا کړي پيريان او انسانان مګر ددى لپاره چې خاص زما عبادت وکړي.

او عبادت: عبارت دي د الله تعالى او د پيغمبر محمد ﷺ د إطاعت څخه، د هغه څه په کولو چې الله تعالى او د هغه پيغمبر عليه السلام پري أمر کړى وي، او د هغه څه په پرېښودلو چې الله او د هغه پيغمبر عليه السلام تري منع فرمايلي وي، او په الله او د هغه په پيغمبر ﷺ باندي د إيمان لرلوڅخه، او الله لره په ډير زيات محبت او اخلاص عمل کول سره، او د پوره عاجزي څخه يوائي يو الله لپاره. لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ [الاسراء: ٢٣].

ترجمه: او ستا رب کوټلي فيصله کړي چې عبادت به نه کوي مګر يوائي د هغه، يعني أمر او وصيت يې کړي چې يوائي د هغه عبادت وکړي شي.

او الله تعالى فرمايلي: ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥﴾ [الفاتحة: ٢ – ٥].

ترجمه: ټول صفتونه د خدايتوب خاص الله تعالى لره دي چې پالونكي د ټول عالم دي، چې عام مهربانه دي، او خاص رحم كونكي دي، اختيار مند او واكدار د ورځې د بدلې دي، خاص تالره بندګي كوو مونږ، او خاص ستا څخه امداد غواړو.

او الله تعالى فرمايلي: ﴿فَٱعْبُدِ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ۝٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ﴾ [الزمر: ٢ – ٣].

ترجمه: د الله تعالى عبادت كوه خاص يوائې هغه لره او خبر شي خاص يوائې الله تعالى لره دين (بندګي) خالص دي.

او الله فرمايلي: ﴿فَٱدْعُوا ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ﴾ [غافر: ١٤].

ترجمه: نو حاجتونه غواړئ د الله تعالى څخه چې خالص كونكي يې هغه لپاره بلنه كول اګر چې كافران يې بد ګڼي.

او الله فرمايلي: ﴿وَأَنَّ ٱلْمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا﴾ [الجن: ١٨].

ترجمه: او دا وحي ده چې ځایونه د سجدي (مسجدونه) خاص الله تعالی لره دي؛ نو الله تعالی سره بل هیڅوك مددګار مه رابلئ.

او په دی هکله ډیر زیات آیاتونه دي او ټول په عبادت باندي دالله تعالی د یوائي والي دلالت کوي، او معلومه خبره ده چې د دعاء ټول أقسام د عبادت څخه دي؛ نو هیڅ یو کس لره جائز نه دي چې دعاء وغواړي مګر د خپل رب څخه، او هیڅ یوکس لره جائز نه دی چې إمداد او کومك وغواړي مګر د خپل رب څخه؛ ددی لپاره چې عمل وکړي شي په دي آیاتونو باندي، او په هغو آیاتونو چې ددی په معنی کې راغلي دي.

او دا د حسي اسبابو او عادي کارونو جلاء دي چې ژوندي حاضر مخلوقات وربانديقدرت لري؛ ځکه دغه د عبادت څخه نه دي بلکي په شرعي دلیلونو او إجماع باندي جائز دي چې یو إنسان د بل ژوندي إنسان څخه په هغو عادي کارونو کې چې دا وربانديقدرت لري کومك وغواړي؛ لکه چې د ده څخه کومك وغواړي او یا د ته فریاد وکړي دده څخه ددی د بچي او یا د خدمتګار او یا د سپي او داسي نورو دشر په دفع کولوکې؛ اولکه چې یو إنسان د بل ژوندي حاضر قدرتمند څخه او یا د

یو غائب څخه د حسي وسائلو او أسبابو په واسطه کومك وغواړي ؛ لکه د خط لیکلو په ذریعه او ددی په شان په نورو واسطو دکور په جوړونه کې او یا د موټر په جوړونه کې، او یا ددی په شان په نورو شیانو کې، او ددی دجملي څخه د موسی علیه السلام په قیصه کې دالله تعالی دا قول دي: ﴿فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ﴾ [القصص: ١٥].

ترجمه: پس مدد وغوښتلو دده څخه هغه سړي چې دده د قبیلي څخه ؤ د هغه سړي په مقابله کښې چې دده دشمنانانو څخه وو.

او ددي په شان په جهاد او جنګ کې د خپلو ملګرو څخه په یو کس امداد غوښتل، او ددی په شان نور، او هر چې په مړو او پیریانو او ملائکو او کانو بوټو باندي إمداد غوښتل دي؛ نو دا د شرك أکبر څخه شمیرلي شي، او دا دپخوانیو مشرکانو د عمل د جنس څخه دی؛ لکه څرنګه چې هغوي د خپلو آلهه (خدایانو) په حقله کومه عقیده لرله، لکه عزی او لات او داسي نورو په حق کښې، او همدا راز د هغو ژوندونه چې د هغوي په حق کښې د کرامت او ولایت عقیده لرلي شي په هغه څه کې

إمداد او كومك غوښتل چې الله تعالى څخه بغير پرې هيڅوك قدرت نه لري؛ لكه د مريضانو روغول او زړونو ته هدايت په برخه كول، او جنت ته داخلول، او د اور(جهنم) څخه بچ كول، او ددى په شان نور شيان، او مخكې تير شوي آياتونه او ددغو په څير چې كوم آياتونه او حديثونه راغلي په ټولو كارونو كښې الله تعالى د زړونو په متوجي كولو په واجب والي دلالت كوي، او يوائې يو الله تعالى لره په إخلاص عبادت كولو باندې؛ ځكه بندګان همدې كار لپاره پيدا كړى شوي، او په دى ورته حكم كړي شوي؛ لكه څرنګه چې په آياتونو كې مخكې تير شو؛ اولكه څرنګه چې دالله په دى قول كې هم دي: ﴿ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗا ﴾[النساء: ٣٦].

ترجمه: خاص د الله تعالى عبادت وكړي او بل هيڅ شي ورسره مه شريكوئ.

او دالله په دى قول كې: ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾.

ترجمه: او دوي ته امر نه دى كړى شوى مګر ددى حكم ورته شوى وو چې د الله تعالى عبادت وكړي په داسي حال كې چې خالص كونكي وي دى لره دين او بندګي.

او د د معاذ ﷺ په حديث کې نبي ﷺ دا وينا: " **حق الله على العباد أن يعبدوه ولا يشركوا به شيئاً**". **متفق عليه.**

ترجمه: د الله تعالى حق په بندګانو دا دى چې خاص د هغه عبادت وکړي او بل هيڅ شي ورسره شريك ونه ګرځوي.

د دى حديث په صحيح والي اتفاق شوي دى.

او د عبد الله بن مسعود ﷺ په حديث کې د نبي ﷺ دا وينا: "**من مات وهو يدعو لله نداً دخل النار**". **رواه البخاري.**

ترجمه: څوك چې په داسي حالت کې مړ شو چې د الله تعالى څخه بغير بل څوك يې رابللو نو هغه به اور (جهنم) ته داخل شي. بخاري دا حديث روايت کړى.

او په بخاري اومسلم کې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې نبي ﷺ کله معاذ بن جبل ﷺ يمن ته ليږلو نو هغه ته يې وويل: "**إنك تأتي قوماً أهل كتاب فليكن أول ما تدعوهم إليه شهادة أن لا إله إلا الله**". او په يو لفظ کې دي چې وائي: "**فادعهم إلى أن يشهدوا أن لا إله إلا الله وأني رسول الله**". او د بخاري په يو روايت کې دي: "**فادعوهم إلى أن يوحدوا الله**".

ترجمه: اي معاذ بیشکه چې ته یو داسي قوم ته ورځی چې هغوي أهل کتاب (نصاری او یهود) دي؛ نو أول هغه شي چې دوي ورته دعوت کوي هغه دا ګواهي ده چې: مستحق د عبادت نشته مګر یواځي یو الله تعالی دی.

او په یو بل لفظ کې دي: چې دوي دعوت کړه دي ګواهي ته چې مستحق د عبادت نشته مګر یواځي یو الله تعالی دی.

او په یو بل لفظ کې دی: چې دوي دعوت کړه دي ګواهي ته چې مستحق د عبادت نشته مګر یواځې یو الله تعالی دي، او دا چې زه د الله تعالی پیغمبر یم.

او د بخاري په یو روایت کې دي چې دوي دعوت کړه دي خبري ته چې د الله تعالی توحید ومني.

او امام مسلم په خپل کتاب کښې د **طارق بن أشيم الأشجعي** ﷺ نه روایت کړي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "**من وحد الله وكفر بما يعبد من دون الله حرم ماله ودمه وحسابه على الله عز وجل**".

ترجمه: چا چې د الله تعالی د توحید عقیده ولرله او بندګي وررلره وکړه، او په هغه څه یې کفر وکړو چې بغیر د الله تعالی

څخه يې عبادت کيداي شي؛ نو د هغه مال او وينه په خلکو حرامه شوه، او حساب کتاب يې په الله تعالى دى.

او په دى هکله ډير زيات حديثونه موجود دي، او دا توحيد ددين بنياد او بنسټ دي، او د أهمو فرضونو څخه دي، او همدا پټ راز او حکمت دى د پيريانو او إنسانانو په پيدائش کې، او د ټولو پيغمبرانو په ليږلوکې؛ لکه څرنګه چې مخکې تير شوي آياتونه په دى دلالت کوي، او ددغود جملي څخه د الله دا قول دى: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾[الذاريات: ٥٦].

ترجمه: او ما نه دي پيدا کړي پيريان او إنسانان مګر دي لپاره چې خاص زما عبادت وکړي.

او د الله تعالى دا قول دي: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾[النحل: ٣٦].

ترجمه: په تحقيق سره مونږ ليږلي هر يو أمت ته پيغمبر په دى خبره چې الله تعالى لپاره بندګي خاص کړي، او ځان د طاغوت د بندګي څخه وساتي.

او د الله تعالى دا قول دي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبياء: ٢٥].

ترجمه: اومونږ نه دي ليږلي ستا څخه مخکې هيڅ يو پيغمبر مګر مونږ ورته وحي کړې چې نشته هيڅ يو معبود مګر يواځې زه، نو زما عبادت وکړئ.

او الله تعالى د نوح او هود او صالح او شعيب عليهم السلام په باره کې فرمائي چې دوي خپلو قومونو ته داسې فرمايلي وو: ﴿ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥ﴾ [الأعراف: ٥٩].

ترجمه: د الله تعالى عبادت وکړئ، او نشته ستاسې لپاره غير د الله تعالى څخه بل کوم معبود.

او دا د ټولو پيغمبرانو دعوت وو؛ لکه څرنګه چې پرې مخکښې دوه آياتونه دلالت کوي، او د پيغمبرانو دشمنانو په دې إقرار کاوو چې پيغمبرانو ورته يواځې د الله تعالى د عبادت او د نورو خودساخته معبودانو د عبادت پرېښودلو أمر کړی ؤ؛ لکه څرنګه چې الله عز وجل د عاديانو په قيصه کې

فرمايلي چې دوي هود عليه السلام ته وويل: ﴿ أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ ٱللَّهَ وَحْدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا ﴾[الأعراف: ٧٠].

ترجمه: آيا ته مونږ ته ددى لپاره راغلي يې چې مونږ يواځي د يو الله عبادت وکړو، او هغه څه پريږدو چې زمونږ پلارانو يې عبادت کاوو.

او الله تعالى د قريشو حال بيانوي کله چې نبي ﷺ دوي يواځي د الله عبادت ته راوبلل، او د هغه څه د پريښودلو حکم يې ورته وکړو چې دوي به د الله څخه سوا ځني ملائکو او أولياؤ او بوتانو او ونو بوټو او داسي نورو لپاره کوم عبادت کاوو نو فرمائي: ﴿ أَجَعَلَ ٱلْـَٔالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ﴾ [ص: ٥].

ترجمه: آيا جوړ وي دا پيغمبر ډير معبودان يو معبود، بيشکه دا يو ډير نا أشنا شى دى.

او فرمائي: ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوٓا۟ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓا۟ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ﴿٣٦﴾ ﴾ [الصافات: ٣٥ – ٣٦].

ترجمه: بيشکه وو دوي کله چې به وويل شوو دوي ته چې نشته معبود بر حق مګر يو الله دى؛ نو ځانونه به يې لوي

شميرل او تكبر به يې كاوو، او دوي به ويل: آيا مونږ خپل معبودان پريږدو ديو ليوني شاعر له وجهې.

او په دې خبره ډيره زيات آياتونه دلالت كوي، او كوم آياتونه او حديثونه چې مونږ ذكر كړل د هغو څخه درته دغه واضحه كيږي – **وفقني الله وإياك للفقه في الدين والبصيرة بحق رب العالمين** – چې دغه دعاګاني او قسما قسم إمدادونه او پريادونه چې تا په خپله پوښتنه كښې بيان كړي ټول د لوي شرك د أقسامو څخه دي؛ ځكه دغه د غير الله لپاره عبادت دى، او د هغه څه غوښتل دي چې غير د الله تعالى څخه پري بل هيڅ څوك د مړو او ژوندو غائبو څخه قدرت نه لري، او دا د مخكنيو د شرك څخه ډير بدترين شرك دى؛ ځكه مخكنيو مشركانو به د پراخي او خوشحالي په حالت كې شرك كاوو، او هر چې به د سختيو په حالت كې وو نو يوائي د يو الله تعالى څخه به يې دعاګاني غوښتلى؛ ځكه دوي په دى پوهيدل چې يوائي يو الله دوي ته د سختيو نه خلاصي وركولو قدرت لري نه بل څوك؛ لكه څرنګه چې الله تعالى په خپل كتاب كې د دغو مشركانو حالت بيان كړي دى چې فرمائي: ﴿ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾ ﴾ [العنكبوت: ٦٥].

ترجمه: کله چې په کشتی کې سپاره شي نو خاص الله تعالی لره رابلي په داسي حال کې چې خالص کونکي وي هغه لره دین او بندګي؛ نو هر کله چې دوي ته خلاصي ورکړي وچی ته؛ نو دوي بیا سمدستي خپل شرك شروع کړي.

او الله تعالی دوي ته په یو بل آیت کې خطاب فرمائي:

﴿ وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِي ٱلۡبَحۡرِ ضَلَّ مَن تَدۡعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ أَعۡرَضۡتُمۡۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ ﴾ [الاسراء: ٦٧].

ترجمه: او کله چې تاسو ته په دریاب کې تکلیف ورسیږي نو هیر شي ستاسو څخه هغه څوك چې تاسو یې په حاجتونو کې رابلئ بغیر د الله تعالی څخه؛ نو هر کله چې بچ کړي تاسو وچي ته نو تاسي مخ ګرځوئ (د توحید نه) او دی انسان ناشکره.

اوس که چیری ددی اوسنیو مشرکانو څخه یو سړی دا ووائي: چې زمونږ دا عقیده نه ده چې دغه کسان پخپله فائده رسوي او یا زمونږ مریضان پخپله روغوي او نفع او ضرر رارسوي بلکي بیشکه چې زمونږ ددوي شفاعت الله تعالی ته په دغه کارونو کې غرض او مقصد دی.

نو جواب دا دی: چې د ته ويلي شي: چې بيشکه هم دا د مخکنيو کافرو مقصد او مراد وو، او دا يې مراد نه وو چې ددوي معبودان پيداکول او روزي ورکول کوي، او يا منفعت او يا ضرر پخپله رسوي؛ ځکه قرآن کريم چې څه ذکر کړي هغه دغه باطلوي، او د غو کافرو ددغو معبودانو شفاعت او سماعت مراد وو، او دا چې دغه معبودان دوي الله تعالى ته ورنيزدي کوي؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمائي:

﴿ وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ﴾[يونس: ١٨].

ترجمه: د الله تعالى څخه بغير بل چا لره عبادت کوي د هغه چا چې دوي ته نه ضرر او نه نفعه رسولي شي، او دا خبره کوي چې دا معبودان مونږ لره شفاعت کونکي دي د الله تعالى په نيزد او دربار کي.

نو الله تعالى په دوي باندي رد وکړو په دی قول: ﴿ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴾ [يونس: ١٨].

ترجمه: ورته ووايه: آيا تاسو خبر وركوئ الله تعالى ته په هغه څيز چې نه يې پيژني الله تعالى په أسمانونو اوپه ځمكه كې (يعني موجود نه دي) پاك دى الله تعالى او لوي دى د هغي نه چې دوي شريكوي الله تعالى سره.

نو الله رب العزت واضح كړه چې په ځمكه او أسمانونو كې كوم شفاعت كونكي دده په نيزد په هغه شكل نه پيژني چې د مشركانو مراد او مقصد دى، او هر هغه څه چې الله تعالى د هغه موجودوالي نه پيژني نو هغه موجود نه وي؛ ځكه په الله تعالى هيڅ پټ پناه نه دي، او الله په سورة الزمر كې فرمائي:

﴿تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١﴾ إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ فَٱعْبُدِ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿٢﴾ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ﴾[الزمر: ١ – ٣].

ترجمه: نازلول ددى كتاب دي د الله تعالى لطرفه چې زورور دى او حكمتونو والا دى، بيشكه نازل كړى دى مونږ تاته دا كتاب د حق سكاره كولو لپاره؛ نو بندګي كوه الله تعالى لره خالص كوه هغه لره بندګي، خبر شي خاص الله تعالى لره ده خالص بندګي.

نو الله تعالی واضحه کړه چې عبادت به خاص یواځې یو الله لپاره وي، او په بندګانو واجب دي چې بندګي خاص کړي یواځې الله تعالی لپاره؛ ځکه نبي ﷺ ته یواځې دالله تعالی لپاره په إخلاص باندي د عبادت کولو حکم د ټولو لپاره دا حکم دي.

او ددین معنی په دی آیت کې عبادت ده، او عبادت د الله تعالی او د هغه د پیغمبر ﷺ إطاعت دی، لکه څرنګه چې مخکې تیر شو او په دی کې دعاء او فریاد او ویره او أمید او حلالکه او نذر داخل دی، لکه څرنګه چې ورپکې لمونځ او روژه او داسې نور چې الله او د هغه پیغمبر ﷺ پرې أمر کړی وي داخل دي.

بیا وروسته الله تعالی فرمائي: ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ ﴾ [الزمر: ٣].

ترجمه: او هغه کسان چې بغیر د الله تعالی څخه یې مددګاران نیولي دي وائي: مونږ ددوي بندګي نه کوو مګر ددی لپاره چې نیژدي کړي مونږ الله تعالی ته په نیزدي کولو سره.

يعني وائي: ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ ﴾ نو الله تعالى پرې په دې قول رد وکړو: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِى مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَنْ هُوَ كَـٰذِبٌ كَفَّارٌ ﴾ [الزمر: ٣].

ترجمه: بيشکه الله تعالى به فيصله وکړي ددوي تر منځ په هغه څيز کې چې دوي په هغي کې اختلاف کوي، بيشکه الله تعالى هغه چا ته توفيق نه ورکوي چې ډير دروغژن دې ډير کفر کونکي دې.

نو الله تعالى په دې آيت کريمه کې واضحه کړه چې کافرو بغير دده څخه د أولياؤ عبادت نه دې کړې مګر ددې لپاره چې دوي الله تعالى ته نيژدي کړي په نيژدي کولو سره.

او همدا مقصد د کافرو مخکي او هم اوس دې، او همدا مقصد الله تعالى په خپل دې قول باطل کړې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِى مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَنْ هُوَ كَـٰذِبٌ كَفَّارٌ ﴾.

نو الله تعالى ددوي دروغ راڅرګند کړل، ددوي په دې عقيده لرلو کښې چې ددوي معبودان دوي الله تعالى ته نيژدي کوي

په نیژدي کولو سره، او په هغه عبادت یې دوي کافر کړي دي کوم چې دوي دغو معبودانو لپاره کړی دي.

او په دی سره هر هغه څوك چې په ښه او بد پوهیږي پیژني چې بیشکه د مخکینیو کافرو کفر په دی وجه ؤ چې دوي د پیغمبرانو او أولیاؤ کرامو او ونوو بوټو او ګټو او داسي نور مخلوقاتو شفاعت کونکي جوړول ددوي او د الله تعالی تر منځ، او دا عقیده یې درلوده چې دغه معبودان ددوي حاجتونه پوره کوي بغیر د الله تعالی د إجازي او رضا ځخه؛ لکه څرنګه چې وزیران د بادشاهانو په وړاندي شفاعت کوي؛ نو د الله قیاس یې په بادشاهانو او رئیسانو کړي.

او دا وائي: لکه څرنګه چې د یو چا حاجت وي بادشاه او رئیس سره نو دغه ته د هغه خصوصي کسان او وزیران واسطه کوي؛ نو همدغه رنګه مونږ الله تعالی ته نیزدیکت حاصلوو د هغه د پیغمبرانو او أولیاؤ کرامو په بندګی، او دا د باطلو نه باطله خبره ده؛ ځکه الله تعالی لره هیڅ قسم مشابه نشته، او نه په خپلو مخلوقاتو قیاسولي شي، او هیڅ یو کس د هغه په وړاندي شفاعت نه شي کولي مګر د هغه په إجازت، او إجازت نه ورکوي مګر موحدینو ته، او دا الله تعالی په هر شي قدرت

والا دی، او په هر شي عالم دی، او همدا د مهربانو مهربانه دی، او د هیڅ یو کس څخه نه ویریږي؛ او ځکه چې الله تعالی قاهر ذات دي دبندګانو دپاسه دي، او په دوي کې تصرف کوي څرنګه چې وغواړي د بادشاهانو او رئیسانو برعکس؛ ځکه دوي په ټولو شیانو قدرت نه لري؛ نو له دی کبله هغه چاته حاجت لري چې کومك ورسره کوي په هغه څه کې چې دوي تري عاجز وي؛ نو بیا هغه که د وزیرانو څخه وي او که د لښکریانو څخه وي او که د نور کوم خصوصي کسانو څخه وي؛ لکه څرنګه چې دوي محتاجه دي هغه چاته چې ددوي حاجتونه ورورسوي هغه چاته چې ددوي د حاجت څخه خبر نه وي، نو په دی حالت کې دوي هغه چاته محتاجیږي چې دوي رانرم کړي او دوي راضي کړي که د وزیرانو د جملي څخه وي او که نورو خواصو څخه وي.

او هر چې الله رب العزت دی نو هغه د ټولو مخلوقاتو څخه مستغني دی، او هغه په دوي باندي ددوي د میاندو څخه هم ډیر مهربانه دی، او هغه عادل بادشاه دی، هر شي په مناسب ځای کښې کښیږدي د خپل حکمت او علم او قدرت په مقتضی باندی؛ نو جائز نه دی چې هغه قیاس کړی شي پۀ مخلوق

باندي په هيڅ يو طريقه، او له دى وجي الله تعالى په خپل كتاب كې واضحه كړى چې مشركانو په دى إقرار كاوو چې الله تعالى روزي رسان او خالق او مدبر دى، او همدا الله تعالى هغه ذات دى چې د ناچاره دعاء قبلونكي او سختي لري كونكي دى، او ژوندي كول او مړه كول كوي، او داسي نور كارونه د الله تعالى، او بيشكه جنګ جګړه د پيغمبرانو عليهم السلام او مشركانو تر منځ يواځي الله تعالى لپاره د عبادت په خاص كولو كې وه؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ﴾[الزخرف: ٨٧].

ترجمه: كه ته ددوي څخه پوښتنه وكړى چې دوي چا پيدا كړي نو خامخا به دوي وائي چې الله تعالى پيدا كړي.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ [يونس: ٣١].

ترجمه: اووايه څوك روزي دركوي تاسو ته د أسمان او ځمكي، او يا څوك اختيارمند دى د غوږونو او سترګو او څوك را وباسي ژوندي د مړ څخه او مړ د ژوندي څخه، اوڅوك

انتظام کوي د ټولو کارونو؛ نو پس وائي به دوي چې الله تعالى؛ نو ورته ووايه آيا تاسي د شرك څخه ځان نه بچ کوي.

او په دى هكله ډير زيات آياتونه شته، او مخكي د هغه آياتونو ذكر شو چې دلالت كوي په دى چې اختلاف د پيغمبرانو او أمتونو تر منځ په دى ؤو چې الله تعالى لره يواځې عبادت وكړئ، لكه د الله تعالى دا قول: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴾[النحل: ٣٦].

ترجمه: او بيشكه ليږلي دي مونږ په هر أمت كښې پيغمبر په دي خبره چې بندګي خاص كړئ د الله تعالى لپاره، او ځان د غير الله د بندګى څخه وساتئ.

او هغه آياتونه ډير زيات دي چې ددى آياتونو په شان معنى كې راغلي دي، او الله تعالى په قرآن كريم كې په ډيرو ځايونو كې د شفاعت شان بيان كړى چې په سورة البقرة كې فرمائي: ﴿ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِندَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ﴾[البقرة: ٢٥٥].

ترجمه: څوك دى هغه كس چې سفارش وكړي په نيزد د الله تعالى مګر په إجازت دده.

او په سورة النجم كې فرمائي: ﴿ ۞ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ﴾ [النجم: ٢٦].

ترجمه: او ډيرې ملائكې شته په أسمانونو كې چې فائده نشي دركولې سفارش ددوي هيڅ فائده مګر وروسته ددې نه چې إجازت وكړي الله تعالى هغه چاته چې وغواړي الله تعالى او رضا شي تري.

او په سورة الأنبياء كې د ملائكو په صفت كې فرمائي: ﴿ وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ﴿٢٨﴾ ﴾ [الأنبياء: ٢٨].

ترجمه: او دا ملائكې سفارش نه كوي مګر هغه چا لره چې راضي شوي ورڅخه وي الله تعالى او دوي له وجې د ويرې د الله تعالى مينه كونكي دي د هغه سره.

او الله تعالى ددې خبر وركړې چې د بندګانو په كفر كولو راضي نه دي بلكې ددوي نه په شكر ګزاري راضي كيږي ، او شكر ګزاري د الله تعالى توحيد دى، او د هغه د إطاعت مطابق عمل دى، الله تعالى په سورة الزمر كې فرمائي: ﴿ إِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمۡۖ وَلَا يَرۡضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلۡكُفۡرَۖ وَإِن تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ لَكُمۡ ﴾ [الزمر: ٧].

ترجمه: كه چيري كفر كوئ تاسو نو بيشكه الله تعالى بې حاجته دى ستاسو څخه، او نه خوښوي بندګانو خپلو لره كفر كول، او كه چيرته شكر ګزاري كوئ تاسو نو خوښوي هغه ستاسو لپاره.

او إمام بخاري په صحيح البخاري كښې د أبو هريره ﷺ څخه روايت كوي چې ده رسول الله ﷺ ته وويل: څوك ډير خوش بخته دى د خلكو چې ستا شفاعت به يې په قسمت كيږي؟ نو هغه وفرمائل: " **من قال لا إله إلا الله خالصاً من قلبه**". او يا يې دا وويل: "**من نفسه**".

ترجمه: چا چې دا كلمه: "لا إله إلا الله" د زړه د اخلاصه وويله.

او په صحيح حديث كې دي چې أنس ﷺ روايت كوي چې نبي ﷺ فرمايلي: "**لكل نبي دعوة مستجابة فتعجل كل نبي دعوته وإني اختبأت دعوتي شفاعة لأمتي فهي نائلة إن شاء الله من مات من أمتي لا يشرك بالله شيئاً**".

ترجمه: هر پيغمبر لپاره قبليدونكي دعاء ده؛ نو هر يو پيغمبر خپله دعاء باندي جلتي كړى، او بيشكه ما خپله دعاء د خپل أمت لپاره ساتلي ده په ورځ د قيامت د شفاعت په خاطر؛

نو دغه دعاء رسیدونکي ده هر هغه أمتي ته چې مړ شي، او الله تعالى سره يې شرك نه وي کړي.

او په دی هکله ډیر زیات حدیثونه شته او ټول هغه آیاتونه او حدیثونه چې مونږ يې ذکر وکړو دلالت په دی کوي چې عبادت یواځې د الله تعالى حق دی، او دا چې د بل چا لپاره يې هیڅ قسم کول نه دي جائز، نه د پیغمبرانو او نه د بل چا لپاره، او دا چې شفاعت د الله ملکیت دی؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعًا﴾ [الزمر: ٤٤].

ترجمه: ورته ووایه چې شفاعت ټول الله لره دی.

او هیڅ یو کس مستحق نه دی مګر وروسته د الله تعالى د إجازي څخه سفارشي ته، او د هغه چا څخه د خوښي وروسته چې د هغه په حق کې سفارش کولي شي، او دا الله تعالى نه راضي کیږي مګر په توحید، لکه څرنګه چې مخکې تیر شول، او هر چې مشرکان دي نو د هغوي لپاره په شفاعت کې کومه برخه نشته؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾﴾ [المدثر: ٤٨].

ترجمه: نو نفعه نه ورکوي دوي ته سفارش د سفارشیانو.

او فرمايلي: ﴿ مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴾ [غافر: ١٨].

ترجمه: او نه به وي ظالمانو لره دوست ګرم، او نه سفارشي چې د هغه خبره منل كيداى شي.

او كله چې مطلق ظلم ذكر شي مراد ترينه شرك وي، لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿ وَٱلْكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ [البقرة: ٢٥٤].

ترجمه: او كافران هم دوي ظالمان دي.

او فرمائي: ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ [لقمان: ١٣].

ترجمه: بيشكه چې شرك ډير لوي ظلم او زياتي دى.

او تا چې په خپله پوښتنه كښې د ځنيو صوفيانو وينا ذكر كړي چې هغوي دغه ألفاظ په جوماتونو (مسجدونو) او يا نورو ځايونو كښې وائي او هغه دا: **اللهم صل على من جعلته سبباً لانشقاق أسرارك الجبروتية وانفلاقاً لأنوارك الرحمانية فصار نائباً عن الحضرة الربانية وخليفة أسرارك الذاتية. . . الخ.**

نو جواب يې دا دى: دا او ددى پشان نورى خبرى د تكلف او زياتي كولو د جملي څخه دي، چې نبي ﷺ تري كركجني

فرمايلي، إمام مسلم د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**هلك المتنطعون" قالها ثلاثاً"**

ترجمه: هلاك دي شي په خبرو كې ژور تكلف كونكي، دا خبره يې دري ځله وكړه.

او إمام خطابي: وائي: المتنطع: دا هغه څوك دى چې په يوشي كې ډير ژور ځي اوپه تكلف بحث كونكي وي؛ لكه د متكلمينو(منطقيانو) په طريقه چې په بي ضرورته خبرو كښې ورننوځي، اوپه هغه څه كښې بحثونه كوي چې ددوي عقلونه هغه شي ته نه رسيږي.

او أبو السعادات ابن الأثير وائي: دوي په خبرو كې ژور تلونكي او په خبرو كښې د حد څخه زياتي كونكي دي، چې د نطع كلمي څخه راخستلي شوي چې نطع تالو ته ويلي شي، او بيا د هر هغه چا لپاره استعمال شوي چې په خبرو او كارونو كې ډير ژور ځي.

او دغو د لغت دوه امامانو چې كوم څه ذكر كړل په دغه سره تاته او هر هغه چا ته چې لږه پوهه هم ولري دا واضح كيږي چې زمونږ په پيغمبر باندي په درود ويلو كښې دا طريقه د هغه

تكلف او تنطع (زياتي) كولو د جملي څخه دي د كوم څخه چې پيغمبر منع كړي.

او مسلمان لره په دى هكله پكار دي چې ددرود او سلام ويلو لپاره هغه كيفيت اختيار كړي، كوم چې د نبي ﷺ څخه ثابت دي؛ ځكه په دغه كې د نورو كيفيتونو څخه كفايت دى، اودغه كيفيت هغه دى چې بخاري او مسلم په صحيحينو كې د كعب بن عجرة ﷺ نه روايت كړي چې صحابه كرامو نبي ﷺ ته وفرمايل چې يا رسول الله مونږ ته الله تعالى أمر كړى چې پر تا درود ووايو؛ نو څرنګه درود په تا ووايو؟ نو نبي ﷺ وفرمايل: چې داسي وايي: "**اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد، وبارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد**".

ترجمه: اى الله ته درود رحمت وليږى په محمد او د هغه په خاندان لكه څرنګه چې تا درود او رحمت كړي دى په إبراهيم او دهغه په خاندان، بيشكه ته ستايل شوى او لوي ذات يې، او بركتناك كړي محمد ﷺ او د هغه خاندان؛ لكه څرنګه چې تا

برکت کړي دی په ابراهيم، او د هغه په خاندان، بيشکه ته ستايل شوي او لوي ذات يې.

او په بخاري او مسلم کې د أبو حميد الساعدي ﷺ څخه روايت دی چې صحابه کرامو وويل: يا رسول الله ﷺ څرنګه مونږ پر تا درود شريف ووايو؟ نو هغه وفرمايل: داسي وايې: **"اللهم صل على محمد وعلى آزواجه وذريته كما صليت على آل إبراهيم وبارك على محمد وعلى أزواجه وذريته كما باركت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد"**.

او په صحيح مسلم کې د عبد الله بن مسعود الأنصاري ﷺ څخه روايت دي دا وائي چې بشير بن سعد رسول الله ﷺ ته وويل: چې أي د الله پيغمبره! الله تعالى مونږ ته أمر کړي چې پر تا درود ووايو؛ نو څرنګه درود پر تا ووايو؟ نو لږ شان چپ شو او بيا يې وفرمايل: داسي وايي: **"اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على آل إبراهيم وبارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على آل إبراهيم في العالمين إنك حميد مجيد والسلام كما علمتم"**.

نو دا ألفاظ او ددی په شان او داسي نور چې د نبي ﷺ څخه ثابت وي مسلمان ته مناسب دي چې دغه استعمال کړي، په

نبي ﷺ د درود او سلام ویلو په حالت کې؛ ځکه نبي ﷺ د ټولو خلکو څخه په هغوالفاظو ډیر پوهه دی چې دهغو استعمال ددی په حق کښې مناسب وي، او دا په هغو ألفاظو ډیر پوهه دی چې د هغو استعمال د الله تعالی په حق کې مناسب وی ، او هر چې تکلفي الفاظ او د ځان څخه جوړ شوي او هغه ألفاظ چې د غیر صحیح معنی احتمال لري لکه هغه الفاظ چې په پوښتنه کې ذکر شوي، نو بیشکه چې ددغو استعمالول مناسب نه دي؛ ځکه په دی کې تکلف دی، او بل له دی وجي چې کیداي شي تفسیر یې په باطلو معناګانو وشي، سره لدینه چې د هغو ألفاظو خلاف دی کوم چې رسول الله ﷺ غوره کړي، او امت ته یې د هغو ښودنه کړی.

او دا پیغمبر ﷺ د ټولو خلکو څخه ډیر پوهه دي، او ډیر خیرخواه دی، اودتکلف څخه ډیر لري دي، دالله تعالی له طرفه دی پري بهتره درود او سلام وي، او زه امید لرم چې هغو دلیلونه چې مونږ د توحید او شرك دحقیقت په بیان کښې ذکر کړل،او دهغه څه په ترمنځ دفرق په بیانولو کي چې مخکني مشرکان په هغه باندي ؤ، او هغه چې وروستني مشرکان پري په دی باب کښې دي، اوهغه دلیلونه چې مونږ دشرعي درود په

كيفيت كښې ذكر كړه دهغه چا لپاره څوك چې د حق طلب ګار وي كافي اوقناعت بخش دي، او دهر هغه چا چې د حق په پيژندلو كې مينه اورغبت نه وي نودغه دخپلوخواهشاتو تابع دي، الله تعالى فرمائي: ﴿ فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكَ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾ ﴾ [القصص: ٥٠].

ترجمه: كه چيري دوي ستاسي خبره قبوله نه كړه؛ نو پوهه شه چې بيشكه تابعداري كوي دوي د خواهشاتو خپلو، او څوك ډير بې لارى دى د هغه چا څخه چې د خپلو خواهشاتو تابع وي، او څوك ډير بى لارى دى د هغه چا څخه چې تابع وي د خواهش خپل بغير د هدايت لطرف د الله تعالى څخه، بيشكه الله تعالى توفيق نه وركوي ظالم قوم ته.

نو الله تعالى په دى آيت كريمه كې واضحه كړه چې خلك د هغه څه په باره كې چې پيغمبر ﷺ پرې راليږل شوي د هدايت او حق څخه دوه قسمه دي.

اول: د الله تعالى او د هغه د پيغمبر عليه السلام منونكي دي.

دوهم: د خپلو خواهشاتو تابعداران دي، او الله تعالى ددى خبر وركړى چې نشته ډير ګمراه د هغه چا څخه چې خپلو

خواهشاتو پسي روان وي بغير د کوم هدايت څخه د الله له طرفه.

الله تعالى څخه د خواهشاتو د تابعداري څخه بچوالي او عافيت غواړو؛ لکه څرنګه چې د الله څخه غواړو چې مونږ او تاسو او ټول ورونه د الله تعالى او د پيغمبر ﷺ ددين منونکي او د هغه د شريعت تعظيم کونکي جوړ کړي، ا ودا چې مونږ د هغو بدعاتو او خواهشاتو څخه ويره ورکونکي جوړ کړي کوم چې د هغه د شريعت مخالف وي، بيشکه چې دا الله تعالى سخي او کريم ذات دی.

وصلى الله على عبده ورسوله نبينا محمد وآله وأصحابه وأتباعه بإحسان إلى يوم الدين.

د بدعاتو څخه ځان ساتنه (او کرکجنې)

أوله رساله:

د پیغمبر ﷺ یا د نور چا د پیدا ئشت د ورځې په مناسبت د غونډو جوړولو د حکم په بیان کښې ده.

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهداه أما بعد:

د رسول الله ﷺ د نیك مرغه میلاد (زیږیدنی) د لمانځنی په مناسبت د خصوصي غونډو جوړولو او په دغو غونډو کښې د پیغمبر ﷺ د إحترام لپاره په دی عقیده چې دی محفل ته تشریف راوړي، پاځیدل او قیام او په یوه ځانګړي توګه د سلام أداء کول، او دغه راز پکښې د ځنیو نورو مراسمو د اجراء کولو په هکله د ډیرو کسانو لخوا څو څو واره دا پوښتنه وشوه چې دغه عمل د شریعت له مخې څه حکم لري؟

ځواب: د رسول الله ﷺ د زیږیدنې او یا د بل چا د زیږیدنې د لمانځنې په مناسبت غونډه (د مولود په نوم محفل) جوړول په شریعت بالکل جواز نه لري؛ ځکه چې دا عمل بدعت او په دین کښې نوي طریقه ده، او دا له دی امله چې دغه عمل رسول الله

ﷺ نه په خپله کړي دی او نه په خير القرون (غوره پيړيو) کښې - د رسول الله ﷺ راشده خليفه ګانو او نورو أصحابو کرامو او تابعينو ﷺ ددغه عمل د إهتمام په برخه کښې څه إقدام کړی دی، او حال دا چې هغوي د رسول الله ﷺ په طريقو او سنتو باندي تر ټولو خلکو څخه ښه پوهيدل، او له هر چا څخه دوي د نبيﷺ سره زياته مينه او محبت درلودلو، او په ټول أمت کښې دوي د رسول الله ﷺ د شريعت او قانون زيات تابعدار او پيروان وو.

د رسول الله ﷺ إرشاد مبارک دي فرمائي: "**من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد**".

ترجمه: زمونږ د اسلام په دين کښې چې چا داسي نوي کار اضافه کړو چې ددين څخه نه وي هغه عمل مردود دی، د منلو وړ نه دی.

او په بل حديث کښې نبي ﷺ فرمائي: "**عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين من بعدي، تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ، وإياكم ومحدثات الأمور، فإن كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة**".

ترجمه: پر تاسي باندي زما د سنتو او طريقو عملي كول او پابندي لازمه ده، او له ما څخه وروسته زما د هدايت موندونكو خليفه ګانو د طريقو كلك پابند شئ، منګولى وربانده ولګوئ او په خپلو غاښونو سره په دغو سنتو باندي چك ولګوئ او عمل پرى وكړئ، او په دين كښې د نوو راپيدا شويو أعمالو څخه ځان وژغورئ؛ ځكه په دين كې د هر نوي عمل أنجامول بدعت دى، او هر بدعت ګمراهي ده.

په دغو دواړو حديثونو كښې د بدعاتو د ارتكاب څخه سخته ويره او تحذير بيان شوي دي، الله ﷻ په خپل مبين كتاب كښې په دى هكله فرمائي: ﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ﴾ [الحشر: ٧].

ترجمه: او هغه څه چې درکړي تاسو ته رسول (د الله) نو ويې نيسئ او قبول يې كړئ، او هغه څه چې منع كوي (رسول الله) تاسو له هغه څخه نو منع شي د هغي څخه.

او همدارنګه الله تعالى فرمائي: ﴿ فَلْيَحْذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾[النور: ٦٣].

ترجمه: نو ودي ويريږي هغه کسان چې مخالفت کوي له أمر ددغه رسول زما، له دي څخه چې ورسيږي دوي ته څه فتنه (آفت په دنيا کښې) يا ورسيږي دويته عذاب دردناك (په آخرت کښې).

او بل ځای فرمايلي دي: ﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾ [الأحزاب: ٢١].

ترجمه: بيشکه ستاسو لپاره د رسول الله په ژوندانه کښې غوره اونيکه پيشوا ده لپاره د هغه چا چې ويريږي د الله تعالى او أميد لري (د ملاقات) او ورځی روستنی (قيامت) او ډير يادوي الله تعالى هم په خوله هم په زړه.

همدا راز الله فرمائي: ﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ [التوبة: ١٠٠].

ترجمه: او هغه وړاندينې اولنې إيمان لرونکي له مهاجرينو او أنصارو څخه او نور هغه کسان چې متابعت يې کړي دي ددوي په إحسان يعني نيکي سره راضي شوي دي الله تعالى

ددوي څخه (د إطاعت په قبول سره) او راضي شوي دي دوي د الله تعالى څخه (د نعمت په ورکړه)، او الله تعالى دوي ته جنتونه تيار کړي دي چې ددغه جنتونو يعني د ونو او مانيو د لاندي به يې ويالي بهيږي، او دوي به په هغو کښې د تل او همیش لپاره اوسيږي دغه (رضاء او جنت) ډير لويه کاميابي ده.

او همدا راز الله تعالى فرمايلي: ﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ﴾ [المائدة: ٣].

ترجمه: نن ورځ مکمل کړو ما تاسو لره دين ستاسي او تمام او پوره مي کړو خپل نعمت پر تاسو (أي مؤمنانو) يعني ددين په إکمال سره او غوره کړو ما تاسو لره إسلام ددين په لحاظ سره.

په قرآن کريم کښې دغه ډول آيتونه ددى موضوع په اړه ډير زيات دى، نو اوس چې دغه مولود د ثواب په نيت لمانځل کيږي نو دي څخه خو داسي څرګنديږي چې الله پاك ددى أمت لپاره دين نه ؤ مکمل کړى، او رسول الله ﷺ هم دغه دين څرنګه چې لازم او مناسب ؤ خپل أمت ته نه دي رسولى چې په عمل کښې يې راوستي واى.

تر څو دا روستنې خلك راپیدا شول او په إسلام کښې یې داسې نوي کارونه راپیدا کړي چې شریعت د هغې اجازه نه وه ورکړي، او دا په دې ګمان چې دا نیك کارونه دي، دین وربانديي کمال ته رسیږي او الله ﷻ ته د نیزدیکت وسیله ګرځي.

حال دا چې دا بې له شکه ډیر لوي خطرناك فکر دی، او په الله تعالی او رسول الله ﷺ باندې إعتراض او نیوکه ده، کوم چې الله ﷻ او د هغه رسول محمد رسول الله ﷺ تري منزه او مبراء دي؛ ځکه الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره دین پوره کړي دي، او نعمت یې وربانديي تمام کړي دي.

رسول الله ﷺ هم په ښکاره توګه سره دین بیان کړي دي، او جنت ته د ننوتلو او د جهنم د اور څخه د بچ پاتې کیدلو ټولې لاري یې خپل أمت ته په واضحه توګه ښوولي او په ګوته کړي دي؛ لکه څرنګه چې په صحیح حدیث کښې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي: "**ما بعث الله من نبي إلا كان حقاً عليه أن يدل أمته على خير ما يعلمه لهم وينذرهم شر ما يعلمه لهم**". رواه مسلم في صحيحه.

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: الله تعالی په هر پیغمبر باندي دا لازمه کړی ده چې خپل أمت ته د نیکو او غوره کارونو تعلیم ورکړي، فائدي او ګټې یې ورته روښاني او بدو (ناوړو) کارونو څخه ورته د ځان ساتنې په هکله توصیه وکړي، او د هغه بدو څخه یې وویروي چې هغه ته معلوم وي.

دغه حدیث امام مسلم په خپل صحیح کښې روایت کړی دی.

او دا ښکاره خبره ده چې زمونږ پیغمبر محمد ﷺ د ټولو انبیاؤ غوره او آخرني پیغمبر دی، او د تبلیغ او نصیحت په لحاظ د ټولو څخه اوچت او أکمل دی؛ نو که چیرې د مولود د لمانځنې په مناسبت مجلسونه جوړول د الله تعالی د غوره شوي دین یوه برخه وی، نو خامخا به دا عمل پیغمبر ﷺ خپل أمت ته بیان کړي وي، او حتماً به دا عمل رسول الله ﷺ په خپل ژوند کې په خپله کړی وی، او یا به د رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم دغه فعل کولو ته إقدام کړی وای، نو کله چې په خیر القرون کښې یعني په غوره شویو پیړیو کښې دغه عمل د چا لخوا تر سره شوي نه دي، نو ثابته شوه چې دا د إسلام د احکامو څخه نه بلکې دا د هغو بدعاتو له جملې څخه دي، چې

نبي ﷺ خپل أمت ددغو ناجائزو کارونو د إرتکاب څخه ویرولي دي، لکه چې په تیرو دوه مبارکو حدیثونو کښې یې مخکې یادونه وشوه، او دغو دوه حدیثونو ته د معنی په لحاظ ورته نور ډیر آحادیث هم شته، لکه دا قول د رسول کریم ﷺ چې د جمعې د ورځې په خطبه کښې یې وفرمایل: **أما بعد: فإن خير الحديث كتاب الله وخير الهدي هدي محمد ﷺ، وشر الأمور محدثاتها وكل بدعة ضلالة". رواه مسلم في صحيحه.**

ترجمه: اما بعد: بیشکه د الله تعالی کتاب تر ټولو غوره کلام او بیان دی، چې بهترینه طریقه د همدی کتاب په ذریعه سره موندل کیږي، او د محمد رسول الله ﷺ سنت د خیر او هدایت سرچشمه ده، او تر ټولو ناوړه هغه کارونه دي چې په دین کښې نوي د ځان څخه جوړ کړي شوي او ددین جز ګرځول شوي وي، او هر نوي کار (بدعت) ګمراهي او ضلالت دی.

په دی برخه کښې زښت زیات آیاتونه او آحادیث موجود دي، او یو ډلي د علماؤ ددغه رنګه محفلونو په جوړولو په ښکاره ډول رد کړي، او د ذکر شویو آیاتونو او آحادیثو او ځنو نورو شرعي دلائلو په أساس یې هغه ناروا ګڼلي دي، او د هغې نه یې د منع کیدلو او ځان ساتنې په باب یادونه کړی ده.

ألبته بعضو متأخرينو ورته جواز ورکړی دی، خو هغه هم په دی شرط چې دغه غیر مشروع شیان پکښې ونه کړای شي، د مثال په ډول د رسول الله ﷺ په ستاینه کښې د حد څخه تجاوز ونه کړای شي، د ښځو او نارینو تر منځ اختلاط نه وي، د موسیقي او لهو لعب نور وسائل پکښې استعمال نه شي.

او همدارنګه ځني نور داسي أعمال پکښې ترسره نه شي چې د إسلام سپیڅلي قانون ناروا ګڼلي وي، او دوي يې په دی ګمان کوي چې دا بدعت حسنه دی او جواز لري؛ ځکه شرعي قاعده داده چې کله په کوم شي کښې په ديني لحاظ سره نزاع واقع شي، نو د الله تعالى کتاب او د محمد ﷺ سنتو او إرشاداتو ته يې وړاندي کوو، او د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کښې يې فیصله او پریکړه لټوو چې د الله تعالى او د رسول الله ﷺ په دی برخه کښې څه فرمان دي لکه چې الله تعالى فرمائي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩ ﴾ [النساء: ٥٩].

ترجمه: أي مؤمنانو! تاسو د الله حکم ومنئ، او د الله د رسول الله ﷺ حکم ومنئ، او د بادشاهانو إطاعت وکړئ چې ستاسو څخه دي يعني د مسلمانانو حاکمانو او مشرانو، او که بيا مو په کوم شي کښې جنجال پيښ شو نو الله طرفته يعني د الله کتاب ته او رسول ته يعني د رسول الله ﷺ آحاديثو ته يې راجع کړي، که په الله او ورځ د آخرت إيمان لري، او دا رجوع الله او رسول ته ډيره غوره ده، او دا رجوع د عاقبت له جهته ډيره ښه ده.

دا رنګه الله تعالى په بل ځای کښې فرمايلي: ﴿ وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾[الشورى: ١٠].

ترجمه: او په هغه خبره کښې چې د کوم څيز په باب جنجال کوي تاسو؛ نو د هغي حکم يعني فيصله الله ته سپارل شوي.

مونږ دغه مسأله چې د مولود په مناسبت د محفلونو ځانګړي إهتمام دی د الله تعالى کتاب ته وړاندي کړه، الله ﷻ په خپل کتاب کښې مونږ ته په کړو وړو او پريښودو کښې د رسول الله ﷺ په اطاعت او پيروي أمر کړی دی، او ددی خبری آګاهي يکښې هم راکړی ده چې د إسلام سپيڅلي دين په تمامه

معنی سره کامل (او مکمل دی) او دی خبری د ثبوت کوم دلیل چې رسول الله ﷺ ددغه محفل اهتمام په خپله کړی دی وجود نه لري.

نو معلومه شوه چې دا په هغه دین کښې نشته کوم چې الله تعالی مونږ لپاره بشپړه کړی دی، او د رسول الله ﷺ په اتباع سره یې راته پکښې حکم فرمایلي دی، او دا ځکه چې مونږ دغه مسأله د رسول الله ﷺ سنتو ته هم راجع کړه، او په هغې کښې مو ولیدل چې دا فعل نه رسول الله ﷺ په خپله کړی دي او نه یې بل چاته د هغی أمر کړی دی، او نه دده قدرمنو صحابؤ ددغه عمل په ترسره کولو کښې إقدام کړی دی، نو ددی ټولو څخه دا نتیجه په لاس راځي چې دا شرعي عمل نه دی بلکې د هغو بدعاتو له جملي څخه دي چې نوي راپیدا کړي شوي، او دین شمارول کیږي، او د أهل کتابو - چې یهود او نصاری دي- سره د هغوي په أخترونو لمانځلو کښې مشابهت دي.

ددغه تحقیق په رڼا کښې چې هر څوك لږ غوندي بصیرت ولري، حق یې خوښ وي، او د حق په پلټنه کښې د انصاف څخه کار اخلي په دی پوهیږي چې د مولود په مناسبت ددغه ډول مجلسونو ترتیب ددین د أمورو څخه نه دي بلکې هغه

ناروا عمل دي چې الله تعالى او د هغه رسول الله ﷺ يې په پرېښودلو او ورځخه په اجتناب كولو مونږ ته أمر كړي دي، او دا چې په مختلفو سيمو كښې ډير خلك د ميلاد په مناسبت غونډې او مجلسونه جوړوي نو عقل مند إنسان بايد په دى دوهكه نه شي؛ ځكه حق د أشخاصو په كثرت سره نه پيژندل كيږي، بلكې حق يواځې د شرعي دلائلو په اساس پيژندل كيږي، لكه چې الله تعالى د يهودو او نصاراؤو متعلق فرمايلي: ﴿ وَقَالُوا۟ لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ۗ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ [البقرة: ١١١].

ترجمه: وائي أهل كتاب جنت ته نه ننوځي مګر هغه څوك به ننوځي چې يهودي يا نصراني وي، دا ددوي نفساني غوښتنى دي، دوي ته ووايه په دى خبره خپل دليل راوړي كه په دى وينا كښې ريښتني يې.

او په بل مقام كښې الله تعالى فرمايلي: ﴿ وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ [الأنعام: ١١٦].

ترجمه: او که متابعت وکړي ته د زیاتر هغه کسانو چې په ځکمه کښې دي نو د سمي لاري څخه به دي دوي واړوي أي محمده!.

او بیا زیاتره د مولود په مناسبت دغه مجلسونه برسیره پر دی چې بدعت دی نور یو زیات شمیر منکرات او ناروا أعمال پکښې ترسره کیږي، مثلاً د نارینه او ښځینوو اختلاط، ساز او سرود (آوازونه او غزلي ویل) د موسیقي د آلاتو غږول، نشیې او مخدره شیانو استعمال او څښل او د ځنیو نورو ناوړه او غیر مشروع کارونو تر سره کول، او کله کله پکښې ددي څخه هم لوي جرم واقع کیږي چې هغه شرك اکبر دی، د مثال په ډول د رسول الله ﷺ په ستاینه او تعریف کښې بي ځایه مبالغه کول، او یا د أولیاء په مدحه کښې د حد څخه تجاوز کوي، آوازونه او فریاد ورته کوي، مرسته ورڅخه غواړي، او دا عقیده ساتي چې أولیاء عالم الغیب دي، او دغه راز بعضي نور کفري کارونه شو، کوم چې ډیر خلك د نبي ﷺ د مولد یا د نورو د مولد په مناسبت کوي، کومو ته چې دوي د الله تعالی أولیاء وائي.

او حال دا چې په صحيح روايت كښې راغلي دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**إياكم والغلو في الدين فإنما أهلك من كان قبلكم الغلو في الدين**".

ترجمه: په دين كښې د بې ځايه مبالغي څخه ځانونه وساتي؛ ځكه ستاسو څخه مخكښې خلك په دين كښې د غلو او إفراط په وجه هلاك شوي دي.

او په يو بل حديث كښې چې إمام بخاري: روايت كړي دي نبي عليه السلام فرمايلي: "**لا تطروني كما أطرت النصارى ابن مريم إنما أنا عبد فقولوا عبد الله ورسوله**" **خرجه البخاري في صحيحه من حديث عمر** رضي الله عنه.

ترجمه: (ځما د تعريف او توصيف په وخت كښې د حد څخه تجاوز مه كوئ لكه څرنګه چې نصرانيانو د عيسى بن مريم په باره كښې كړي، او هغه ته يې د الله تعالى د ځوي نسبت كړي، زه صرف بنده يم نو په دى أساس ځما په هكله او وائي: عبد الله ورسوله). يعني د الله بنده او د هغه رسول دى.

او بيا د حيرانتيا وړ خبره خو لا دا ده چې زياتره خلك په دغه ډول كانفرانسونو كښې برخه اخستلو ته په زيات اهميت قائل

وي، او د الله تعالی د حقوقو او فرائضو په أداء کولو کښې سست او مقصر وي، حتی چې په جمع سره لمانځه ته هم حاضریدلای نشي، او په دی نه پوهیږي چې د څومره ستری ګناه مرتکب وګرځیدو، ولی دیته یې خیال قدري هم نه وي.

بیشکه چې دا د ایمان کمزوري او د الله تعالی د ورکړي بصیرت کموالي دی، او په زړونو باندي د ډول ډول معصیتونو او ګناهونو د زنګ تاثیر او اغیزه ده، الله تعالی دی مونږ او ټولو مسلمانانو ته ددغه مرض څخه شفاء نصیب کړي.

او ځني خلك په دی ګمان هم دی چې دغه محفل ته نبي أکرم ﷺ خپله تشریف راوړی چې له همدی أمله یې د استقبال لپاره ودریږي سلام أداء کوي أهلا وسهلا وائي چې دا ډیر لوي باطل او د بدترین جهل نتیجه ده؛ ځکه رسول الله ﷺ د قیامت د ورځی څخه مخکی د خپل قبر څخه نه راووځي، او نه د چا سره ملاقات کوي، او نه ددوي اجتماع ګانو ته حاضریږي، بلکښې د قیامت د ورځي پوري خپل قبر کښې مقیم او تشریف لرونکي دي، او روح مبارك یې د عزت په مقام کښې د رب العزت په وړاندی په أعلی علیین کښې قرار لري، لکه چې الله

تعالى په سورت المؤمنون كښې فرمايلي: ﴿ ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ ﴾ [المؤمنون: ١٥ - ١٢].

ترجمه: بيا بيشكه تاسو پس له دى خامخا مړه كيدونكي يې، بيشكه تاسو د قيامت په ورځ كښې بيا ژوندي راپاڅولى شي.

او همدا رنګه رسول الله ﷺ فرمايلي: "أنا أول من يشق عنه القبر يوم القيامة، وأنا أول شافع وأنا أول مشفع"

ترجمه: د قيامت په ورځ به زه هغه څوك يم چې د ټولو څخه به لومړي د قبر څخه پورته كيږم، او زه به لومړى شخص يم چې سفارش به كوم، او زه به لومړي شخص يم چې شفاعت به مي قبول شي.

دغه مبارك حديث او مخكښې ذكر شوي مبارك آيت او هغه نور آياتونه او آحاديث چې دغو دواړو ته په معنى كښې ورته والي لري ټول په دى دلالت كوي چې رسول الله ﷺ او هم نور مړي به د قيامت له ورځې څخه مخكي د خپلو قبرونو څخه نشي راوتلى، او دا د ټولو إسلامي علماؤ ترمنځ متفقه مسأله ده چې ددوي تر منځ ورپكښې هيڅ اختلاف نشته، نو مسلمانانو ته پكار دي چې دغه مسائل په پام كښې ونيسي،

او د هغو بدعاتو او خرافاتو څخه اجتناب وكړي كوم چې جاهلانو ايجاد كړي دي، او په شرعي دليل باندي اتكاء نه لري. **والله المستعان وعليه التكلان ولا حول ولا قوة إلا به.**

أما كوم چې په رسول الله ﷺ باندي درود او سلام ويل دي هغه بى له شكه د تقرّب حاصلولو غوره طريقه، او نيك عمل دى، لكه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيْهِ وَسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ﴾ [الأحزاب: ٥٦].

ترجمه: بيشكه الله تعالى او د هغه ملائكې پر نبي عليه السلام باندي درود وائي، أي مؤمنانو تاسو پر هغه باندي ډير درود او سلام ولولئ.

او رسول الله ﷺ فرمايلي: "**من صلى علّي واحدة صلى الله عليه بها عشرا**".

ترجمه: چا چې پر ما باندي يو ځل درود ووايه الله تعالى به په هغه باندي لس كرته درود او رحمت وليږي.

او دا په هر وخت كښې جائز او مشروع عمل دى، او بالخصوص د هر لمانځه په اخر كښې يې په ويلو باندي زيات تينګار شوي دى، او حتى چې د ډيرو علماؤ په نزد باندي د هر

لمانځه په وروستنی قعده کښې د درود لوستل یو وجوبي أمر دی، او په نورو ډیرو ځایونو کښې بیا درود ویل لکه چې یو زیات شمیر آحادیث وربانديي دلالت کوي سنت مؤکده دي، مثلاً د آذان ویلو وروسته، د رسول الله ﷺ د مبارك نوم اخستلو په وخت کښې، او دا رنګه د جمعي په شپه او ورځ کښې شو.

د الله تعالی څخه سؤال کوو چې مونږ او ټولو مسلمانانو ته په دین باندي د پوهیدو او ثبات توفیق راکړي او د نبوي سنتو مطابق راته عمل په برخه کړي، او له هر راز بدعاتو او خرافاتو څخه مو په أمان کښې وساتي،

إنه جوّاد كريٌم، وصلى الله وسلم على نبينا محمدٍ وآله وصحبه أجمعين.

دوهمه رساله:

د معراج د شپې درناوی او په دغه مناسبت د خاصو مراسمو ترسره کولو حکم.

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه وسلم، أمابعد:

په دی کښې شك نشته چې د معراج واقعه د رسول الله ﷺ په صدق باندې روښانه او څرګند دلیل دی، او د الله تعالی په وړاندی د رسول أکرم ﷺ د شان او منزلت په برخه کښې ښکاره ثبوت دی، لکه چې همدغه واقعه د الله تعالی په بې ساري قدرت او په ګردو مخلوقاتو باندې دده د علو او اوچت والي په باب یو ستر دلیل هم دی، الله ﷻ په دی هکله داسي فرمایلي: ﴿ سُبْحَانَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا مِّنَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ إِلَى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْأَقْصَا ٱلَّذِى بَـٰرَكْنَا حَوْلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَـٰتِنَآ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴾ [الاسراء: ١].

ترجمه: پاك دی هغه ذات چې خپل بنده محمد ﷺ یې په یوه شپه کښې بیولي ؤو، یعني په یوه برخه د شپه کښې د مسجد حرام څخه تر مسجد اقصی پورې، هغه چې مونږ برکت اچولي دی ګیر چاپیره د هغه او دغه بوتلل د محمد ﷺ د دی لپاره ؤ

چې مونږ ده ته وښایو ځني د خپلو دلائلو څخه، بیشکه چې دغه الله همدي ښه اوریدونکي اولیدونکي دي.

د رسول الله ﷺ څخه په تواتر سره ثابته شوي ده چې دی أسمانونو ته پورته بوتلل شو، د ټولو أسمانونو دروازي ورته بیرته شوي، آن تر دی چې د اووم أسمان څخه تیر شو، او خپل رب ورسره د هغه څه متعلق خبري وکړی د کوم شي چې یې إراده درلوده، او الله تعالی ورباندي پینځه لمونځونه فرض کړل، او دغه لمونځونه ابتداء کښې الله تعالی پنځوس فرض کړي ؤ، خو د رسول الله ﷺ د ټینګار او بیا بیا مراجعي په سبب چې هر وار به ئي د الله تعالی څخه د تخفیف غوښتنه کوله پینځه لمونځونه پاتي شول، چې په فرضیت کښې پنځه دي او په أجر او ثواب کښې پنځوس دي؛ ځکه د یوي نیکي پر ځای الله تعالی لس برابره بدله او ثواب ورکوي، **فلله الحمد والشكر على جميع نعمه.**

دغه شپه په کومه کښې چې د إسراء او معراج واقعه پیښه شوي ده په صحیح آحادیثو کښې ددغه شپې تعین نه دی راغلی چې دا رجب (بزرګي) په میاشت کښې ده یا په بله کومه میاشت کښې ده، او ټول هغه روایات چې ددغه شپې په تعین

کښې راغلي دي د حدیث د فن پوهانو په نزد باندي هغه د رسول الله ﷺ څخه ثابت نه دی، او دا چې الله تعالی دغه شپه د خلکو څخه هیره کړی ده په دی کښې هم د الله تعالی ډیر لوي حکمت دی.

او که بالفرض د معراج د شپی تعین هم ثابت شي مسلمانانو لره جائز نه دي چې دغه شپه د عبادت لپاره خاص وګرځوي، او یا په دغه شپه کښې د خاصو مراسمو په ترڅ کښې محفلونه جوړ کړي؛ ځکه پیغمبر علیه السلام او د هغه اصحابو رضي الله عنهم په دغه شپه کښې نه کوم محفل او مجلس جوړ کړی ؤ، او نه یې دغه شپه د کوم شي لپاره خاص کړی وه.

نو که په دغه شپه کښې محافل جوړول او په خاصو مراسمو سره ددغی شپی لمانځل شرعي حکم وائي نو خامخا به رسول الله ﷺ خپل امت ته قولا او یا فعلا د هغی بیان کړی وای، او که د رسول الله ﷺ څخه ددغه شپی د اهتمام متعلق کوم شي واقع شوی وای نو هغه به معلوم او مشهور وای، او صحابه کرامو به خامخا مونږ ته د هغي نقل او روایت کړی وای؛ ځکه هغوي په پوره أمانت داری سره د خپل پیغمبر محمد رسول الله ﷺ

څخه ټول هغه څه نقل كړي دي چې أمت مسلمه ورته حاجت لري.

د دين په باره كښې د هغوي څخه هيڅ كمى نه دى شوي بلكې هغوي هر نيك كار كولو ته سبقت او وړاندى والى كړى دى، نو كه په دغه شيه كښې ددغه شپى د تعظيم په خاطر په خاصو مراسمو سره غونډه او جشن نيول مشروع طريقه واى، نو صحابه كرامو به تر ټولو خلكو څخه مخكى دغه عمل ته اقدام كړى واى، او رسول الله ﷺ د خلكو ناصح او خير خواه دى، او د رسالت پيغام يې په بشپړه توګه رسولى دى، او أمانت يې أداء كړى دى.

نو كه چيرې ددغى شپى درناوى او مجلسونه جوړول پكښې د الله تعالى ددين د أحكامو څخه واى نو رسول الله ﷺ به ضرور د هغى بيان كاؤ او پټ به يې نه پريښودلو، خو كله چې په دى برخه كښې د هيڅ كوم شي ثبوت د شريعت له خوا نشته؛ نو دا په ډاګه شوه چې ددغى شپى تعظيم او محفلونه جوړول په دغه شيه كښې د إسلام څخه نه دي.

ځكه الله تعالى ددغه امت لپاره خپل دين مكمل كړى او نعمت يې ورلره پوره كړى دى، او د هغه چا په هكله يې كركه

ښودلی ده چې په دين كښې هغه څه معمول ګرځوي كوم چې الله تعالى د هغى د كولو إجازت نه وي كړى، الله تعالى د خپل مبين كتاب په سورت المائدة كښې داسي فرمايلي: ﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ﴾

ترجمه: نن ورځ ما ستاسي دين مكمل او تمام كړو، يعني پوره مي كړو خپل نعمت پر تاسو (أي مؤمنانو) يعني ددين په إكمال سره او غوره كړو ما تاسو ته إسلام ددين په لحاظ سره، يعني په ټولو أديانو كښې ډير پاكيزه دين دي.

دغه راز په سورت الشورى كښې الله ﷻ فرمايلي: ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا۟ شَرَعُوا۟ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ ٱلْفَصْلِ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾ ﴾[الشورى: ٢١].

ترجمه: آيا دوي لره شريكان دي چې ساز كړي دي هغوي ددوي لپاره له دين څخه هغه څه چې حكم نه دى كړى په هغى الله تعالى، او كه چيرى نه وائي خبره د فيصلي، نو خامخا به حكم كړى شوي ؤ ددوي ترمنځ، او بيشكه ظالمان به په دردناك عذاب كښې مبتلاء وي.

او په ډیرو آحادیثو کښې هم د بدعاتو څخه د ځان ساتلو په باب د رسول الله ﷺ إرشادات موجود دي، او ټینګار ور پکښې شوي دي چې بدعات ګمراهي او ضلالت دی، او دا له دی أمله چې إسلامي ټولنه د بدعاتو عظیم خطر ته پام لرونکي اووسیږي، او د کولو څخه یې اجتناب وکړي، ددغو آحادیثو له جملي څخه یو هغه حدیث دی چې په بخاري او مسلم کښې د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي

"من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد"

ترجمه: چا چې د ځان څخه یو نوی طریقه جوړه کړه زمونږ په دین کې چې په دی دین کې نه وي موجود نو هغه نامنظور ده.

او د إمام مسلم په یو روایت کښې داسي راغلي دي:

"من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد".

ترجمه: چا چې داسي یو عمل وکړو چې زمونږ إجازت او طریقه ورپکښې نه وي نو هغه نامنظور دی.

په مسلم شریف کښې یو بل حدیث د جابر رضي الله عنه څخه روایت دی، دا وائي چې رسول الله ﷺ به د جمعی په ورځ په خطبه

کښې فرمایل:"**أما بعد: فإن خير الحديث كتاب الله وخير الهدي هدي محمد ﷺ وشر الأمور محدثاتها وكل بدعة ضلالة**".

ترجمه: أما بعد: بیشکه د الله تعالی کتاب تر ټولو غوره کلام او بیان دی، چې بهترینه طریقه د همدی کتاب په ذریعې سره موندل کیږي، او د محمد رسول الله ﷺ سنت د خیر او هدایت سرچشمه ده، او تر ټولو ناوړه هغه کارونه دي چې په دین کښې نوي د ځان څخه اضافه او ددین جز وګرځول شي، او هر نوي کار (بدعت) ګمراهي او ضلالت دی.

او امام نسائي په جید سند سره دا لفظ زیاتي کړی چې "**وكل ضلالة في النار**"، ترجمه: او هره ګمراهي به په اور کې وي.

حضرت عرباض بن ساریة رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ یوه ورځ مونږ ته په دومره مؤثر اندازه سره وعظ او بیان وکړو چې په زړونو کې ورځخه ویره پیدا شوه، او سترګې ژړغوني شوي اوخکی ترینه اوبهیدلی، مونږ وویل: أي د الله تعالی رسوله! معلومیږي چې ګواکی دا آخرني او الوداعي وعظ دی، وصیت وکړۀ مونږ ته، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: "**أوصيكم بتقوى الله والسمع والطاعة وإن تأمر عليكم عبد فإنه من يعش منكم فسيرى**

اختلافاً كثيراً فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين من بعدي تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ، وإياكم ومحدثات الأمور فإن كل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة"

ترجمه: زه تاسو ته د الله تعالى څخه په ويره كولو وصيت كوم، او دهغه په تابعداري كولو، اګر كه په تاسي باندي يو غلام مشر شي؛ ځكه څوك چې ستاسو څخه ژوند پاتي شي نو زر دى چې وبه ويني اختلاف ډير؛ نو په تاسي زما په سنتو عمل لازم دي، او زما څخه وروسته زما د خليفه ګانو په سنتو، چې هغوي هم په سمه لار او هدايت روا ندي، او راتينګ كړي دغه سنت، او په غاښونو پري چك ولګوئ (يعني مضبوط شئ وربانديي)، او ځان بچ وساتئ د نوو كارونو د پيداكولو څخه په دين كښې؛ ځكه نوي كار بدعت دى، او هر بدعت ګمراهي ده.

د رسول الله ﷺ آحاديث په دى برخه كښې ډير راغلي، او دغه ډول د رسول الله ﷺ د أصحابو او سلفو صالحينو څخه هم د بدعاتو څخه د ځان ساتنى په باب ويره او ترهه ثابته ده، او ألبته دا په دى لحاظ چې بدعت په دين او إسلامي شريعت كښې دداسي يو عمل زيات والى دى، چې د الله پاك إجازت او حكم پكښې نشته، او د يهوديانو او نصرانيانو سره چې د

إسلام دشمنان دی مشابهت او ورته والی دی؛ ځکه هغوي په دين كښې هغه خود ساخته څيزونه ننويستلي ؤ چې الله تعالى يې حكم نه ؤ كړی، او بل دا چې د بدعاتو منځ ته رالتو له أمله په نقصان او نيمګړتيا سره د إسلام د مقدس دين متهم كيدل لازميږي، او هر چاته معلومه ده چې په دی كښې څومره لوي فساد دی، او د الله تعالى ددغه مبارك قول سره مخالفت دی چې فرمائي: ﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾[المائدة: ٣].

ترجمه: نن ورځ ما تاسو ته ستاسي دين مكمل كړو، او تمام يعني پوره مي كړو خپل نعمت پر تاسو (أي مؤمنانو) - يعني ددين په إكمال سره- او غوره كړو ما تاسو ته إسلام ددين په لحاظ سره، يعني په ټولو أديانو كښې ډير پاكيزه دين دي.

او همدا رنګه د رسول الله ﷺ د هغو آحاديثو صريح او ښكاره مخالفت دی كوم چې د بدعاتو څخه د ځان ساتنی ويري او منافرت متعلق راغلي دي.

زه هيله لرم هغه دلائل كوم چې مونږ ذكر كړل ددغه بدعت يعني د إسراء او معراج د شپی د جشن نيول او لمانځول د رد

کولو په برخه کښې د حق مطالبه کونکي لپاره کافي او قناعت بخش دي، او پر دی پوهه شي چې دا عمل کوم شرعي حیثیت نه لري، د ځانه إضافه کړی شوای کار دی، ځان ساتنه ورڅخه ضروري ده.

څرنګه چې الله په مسلمانانو باندی نصیحت کول او د شرعیې أمورو بیانول واجب ګرځولي دي او د علم پټول یې حرام کړي دي، نو ما غوره وشمیرله چې د خپلو مسلمانانو ورونو پام دغه بدعت ته راوګرځوم کوم چې په زیاترو سیمو کښې معمول او مروج ګرځول شوي، آن تر دی چې بعضو خلکو پرې د شرعي او دیني عمل ګمان کړی دی.

مونږ د الله تعالی څخه غوښتنه کوو چې مسلمانان إصلاح کړي، او پر دین باندي پوهیدل یې نصیب کړي، مونږ او دوي ته په حق باندي د تمسك او ثبات او د شریعت مخالف عمل په پریښودلو باندي توفیق راکړي، او الله تعالی پر دی باندی قادر ذات دی.

وصلى الله عليه وسلم وبارك على عبده ورسوله نبينا محمد وآله وصحبه.

دريمه رساله:

د شعبان (برات) د مياشتی د پينځلسمي شپې د خاص درناوي او عبادت لپاره د همدغی شپې د تخصيص او تعين په هکله شرعي حکم

الحمد لله: لائق د حمد او ستاينې دی هغه ذات چې زمونږ لپاره يې خپل دين کامل کړی دی، او پر مونږ باندې يې د خپلو نعمتونو پوره پيرزونه کړی ده، د الله تعالی درود او سلام دی وي په پيغمبر رحمة للعالمين محمد ﷺ باندې.

أما بعد: الله تعالی په قرآن کريم کښې فرمايلي: ﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ﴾ [المائدة: ٣].

ترجمه: نن ورځ ما تاسو ته ستاسي دين مکمل کړو، او تمام يعني پوره مي کړو خپل نعمت پر تاسو (أي مؤمنانو) - يعني ددين په إکمال سره- او غوره کړو ما تاسو ته إسلام ددين په لحاظ سره، يعني په ټولو أديانو کښې ډير پاکيزه دين دي.

بيا سورت الشوری کښې فرمائي: ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا۟ شَرَعُوا۟ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ ﴾ [الشورى: ٢١].

ترجمه: آیا دوي لره شریکان دي چې ساز کړي دي هغوي ددوي لپاره له دین څخه هغه څه چې حکم نه دی کړی په هغی الله تعالی.

وفي الصحيحين عن عائشة رضي الله عنها عن النبي ﷺ أنه قال: "من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد".

يعني چا چې د محمد رسول الله ﷺ په دین کښې نوي کار إضافه کړو هغه کار د منلو قابل نه دی.

او دمسلم شریف په یو روایت کښې داسي راغلي دي: **"من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد".**

يعني چا چې داسي یو عمل وکړو چې زما د طریقي او عمل مطابق نه وي نو نا منظور دی.

او په صحیح مسلم کښې د جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي ﷺ به د جمعي د ورځی په خطبه کښې ویل: **أما بعد: "فإن خير الحديث كتاب الله وخير الهدي هدي محمد ﷺ وشر الأمور محدثاتها وكل بدعة ضلالة".**

ترجمه:أما بعد: بیشکه د الله تعالی کتاب تر ټولو غوره کلام او بیان دی چې بهترینه طریقه د همدی کتاب په ذریعي سره

موندل کیږي، او د محمد رسول الله ﷺ سنت د خیر او هدایت سرچشمه ده، او تر ټولو ناوړه هغه کارونه دي چې په دین کښې د ځان څخه نوي إضافه او ددین جز وګرځول شي، او هر نوي کار (بدعت) ګمراهي او ضلالت دی.

په دغه برخه کښې آیاتونه او آحادیث زښت زیات دي چې ټول ښکاره په دی دلالت کوي چې الله تعالی بیشکه ددغه أمت لپاره ددوي دین مکمل کړی دی، او نعمت یې ورباندي تمام کړی دی، او خپل پیغمبر یې هغه وخت وفاة کړو چې دین یې په بشپړ توګه سر ته ورساؤ، او د خپل أمت لپاره یې ټول هغه څه چې الله تعالی ددغه أمت لپاره د أقوالو او أفعالو په ساحه کښې مشروع ګرځولي ؤ بیان کړل.

او دا خبره یې واضحه کړي ده چې ټول هغه ډول أعمال او کارونه چې خلك یې دده د رحلت څخه وروسته ایجاد کړي او إسلام ته یې منسوب کړي هغه که أقوال وي او که أعمال وي ټول بدعت او مردود دي، اګر که دغه عمل یې په ښه نیت باندي هم کړی وي.

د رسول الله ﷺ صحابو او ددوي څخه وروسته نورو إسلامي علماؤ دغه حقیقت پیژندلی وو؛ نو ځکه یې د بدعاتو په هکله

کرکه او خوف درلوده، او ځانونه يې ورڅخه ساتل، ابن وضاح، طرطوشي أبو شامه او داسي نورو علماؤ چا چې د بدعاتو په رد او د سنتو په اتباع کښې کتابونه ليکلي دي ټولو دغه برخه کښې بحث او څېړنه کړی ده.

د برات يعني د محفلونو په ترڅ کښې د شعبان د مياشتي د پنځلسمي شپې درناوي او دغه ورځی (د شعبان ۱۵ نيټې) ته د روژی نيولو لپاره اختصاصول د هغو بدعاتو له جملی څخه يو بدعت دی چې د ځنيو خلکو لخوا رامنځ ته شوی دی، او هيڅ داسي دليل چې د اعتماد وړ وي د هغي په ثبوت باندي وجود نه لري.

اګر چې ځنيي احاديث ددغی شپی په فضيلت کښې راغلي دي، خو هغه ضعيف دي، ددی وړ نه دي چې اعتماد وربانديي وشي، او کوم آحاديث چې په دغه شپه کښې په نسبت سره نورو ته د لمونځ کولو د فضيلت په باب کښې راغلي دي هغه ټول موضوعي او د ځان څخه جوړ کړی شوي، لکه چې ډيروعلماؤ ديته د خلکو پام راړولي دی، وروسته به انشاء الله ددوي د کلام ځنيي برخه ذکر شي.

د شام او بعضو نورو سیمو د ځنیو سلفو آثار هم ددغی شپې د فضیلت په هکله شته خو د جمهورو علماؤ په دی اتفاق دی چې په دغه شپه کښې خاص قسم مجالس او محفلونه جوړول بدعت دی.

او هغه احادیث چې ددغه شپې په فضیلت کښې راغلي دي هغه ټول ضعیف دي او ځني يې موضوعي هم دي، ددغو علماؤ له جملي څخه یو هم حافظ ابن رجب دی چې په خپل کتاب (لطائف المعارف) او ځنیو نورو کتابونو کښې يې دغه ټکي ته په ګوته نیولو سره خلك متوجه کړی دي.

او په ضعیفو آحادیثو صرف د هغو عباداتو په برخه کښې عمل کولي شي دکوم چې أصل په صحیح دلائلو سره ثابت وي.

أما د شعبان په پنځلسمه په اصطلاح د برات په شپه کښې د خاصو مراسمو د ترتیب او محفلونو جوړولو د ثبوت په هکله کوم صحیح دلیل وجود نه لري چې ضعیفه آحادیث بیا د هغې په څنګ کښې مؤثر واقع شي.

دغه ارزښتناکه قاعده إمام أبو العباس شیخ الإسلام ابن تیمیة: ذکر کړی ده، او زه په دغه مسأله کښې د ځنیو علماؤ

أقوال رانقل کوم تر څو ددلائلو د مخي ددغی مسألی په باب معلومات حاصل کړي.

ټول علماء په دی متفق دي چې د خلکو ترمنځ د اختلافي مسألو د حکم معلومولو لپاره د الله تعالی کتاب او د رسول الله ﷺ آحادیثو او سنتو ته وړاندي کول واجب دي، تر څو معلومه شي چې د الله تعالی په کتاب قرآن عظیم الشان او د رسول الله ﷺ په آحادیثو او یا په دغو دواړو کښې ددغی مسألي په باب څه حکم دی.

که په قرآن کریم او آحادیثو کښې او یا په یو ددغو دواړو کښې یې حکم موجود ؤ، نو دا د شریعت حکم دی عملي کول یې واجب دي، او که چیري ددی دواړو څخه مخالف ؤ نو بیا یې پریښودل واجب دي، او هغه عبادات چې په قرآن کریم او سنتو کښې د هغي د مشروعیت په باب کوم دلیل موجود نه وي؛ نو بیا خلکو ته ددغه عمل د کولو په لوري دعوت ورکول او خوبائي بیانول خو یې لا څه کوي؛ چې په خپله دغه عمل بدعت دی، کول یې هیڅ جواز نه لري، لکه چې الله تعالی په سورت النساء کښې فرمایلي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ

ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾ ﴾ [النساء: ٥٩].

ترجمه: أي مؤمنانو! تاسو د الله حكم ومنئ او د الله د رسول الله ﷺ حكم ومنئ او دبادشاهانو اطاعت وكړئ، چې ستاسو څخه وي يعني د مسلمانانو حاكمانو او مشرانو، او كه بيا مو په كوم شي كښې خلاف راغي نو الله طرفته يعني د الله كتاب ته او رسول ته يعني د رسول الله ﷺ آحاديثو ته يې راجع كړي، كه په الله او ورځ د آخرت إيمان لري، او دا رجوع الله او رسول ته ډيره غوره ده، او دا رجوع د عاقبت له جهته ډيره ښه ده.

همدارنګه الله تعالى په سورت الشورى كښې فرمائي: ﴿ وَمَا ٱخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ [الشورى: ١٠].

ترجمه: او په هغه خبره كښې چې د كوم څيز په باب جنجال وكړي تاسو؛ نو د هغې حكم يعني فيصله الله ته وسپاري ده.

او په سورت آل عمران كښې فرمائي: ﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ﴾ [آل عمران: ٣١].

ترجمه: ووایه دوي ته که چیري یې وي تاسو چې محبت کوئ له الله تعالی سره نو زما متابعت وکړئ، الله تعالی به ستاسو سره محبت وکړي، او ګناهونه به مو درمعاف کړي، او الله تعالی ښښونکي او ډیر مهربانه دی.

بل ځای په سورت النساء کښې الله تعالی فرمائي: ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ ﴾ [النساء: ٦٥].

ترجمه: خبره داسي نه ده، قسم دی په رب ستا چې دوي نشي مؤمنان کیدلی تر هغه چې فیصله وکړي په تا باندي په هغی معامله کښې چې راپیښه شي ددوي ترمینځ، بیا نه مومي دوي په خپلو زړونو کښې خفګان د هغي فیصلي څخه چې تا کړي وي، او مني ستا فیصله په همیشه منلو.

په دی برخه کښې آیاتونه زښت زیات دي او ډول صراحة په دی دلالت کوي چې د اختلافي مسائلو حکم د کتاب الله (قرآن کریم) او د رسول الله ﷺ د آحادیثو له مخي معلومول واجب دي، او بیا پر دغه حکم باندي رضاء او خوښي څرګندول هم واجب دي، او هم دغه د إیمان تقاضا ده، چې د بندګانو لپاره

په کښې هر وخت فائده او ګټه ده، او د آخرت لپاره د کامیابی او سعادت سبب دی.

حافظ ابن رجب په خپل کتاب (لطائف المعارف) کښې ددغی مسألي په هکله د خپل هغه کلام په تعقیب چې مخکې ذکر شوي دی وائي:

د شام والا ځنیو تابعینو لکه خالد بن معدان، مکحول، لقمان بن عامر، او ځنیو نورو به د شعبان د منځنۍ (پنځلسمي) شپې خاص تعظیم او درناوی کاؤ، او په دغی شپه کښې به یې په عبادت کښې ډیره زیاته کوښښ کولو، او بیا نورو خلکو ددغی شپې د فضیلت او تعظیم په هکله د هغوي پیروي وکړه.

او داسي ویل شوي دي چې دوي ته په دی برخه کښې اسرائیلي روایات رسیدلي ؤ.

أما کله چې په نورو ملکونو کښې ددوي دغه عمل شهرت وموندلو نو د خلکو تر منځ پکښې اختلاف پیدا شو، چا ددوي عمل د دلیل په توګه ومنلو او ددغی شپې په تعظیم کښې یې هغوي سره موافقت وکړو، لکه د بصري او نورو سیمو ځنیي عابدین شول.

ولي د حجاز زياتره علماؤ چې له دی جملی څخه عطاء او ابن أبي ملكية هم دي د هغي څخه إنكار وكړو، او د مديني منوري فقهاؤ قول چې هغه د ځنيو مالكي فقهي علماء او بعضو نورو علماؤ قول هم دي عبد الرحمن بن زيد بن أسلم يې داسي نقل كوي چې هغوي ويلي دي: «دا ټول بدعت دي أساس نه لري».

او د شام د علماؤ ترمنځ ددغی شپی د عبادت متعلق اختلاف دی، او دوه قوله نقل شوي دي:

١) يو قول دا دی چې په دغی شپه کښې په اجتماعي شکل عبادت کول په جماعت کښې مستحب عمل دی، لکه خالد بن معدان، لقمان بن عامر، او بعضي نورو به په دغی شپه کښې خائسته جامی واغوستلی، خوش بوي به يې استعمال کړه، سترګي به يې په رنجو توري کړی، او شپه به يې په جماعت کښې په قيام «عبادت کولو» تيره کړه.

إسحاق بن راهويه په دغه عمل کښې ددوي سره توافق درلوده، او په جماعتونو کښې د شعبان په پنځلسمه شپه «برات» په اجتماعي شکل عبادت کول بدعت نه بللو.

حرب الكرماني په خپلو مسائلو کښې دده قول رانقل کړی دی.

۲) یو تعداد نور علماء وائي چې: په دغه شپه کښې د ماخستن لمانځه څخه ورسته په خاص شکل جماعتونو ته د لمانځه د أداء کولو قیصو بیانولو او دعاء غوښتلو لپاره د خلکو راټولیدل مکروه دي، أما که په انفرادي ډول سره بغیر د کوم خاص ملحوظي څخه لکه د نورو شپو په شان نفلي لمونځ کوي کراهیت نه لري. دا د إمام اوزاعي قول دی: څوك چې د شام إمام، فقیه، او پوه عالم وؤ، إن شاء الله تعالی دا د ټولو څخه صحیح او حقیقت ته نږدي قول دی، ده د خپل کلام په آخر کښې داسي ویلي:

د برات یعني د شعبان د پنځلسمي شپې د فضیلت په برخه کښې د إمام أحمد کوم قول نشته دی، او د اخترونو د شپو په باب چې کوم دوه روایات دهغه څخه نقل دي د هغی نه هم په یو روایت کښې د أخترونو په شپو کښې په اجتماعي ډول سره عبادت کول مستحب نه دي شمیرل شوي؛ ځکه چې د رسول الله ﷺ او د هغه أصحابو څخه په دی هکله کوم څه نه دی نقل شوی، او په بل روایت کښې یې ورته مستحب ویلي دي، هغه هم له دی أمله چې عبد الرحمن بن یزید بن الأسود چې تابعي ؤ دغه فعل یې کړی ؤ.

همدارنګه د شعبان په پنځلسمه شپه کښې د خاص قسم عبادت په باره کښې د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو څخه کوم څه روایات ثابت نه دی صرف دومره قدري ثابته ده چې د تابعینو یوې ډلې کوم چې د شام د فقهاؤ د جملې څخه ؤو دا عمل یې کاؤ، د حافظ ابن رجب د کلام مقصدي ځای پای ته ورسیده.

دا دده لخوا په دی حقیقت ټینګار کول دي چې د رسول الله ﷺ څخه او همدارنګه د صحابه ﷺ نه د شعبان د منځنی شپې د فضیلت په باب کوم ثبوت نشته.

هغه رای چې إمام اوزاعي: اختیار کړي ده، چې په انفرادي شکل سره یې د أفرادو عبادت کولو ته په دغه شپه کښې مستحب ویلي دي، او بیا حافظ ابن رجب هم دغه قول غوره کړی دی، دا غریب او ضعیف قول دی، ځکه د کوم شی مشروعیت چې په صحیح دلائلو ثابت نه وي نو مسلمان لپاره ددغه رنګه عمل کولو جواز نشته، ان که هغه یواځي کوي، او که د نورو سره یې په اجتماعي شکل کوي، پټ یې کوي، او که ښکاره؛ ځکه د رسول الله ﷺ دا قول چې فرمائي: "من عمل عملاً لیس علیه أمرنا فهو رد" عام دی.

همدارنګه دلائل چې په رد د بدعاتو كښې راغلي دي، او خلك د بدعاتو كولو څخه منع كوي عمومیت لري.

إمام أبو بكر الطرطوشي: په خپل كتاب (الحوادث والبدع) كښې ويلي دي: ابن وضاح د زيد بن أسلم څخه روايت كوي چې ده وويل: (مونږ د خپلو فقهاؤ او مشائخو څخه هيڅ څوك داسي نه دی ليدلی چې د شعبان د پنځلسمي شپې ته يې خاص قسم اهتمام وركړی وي، او فضيلت يې ولرلره بيان كړی وي، او نه يې د مكحول حديث ته كوم التفات كاؤ، او نه يې دغه شپه په نورو شپو باندي غوره او بهتره شميرله.

ابن أبي مليكه ته چا وويل: زياد النميري وای چې د شعبان د پنځلسمي شپې د عبادت أجر او ثواب د ليلة القدر د أجر او ثواب سره برابر دی: "فقال لو سمعته وبيدي عصا لضربته" نو وويل: كه زما په لاس كښې أمساء وای او دا خبره مي ترينه اوريدلي وای نو خامخا به مي پری وهلی وای. "زياد" يو قيصه خوان شخص ؤ چې قيصی به يې بيانولي د أبو بكر الطرطوشي مقصدي وينا تر دی ځای پای ته ورسيده.

علامه شوكاني: په (الفوائد المجموعة) كښې داسي ويلي: چې حديث د "يا علي من صلى مائة ركعةٍ ليلة النصف من شعبان

يقرأ في كل ركعة بفاتحة الكتاب وقل هو الله أحد عشر مرات إلا قضى الله له كل حاجة. . . الخ".

ترجمه: "اي علي چا چې د شعبان په پنځلسمه شپه کښې سل رکعاتونه لمونځ وکړو او په هر رکعت کښې لس ځلي فاتحة (الحمد) او قل هو الله احد (سورت إخلاص) ولوستلو، ټول حاجتونه به يې الله تعالى پوره کړي"

دغه روايت بې له شکه موضوعي دي، او رجال يعني راويان يې ټول مجهول دي.

دا حديث په دويمه او دريمه طريقه هم روايت شوى دي خو ټول موضوعي دي، او راويان يې مجهول دي.

او په مختصر کښې ويلي دي: (حديث) صلاة نصف شعبان باطل، يعني دغه د شعبان د پنځلسمي شپې د فضيلت حديث باطل دى.

او په ابن حبان کښې د حضرت علي ﷺ حديث: **"إذا كان ليلة النصف من شعبان فقوموا ليلها وصوموا نهارها"**

يعني کله چې د شعبان د پنځلسمي شپه وي؛ نو په شپه کښې يې عبادت وکړئ او په ورځ کښې يې روژه ونيسئ،

ضعیف دی، او په (اللآلي) کښې ویلي دي: چې د شعبان په پنځلسمه شپه سل رکعاته لمونځ په سورة إخلاص سره کول سره د اوږدوالي نو دا دیلمي او ځنیو نورو په نزد باندي موضوعي دي، او په دری واړو طریقو کښې یې ټول راویان مجهول او ضعیف دي.

همدغه راز وائې ده دولس رکعاتونو والا روایت چې دیرش کرتی سورت إخلاص لوستل پکښې راغلي دي، او همدارنګه د څوارلس رکعاتونو والا روایت دواړه موضوعي دي.

د فقهاؤ یو جماعت لکه صاحب د إحیاء د ځنیو نورو په شمول، او همدارنګه بعضي مفسرین په دغه حدیث باندي دوهکه شوي دي، او د شعبان د پنځلسمي شپې د لمانځه متعلق په مختلفو طریقو سره روایتونه نقل کړي شوي دي، حال دا چې ټول باطل او موضوعي دي.

او دا د حضرت عائشي أم المؤمنین رضي الله عنها د هغه حدیث سره کوم چې ترمذي روایت کړی دي، او پکښې د رسول کریم ﷺ بقیع ته تلل او په نیمه شپه کښې ددنیا أسمان ته د رب العزت نزول چې دبني کلب د میږو وړیو څخه زیاتو خلکو ته بخښنه او مغفرت کول ذکر دي منافات او تضاد نه لري.

ځکه چې د خبرو او بحث موضوع د شعبان د پنځلسمي شپې ددغه خاص قسم لمونځ او عبادت په برخه کښې ده، سره له دی چې د عائشي أم المؤمنين رضي الله عنها په دغه حديث کښې ضعف او انقطاع هم ده، او حديث د علي رضي الله عنه چې دغه شپې د قيام (عبادت) په باب مخکښې ذکر شو او د تير شوي تحقيق له مخې پکښې ضعف هم دی، ددغه ډول لمانځه د بطلان سره منافات لري، تر دی ځای پوري مقصودي خبره پای ته ورسيده.

او حافظ عراقي ويلي دي: هغه حديث چې د شعبان د منځنی شپی او په دغه شپه کښې دلمانځه متعلق چې کوم روايت دي نو هغه موضوعي او په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي دروغ ويل دي.

او إمام نووي په کتاب (المجموع) کښې ويلي: **(الصلاة المعروفة بصلاة الرغائب وهي اثنتاعشرة ركعة بين المغرب والعشاء. . . الخ.**

يعني د رجب د مياشتي د لومړي جمعي د اولي شپې د مابنام او ماخستن تر منځ لمونځ چې دولس رکعتونه دي، او په صلاة الرغائب سره شهرت لري، او د شعبان د منځنی (پنځلسمي) شپی لمونځ چې تقريباً سل رکعتونه دي، دا دواړه لمونځونه بدعت او ناروا دي.

اګر چې په قوت القلوب او إحیاء علوم الدین کتابونو کښې یې یادونه شوي ده، خو پکار دا دی چې نه په دی څوک وغولیږي او نه په هغه حدیث څوک تیر وخوري چې په دغه دواړو کتابونو کښې ذکر شوي دي؛ ځکه چې دا ټول باطل او بې أساسه دي.

اوځینې إمامان چې ددغی مسئلي د حکم متعلق وربانديي اشتباه راغلي ده، او ددغه شپو ورځو په باب یې د استحباب حکم کړی دی، او رسالي یې پرې لیکلي دي، دا ددوي غلطي ده څوک دی وربانديي تیروځي نه.

إمام أبو عبد الرحمن بن إسماعیل المقدسي په دی برخه کښې یو ارزښت ناك کتاب لیکلی دی، او ددی دواړو د بطلان په هکله یې پکښې مطالب په ډیر اوچت انداز سره ځای په ځای کړي دي.

دغه راز د نورو علماؤ أقوال زښت زیات موجود دي، خو مونږ په دی خاطر چې خبره ډیره اوږده نه شي رانقل مو نه کړل.

او ښائي هغه څه چې مونږ یې مخکښې یادونه وکړه د حقیقت معلومولو لپاره کافي او قناعت بخش وي.

د ذکر شوو آیاتونو نبوي آحادیثو او د علماؤ او پوهانو د تحقیق او کلام څخه د حق پلټونکو ته دا په ډاګه شوه چې د شعبان دمیاشتی په منځنی شپه کښې د لمانځه او نورو أعمالو د إجراء کولو لپاره مجلسونه ترتیبول، او ورځې له یې د روژې نیولو لپاره تخصیص ورکول د زیاتره علماؤ په نزد باندې بدعت او ناروا دي، او په سپڅلي شریعت کښې د هغی کوم ثبوت او أصل نشته، بلکی دا هغه قسم عمل دی چې د صحابه ؤ ﷺ د زمانی څخه وروسته په إسلام کښې إضافه شوي دی، او په دی او نورو برخو کښې د حق طلبګار لپاره د الله تعالی دغه قول کافي دی چې فرمائي: ﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾ [المائدة: ٣].

ترجمه: نن ورځ ما تاسو ته ستاسي دین مکمل کړو، او تمام یعني پوره مي کړو خپل نعمت پر تاسو (أي مؤمنانو) - یعني ددین په إکمال سره- او غوره کړو ما تاسو ته إسلام ددین په لحاظ سره، یعني په ټولو أدیانو ګښې ډیر پاکیزه دین دي.

او په دغه معنى سره نور آياتونه هم ډير شته، او همدارنګه دا قول د نبي أكرمﷺ چې فرمائي: "**من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد**"

ترجمه: چا چې د ځان څخه يوه نوى طريقه جوړه كړه زمونږ په دين كې چې په دى دين كې نه وي موجود نو هغه نامنظور ده.

او دغه ډول نور آحاديث په دى مسأله كښې او نورو مسائلو كښې د حق پيروانو لپاره كفايت كوي.

په صحيح مسلم كښې د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "**لا تخصوا ليلة الجمعة بقيام من بين الأيام إلا أن يكون في صوم يصومه أحدكم**".

ترجمه: په شپو كښې د جمعى شپه د قيام لپاره مه خاص كوئ، او په ورځو كښې د جمعى ورځ د روژى نيولو لپاره مه تخصيصوى مګر دا چې يو كس مو د جمعى څخه مخكې ورځ روژه نيولې وي، نو بيا ورسره د جمعي د ورځى روژه نيول باك نه لري.

نو كه چيرې په شپو كښې كومه شپه د عبادت لپاره خاص كول جائز واى نو د ټولو څخه د جمعي د شپى تخصيص بهتره

او غوره ؤ؛ ځکه د رسول الله ﷺ د صحیحو آحادیثو څخه د جمعې د ورځې فضیلت ثابت دی، خو کله چې رسول الله ﷺ د جمعې د ورځې تخصیص منع کړی دي، نو د نورو ورځو تخصیص په طریق اولی سره ناجائز او ناروا دی.

بناءً د عبادت لپاره د هیڅ شي تعین او تاکل جواز نه لري، مګر دا چې کوم صحیح دلیل په تخصیص د وخت او زمانې باندې وجود ولري.

د لیلة القدر او رمضان په مبارکو شپو کښې چې قیام یعني عبادت کول مشروع أمر ؤ، نو رسول الله ﷺ د هغې خبر ورکړلو او خپل أمت ته یې په دغو شپو کښې د عبادت د فضیلت پر باب بیان وکړو، او په خپله ئې هم دغه فعل انجام کړو، د بخاري او مسلم حدیث دی چې رسول الله ﷺ پکښې فرمایلي دي: **"من قام رمضان إيماناً واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه ومن قام ليلة القدر إيمانا واحتسابا غفر له ما تقد من ذنبه".**

ترجمه: چا چې د رمضان په شپو کښې صرف د إیمانداري او ثواب په خاطر قیام (عبادت) وکړ، نو الله تعالی به ورته ټول مخکنې ګناهونه معاف کړي، او چا چې د لیلة القدر په شپه

کښې خالص د إیمانداري او ثواب په نیت عبادت وکړو الله تعالی به ورته د ټولو مخکنې ګناهونو بخښنه وکړي.

دا حدیث هم په دی خبره دلالت کوي.

نو که چیري د شعبان د میاشتې د پنځلسمې شپې یا د رجب د لومړی جمعې او له شپه او یا د إسراء او معراج د شپې تخصیص د خاصو مراسمو، محفلونو یا د کوم عبادت لپاره جائز او مشروع امر وي نو خامخا به رسول الله ﷺ خپل أمت ته په دغه برخه کښې هدایت ورکړی وای، او یا به یې په خپله کړی وای.

او که رسول الله ﷺ دا کار په خپله کړی وای نو صحابه کرامو ﷺ به خامخا أمت مسلمه ته د هغی نقل او بیان کاؤ، او پټ به یې نه پریښودلو؛ ځکه صحابه کرام د أنبیاء علیهم السلام څخه ورسته بهترین او خیر خواه د خلکو دی، الله تعالی دی د رسول الله ﷺ د أصحابو څخه راضي شي، او الله تعالی دی دوي راضي او خوشحاله کړي.

د علماؤ د کلام څخه چې مخکې تیر شو دا معلومه شوه چې رسول الله ﷺ او د هغه أصحابو ﷺ څخه د رجب د اولی جمعې د

لومړی شپی او د شعبان د منځنی شپې د فضیلت په باب کوم دلیل نشته، نو دا ثابته شوه چې ددغو شپو د درناوي په خاطر خاص قسم محافل او مجلسونه جوړول بدعت او ناروا عمل دي، په همدغه ترتیب د رجب اوه ویشتمه شپه چې ځنې خلك یې د اسراء او معراج شپه بولي، د عبادت لپاره خاص کول جواز نه لري، لکه څرنګه چې د تیر شوو دلائلو له مخې ددغه شپې د اهتمام په مناسبت محفلونه جوړول جواز نه لري بالفرض که معلومه شي چې دا شپه د إسراء او معراج شپه ده.

اوحال دا چې د علماؤ صحیح قول دا دی چې دغه شپه پته ده چاته معلومه نه ده، او چا چې ویلي دي چې د رجب اوه ویشتمه شپه د "معراج" شپه ده، دا یو بې بنسټه قول دی، او په صحیح آحادیثو کښې ددی کوم اساس نشته او ډیر ښه قول په دی هکله د هغه ویونکي دی چې وائي: غوره د کارونو څخه هغه دی چې په هدایت تللي وي، او بد کارونه هغه دي چې نوي د ځان څخه جوړ کړي شوي وي.

مونږ دالله تعالی څخه سوال کوو چې مونږ او ټول مسلمانانو ته په مسنونه طریقه باندي د ثبات او عمل کولو توفیق راکړي،

او د هغو طریقو څخه مو وساتي چې د رسول الله ﷺ د طریقو پر خلاف دي.

وصلى الله تعالى على عبده ورسوله نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

څلورمه رساله:

د مسجد نبوي خادم شيخ أحمد ته د دروغو منسوب وصيت په باره کښې مهم خبرادارى

د عبد العزيز بن باز څخه د مسلمانانو هر هغه چاته چې تري خبردار شي، الله تعالى دي په إسلام د هغوي حفاظت وکړي، او مونږ او دوي ته دى د سرکشو ناپوهو د دروغو د شر څخه پناه راکړي آمين.

سلام عليكم ورحمة الله وبركاته

أما بعد: ماته يو خبر راورسيدو چې د مسجد نبوي خادم شيخ أحمد ته منسوب دى چې سرليك (عنوان) يې دا دى: (د مديني منوري څخه د مسجد نبوي خادم شيخ أحمد له طرفه دا وصيت دي) چې دا يې ورپکي ويلي دي: (د جمعي شپه شوګيروم چې دقرآن كريم د تلاوت او د الله تعالى د أسماء حسناء د تلاوت څخه فارغ شوم؛ نو ځان مي اوده كيدو ته جوړ کړو؛ نو دخائسته څيري خاوند رسول الله ﷺ مي وليدو هغه څوك چې قرآني آياتونه او شريف أحكام يې راوړي، چې دټول عالم لپاره رحمت دى، (سيدنا محمد ﷺ) نو وفرمايل: اى شيخ أحمد! نو ما ورته وويل: أي د الله تعالى پيغمبره أي د

مخلوقاتو بهترينه تيار تابعدار يم ، نو ماته يې وفرمايل: زه د خلکو د قبيحو کارونو څخه ډير خجالت يم ، او په دی ونه توانيدم چې د الله تعالی او ملائکو سره مخ شم؛ ځکه د يوي جمعي څخه تر بلي جمعي پوری يو سل شپيته زره (۱۶۰۰۰۰) بي دينه خلك مړه شوي، او بيا يې د ځنيو هغو ګناهونو يادونه وکړه چې خلك ورپکي واقع شوي، او بيا يې وفرمايل: دا وصيت د غالبه او زورور ذات څخه په دوي رحمت دی، او بيا يې د قيامت د ځنيو علامو يادونه وکړه؛ تر دی چې وفرمايل: اي شيخ أحمد! دوي ددي وصيت څخه خبر کړه؛ ځکه دا د تقدير په قلم د لوح محفوظ څخه رانقل کړای شوي دي، او څوك چې يې وليکي او د يو ملك څخه يې بل ملك او د يو ځای څخه يې بل ځای ته وليږي نو په جنت کښې به ورلره يو قصر جوړ کړي شي، او څوك چې يې ونه ليکي او نه يې وليږي نو زما د شفاعت څخه به په ورځ د قيامت محروم کړی شي، او چا چې دا وصيت وليکلواو غريب وي؛ نو الله تعالی به يې مالداره کړي، اويا قرضداري وي؛ نوالله تعالی به يې د قرض څخه خلاص کړي، او يا ګناهګار وي؛ نو الله تعالی به ددی وصيت په برکت دته او دده مور پلار ته بښنه وکړي. او د الله

تعالى د بندګانو څخه چې څوك دا ونه ليكي نو مخ به يې په دنيا او أخرت تور شي.

او دري ځلي ويلي دي چې په الله تعالى مي دي قسم وي چې دا حقيقت دى، او كه چېرې زه دروغژن يم نوزه دي د دنيا څخه بې دينه ولاړ شم، او څوك چې ورباندي تصديق وكړي نو د عذاب څخه به بچ شي، او څوك چې دروغژن وشميري نو كافر شو).

دا د هغه وصيت لنډيز (نچوړ) دى، كوم چې په نبي ﷺ باندي په دروغو ورتپل شوى دى، او دا د دروغو وصيت د ډيرو كلونو راهيسي ډير كرتي اورو، چې د خلكو تر منځ په يو وقت او بل وقت كښې خپريږي، او د ډيرو عوامو تر منځ رواج شوي، او په ألفاظو كښې يو څه اختلاف وي.

او دروغژن وايي: چې بيشكه ده نبي ﷺ په خوب كښې ليدلي دى چې دا وصيت يې ورته كړى دى.

او په دى وروستني خپور شوي وصيت كښې چې لږ مخكې يې يادونه وشوه تاته معلومېږي - أي لوستونكيه - چې دروغژن يې دا ګمان كوي چې ده پيغمبر ﷺ ليدلى دى، كله چې

يې ځان اوده کيدو ته جوړ کړو؛ نو مقصد دا چې ده پيغمبر ﷺ په ويښه ليدلی دی.

دا دروغژن په دی وصيت کښې د ځان څخه د ډيرو شيانو يادونه کوي،چې داټول ښکاره دروغ اوباطل دي چې په دی بيان کښې لږ وروسته به دی تري خبر دار کړم إن شاء الله، او په تيرو کلونو کښې مي هم ددی خبرداري ورکړی ؤو، چې دا ښکاره دروغ او باطل دي، او هرکله چې ددی اخري خپور شوي وصيت څخه خبر شوم نو په دی باندي په ليکنه کښې متردد شوم، له دی کبله چې باطلوالی او د دروغو جوړونکي جرأت يې په دروغو جوړولو ښکاره دی، او زما په ګمان کښې دانه راتلله چې دا باطل وصيت به په صحيح عقل والو او هر هغه چا کښې رواج او خپور شي چې لږه شان پوهه ولري، او د سالم فطرت خاوند وي، خو ليکن ډيرو ورونو راته وويل: چې په ډيرو خلکو کښې دا وصيت خپور شوي دي، او خپل منځ کښې يې ورکړه راکړه کوي، او ځني پري تصديق کوي؛ نو له دی کبله مي دامناسبه وګڼله چې زما په شان خلکو باندي لازم ده چې ددی د باطلوالي بيان په خپله ليکنه وکړي، اودا چې دا په نبي ﷺ دروغ دي؛ تر څو پري کوم يوکس دوکه نشي، هر هغه

څوك چې د علم او إيمان او يا سالم فطرت او د صحيح عقل خاوند وي؛ نو ددی دروغوالي به په ډيرو طريقو سره وپيژني.

او په تحقيق سره ما د شيخ أحمد د ځني خپلوانو څخه ددی وصيت پوښتنه وکړه ـ کوم ته چې ددی دروغو نسبت دي ـ؛ نو هغوي راته داسي وويل: چې دا وصيت په شيخ احمد په دروغو جوړ کړي شوي دی، ا وده دا وصيت بلکل نه دی کړي ، او دغه شيخ له دی څخه ډيره موده مخکې مړ شوي دی، او که ددی اټکل وکړو چې دغه ياد شوی شيخ أحمد او يا بل کوم يو چې دده څخه مشر وي ا ودا ګمان وکړي چې ده نبي ﷺ په خوب کښې او يا په ويښه ليدلي دی، او ددی وصيت سپارښتنه يې ورته کړی ده؛ نو مونږ ته دا يقيني رامعلوميږي، چې دا دروغژن دی، او يا چې ورته کوم کس دغه ويل کړي دي شيطان دی، پيغمبر عليه السلام نه دی، او دا له ډير وجوهاتو په سبب چې د هغو دجملي څخه دغه راتلونکي دي:

١- دا چې رسول الله ﷺ د هغه د مرګ څخه وروسته په ويښه نشي ليدل کيدای، او د ناپوهه صوفيانو څخه چې څوك دا ګمان کوي چې نبي ﷺ په ويښه ليدلي شي، او يا دا چې مولد شريف، او يا داسي نور ته حاضريږي، نو ډيره قبيحه غلطي

كوي، اوپه ده باندي انتهائي ګډوډي راغلي، او په خطرناكه خطائي كښې واقع شو، او دقرآن كريم او حديثو او دعلماء د إجماع خلاف يې وكړو؛ ځكه بيشكه چې مړي د قبرونو څخه په ورځ د قيامت راووځي نه په دنيا كښې، او څوك چې ددى خلاف وينا كوي نو دا دروغژن دى، او يا په غلطه دى، چې ګډوډي پري راغلي، او هغه حق يې نه دى پيژندلى كوم چې سلفو صالحينو پيژندلي وو، او دپيغمبر أصحاب كرامو ﷺ او د هغوي تابعداران پري روان وو، الله تعالى فرمائي: ﴿ ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ ﴾ [المؤمنون: ١٥ – ١٦].

ترجمه: بيا بيشكه تاسو ددغه څخه وروسته خامخا مړه كيدونكي يوئ، اوبيا بيشكه تاسو په ورځ د قيامت راپاڅولى شئ.

او نبي ﷺ فرمائي: **"أنا أول من تنشق عنه الأرض يوم القيامة، وأنا أول شافع وأول مشفع"**.

ترجمه: په ورځ د قيامت به د ټولو څخه اول زما څخه ځمكه شلولي شي (لري كيږي) او زه به اول شفاعت كونكي يم، او زما شفاعت به د ټولو څخه مخكي قبليږي.

او آياتونه او حديثونه په دی بابله ډير زيات دي.

۲- دوهمه وجه: بيشکه چې رسول الله ﷺ نه په ژوندانه او نه په مړينه د حق خلاف وينا کوي ، او دا وصيت د هغه د شريعت ښکاره مخالف دي، د ډيرو وجوهو څخه – لکه څرنګه چې لږ وروسته ذکر کيږي – او نبي ﷺ کله ناکله په خوب کې ليدل کيږي، او چا چې په خوب کښې په خپل شکل کښې وليدو نو په تحقيق سره ده ليدلی؛ ځکه شيطان د هغه په شکل ځان نشي جوړولی، لکه څرنګه چې په دی هکله صحيح حديث راغلي، خو ليکن د ټولو څخه اهمه خبره د خوب ليدونکي إيمانداري او د هغه رښتيا ويل او عدالت او ياداشت او ديندارې او أمانتداري ده، او آيا نبي ﷺ يې په خپل شکل کښې ليدلي، او که په کوم بل شکل کښې يې ليدلی دی؟

او که د نبي ﷺ څخه يو حديث راشي چې په خپل ژوندانه کښې يې ويلي وي، او د اعتمادي عادلانو او ياداشت لرونکو له روايت څخه نه وي؛ نو په هغه اعتماد نشي کيدلای، او نه پرې دليل نيولي شي، او يا د اعتمادي ياداشت لرونکو له روايت څخه وي، خو دغه روايت د هغه چا د روايت څخه مخالف وي چې هغوي ډير ياداشت لرونکي او يا ډير اعتمادي وي، داسي

مخالفت لري چې ددواړو روایتونو توافق ورپکي ممکن نه وي؛ نو په دی حالت کښې به یو منسوخ وي چې عمل پري نشي کیدلای، او دوهم به ناسخ وي چې عمل پري کیدلای شي، کله که دغه ممکن وي په خپلو شرطونو سره، او کله که یې توافق او منسوخ والی نه وي ممکن نو واجب ده چې د هغه چا روایت پریښودل شي چې د هغه یاداشت او عدالت کم وي، ا ود شاذ او نادر حکم پري کولای شي، چې عمل پري نشي کیدلای.

نو پاتي خو لا هغه وصیت چې خپرونکي یې هغه څوك چې د نبي ﷺ څخه یې رانقل کوي معلوم نه وي، او نه یې عدالت او أمانتداري معلومه وي، نو دا وصیت په دی حالت کښې ډیر لائق دي چې پریښودلی شي، او څه أهمیت ورته ورنکړي شي، اګر که د شریعت ورپکښې څه شي مخالف نه وي، پاتي خو لا دا چې کله په یو وصیت کښې هغه څه موجود وي چې هغه په دی دلالت کوي چې دا وصیت په حقیقت کښې باطل اوپه پیغمبر ﷺ باندي په دروغو ورتپل شوي، او په هر هغه څه مشتمل دي چې د الله په دین کښې د ځان څخه جوړ کړي شوي.

اوپه تحقیق سره نبي ﷺ فرمایلي:"**من قال علي ما لم أقل فليتبوأ مقعده من النار**".

ترجمه: چا چې په ما هغه څه راوتپل چې ما نه وي ويلي نو تيار دي کړي د ځان لپاره ځای د کيناستلو د اور څخه (جهنم کښې).

اوپه تحقيق سره دي دځان څخه په دروغو وصيت جوړونکي په نبي ﷺ هغه څه ورتپلي چې هغه نه دي ويلي، او ښکاره خطرناك دروغ يې پري ويلي دي؛ نوکه چيري ددی وصيت جوړونکي الله تعالى ته توبه ونه باسي او خلکو ته ددی وصيت د دروغوالي په باره کښې بيان ونه کړي؛ نو دا ددی مخکي ذکر شوي سزا ډير لائق او مستحق دی؛ ځکه څوك چې يو باطل شي د خلکو تر منځ خپور کړي، او دين ته يې منسوب کړي، نو ددغه کار څخه يې توبه نه قبليږي، مګر د توبې په اعلان او ښکاره کولو سره؛ ترڅو خلك دده د دروغو څخه دده ګرځيدل او دده خپل ځان دروغژن کول وپيژني؛ ځکه چې الله فرمائي:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلْنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلْهُدَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِى ٱلْكِتَٰبِ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ وَأَصْلَحُوا۟ وَبَيَّنُوا۟ فَأُو۟لَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴾[البقرة: ١٥٩ – ١٦٠].

ترجمه: بیشکه هغه کسان چې پټوي هغه څه چې نازل کړي دي مونږ، چې ښکاره حکمونه دي، او د هدایت خبري دي، وروسته د هغه څه څخه چې مونږ د خلکو لپاره په کتاب کښې بیان کړي دي، الله تعالی په دغو کسانو لعنت کوي، او په دوي لعنت کوي لعنت کونکي، مګر هغه کسان چې توبه وباسي، او نیك عمل وکړي، او بیان وکړي (د هغه څه چې پټ کړي وي) نو ددغو کسانو توبه قبلووم، او زه ډیر توبه قبلوونکي او مهربانه یم.

نو الله تعالی په دی آیت کښې واضح کړی چې څوك د حق څخه څه شي پټ کړي ددغه څخه یې توبه نه صحیح کیږي مګر وروسته د إصلاح ددغه عمل او توبي إعلانولو څخه، او په تحقیق سره الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره دین کامل کړی دی، او پر دوي یې د رسول الله ﷺ په رالیږلو، او هغه ته د پوره شریعت په وحي کولو سره پر دوي نعمت پوره کړي دی، او روح یې ترینه نه دی اخستلی مګر وروسته د دین د وضاحت او پوره والي څخه، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي﴾ [المائدة: ٣].

ترجمه: نن ورځې ما پوره کړې ستاسو لپاره ستاسو دین، او پوره کړی می دی پر تاسو باندی خپل نعمت.

او د ځان څخه ددی وصیت جوړونکي چې په څوارلسمه پیړۍ کښې راغلی دی غواړي په خلکو یو نوي دین رواج کړي چې په نتیجه کښې جنت ته د هغه چا داخلیدل دي چې دده په شریعت یې عمل وکړو، او د جنت څخه محروم کیدل او جهنم ته داخلیدل دي دهغه چا چې دده په شریعت عمل ونه کړي، او غواړي چې دا وصیت چې د ځان څخه جوړ کړي شوي دي د قرآن کریم څخه لوي او بهتر وګرځوي؛ ځکه په دغه حدیث کښې د ځان څخه دا جوړ کړي: چې چا دا وصیت ولیکلواو د یو وطن څخه یې بل وطن او یا د یو ځای څخه یې بل ځای ته ولیږه نو دده لپاره به په جنت کښې یو قصر جوړ کړي شي، او څوك چې ونه لیکي او نه یې ولیږي نو په ورځ دقیامت په هغه د نبي ﷺ شفاعت حرام کړی شو.

ا ودا د ډیرو بد ترینو دروغو څخه دی، او ددی وصیت په دروغوالي د ښکاره دلیلونو څخه دي ، او د دروغژن د حیاء په کموالي او دده په ډیر لوي جرأت کولو په دروغو ویلو باندي؛ ځکه چا چې قرآن کریم ولیکه، او د یو وطن څخه یې بل طن او

یا د یو ځای څخه یې بل ځای ته ولیږلو نو هغه ته دا فضیلت نه حاصلیږي، کله که په قرآن کریم عمل ونه کړي؛ نو څرنګه به ددی دروغو لیکونکي او د یو وطن څخه بل وطن ته د نقلونکي لپاره حاصل شي، او څوك چې قرآن کریم ونه لیکي، او د یو وطن څخه یې بل وطن ته ونه لیږي د نبي ﷺ د شفاعت څخه په دی نه محرومیږي، کله که په هغه إیمان لري، او د هغه د شریعت تابعداري کوي، او په دی وصیت کښې دا یوه دروغژنه خبره یواځي کافي ده، ددی لپاره چې دلالت کوي ددی په باطلوالي، او د خپرونکي په دروغژن والي او سپك والي او په بي عقلي، او په لري والي دده د هغه څه د پیژندلو څخه چې نبي ﷺ پري راتګ کړي د هدایت څخه.

او په دی وصیت کښې نور داسي شیان دي (بغیر د هغه څخه چې یادونه یې وشوه) چې ټول ددی په باطلوالي او دروغژن والي دلالت کوي، اګر که دروغژن ددی وصیت په صحیح والي زر او یا ددی څخه ډیر قسمونه وکړي، او یا دا ووائي چې زه په دی وصیت کښې ریښتني یم، او که نه ماته دی الله تعالی سخت عذاب او سزا راکړي، نو بیا هم په دی خبره دا ریښتیني نه ګرځي، او نه ددی دا وصیت په دی کره او

صحیح کیږي، بلکي قسم په الله دی، او بیا قسم په الله دی، چې دا وصیت ډیر قبیح او باطل دي، اومونږه الله تعالی په دی ګواه کوو ،اود ملائکو څخه هغه ملائکي چې دلته حاضر وي، او د مسلمانانو څخه هر هغه څوك چې ددی لیکنې څخه ځان خبر کړي - داسي ګواهي چې د الله عز وجل سره پري مخ کیږو - چې دا وصیت دروغ او د ځان څخه په نبي ﷺ باندي جوړ کړل شوي او ورتپل شوي، او الله تعالی دی هغه څوك رسوا کړي چې چا دا د دروغو وصیت جوړ کړی، او هغه معامله دی ورسره وکړي چې مستحق یې وي.

او ددی وصیت په دروغژن والي او باطل والي د هغه وجوهاتو څخه چې مخکي یې یادونه وشوه نور ډیر شیان یې په بطلان دلالت کوي:

اول: دا وینا یې په دی وصیت کښې (ځکه چې د یوي جمعې (هفتې) څخه تر بلې جمعې (هفتې) پورې یو سل شپیته زره بې دینه مړه شوي) او دا ځکه چې دا د علم غیب خبره ده، او د پیغمبر علیه السلام څخه د مرګ څخه وروسته وحي قطع (بنده) شوي ده.

او پيغمبر عليه السلام په ژوند کښې په غيبو نه پوهيدلو نو دمرګ ځخه وروسته به څرنګه په غيبو پوهيږي، د الله تعالى ددى قول له وجي چې فرمائي: ﴿ قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ ﴾ [الأنعام: ٥٠].

ترجمه: او ووايه! زه نه وايم تاسو ته چې زما په اختيار کښې د الله تعالى خزانې دي، او په غيبو باندى نه پوهيږم.

او ددى قول له وجهى: ﴿ قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾[النمل: ٦٥].

ترجمه: ورته ووايه! نه پوهيږي په غيبو هغه څوك چې په أسمانونو او ځمكي كښې دي مګر يو الله تعالى.

او د نبي ﷺ څخه په صحيح حديث كښې راغلي دي چې فرمايلي: "يذاد رجال عن حوضي يوم القيامة فأقول يا رب أصحابي أصحابي فيقال لي: إنك لا تدري ما أحدثوا بعدك، فأقول كما قال العبد الصالح: ﴿ وَكُنتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا مَّا دُمۡتُ فِيهِمۡۖ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِي كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيۡهِمۡۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ﴾ [المائدة: ١١٧].

ترجمه: په ورځ د قیامت به ځني سړي زما د حوض څخه منع کولي شي، نو زه به وایم یا الله زما أصحاب (ملګري) دي زما أصحاب (ملګري) دي، نو ماته به وویلي شي: بیشکه چې ته په هغه څه نه پوهیږي چې دوي ستا څخه وروسته د ځان نه جوړ کړي وو، نو زه به اووایم لکه څرنګه چې نیك عمله بنده ویلي وو: زه په دوي باندي خبردار وم ترڅو چې زه په دوي کښې موجود ووم؛ نو هر کله چې زه تا واخستلم (وفات دی کړم) نو ته په هر حال کښې ددوی ساتونکي وي ، او ته په هر څیز حاضر او ناظر یې.

<u>دوهم:</u> او دهغو شیانو څخه چې ددی وصیت په باطل والي دلالت کوي، اودا چې دا دروغ دي، دده دا وینا چې ورپکي ویلي دي: (چا چې دا وصیت ولیکلواو غریب وو نو الله تعالی به یې مالداره کړي، او یا قرضدار وي نو الله تعالی به یې د قرضونو څخه خلاص کړي، او یا ګناهکار وي نو الله تعالی به دده مور او پلار او دته معافي ددی وصیت په برکت باندي وکړي) تر اخره پوری، او دا غټ دروغ دي، او ښکاره دلیلونه دي په دروغوالي ددی دروغژن، او د الله تعالی او بندګانو په وړاندی دده په بي حیائي ؛ ځکه دا دری واړه شیان د قرآن کریم

په لیکلو نه حاصلیږي نو هغه چاته به څرنګه حاصل شي چې دا باطل وصیت ولیکي.

او بیشکه دا خبیث په خلکو خلط او ګډوډي راوستل غواړي، او په دی وصیت یې عقیدي جوړول غواړي؛ ترڅو یې ولیکي، او په دی دروغژن فضیلت یې عقیده جوړه شي، او هغه أسباب پریږدي چې الله خپلو بندګانو ته روا کړي دي، اومالداري ته د رسیدو اود قرض څخه د خلاصیدو او د ګناهونو د معافي لپاره یې ګرځولي دي؛ نو د الله تعالی څخه د شرمندګي د اسبابو څخه پناه غواړو ، او هم د خواهشاتو او شیطان د تابعداری څخه.

دریم: او د هغو شیانو څخه چې ددی وصیت په باطلوالي دلالت کوي، په دی وصیت کښې دده دا وینا ده چې وائي: (او د الله تعالی د بندګانو څخه چې څوك دا ونه لیکي نو مخ به یې په دنیا او آخرت کښې تور شي).

او دا هم ډیر قبیح دروغ دي، او د ښکاره دلیلونو څخه دي په باطل والي ددی وصیت، او په دی باندي چې جوړونکي ددی وصیت دروغژن دي، ځکه څرنګه جائز دي د عقلمند په عقل کښې چې دا وصیت ولیکي چې په څوارلسمه پیړۍ کښې

یو نا معلوم سړي راوړي، او په پیغمبر ﷺ یې ورتپلي، او دا ګمان کوي که چا ونه لیکلو نو مخ به یې په دنیا او آخرت کښې تور شي، او چا چې ولیکلو نو د غریبی څخه به وروسته مالداره شي، او وروسته د قرضونو د ډیروالي څخه به د قرض څخه خلاص شي، او کوم ګناهونه چې یې کړي وي هغه به ورته معاف شي!!! سبحان الله دا ډیر غټ تهمت دی.

او بیشکه ددی دروغژن په دروغژنوالي دلیلونه او حقیقت حال ګواهي کوي، او دده د ډیر غټ جرأت په الله تعالی باندي، او ددی په بي حیائي د الله تعالی او د خلکو په وړاندی؛ نو ډیرو امتونو (قومونو) دا وصیت نه دي لیکلي او مخونه یې نه دي تور شوي، او دلته یوي لویې ډلي چې شمیره یې یو الله تعالی ته معلومه ده، ډیر ځلی دا وصیت لیکلي او قرضونه یې نه دي خلاص شوي، او غریبي پري اوسه پوري موجود ده؛ نو د الله تعالی څخه د زړونو د ککړیچ او د ګناهونو د زنګونو څخه پناه غواړو.

او دا صفتونه او بدلې (کوم چې د وصیت لیکونکي ذکر کړی دي) په مبارك شریعت کښې د هغه چا لپاره نه دی راغلی چې بهتره او لوي کتاب چې قرآن کریم دی ولیکي، نو څرنګه

به هغه چا ته حاصل شي چې ددروغو وصيت وليکي، چې په قسما قسم باطلو شيانو او کفري جملو باندي مشتمل دی، سبحانه الله څه ډير صبرناك ذات دی په هغه چا صبر کوي چې د دروغو جرأت وربانديي کوي.

څلورم: دهغو شيانو څخه چې په دی دلالت کوي چې دا وصيت د باطلو څخه باطل او ښکاره دروغ څخه دي د ده دا وينا چې پکې يې ليکلي دي: (او څوك چې پري تصديق وکړي نو د اور د عذاب څخه به بچ شي، او چا چې دروغ وګڼلو نو کفر يې وکړو).

دا هم په دروغو ويلو يو ډير غټ جرأت دی، او له ډير قبيحو باطلو څخه دی، چې دا دروغژن ټول خلك دده د دروغو تصديق ته رابلي، او دا ګمان کوي چې دوي په دی سره د اور د عذاب څخه بچ کيدلای شي، او چا چې دروغ وګڼلو نو کافر کيږي، او قسم په الله دی چې ډير غټ دروغ يې په الله تعالی ورتپلي دي، او قسم په الله دی د حق خلاف خبره يې کړی ده.

بيشکه هغه څوك چې تصديق يې وکړو همدغه ددی مستحق دی چې کافر شي نه هغه څوك چې دا وصيت يې دروغ وګڼلو؛ ځکه دا وصيت د ځانه جوړ کړی شوي دروغ او باطل

دي چې هیڅ قسم أساس او بنسټ نه لري، او مونږ الله تعالی ګواه کوو په دی چې دا دروغ دي.

او جوړونکي يې دروغژن دی، غواړي چې د خلکو لپاره هغه څه شریعت وګرځوي چې الله تعالی پرې إجازت نه وي کړی، او ددوي په دین کښې هغه څه وړاخل کړي چې هغه ددین څخه نه وي.

اوالله تعالی دا دین د أمت لپاره د دی دروغو څخه څوارلس پیړۍ مخکې مکمل او پوره کړی دی؛ نو ای لوستونکو ورونو خبر دار شئ! او په دغه رنګه دروغو باندې د تصدیق او باور کولو څخه ځان وساتئ، او ځان وساتئ چې دغه شان دروغ ستاسو تر منځ رواج او عادي ونه ګرځي؛ نو بیشکه حق زلیدونکي او ښکاره دی، چې په لټونکي يې نه کډوډ کیږي، نو د حق طلب په دلیل وکړئ، او کوم څه چې درته مشکل شي نو دعلماؤ کرامو څخه يې پوښتنه وکړئ، او د دروغژنو په قسمونو مه دوکه کیږي، په تحقیق سره ستاسي مور او پلار (آدم او حواء) ته إبلیس لعین قسم کړی وو چې دا ددوی دواړو لپاره خیرخواه دی، او دا دغټو خیانت ګرو او د دروغژنو څخه وو؛ لکه څرنګه چې الله تعالی په سورت أعراف کښې دده وینا

بیان کړی چې فرمائي: ﴿ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ ﴾ [الأعراف: ٢١].

ترجمه: او دی دواړو ته یې قسم وکړو چې زه ستاسو لپاره د خیر خواهانو څخه یم.

نو د إبلیس او دده د دروغژنو تابعدارانو څخه کرکه وکړئ؛ ځکه دده او ددي د تابعدارانو ډیر دروغژن قسمونه دي، او د دوکي وعدي دي، او په دروغو خائسته کړل شوي ویناګانې د ګمراه کولو او بې لاري کولو لپاره دي.

مونږ او تاسو او ټول مسلمانان دی الله تعالی د شیطانانو د شر څخه په امان کړي، او د ګمراهانو د فتنو څخه، او د الله تعالی دباطل پرستو دشمنانو د ګډوډی څخه دي مونږ په أمان کړي - هغه کسان چې غواړي د الله تعالی رښا په خپلو خولو مړه کړي، او په خلکو دین ګډوډ کړي، او الله تعالی د خپلی رښا پوره کونکي دی، او د خپل دین کومك کونکي دی، اګر که د الله تعالی دشمنان یې بد ګڼي، چې د شیطانانواو دهغو دتابعدارانو کافرو اومحلدینو څخه دي.

او هر چې دی دروغژن د ځني ګناهونو او بدو کارونو د راخرګندیدو یادونه کړي نو دا یو حقیقت دی، چې قرآن کریم او مبارکو حدیثونو ددی څخه نهایتي کرکه بیان کړي ده، او په دی دواړو کښې هدایت او کفایت دی، او د الله تعالی څخه غواړو چې د مسلمانانو حالات إصلاح کړي، او پر دوي د حق د تابعداری او د ټینګوالي پیرزو وکړي، اودوي ته د توبې ویستلو توفیق ورکړي، بیشکه چې دا الله تعالی توبه قبلونکي او مهربانه دی، او په هر شي قدرت والا دی.

او هر چې دی دروغژن د قیامت د علامو یادونه کړی ده؛ نو په تحقیق سره نبوي حدیثونو د هغه څه وضاحت کړی دی چې د قیامت د علامو څخه وي، او قرآن کریم ددغو ځنیو ته اشاره کړی ده، که څوك یې غواړي چې دغه وپیژني نو د حدیثو په کتابونو کښې او د علماؤ کرامو او إیماندارو بندګانو په کتابونو کښې یې موندلي شي، اوداسي دروغژن بیان او د حق او باطل ګډوډوالي ته خلك حاجت نه لري.

وحسبنا الله ونعم الوكيل ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم، والحمد لله رب العالمين وصلى الله وسلم على عبده ورسوله الصادق الأمين وعلى آله وأصحابه وأتباعه بإحسان إلى يوم الدين.

د کوډو اوجادو او دی دواړو متعلقه شیانو حکم

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده:

په دی وروستیو وختونو کښې هغه کوډګر زیات شوي دي چې د طبابت په نوم د خلکو علاج په کوډو او جاد واو منترو کوي، او دوي په ځنیو سیمو کښې خپل نفوذ پیدا کړي دي، او ځنیي ناپوهه ساده ګان په دی طریقه استغلالوي؛ نو په دی وجه مي دا په نظر کښې ونیوله چې د الله تعالی او د هغه د بندګانو د خیرخواهي په خاطر ددی دا لوي خطر چې إسلام او مسلمانانو ته متوجي دي بیان کړم؛ ځکه په دی کي د الله تعالی څخه بغیر په نورو شیانو پوري تعلق جوړول دي، او د الله تعالی او د هغه د پیغمبر ﷺ د حکم خلاف ورزي ده.

نو د الله تعالی څخه په إمداد غوښتو سره زه دا وایم: په اتفاق سره علاج معالجه جائز ده، او د مسلمان لپاره جائز دي چې د جیګر او خیتی او جراحي او أعصابو ډاکټر ته لاړ شي، او یا داسي نورو ته چې د مرض تشخیص او علاج یې په هغو مناسبو دوایانو وکړي چې په شریعت کښې جائز وي، د ډاکټري علم د پوهي مطابق؛ ځکه دا د عادي أسبابو له استعمال څخه دي، او په الله تعالی باندي د توکل منافي نه

دي، او الله تعالى لکه څرنګه چې مرضونه رالیږلي دغه راز يې ورسره دواياني مقرر کړي دي، دا خبره پيژني هغه څوك چې پيژني او نه يې پيژني هغه خلك چې نه يې پيژني، خو ليکن الله تعالى د خپلو بندګانو شفاء (روغتيا) په هغه څه کښې نه ده ګرځولى چې پر دوي يې حرام کړي دي.

نو مريض لپاره هغو پالګرو ته تلل جائز نه دي چې د غيبو د پيژندلو دعوى کوي چې ددغو څخه خپل مرض معلوموي، لکه څرنګه چې مسلمان ته جائز نه دي چې ددوي په هغه څه کې تصديق وکړي چې دوي يې خبر ورکوي؛ ځکه دوي د ځان څخه د غيبو اټکلي خبري کوي، او يا پيريان راحاضروي چې په هغه څه کې پرې إمداد حاصل کړي چې دوي يې غواړي، او ددى کسانو حکم کفر او ګمراهي ده، کله که د علم غيب دعوى کوي.

او په تحقيق سره إمام مسلم روايت کړى چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "من أتى عرافاً فسأله عن شيء لم تقبل له صلاة أربعين يوماً".

ترجمه: څوك چې نجومي ته ورغلو او د څه شي پوښتنه يې ترينه وکړه نو څلويښت ورځى به يې لمونځ قبول نشي.

او د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "من أتى كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد ﷺ".

ترجمه: څوك چې پالګر ته ورغلو او د هغه تصديق يې په هغه څه کښې وکړو چې هغه يې وائي؛ نو ده په هغه څه کفر وکړو چې په محمد ﷺ نازل شوي دي.

أبو داود او أهل سنن رانقل کړي، او إمام حاكم د نبي ﷺ څخه په دی لفظ روايت کړي: "من أتى عرافاً أو كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد ﷺ".

ترجمه: څوك چې نجومي او پالګر ته ورغلو، او د هغه تصديق يې په هغه څه کښې وکړو چې وائي؛ نو ده په هغه څه کفر وکړو چې په محمد ﷺ نازل شوي دي.

او د عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دي دا وائي چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "ليس منا من تطير أو تطير له، أو تكهن او تكهن له، أو سحر أو سحر له، ومن أتى كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد ﷺ" رواه البزار بإسناد جيد.

ترجمه: زمونږ د ډلي څخه هغه څوك نه دی چې بد پالي ونيسي، او يا د ده لپاره بد پالي ونيول شي، او يا پالګري

وکړي، او یا ده لره پالګري وکړي شي، او یا جادو وکړي، او یا د دی لپاره جادو وکړی شي، او څوك چې پالګر ته ورشي، او د هغه تصدیق په هغه څه کې وکړي چې وائې؛ نو ده په هغه څه کفر وکړو چې په محمد ﷺ نازل شوي دي.

دا حدیث إمام بزار په جید سند سره روایت کړی دی.

نو په دی حدیثونو کښې نجومیانو او پالګرو او کوډګرو (ترویتیانو) او ددوي په شان نورو ته د تللو نه منع شوي، او ددوي څخه د پوښتنې او د دوي د تصدیق کولو څخه هم منع شوي، او په دغه باندي د همکي ورکړي شوي؛ نو په چارواکو او محتسبانو او د دوي په شان په نورو چې قدرت ورسره وي واجب دي چې نجومیانو او پالګرو او داسي نورو ته تلل منع کړي.

اوهمدا راز د هغه چا منع کول چې په بازارانو یا نورو ځایونو کښې ددی شیانو ورکړه راکړه کوي، او د دوي او د هغه چا منعه کول په سختي پکار دي چې دوي ته ورځي، او ددوي په ځني کارونو کښې په ربښتیا ویلو دوکه کیدل جائز نه دي، او نه دوي ته د ډیرو خلکو په راتللو؛ ځکه دوي جاهلان او ناپوهه دي، ددوي په نقش قدم تګ نه دی جائز؛ ځکه رسول

الله ﷻ دوي ته د ورتللو او ددوي څخه د پوښتنې اود دوي د تصدیق کولو څخه منعه فرمایلي ده.

ځکه په دی کښې ډیره غټه ګناه او ډیر لوي خطر دی، او نتائج یې خطرناك دي؛ او ځکه چې دوي فاجران او دروغژن دي؛ لکه څرنګه چې په دي حدیثونو کښې د پالګر او جادوګر په کافروالي دلیل دی؛ ځکه دا دواړه د علم غیب دعوی کوي، او دا کار کفر دی.

او ځکه چې دا داوړه خپل مقصد ته رسیدل نه کوي مګر د پیریانو په خدمت، او د الله تعالی څخه بغیر د هغوي لپاره په عبادت کولو سره، او دا الله تعالی سره شرك او کفر دی، او د علم غیب په دعوی کښې ددوي تصدیق کونکي ددوي په شان دي، او هر هغه څوك چې دا شیان زده کوي او اخلي یې د هر هغه چا څخه چې کاروبار یې کوي نو په تحقیق سره د دغه څخه پیغمبر علیه السلام بیزاره دي.

او مسلمان ته دا جائز نه دي چې د هغه څه تابع شي چې د علاج ګمان یې دوي کوي، او ددی پشان نور هغه د دروغو او دوکو کارونه چې دوي یې کوي؛ ځکه دا د نجومیت خبري دي، او په خلکو ګډوډي راوستل دي، او څوك چې د دوي په دغه

عمل خپل خوښي ښکاره کوي نو هغوي سره يې په باطل او کفر کولو کښې إمداد وکړو، لکه څرنګه چې يو مسلمان ته دا جائز نه دي چې دوي ته ولاړ شي، او پوښتني ورڅخه کوي چې ددی ځوي يا ددی بل خپلوان به د چا سره واده کوي، او يا د هغه څه پوښتني کوي چې د خاوند او ښځي او د هغوي د کورنيو تر منځ به کوم قسم محبت او وفاداري وي، او يا دشمني او جودائي وي، او يا داسي نور؛ ځکه دا د هغو غيبو څخه دي چې د الله تعالى څخه بغير يې هيڅ څوك علم نه لري.

او جادو د کفري محرماتو څخه دي؛ لکه څرنګه چې الله تعالى په سورت البقرة کښې ددوه ملائکو په باره کښې فرمائي: ﴿ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْآخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴾[البقرة: ١٠٢].

ترجمه: او دوي دواړو هيڅ چاته خودنه نه کوله تر دی چې دوي به وويل: (په طريقه د نصيحت) بيشکه مونږ ستاسو

لپاره إمتحان یو؛ نو کفر مه کوي (په جادو سره) نو پس زده کاوو به دوي ددی دواړو څخه هغه څه چې جدائي به یې راوستله دوي په هغي سره د ښځي او خاوند تر منځ، او نه وو دوي نقصان ورکونکي په هغي سره هیڅ چاته مګر په حکم د الله تعالی سره، او زده کاوو به دوي هغه څه چې نقصان به یې ورکاوو دوي ته او نفعه به یې نه ورکوله دوي ته، او په تحقیق سره دوي پوهیدل چې خامخا چا چې جادو واغستلو (غوره کړو) نو نیشته ده لره په اخرت کښې هیڅ برخه، او خامخا ډیر بد دي هغه څه چې دوي خرڅ کړي دي په هغی سره ځانونه خپل که دوي پوهیدلای.

نو دا آیت دلالت کوي چې جادو کفر دی، او جادوګر د ښځي او خاوند تر منځ جودائي راولي؛ او لکه څرنګه چې دلالت کوي چې جادو بذات خود تأثیر نه لري نه په نفع او نه په ضرر رسولو کښې، او بیشکه چې د الله تعالی په کوني تقدیر او حکم سره تأثیر کوي؛ ځکه الله تعالی هغه ذات دی چې خیر او شر یې پیدا کړی، او بیشکه ددی دروغژنو ضرر او مصیبت ډیر سخت لوي دی، کومو چې دغه قسمه علمونه د مشرکانو څخه

په میراث کښې اخستي، او په دغو علمونو سره يې په کم عقلو خلکو ګډوډي راوستلي ده.

فإنا لله وإنا إليه راجعون، وحسبنا الله ونعم الوكيل.

لکه څرنګه چې آیت په دی دلالت کوي چې هغه کسان چې د جادو زده کړه کوي بیشکه چې هغوي د هغه څه زده کړه کوي چې ضرر ورته رسوي او نفع ورته نه رسوي، او د دوي لپاره د الله تعالی په نیزد څه برخه او حیصه نشته، او دا ډیره غټه دهمکي ده چې ددوي په ډیر زیات تاوان دلالت کوي هم په دنیا او هم په آخرت کښې، او په دی دلالت کوي چې دوي خپل ځانونه په بیکاره قیمت خرڅ کړي او له دی کبله الله تعالی ددوي بدي بیان کړی ده په دی قول: ﴿وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ﴾ [البقرة: ١٠٢].

ترجمه: او خامخا ډیر بد دي هغه څه چې دوي خرڅ کړي دي په هغي سره ځانونه خپل که دوي پوهیدلای.

او د (شراء) معنی او مقصد دلته بیع او خرڅول دي.

د الله تعالی څخه د جادوګرو او نجومیانو او کوډګرو د شر څخه سلامتیا او بچوالي غواړو.

لکه څرنګه چې د الله تعالی څخه غواړو چې مسلمانان ددوي د شر څخه په أمان کړي، او دا چې د مسلمانانو چارواکو ته ددوي څخه د بچ کولو او په دوي باندي د الله تعالی د حکم د نافذولو توفیق ورکړي؛ تر څو خلك ددوي د ضرر اوخرابو أعمالو څخه په أرام شي؛ ځکه دا الله تعالی مهربان او عزتمند ذات دی.

او بیشکه الله تعالی دخپلو بندګانو لپاره هغه څه روا کړي چې د جادو د شر څخه پري ځانونه بچ وساتي د جادو د واقع کیدلو څخه مخکې، او دوي ته یې بیان د هغه څه هم کړی چې علاج یې پري کیدائ شي وروسته د جادو د واقع کیدلو څخه؛ د مهرباني او رحمت او نعمت د پوره والي په خاطر.

او په دی راتلونکي بیان کښې د هغو شیانو وضاحت دی چې په شریعت کې جائز دي چې د جادو د خطر او واقع کیدو څخه مخکې پري ځان بچ وساتلي شي، او هم د هغو شیانو وضاحت دي چې د جادو د واقع کیدو څخه وروسته پري علاج کیدائشي.

او هغه څه چې د جادو د خطر او واقع کیدو څخه مخکې پري ځان بچ ساتلي شي نو ډیر مهم او مفید ددغو شیانودجملي

څخه هغه ځان ساتنه اوپناه غوښتنه ده په شرعي ذکرونو اودعاګانوسره، او ددغوشيانو د جملي څخه د هر فرضي لمانځه څخه وروسته د نور ذکرونو څخه وروسته د آيت کرسي لوستل دي، او ددغوشيانو د جملي څخه د اوده کيدو په وخت کښې د آيت کرسي لوستل دي، او آيت کرسي په قرآن کريم کښې لوي آيت دی او هغه دادی: ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ [البقرة: ٢٥٥].

ترجمه: الله تعالى هغه ذات دي چې نيشته حقدار د بندګي سيوا د هغه څخه، ژوندي دي (هميشه) انتظام کونکي د ټول عالم دي، نه راځي په ده هيڅ غفلت او نه خوب، خاص د هغه په اختيار کښې دي هغه څه چې په اسمانونو کښې دي، او هغه څه چې په ځمکه کښې دي، څوك دی هغه کس چې سفارش وکړي په نيزد د هغه مګر په اجازت د هغه، پوهيږي په هغه څه چې مخکې ددوي څخه دي، او په هغه څه چې وروستو ددوي دي، او طاقت نه لري دوي د هيڅ څيز د علمونو د هغه څخه مګر په

هغه څه چې وغواړي، الله ځای کړي ده کرسي د هغه أسمانونو او ځمکي لره، او نه ستړي کوي هغه لره ساتنه ددی دواړو، او دا الله اوچت او لوي دی.

او د دغوشیانو دجملي څخه دهر فرضي لمانځه څخه وروسته د سورت إخلاص: ﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ﴾[الإخلاص: ١]، او سورت الفلق: ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ۝١ ﴾[الفلق: ١]، او سورت الناس: ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ ﴾[الناس: ١] لوستل دي ، او ددغو دري واړو سورتونو لوستل دي د سهار لمانځه څخه وروسته د ورځي په اوله برخه کښې، او د مابنام لمانځه څخه وروسته د شپې په اوله برخه کښې.

او ددغو شیانو د جملي څخه د شپې په اولني برخه کښې د سورت البقره دوه آخرني آياتونه لوستل، او هغه دواړه د الله تعالى دا قول دی: ﴿ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ ۚ وَقَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ۝٢٨٥ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا

طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ ۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ ۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾ ﴾ [البقرة: ٢٨٥ – ٢٨٦].

ترجمه: ايمان لري رسول الله ﷺ په هغه څه چې نازل كړي شوي دي ده ته له طرفه د رب د ده، اوهر يو مؤمن ايمان لري په الله تعالى او د هغه په ملائكو او كتابونو او پيغبران (وائي دوي) تفرقه نه كوو (په إيمان لرلو كښې) د پيغمبرانو ترمنځ، او وائي دوي اوريدلي دي مونږ او تابعداري كوو مونږ، غواړو بښنه ستا څخه أي ربه زمونږ، او تاته دي درګرځيدل د ټولو.

او الله تعالى هيڅ يو نفس ته نه ورپغاړه كوي مګر هغه څه چې هغه يې قدرت او طاقت ولري، او د دي نفس دفائدي لپاره دي هغه څه چې كړي وي، او د دي نفس په تاوان دي هغه چې كړي وي، أي ربه مه رانيسه مونږه په هغه څه كښې چې هير شي زمونږ څخه، او يا يې په خطائي وكړو، أي ربه او پر مونږ مه مقرره وه هغه درانه او سترې كونكي أحكام كوم چې دي په مخكنې أمتونو مقرر كړي وو، أي ربه او مه بوج كوه پر مونږ هغه څه چې مونږ يې طاقت نه لرو، او مونږ ته معافي او بښنه وكړه، او پر مونږ مهربانه شه، او ته زمونږه كار ساز يې، او مونږه لره غلبه په كافر قوم باندي راكړي.

او د نبي ﷺ څخه په صحيح حديث کښې راغلي چې فرمائي: "**من قرأ آية الكرسي في ليلة لم يزل عليه من الله حافظ ولا يقربه الشيطان حتى يصبح**".

ترجمه: چا چې د شپې آيت کرسي ولوستله نو د الله تعالى له طرفه به ورباندي يو ساتونکي مقرر شي، او شيطان به ورته نشي نيژدي کيدلای تر څو چې صباح شي.

او همدا راز په يو صحيح حديث کښې فرمائي: "**من قرأ الآيتين من آخر سورة البقرة في ليلة كفتاه**".

ترجمه: چا چې د سورة بقري دوه آخرني آياتونه په شپه کښې ولوستل نو دغه دواړه يې د هر شر او ضرر څخه د بچ ساتلو لپاره کافي دي.

او د (كفتاه) مقصد دا دی چې د هر ضرر او شر څخه يې بچ ساتي والله أعلم.

او ددغو ذکرونو څخه ډيره پناه غوښتل د شپې او د ورځې په وخت کښې په دي دعاء (أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق)، او په هر ځای د تم کيدو کښې، که هغه په ابادو کښې وي، او که په صحراء او بيبان کښې وي او که په درياب

او يا فضاء (هواء) كښې وي، د نبي ﷺ ددى قول له وجى: "من نزل منزلاً فقال أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق لم يضره شيء حتى يرتحل من منزله ذلك".

ترجمه: څوك چې يو ځاى كښې واړوي، او دا ئې وويل: أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق، نو هيڅ شى به ورته ضرر ونه رسوي، تر هغې چې د دغه ځاى څخه لاړ شي.

او ددغو ذكرونود جملې څخه دا ده چې مسلمان د ورځې او د شپې په اوله برخه كښې درى كرته دا اووائي: "بسم الله الذي لا يضر مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم"؛ ځكه د رسول الله ﷺ له طرفه ددى په ويلو كښې ترغيب راغلي دى، او دا د هر شر او ضرر څخه د سلامتيا سبب دى، او دا ذكرونه او پنا غوښتل د جادو د شر او د نورو شرونو څخه د بچ كيدلو ډير لوي أسباب دي، هغه چا لپاره چې هميشه والي پرې وكړي په صداقت او إيمانداري سره، او په الله تعالى باندې يقين او اعتماد وكړي، او هغه څه ته په خپله سينه كښې ځاى وركړي په كوم څه چې دا ذكرونه او تعوذات دلالت كوي.

او همداراز دغه ذکرونه او تعوذات د جادو د واقع کيدو څخه وروسته د جادو د لرې کولو لپاره يوه غټه اسلحه ده، چې د الله تعالى څخه په عاجزي دغه دعاء وغواړي، چې الله تعالى تري ضرر او سختي لرې کړي، او د هغو دعاګانو څخه چې د نبي ﷺ څخه د جادو او نورو مرضونو د علاج لپاره ثابتې دي، او نبي ﷺ به پرې صحابه کرام دمول دا دي: "**اللهم رب الناس أذهب البأس واشف أنت الشافي لا شفاء إلا شفاؤك شفاءً لا يغادر سقماً**" دري کرته به يې ويل، او ددغو ذکرونو څخه هغه دم دى چې جبريل عليه السلام پرې نبي ﷺ دم کړى او هغه دا قول دى: "**بسم الله أرقيك من كل شيء يؤذيك ومن شر كل نفس أو عين حاسد الله يشفيك بسم الله أرقيك**" دري کرته به يې وائي.

او د جادو د واقع کيدلو څخه وروسته دا هم يو علاج دي، او هغه د إنسان لپاره ډير مفيد دى کله که د خپل کور والا سره د کوروالي څخه وتړل شي دا دى چې د بيرې د ونې اووه (۷) شنې (تازه) پانې راواخلي، او په غربي (کمر) او يا داسې نور څه به يې وټکوي، او په لوخي کښې به يې کيږدي، او هومره اوبه به پرې وروړه وي چې د غسلو لپاره کافي کيږي، اوآيت کرسي، او ﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ۝١﴾ او ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ او ﴿

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ۝١ ﴾ او ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ ﴾ سورتونه به ورباندي چوپ كړي.

او هغه د جادو او سحر آياتونه به ورباندي هم چوپ كړي كوم چې په سورت اعراف كښې دي، او هغه د الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ۝١١٧ فَوَقَعَ ٱلْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ۝١١٨ فَغُلِبُوا۟ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُوا۟ صَٰغِرِينَ ۝١١٩ ﴾ [الأعراف: ١١٧ – ١١٩].

ترجمه: اوموسى عليه السلام ته مو وحي وكړه دا چې خپله أمساء ميدان ته وروغورځوه، نو پس ناڅاپه هغې تير كړل هغه څه چې دوي جوړول، نو ښكاره شو حق او باطل او بې كاره شو هغه عملونه چې دوي كول، نو كمزوري شول دوي په دغه وخت كښې او واپس شو دا فرعونيان ذليل.

او هغه آياتونه د سحر چې په سورت يونس كښې دي چې هغه د الله تعالى دا قول دى: ﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ٱئْتُونِى بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ۝٧٩ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ۝٨٠ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ قَالَ مُوسَىٰ مَا

جِئْتُم بِهِ ٱلسِّحْرُ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨١﴾ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٨٢﴾ ﴾ [يونس: ٧٩ – ٨٢].

ترجمه: او فرعون وويل: راولي ماته هر پوهه جادوګر؛ نو هر کله چې جادوګر راغلل؛ نو موسی عليه السلام ورته وويل: رامیدان ته کړئ هغه څه چې تاسو راغورځونکي یوي، نو هر کله چې دوي وغورځول نو موسی عليه السلام وويل: هغه شي چې راوړي تاسو هغه جادو دی، بیشکه الله تعالی به زر ختم کړي اثر ددی،او بیشکه الله تعالی نه کامیابوي عمل د مفسدینو او ښکاره کوي الله تعالی حق لره په کلمو خپلو سره اګر چې مجرمان دا بد ګڼي.

او دسحر هغه آیاتونه چې په سورة طه کښې دي: ﴿ قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ أَلْقُوا۟ ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾ فَأَوْجَسَ فِى نَفْسِهِۦ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِى يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓا۟ ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا۟ كَيْدُ سَٰحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ ﴾ [طه: ٦٥ – ٦٩].

ترجمه: وويل دوي: أي موسی یا ته وغورځوه او یا به مونږ اول غورځونکي شو، نو هغه وويل: وغورځوئ تاسو نو دغه وخت پرې او أمساګاني د هغوي په خیال کښې راتللی موسی

ﷺ ته د جادو له وجی چې بیشکه دا منډي وهي، نو په خپل زړه کښې موسی ﷺ ویره محسوسه کړه، نو مونږ ورته وویل: مه ویریږه بیشکه ته برلاسي یې، او وغورځوه هغه څه چې ستا په ښي لاس کښې دي هغه څه به تیروي چې دوي د ځان څخه جوړ کړي، بیشکه هغه چې دوي جوړ کړي دي، هغه د جادوګرو چل ول دی، اوجادوګر نه کامیابیږي هر ځای ته چې حاضر شي.

او په دغه ذکرونو د اوبو دمولو څخه وروسته به یې دري کرته وڅښي او په نورو پاتي شوو اوبو به غسل وکړي إن شاء الله چې په دی سره به یې مرض ختم شي.

او که دوه یا ډیر ځلو ته محتاجه شو نو استعمالول یې څه پروا نه لري، تر دی چې مرض ختم شي.

او همدا راز د جادو دعلاجونود جملي څخه دجادو د ځای پیژندلو کوشش کول که په ځمکه کښې وي او که غره کښې او یا داسي نور ځایونو کښې وي، او دا ئي ډیر مفید علاج دی، نو کله که یې ځای په نښه شي او راوویستل شي او ختم کړي شي نو د جادو اثر ورسره ختمیږي، دا د هغو شیانو بیان وو چې ماته په ذهن کښې راغلل چې ځان پري د جادو څخه بچ او په امان ساتلي شي، او هم یې پري علاج کولائ شي.

او هر چې د جادو علاج د جادو ګر په هغو کړو وړو او حلالکي چې پيريانو ته پري ځان نيزدي کوي، او يا په داسي نورو شيانو نيزديکت حاصلول نو دا جائز نه دي؛ ځکه دا د شيطان د کارونو څخه دي بلکي لوي شرك دی؛ نو د دغه څخه کرکه او ځان ساتل واجب دي؛ لکه څرنګه چې د نجوميانو او پالګرو او کوډګرو څخه په پوښتنو کولو يې علاج کول جائز نه دي، او د هغه څه په استعمالولو سره چې دوي يې ورته وائي؛ ځکه دوي إيمان نه لري، او ځکه چې دوي فاجران دروغژنان دي، د علم غيب دعوی کوي، او په خلکو ګډودي راولي.

او نبي ﷺ دوي ته د راتګ او ددوي څخه د پوښتنو او ددوي د تصديق څخه ويره او کرکه بيان کړي ده، لکه څرنګه چې ددی بيان ددی رسالي په اول کښې تير شو، او د رسول الله ﷺ څخه په صحيح روايت کښې راغلي دي چې دده څخه د (نشري) پوښتنه وشوه د جادو ختمولو په جادو سره، نو وفرمايل: "**هي من عمل الشيطان**".

ترجمه: دا د شيطان د کارونو څخه دی.

إمام أحمد او أبو داود په جيد سند سره دا حديث روايت کړيدی.

او (نشرة): دي ته ويلي شي چې په چا جادو شوي وي دهغه څخه د جادو ختمول په جادو سره.

او د نبي ﷺ مراد په (نشرة) سره د جاهليت هغه کړه وړه دي چې هغه د جادوګرو څخه غوښتنه کول دي ددی لپاره چې جادو پري ختم کړي، او يا د جادو ختمول د يو بل جادوګر په جادو، او هر چې د جادو ختمول په شرعي دمونو، تعوذاتو، او جائزو دوايانو سره دي نو په دی کښې څه ممانعت نشته.

لکه څرنګه چې مخکې تير شو، او ددی وضاحت او بيان علامة ابن القيم، او الشيخ عبد الرحمن بن حسن -رحمهما الله - په فتح المجيد کښې کړی دی، او ددی دواړو څخه علاوه نورو علماؤ کرامو هم ددی وضاحت او بيان کړی دی.

والله المسئول أن يوفق المسلمين للعافية من كل سوء وأن يحفظ عليهم دينهم ويرزقهم الفقه فيه والعافية من كل ما يخالفه شرعه، وصلى الله وسلم على عبده ورسوله محمد وعلى آله وصحبه وسلم.

په قبرونو د مسجدونو جوړولو څخه د ځان ساتنې بیان

پوښتنه راځخه کړي شوي ده چې آیا د اصحاب کهف په ځای دمسجد جوړول جائز دي؟ نو ما ورته داسي جواب ورکړو:

بسم الله والصلاة والسلام على رسول الله أما بعد:

زه په هغه خبر خبر شوم چې مجلة رابطة العلوم الإسلامية په دریم عدد د (أخبار المسلمين في شهر) په باب کښې خپور شوی، او هغه دا چې د أردن په مملکت کښې رابطة العلوم الإسلامية په هغه غار د مسجد جوړولو نیت لري چې اوس اوس یې د الرحیب په کلي کښې اکتشاف شوی، او دا هغه غار دی چې ویل کیږي: چې کوم أهل الكهف چې یادونه یې په قرآن کریم کښې شوي هغوي دغلته اوده شوي وو. له تردي ځای بای ته ورسید.

او له دی کبله چې د الله تعالی او دهغه د بندګانو خیر خواهي په هر چا واجب ده؛ نو ماته دامناسبه ښکاره شوه چې په همدغه مجله کښې د أردن رابطة العلوم الإسلامية ته خپله وینا متوجي کړم چې مضمون یې دا دی:

د رابطي خيرخواهي د هغه مسجد د جوړولوپه منع کولو سره چې د جوړولو نيت يې په هغه غار کړي چې مخکې يې يادونه وشوه؛ او دا ځکه چې د پيغمبرانو او نيکانو او د هغوي په اثارو دمسجدونو جوړول دا هغه څه دي چې إسلامي شريعت ترينه منعه کوي، او کرکجني ورڅخه فرمائي، او په هغه چا لعنت وائې چې دا کار وکړي، له دی وجی چې دا عمل په شرك کښې د واقع کيدو او د پيغمبرانو او نيکانو په حق کښې د حدودو څخه د تجاوز يوه وسيله ده.

او حقيقت حال ددی ګواهي کوي چې هغه څه چې شريعت بيان کړي دي هغه صحيح دي، او په دی دليل دي چې شريعت د الله تعالى له طرفه دی، او روښانه او د رسول الله ﷺ په رښتينوالي قطعي دليل دی په هغه څه کښې چې د الله څخه راوړي دي، او أمت ته يې پوره رسولي دي، او هرڅوك چې دعالم إسلامي په حالاتو کښې سوچ او فکر وکړي، او په هغه شرك او د حد څخه زياتي چې په دی عالم إسلامي کښې په قبرونو باندي د جوماتونو جوړولو په سبب اودقبرونو د تعظيم او فرش کولو اود قبرونو د ډولي کولو او په هغي باندي د خدمتګارانو مقررولو په سبب خپور شوي او رواج شوي، نو

بي لله کوم شك به ورته دا معلومه شي چې دا کار د شرك د وسائلو څخه دي، ا ودا به هم وپيژني چې د شريعت د ښکلا څخه ددی قسم مسجدونو منع کول دي، او ددی د جوړولو څخه ويرول دي او کرکجني ده.

او د نبي ﷺ څخه چې په دی هکله څه راغلي دي، هغه څه دي چې بخاري او مسلم – رحمهما الله- د عائشي رضي الله عنها څخه روايت کړي چې دا وائي: رسول الله ﷺ فرمايلي: "**لعن الله اليهود والنصارى اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد**".

ترجمه: الله تعالى دی په يهود او نصارى باندي لعنت وکړي؛ ځکه چې دوي د خپلو پيغمبرانو په قبرونو مسجدونه جوړ کړي وو.

عائشه رضي الله عنها فرمائي: چې نبي ﷺ په دی سره ويره ورکوله د هغه څه څخه چې دوي کړي وو، او بيا يې دا وفرمايل: (او که دا خبره نه وي نو قبر به يې ښکاره کړی شوي وای، خو د هغه سره ددی خبري ويره وه چې د قبر څخه به يې مسجد جوړ کړای شي).

او همدا راز په بخاري او مسلم کښې د أم سلمه او أم حبيبة رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دی دواړو نبي ﷺ ته د هغې کنيسې او هغو تصويرانو چې ورپکې وو يادونه وکړه چې د حبشې په خاوره کښې يې ليدلي وه، نو نبي ﷺ وفرمايل: "أولئك إذا مات فيهم الرجل الصالح بنوا على قبره مسجداً وصوروا فيه تلك الصور أولئك شرار الخلق عند الله".

ترجمه: دا هغه خلك دي کله چې به په دوي کښې يو نيک سړی مړ شو؛ نو دهغه په قبر به يې مسجد جوړ کړو، او دهغه تصويران به يې ورپکې جوړ کړل، او دغه خلك د الله تعالى په نيزد ډير بدترين د خلکو دي.

او په صحيح مسلم کښې د جندب بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی، دا وائي چې ما د نبي ﷺ د هغه د مرګ څخه پنځه ورځې مخکې اوريدلي دي چې فرمايل يې:

"إني أبرأ إلى الله أن يكون لي منكم خليل فإن الله قد اتخذني خليلاً كما اتخذ إبراهيم خليلاً، ولو كنت متخذاً من أمتي خليلاً لاتخذت أبابكر خليلاً، ألا وإن من كان قبلكم كانوا يتخذون قبور أنبيائهم وصالحيهم مساجد، ألا فلا تتخذوا القبور مساجد، فإني أنهاكم عن ذلك".

ترجمه: بیشکه زه الله تعالی ته براءت إعلان ووم له دی څخه چې یو کس ستاسو څخه زما رازدار دوست وي؛ ځکه الله تعالی زه دهغه راز دار دوست جوړ کړی یم، لکه څرنګه چې إبراهیم علیه السلام رازدار دوست جوړ کړی وو، او که چیرې ما د خپل أمت څخه رازدار دوست نیولي نو ما به أبو بکر رازدار دوست جوړ کړی وای، او خبردار بیشکه هغه څوك چې ستاسو څخه مخکې تیر شوي دي د پیغمبرانو علیهم السلام او د نیکانو په قبرونو یې مسجدونه جوړول، او خبردار د قبرونو څخه مسجدونه مه جوړوئ، بیشکه چې زه تاسي له دغه کار څخه منعه کوم.

او حدیثونه په دی باب کښې ډیر زیات دي، او دمسلمانانو د څلور واړو مذهبونو علماؤ او إمامانو او داسي نورو په قبرونو د مسجدونو جوړولو څخه د منعه والي بیان او وضاحت کړی، او له دی څخه یې کرکجني او ویرول کړي دي.

د نبي ﷺ په حدیثو د عمل کولو په خاطر او د أمت د خیرخواهي په خاطر او د امت د خبرداری په خاطر چې په هغه څه کښې واقع نه شي چې ددوي څخه مخکې ورپکې یهود او

نصاری د حد څخه تجاوز کونکي او ددوي په شان ددی أمت ګمراهان ورواقع شوي ؤو.

نو په أردن کښې په رابطة العلوم الإسلامية او په نورو مسلمانانو واجب دي چې د پیغمبر ﷺ په طریقو (سنتو) عمل وکړي، او د إمامانو په نقش قدم روان شي، او د هغه څه څخه ځان بچ وساتي چې الله تعالی او د هغه پیغمبر ﷺ ورڅخه ویرول کړي دي، او په دی کښې د بندګانو إصلاح او خوشحالي او ددنیا او آخرت کامیابي او خلاصون دی، او ځني خلك په دی هکله د أصحاب الكهف په قصه کښې د الله تعالی په دی قول دلیل نیسي: ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُوا۟ عَلَىٰٓ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴾ [الكهف: ٢١].

ترجمه: وویل هغه کسانو چې زورور ؤ په خپل کار: مونږ به خامخا په دوي باندي سجده ګاه (جومات) جوړوو.

او ددي جواب دا دی چې ورته وویل شي: چې بیشکه الله تعالی په دی آیت کریمه کښې د هغه وخت او زمان د مشرانو او قدرتمندو خبر ورکړی چې هغوي دا خبره کړی، نه دا چې الله تعالی د هغوي په دی کار باندي د رضا والي په طریقه ویلي،

بلکې الله تعالی په دی کار کولو سره د هغوي د بدی بیانولو په طریقه دا فرمایلي، او په خلکو کښې د هغوي ددغه کار څخه د نفرت پیدا کولو په طریقه، او دلیل پری دا دی چې رسول الله ﷺ چې په هغه دا آیت نازل شوي او هغه یې په تفسیر باندي د ټولو خلکو څخه ډیر پوهه وو، نو هم هغه په قبرونو باندي د مسجدونو جوړولو څخه خپل أمت منعه کړی، او ددغه کار څخه یې ویرولي دي، او د هغه چا بدي یې بیان کړی چې دغه کار یې کړی، او لعنت یې پری ویلي دی.

او که چیري دغه کار جائز وای نو نبي ﷺ به یې په کولو باندي هومره تشدید نه بیانولو، او په دغه کښې هومره مبالغه کړی تر دی چې لعنت یې ویلي په هغه چا چې دغه کار یې کړی دی.

او ددی خبر یې ورکړی چې دوي د الله په نیزد د مخلوقاتو څخه بدترین مخلوق دي.

او په دی کښې د حق د طلب ګار لپاره قناعت او کافي والي دی، او که دا ومنو چې په قبرونو مسجدونه جوړول مخکنې أمتونو ته جائز وو، نو په دغه کار کښې مونږ ته د هغوي اقتداء جائز نه ده؛ ځکه زمونږ شریعت ټول مخکنې شریعتونه منسوخ

کړي دي، او زمونږ پيغمبر ﷺ أخرني پيغمبر دی، او شريعت يې عام او کامل دی.

اوپه تحقيق سره چې هغه مونږ په قبرونو باندي د مسجدونو جوړولو څخه منعه کړي يو، نو مونږ ته يې خلاف ورزي نه ده جائز، او پر مونږ يې تابعداري واجب ده، او کوم دين چې يې مونږ ته راوړی دی د هغه راتينګول او د زړو دينونو پريښودل چې زمونږ ددين مخالف وي واجب دی.

او دهغه عادتونه پريښودل واجب دی چې کونکو ته يې خائسته ښکاري؛ ځکه چې د الله تعالی د شريعت څخه بل کوم شي کامل او شامل نشته، او د نبي ﷺ د طريقو څخه نوري طريقي خائسته نشته.

والله المسؤول أن يوفقنا والمسلمين جميعاً للثبات على دينه والتمسك بشريعة رسوله محمد ﷺ في الأقوال والأعمال الظاهرة والباطنة، وفي سائر الشؤون حتى نلقى الله عز وجل إنه سميع قريب، وصلى الله وسلم على عبده ورسوله محمد وآله وصحبه ومن اهتدى بهداه إلى يوم الدين.

په مسجدونو کښې مړي خخول د شرك يوه وسيله ده

بسم الله والحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله ومن اهتدى بهداه أما بعد:

په تحقيق سره ما د الخرطوم په نوم ورځ پانه (أخبار) وکتله چې په ۱۴۱۵/۴/۱۷هـ خپره شوي ده؛ نو ومي ليدلو چې د أم درمان په ښار کښې د السيد محمد الحسن الإدريسي د دوي په مسجدکښې د خپل پلار ترڅنګ د خخولو خبر يې خپور کړي وو، او هرکله چې الله تعالى د مسلمانانو لپاره نصيحت او خيرخواهي واجب کړي ده، او د بديوڅخه د منعه کولو بيان يې واجب کړي، نو ما مناسبه وګڼله چې ددى خبرداري ورکړم چې په مسجدونو کښې مړي خخول جائز نه دي، بلکي دا د شرك يوه وسيله ده، او د يهود واو نصاراو د هغو کارونو څخه دي چې الله تعالى پرې په دوي بدي ويلي ده، او رسول الله ﷺ په دوي لعنت ويلي دى؛ لکه څرنګه چې په بخاري او مسلم کښې د عائشي رضي الله عنها څخه روايت دي چې نبي ﷺ فرمايلي دي: **"لعن الله اليهود والنصارى اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد".**

ترجمه: الله تعالى دى په يهود او نصاراو باندي لعنت وکړي؛ ځکه چې دوي د خپلو پيغمبرانو په قبرونو مسجدونه جوړ کړي وو.

او په صحيح مسلم کښې جندب بن عبد الله ﷺ د نبي ﷺ څخه روايت کوي چې فرمايلي دي: "**ألا وإن من كان قبلكم كانوا يتخذون قبور أنبيائهم وصالحيهم مساجد، ألا فلا تتخذوا القبور مساجد فإني أنهاكم عن ذلك**".

ترجمه: او خبردار بيشکه هغه څوك چې ستاسو څخه مخکې تير شوي هغوي د پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام او د نيکانو په قبرونو مسجدونه جوړول، او خبردار د قبرونو څخه مسجدونه مه جوړوئ، بيشکه چې زه تاسو له دغه کار څخه منعه کوم.

او حديثونه په دى باب کښې ډير زيات دي.

نو مسلمانان چې په هر ځاى کښې وي - که حکومتونه وي او که ولسونه - واجب دي پري چې د الله تعالى څخه ويره وکړي، او د هغه څه څخه ځان بچ وساتي چې الله تعالى ترينه منعه فرمايلي وي، اودا چې خپل مړي د مسجدونو څخه بهر

دفن (خخ) کړي، لکه څرنګه چې نبي ﷺ او د هغه أصحابو ﷺ خپل مړي د مسجدونو څخه بهر دفن کول (خخول) او همداراز ددوي تابعدارانو.

او هر چې په مسجد نبوي کښې د نبي ﷺ او أبو بکر او عمر ﷺ د قبرونو موجودیت دی نو په دی باندی په مسجدونو کښې د مړو په دفن (خخول) دلیل نشي نیول کیدای ؛ ځکه نبي ﷺ په خپل کور کښې دعائشي ﷺ په کوټه کښې دفن (خخ) کړی شوي، او بیا یې تر څنګ دواړه ملګري دفن (خخ) کړل شوي.

نو د هجري اولني سلمي په سر کښې چې کله ولید بن عبد الملك د مسجد نبوي پراختیا وکړه نو دغه کوټه یې د مسجد په داخل کښې راوستله، او د ولید دی کار ته په هغه وخت کښې علماؤ ډیر بد وویل، خو هغه ته دا مناسبه ښکاره شوه چې دا کار د مسجد د پراختیا څخه مانع نه دی.

او دا چې خبره ښکاره او واضحه ده کوم شك او شبهه نه لري، او په دی سره هر یو مسلمان ته واضح کیږي چې نبي ﷺ او دواړه ملګري یې په مسجد کښې نه دي دفن (خخ) شوي.

او د مسجد د پراخولو په وجه ددوي قبرونه په مسجد کښې داخلول ددی دلیل نه شي کیدلای چې ګنی د مړو دفن (خخول) په مسجدونو کښې جائز دي؛ ځکه چې دوي په مسجد کښې نه دی خخ بلکي بیشکه چې دوي د نبي ﷺ په کوټه کښې خخ دي، او بله دا چې د ولید دا کار د هیڅ یوکس لپاره په دی دلیل نشي جوړیدلای؛ ځکه چې دلیل په قرآن کریم او حدیثو او د أمت د سلفو ﷺ په إجماع کښې دی، الله تعالی دي مونږ د هغوي د تابعدارانو څخه وګرځوي.

د خیر خواهی او د غاړې ازادولو په خاطر یې لیکنه ترسره شوي په ۱۴۲۵/۵/۱۴هـ.

والله ولي التوفيق وصلى الله وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه وأتباعهم بإحسان.

د لمونځ أهميت

الحمد لله رب العالمين ولا عدوان إلا على الظالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد وآله وصحبه أجمعين وبعد:

بيشكه په هر إنسان لازم دي چې د لمونځ اهتمام وكړي؛ ځكه د لمانځه شأن ډير عظيم دي،اومرتبه يې ډيره لويه ده، او دا چې خاص يواځي الله لره عبادت وكړي چې شريك نه لري، او دا چې د هر هغه څه څخه بيزاري إعلان كړي چې د الله څخه بغير كه هر څوك وي، او دا چې ددى إيمان او عقيده ولري چې دا الله معبود برحق دى، او دده څخه چې بغير بل چا لپاره عبادت كولاى شي نو دغه باطل دي؛ لكه څرنګه چې الله تعالى په سورت الحج كې فرمايلي دي: ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلْبَٰطِلُ ﴾[الحج: ٦٢].

ترجمه: دا مدد په دى وجه دى چې بيشكه الله تعالى لره حقه ده بندګي كول د هغه، او بيشكه بندګي كول د هغه چا چې دوي ورته رامدد شه وائي بغير د الله څخه دا باطله ده.

او په سورت لقمان كې الله تعالى فرمايلي: ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلْبَٰطِلُ ﴾ [لقمان: ٣٠].

ترجمه: دا بيان دی لپاره ددی چې يقين وکړئ چې الله تعالی بر حق معبود دی، او بيشکه هغه کسان چې دوي ئي رابلي بغير د الله تعالی څخه باطله ده بندګي د هغوي.

اوالله تعالی فرمايلي: ﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾[الاسراء: ٢٣].

ترجمه: او فيصله کړي ده رب ستا چې بندګي بغير د الله تعالی څخه د بل چا مه کوئ.

اوالله تعالی فرمايلي: ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝ ﴾[الفاتحة: ٥].

ترجمه: خاص تا لره بندګي کوو او خاص ستا څخه مدد غواړو.

او فرمايلي: ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعْبُدُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ ﴾[البينة: ٥].

ترجمه: او حکم نه دی کړي شوي دوي ته مګر لپاره ددی چې بندګي دي کوي د الله تعالی چې خالص کونکي وي هغه لره بندګي او کلك وي په توحيد.

همدا عظيم بنياد(توحيد) د إسلامي دين بنسټ او أساس دی، او دا هغه اولنی شی دی چې بنده پري د الله په دين کې داخليږي، او بيا دی ګواهي پسې دا ګواهي ده چې محمد ﷺ د

الله پیغمبر دی، دا دواړه ګواهیاني ددین بنیاد دي چې ددی دواړو څخه بغیر هیڅ دین نه صحیح کیږي، او یوه د بلی پر ځای کار نه ورکوي؛ نو دمحمد ﷺ د پیغمبری څخه وروسته د دواړو څخه خلاصي نشته، نو إسلام نشته مګر د الله په یو والي دي او إسلام نشته مګر په إیمان لرلو چې محمد ﷺ د الله پیغمبر دی، که چیري یو إنسان د ورځي روژه نیسي او د شپی تهجد کوي او د الله هر قسم عبادت کوي خو په محمد ﷺ إیمان نه لري وروسته دهغه د پیغمبري څخه؛ نو بیشکه دغه إنسان په دی کار سره کافر دی؛ بلکي د ټولوعلماؤ په نیزد د ډیرو سرکشو کافرانو څخه دي، او که چیري إنسان ګواهي کوي چې محمد ﷺ د الله پیغمبر دی او تصدیق یې هم کوي، او ټول شیان وکړي مګر دا إنسان الله تعالی سره په عبادت کې شرك کوي – چې الله تعالی سره د بل چا عبادت کوي د ملائکو او یا د پیغمبرانو او یا د بوتانو او یا د ونو بوټو او یا د کانړو او یا د پیریانو او یا د ستورو – نو په دغه شرك کولو دا کافر او ګمراه وګرځیدلو، اګر که دا وائي: چې محمد ﷺ دالله پیغمبر دی؛ نو إیمان په دواړو یو ځای لرل ضروري دی؛ نو دالله توحید او هغه لپاره إخلاص ضروري دی.

او په دې باندې إيمان لرل ضروري دي چې محمد ﷺ د الله پيغمبر دى چې الله تعالى إنسانانو او پيريانو دواړو ته رالېږلى دى، او مخكښې پيغمبران به هر يو خاص خپل قوم ته رالېږل كيدلو خو زمونږ پيغمبر محمد ﷺ الله ټولو خلكو ته رالېږلى دى كه عرب دي، او كه عجم، كه إنسانان دي كه پيريان كه نارينه دي كه زنانه، كه مالدار دي او كه غريبان دي، كه بادشاهان وي كه عام اولس، دا ټول دده په پيغمبري كي داخل دي؛ نوچا چې دا دعوت چې نبي ﷺ پرې راغلى قبول كړو او سر يې ورته ټيټ كړو او ايمان يې پرې ولرلو نو جنت ته به داخل شي، او چا چې تكبر او ځان لوي وشميرلو او قبول يې نه كړو نو اور (جهنم) ته به داخل شي، الله تعالى فرمائي: ﴿وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ﴾[هود: ١٧].

ترجمه: او چا چې كفر وكړو په دى كتاب د مختلفو ډلو څخه نو پس اور (جهنم) يې ځاى د وعدى دى.

او نبي ﷺ فرمايلي : **"والذي نفسي بيده لا يسمع بي أحد من هذه الأمة يهودي أو نصراني ثم يموت ولم يؤمن بالذي أرسلت به إلا كان من أهل النار".**

تر جمه: په هغه ذات مى دى قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس كې دى، چې نه اوري زما خبر هيڅ يو كس ددى امت كه يهودي وي او كه نصراني او بيا مړ شي، او په هغه څه يې إيمان نه وي لرلي چې زه پرې راليږل شوي يم، مګر وي به د اور(جهنم) د خاوندانو څخه.

او نبي ﷺ فرمايلي: "كان النبي يبعث إلى قومه خاصة وبعثت إلى الناس عامة".

ترجمه: وو پيغمبر چې ليږلي به شو خاص خپل قوم ته او زه ليږل شوي يم ټولو خلكو ته.

او الله رب العزت فرمايلي: ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ﴾ [الأعراف: ١٥٨].

ترجمه: اې پيغمبره اووايه ته دى خلكو ته چې زه د الله تعالى پيغمبر يم تاسي ټولو ته.

او فرمائي: ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ﴾[سبأ: ٢٨]

ترجمه: او نه يې ليږلي مونږ ته مګر ټولو خلكو ته زيرې وركونكي او ويره وركونكي.

او فرمائي: ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴾ [الأنبياء: ١٠٧].

ترجمه: او مونږ نه يې ليږلي مګر د ټولو مخلوقاتو د رحمت لپاره.

بيا وروسته ددې دواړو ګواهيانو څخه د لمونځ خبره ده؛ نو دا لمونځ په دې دواړو ګواهيانو ورپسې دې،او د شهادتينوڅخه وروسته دا غټ رکن دې، چا چې پرې هميشه والي وکړو نو خپل دين يې وساتلو، او چا چې دا لمونځ ګډوډ کړلو او پريښودلو نو دا کس نورو عبادتونو لپاره ډير پريښودونکي او بربادونکي دې، د إمام أحمد په مسند کې په جيد سند سره د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دې چې نبي ﷺ يوه ورځ د خپلو صحابو په منځ کې د لمانځه يادونه وکړله نو وفرمايل: "**من حافظ عليها كانت له نوراً وبرهاناً ونجاة يوم القيامة ومن لم يحافظ عليها لم يكن له نور ولا برهان ولا نجاة، وحشر يوم القيامة مع فرعون وهامان وقارون وأبي بن خلف**".

ترجمه: چاچې په لمانځه هميشه والي وکړو نو دده لپاره به رڼا او ښکاره دليل او بچوالي وي په ورځ د قيامت، او چا چې پرې هميشه والي ونه کړو نو نه به وي دده لپاره رڼا او ښکاره

دليل او خلاصوالي، او راپاڅولي به شي په ورځ د قيامت د فرعون او هامان او قارون او أبي بن خلف سره.

او ځني إمامانو په دى حديث كې ويلي: بيشكه چا چې لمونځ پريښودلو او ګډوډ يې كړلو نو د كفر د بدبختو سردارانو او مشرانو سره به راپاڅولي شي چې فرعون دى او هامان دى او قارون دى، او أبي بن خلف دى؛ ځكه چې دا إنسان ددغو په شان دى، او انسان به په ورځ دقيامت هغه چا سره وي چې د هغه مشابه وي.

الله تعالى فرمائي: ﴿ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ﴾ [الصافات: ٢٢].

ترجمه: راجمع كړئ هغه كسان چې شرك او كفر يې كړي، او د هغوي ملګري، يعني. ددوي هم مثله او مشابه كسان.

نو د چا چې د لمونځ پريښودلو سبب رياست او مشري وي نو د فرعون سره به راپاڅولي شي؛ ځكه چې دفرعون د إنكار سبب بادشاهي وه، او هم له دى أمله يې د موسى عليه السلام سره دشمني كوله، نو د هغو بدبختو څخه وګرځيدو چې په تاوان اخته شوي، او ځاي به يې اور د جهنم وي.

الله تعالى فرمائي: ﴿أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ﴾ [غافر: ٤٦].

ترجمه: ورداخل کړئ فرعون او د هغه تابعداران ډیر سخت عذاب کې - د الله څخه تري پناء غواړو -

او چا لره چې د لمونځ په پریښودلو د هغه وظیفه او یا وزارت باعث شوي وي؛ نو دا د هامان مشابه شو چې د فرعون وزیر وو، نو دا به په ورځ د قیامت د هامان سره راپاڅولي شي، د الله څخه تري پناء غواړو.

او که لمونځ یې پریښودلو د مالداري او خواهشاتو او د نعمتونو له وجې نو د قارون سره مشابه شو چې الله ورته ډیره مالداري ورکړي وه نو سرکشي او تکبر او إنکار یې وکړو تر دی چې الله دا او دده کور په ځمکه کښې ډوب کړو، نو دا به د قارون په شان وي؛ نو دده سره به په ورځ د قیامت راپاڅولي شي اور د جهنم ته.

او کله که ده لره د لمونځ او د الله د حق څخه اخستلو او خرڅولو او معاملاتو او دنیوي ګټو مصروف کړي ؤ نو بیشکه چې دا د ابي بن خلف په شان دي - چې د مکي سوداګر وو - نو راپاڅولي به شي دده سره اور د جهنم ته، د الله نه د کافرو او د هغوي د عملونو څخه د بچوالي غوښتنه غواړو.

او مقصدي خبره دا ده چې د لمونځ شان ډير غټ دی، او د نبي ﷺ نه په صحيح حديث کې راغلي چې فرمائي: "رأس الأمر الإسلام وعموده الصلاة وذروة سنامه الجهاد في سبيل الله".(۱)

ترجمه: د ټولو کارونو سر إسلام دی، او لمونځ يې ستنه ده، او اوچت او أعلی ترين کار د إسلام د الله تعالی په لار کښې جهاد دی.

اوفرمايلي:"العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركه فقد كفر".(۲)

ترجمه: هغه لوظ او وعده چې زمونږ او ددوي تر منځ ده هغه لمونځ دی، نو چا چې لمونځ پريښودلو نو په تحقيق سره کفر يې وکړو.

---

(۱) ترمذي په (کتاب الايمان) کې په دی نمبر/۲۵۴۱ روايت کړی دی، او امام أحمد په مسند کې په دي (۵/۲۳۱) روايت کړی دی.

(۲) ترمذي په (کتاب الايمان) ۹- باب ما جاء في ترك الصلاة ،کې په دی نمبر/۲۵۴۵ روايت کړی دی، او نسائي په ۵- کتاب الصلاة ۸- باب الحكم في تارك الصلاة، کې په دی نمبر/۴۵۹ روايت کړی دی، اوإمام احمد په (۵/۳۴۶) کې روايت کړی دی، او ابن ماجة په ۵- کتاب إقامة الصلاة ۷۷ – باب ما جاء فيمن ترك الصلاة، کې په دی نمبر/۱۰۷۹ روايت کړی دی.

دی حدیث لره إمام أحمد او أبو داود او ترمذي او نسائي او ابن ماجة د بريدة ﷺ څخه په صحيح سند روايت کړی، اوإمام مسلم په خپل صحيح کې د جابر ﷺ څخه روايت کړی چې د نبي ﷺ څخه روايت کوي چې ده فرمايلي دي: "**بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة**".(۱)

ترجمه: د سړي او د کفر او شرك په منځ کې بيلونکي علامه د لمانځه پريښودل دي.

که نن سبا د خلکو حال ته وګورو نو خبره ډيره لويه او خطرناکه ده - ولا حول ولا قوة إلا بالله - ځکه د لمونځ پريښودونکي، او د لمونځ په جماعت أداء کولو کښې سستي کونکي ډير شوي، نو د الله څخه زمونږ او د ټولو مسلمانانو لپاره هدايت او سمه لاره غواړو.

---

(۱) مسلم په کتاب الإيمان ۳۵ - باب بيان إطلاق اسم الكفر على من ترك الصلاة، کې په دی نمبر/۸۲ روايت کړی دی، او امام احمد په مسند کې په دی لفظ: "بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة" (۳۸۹/۳) روايت کړی دی.

او الله رب العزت خپل نعمتونه پراخه كړي، او خير يې ډير كړی خو د بني آدم مثال داسي دی لكه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَيَطْغَىٰٓ ۝٦ أَن رَّءَاهُ ٱسْتَغْنَىٰٓ ۝٧ ﴾ [العلق: ٦ -٧].

ترجمه: نه ده داسي بيشكه چې إنسان خامخا سركشي كونكي دی كله چې خپل ځان مالداره ووينې.

الله تعالى خپل نعمتونه پرلپسې كړي، او خير يې پراخه كړی خو ډيرو خلكو په مقابل كې نافرماني او ناشكري كړی، په الله تعالى ددغه څخه پنا غواړو؛ نو ويره تره واجب ده، او په هر يو إنسان ددی دين رسول واجب دی هغه چا ته چې خوا او شاه يې وي، او كوښښ دي وكړي په دعوت او لارښوونه كې هغه چا لپاره چې لمونځونه پريږدي، او يا ورپكي سستي كوي، او يا په لمانځه كې كوتاهي كونكي وي ، او يا د الله په نورو حقونو كې او د بندګانو په حقونو كې، كيداي شي چې الله رب العزت دده په سبب دوي ته هدايت نصيب كړي، او نبي ﷺ فرمايلي: "**فليبلغ الشاهد الغائب فرب مبلغ أوعى من سامع**".

ترجمه: حاضر كسان دى ورسوي هغو ته چې غائب دي؛ ځكه ډير كرته هغه څوك چې هغه ته خبره ورسول شي هغه پرې ښه پوهيږي د اوريدونكي څخه.

او په تحقيق سره د يوي غټې ډلې علماؤ رأي او نظر دا دى چې چا لمونځ پريښودلو اګر كه د واجب والي څخه يې إنكار ونه كړي نو په غټ كفر كافر كيږي د مخكيني ذكر شوو آياتونو او آحاديثو له وجې، اګر كه وائي: چې په واجب والي إيمان لرم كله چې په سستي پريږدي؛ نو په تحقيق سره ده په دى واجب كار لوبي وكړي، او د خپل رب يې ډيره غټه ګناه او نافرماني وكړله، نو په دى كې د علماؤ په صحيح قول باندي كافر كيږي ددليلونو د عموميت له وجې چې يو د هغې څخه دا قول د نبي ﷺ دى چې فرمائي: "**العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركها فقد كفر**".

ترجمه: هغه لوظ او وعده چې زمونږ او ددوي تر مينځ ده هغه لمونځ دى، نو چا چې لمونځ پريښودلو نو په تحقيق سره كافر شو.

دا يې نه دي ويلي چې چا يې د واجب والي څخه إنكار وكړو بلكي دا يې ويلي: (من تركها) نو دا شامل دي هغه چا ته چې

إنكار تري وكړي او هغه چا ته چې إنكار تري ونه كړي، او همدارنګه د نبي ﷺ دا وينا چې فرمائي: " **بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة**".

ترجمه: د سړي او د كفر او شرك په منځ كې بيلونكي علامه د لمانځه پريښودل دي.

دا يې نه دي ويلي: چې كله يې د واجب والي إنكار وكړي.

نو رسول الله ﷺ د خلكو څخه د ډير واضحه بيان والا دى، او ډېر پوهه دى، ددى قدرت يې لرلو چې دا ووايي كله چې دإنكار كولو له وجي پريږدي او يايي د واجب والي إنكار وكړي، كه حكم داسي واى لكه څرنګه چې دا خلك يې وايي نو ددى خبري څخه هيڅ يو شي نه شو منع كولي چې دغه حكم بيان كړي، نوهركله چې كفر ذكر كړي او فرمايلي دي: "**العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركها فقد كفر**".

ترجمه: لوظ او وعده چې زمونږ او ددوي ترمنځ ده هغه لمونځ دى نو چا چې لمونځ پريښودلو نو په تحقيق سره كفر يې وكړو.

نو دغه په دی دلالت کوي چې د ددی لوي واجب فقط په قصدي پریښودلوسره إنسان په لوي کفر اخته کیږي - د الله ځخه تري بچوالی غواړو - او د إسلام نه پري مرتد کیږي،او ددغه ځخه د الله تعالی نه پنا غواړو.

او مسلماني ښځي ته ددی نه وروسته نه دي جائز چې دغه خاوند سره پاتي شي؛ تر څو چې الله ته توبه ونه باسي او رجوع ونه کړي، او په تحقیق سره غټ تابعي عبد الله بن شقیق العقیلي فرمائي: چې د نبي ﷺ أصحابو دهیڅ یو عمل پریښودل کفر نه شمیرلو بغیر د لمانځه ځخه.

نو ددی یادونه یې کړی چې دوي په دی متفق وو چې د لمونځ پریښودل کفر دی، او دا یې نه ویل: چې په دی شرط کفر دی چې إنکار یې د واجب والي ځخه وکړي، او هر هغه څوك چې وایي: چې دا لمونځ واجب نه دی نو د ټولوعلماؤ په نیزد په غټ کفر کافر دي، اوکله چې وایي: چې دا لمونځ نه دی واجب نو د ټولو أهل علمو په نیزد کافر شو اګر که خلکو سره لمونځ کوي کله چې د واجب والي ځخه یې إنکار کوي؛ نو په إجماع سره کافر دی، د الله ځخه تري بچوالي غواړو.

او همدارنګه که چيري د زکات د فرضيت او د رمضان د روژي د فرضيت او د حج کولو د طاقت لرلوباوجود إنکار وکړي نو د ټولوعلماؤ په نيزد کافر دی - د الله تعالی څخه ددی عمل نه سلامتيا غواړو -.

او همدارنګه که چيري ووائي: چې زنا حلاله ده او يا شراب حلال دي اويا بچه بازي حلاله ده، او يا د مور او پلار نافرماني جائز ده، او يا سود حلال دی نو د ټولو مسلمانانو په إجماع باندي دا کافر کيږي، د الله څخه تري بچوالي غواړو.

ځکه ده هغه څه حلال وشميرل چې الله پري حرام کړی دی؛ خوکه په دی شيانو يو سړی ناپوهه وي نو ورښودل يې واجب دي، او که چيري د واجب والي څخه په إنکار کولو باندي اصرار کوي نو په إجماع (اتفاق) سره کافر دی لکه څرنګه چې مخکې تير شول.

والله والي التوفيق وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم.

د پیغمبر ﷺ د لمانځه طریقه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على عبده ورسوله نبيّنا محمد، وآله وصحبه، أما بعد:

د پیغمبر ﷺ د لمانځه د طریقې او کیفیت په بیان کښې دا یو څو مختصری خبری هر مسلمان سړي او ښځی ته وړاندی (پیش) کوم، د دي لپاره چې په دغه لمانځه کښې د پیغمبر ﷺ متابعت او پیروي کوشش وکړي هر هغه څوك چې تري خبردارشي؛ لکه څرنګه چې نبي ﷺ په یو حدیث کښې چې إمام بخاري روایت کړی دی فرمایلي: "**صلّوا كما رأيتموني أصلي**"[1].

ترجمه: لمونځ وکړئ په هغه طریقه کومه چې تاسي زما د لمونځ کولو لیدلي.

ا ودا دی لوستونکي ته د هغې بیان:

---

(۱) بخاري په (الأذان) کښې په دي [۵۹۵] نمبر روایت کړی، او الدارمي په کتاب الصلاة [۱۲۲۵] کښې ذکر کړی.

۱- اودس به په كامل شكل وكړی، او هغه دا چې داسې اودس به وكړي لكه څرنګه چې الله تعالى ورته أمر كړی دی، تر څو د هغه په دی وينا عمل وكړي، چې فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى ٱلْمَرَافِقِ وَٱمْسَحُواْ بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ ﴾[المائدة: ٦].

ترجمه: ای مؤمنانو! كله چې تاسو د لمانځه إراده وكړی، نو خپل مخونه پريمنځئ، او لاسونه تر څنګلو پورې پريمنځئ، او په سرونو مسح وكړئ، او پښې تر ښنګرو (ګيټيو) پورې پريمنځئ.

او د پيغمبر ﷺ په دی وينا عمل وكړي چې فرمائي: **لا تُقبل صلاة بغير طهور**"[1].

ترجمة: يعنى: بغير له پاكي (اوداسه) لمونځ نه قبليږي.

---

(۱) صحيح مسلم، په كتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة، كښې روايت كړي حديث نمبر/۲۴۴، او ترمذي په الطهارة كښې په دي نمبر(۱) روايت كړي.

۲- لمونځ کونکي (چې هر چیري وي) خپل ټول ځان به (بدن) د قبلي (کعبی) طرف ته مخ کوي،او په زړه سره به د هغه لمانځه إراده اونیت کوي چې أداء کول یې غواړي، که فرض وي او که نفل، او په ژبه به نیت نه وائي؛ ځکه دا کار ناروا او بدعت دی، او پیغمبرﷺ او د هغه أصحابو (ملګرو) نه دی کړی، او که چیري لمونځ کوونکی إمام وو، یا یې تنها (یوازي) لمونځ کاوو، نو مخي ته یې باید ستره یعنی داسي یو شی وي چې لمونځ ورته وکړي، او په لمانځه کښې د قبلی طرف ته مخ کول شرط دي، بغیرله یو څو څرګندو (ښکاره) مسألو (حالاتو) چې علماوو د هغی وضاحت په خپلو کتابونو کښې کړی دی.

۳- د لمانځه د شروع تکبیر (الله أکبر) به وائي، او د سجدی ځای ته به ګوري.

۴- د تکبیر (الله أکبر) ویلو په وخت به دواړه لاسونه د اوږو یا غوږونو تر برابري پورې پورته کوي.

۵- دواړه لاسونه به پر سینه کیږدي، او ښي لاس به یې د چپ لاس د ورغوي (څپړی) او مړوند (لیچی) او ځنګلی د پاسه وي، ځکه له پیغمبرﷺ څخه همدا ډول ثابت شوي دي.

٦- دلمانځه د شروع (استفتاح) دعاء لوستل سنت دي، اوهغه داده: "**اللهم باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب، اللهم نقني من خطاياى كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس، اللهم اغسلني من خطاياى بالماء والثلج والبرد**".

ترجمه: اى الله! له ما څخه زما ګناهونه دومره ليرى کړى، لکه شرق او غرب دى چې له يوبل څخه ليرې کړي دي. اى الله! ما له ګناهونو څخه داسي پاك کړي لکه سپينه جامه چې له خيري څخه پاکه شي، اى الله! ما له ګناهونو څخه په اوبو او واوره او ږليې پريمنځه (پاك کړه).

او که وغواړي د دغى پر ځاى دى دا دعاء ووائي: "**سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك**".

ترجمه: اى الله! ته پاك يې ستا ثنا صفت وايو، او ستا نوم مبارك او با برکته دى، اوستا شان ډير لوړ او اوچت دى، اوستا څخه بغير د عبادت بل مستحق نشته.

او کولاى شي ددى دواړو دعاګانوڅخه بغير بله د استفتاح (د لمانځه د پيل) داسي کومه دعاء ووايې چې له پغيمبر ﷺ

څخه ثابته وي، او بهتره د اده چې كله يوه او كله بله دعاء ووائي؛ ځكه په دې كښې پوره متابعت او پيروي ده.

او له هغې وروسته به "أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم" ووائي.

ترجمه: زه له رټل شوي شيطان څخه الله ته پناه وروړم، د ډير بخښونكي او مهربان الله په نامه سره (شروع كوم).

او ورپسې به سورت فاتحه: ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ ولولي

-ترجمه: ټول صفتونه دألوهيت خاص الله لره دي چې پالونكي د ټولو مخلوقاتودي-؛ ځكه پيغمبر ﷺ فرمائي: "لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب"[1].

ترجمه: څوك چې په لمانځه كښې (الحمد لله) سورت ونه وائي، د هغه لمونځ نه صحيح كيږي، او له (الحمد لله) وروسته

---

(١) بخاري، په (كتاب الاذان، باب وجوب القراءة للامام والمأموم) كښې روايت كړي، حديث نمبر/٧٥٢، او مسلم، په (كتاب الصلاة، باب وجوب قراءة الفاتحة في كل ركعة) كښې روايت كړي، حديث نمبر/٣٩٤.

به جهري لمانځه کښې په لوړ آواز، او په سري لمانځه کښې به تيت (سوکه) اواز (چې څوک يې نا اوري) آمين وائې.

او بيا به دکوم سورت آياتونه چې ورته اسانه وي ولولي.

۷- رکوع به په داسی حال کښې کوي چې (الله أكبر) به وائې، او دواړه لاسونه به د اوږو يا غوږونو تر برابري پورې پورته کوي، او سر به د رکوع په حال کښې له شاه سره برابر ساتي (يعني ښکته يا پورته به يې نه نيسي)، او دواړه لاسونه به په زنګنونو داسي ږدي چې ګوتې به يې پراخه وي، او په رکوع کښې به له اطمئنان او آرامي څخه کار اخلي، يعني تيزي به نه کوي، او (سبحان ربي العظيم) يعني: [زما لوي پروردیګار پاك دي] به پکې وائې، او بهتره د اده چې دری يا ډير ځله يې تکرار کړي، او مستحب ده چې دا هم ورسره ووائې: **سبحانك اللهم وبحمدك، اللهم اغفرلي**" (يعنی: پاك يې ته ای زما الله! او ستا حمد او ثنا وايم، ای زما الله ته ماته مغفرت او بخښنه وکړه).

۸- له رکوع څخه به په داسی حال کښې سر راپورته کړي چې لاسونه به داوږو يا غوږونو تر برابري پورې پورته کوي، او که

إمام وو یا یې تنها لمونځ کاوه، نو داسي به وائې: "**سمع الله لمن حمده**" (یعني: الله د هغه چا اواز اوري، چې دده ثنا او پاکي بیان کړي). او د ولاړې په حالت کښې به وائي: "**ربنا ولك الحمد حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه، ملء السماوات وملء الأرض وملء ما بينهما، وملء ما شئت من شيء بعد**" (یعني: ای زمونږ پروردیګاره! ټول حمد او ثناء او ستاینه تا لره دي، ډیر زیات ښه او با برکته د أسمانونو او ځمکي د ډکوالي په اندازه، او د دواړو تر منځ چې څه دي، د هغې په اندازه، او د هغې څخه پرته چې څه وغواړي، د هغې په أندازه).

او که چیرې مقتدي وو، (یعني په إمام پسې یې لمونځ کاوه)، نو بیا به له رکوع څخه د راپورته کیدو په وخت "**ربنا ولك الحمد**" تر پایه پورې وائي.

او که چیرې دوي (إمام، مقتدي او تنها لمونځ کونکی) له تیر ذکر څخه وروسته دا دعاء هم ووائي، نو ښه به وي: "**أهل الثناء والمجد، أحق ما قال العبد، وكلنا لك عبد، اللهم لا مانع لما أعطيت، ولا معطي لما منعت، ولا ينفع ذا الجد منك الجد**". ځکه چې له پیغمبر ﷺ څخه ثابته ده

ترجمه: د ثناء او ستاینې او لویې څښتن دی، دا وینا ډیره حق ده چې بنده یې کوي (او مونږ ټول ستا بندګان یو) چې ای زما الله څوك منع کوونکي نشته د هغه څه چې ته یې ورکوی، او نه ورکوونکي شته د هغه څه چې ته یې منعه کوي، او ستا په وړاندی مالدار ته د هغه مال ګټه نه ورسوي. ؛.

او مستحب دي چې لمونځ کوونکي (که إمام وي، او که مقتدي، یا تنهاء یواځي) په دی حالت کښې هم لاسونه په سینه کیږدي، لکه څرنګه چې یې له رکوع څخه مخکي د قیام (ولاړی) په حالت کښې ایښودل؛ ځکه چې له پیغمبر ﷺ څخه د وائل بن حجر او سهل بن سعد ﷺ په حدیث کښې د دی خبری دلیل او ثبوت شته.

۹- سجده به په داسې حال کښې کوي چې (الله أكبر) به وائي، او که کولای شي نو زنګنونه به د لاسونو مخکي ځمکی ته یوسي، او که دا ورته سخته وه، نو بیا دی لومړی لاسونه کیږدي او بیا زنګنونه، او د پښو او لاسونو د ګوتو مخونه به یې قبلی ته وي، او د لاسونو ګوتی به له یو بل سره نږدی ساتي، او په لاندی اوو أندامونو به سجده کوي: (تندی له

پوزی سره، دواړه لاسونه، دواړه زنګنونه، او د دواړو پښو د ګوتو په لاندینی برخه).

او په سجده کښې به "**سُبحان ربي الأعلى**" (پاك دی زما ډیر عالي شان پروردګار) وائي، او سنت ده چې درې ځله، یا زیات تکرار کړي، او مستحب ده چې دا هم ورسره ووائي: "**سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفرلي**" (یعنی: پاك یې ته ای زما الله! او ستا حمد او ثنا وایم، ای زما الله ته ماته مغفرت او بخښنه وکړه) او ډیره دعاء به کوي؛ ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي: "**فأما الركوع فعظموا فيه الرب، وأما السجود فاجتهدوا في الدعاء فقمن أن يستجاب لكم**"[1].

ترجمه: په رکوع کښې د الله تعالی لویې بیان کړئ، او په سجده کښې د دعاء کولو کوښښ او خواري وکړئ؛ ځکه زیات أمید شته چې دعاء مو قبوله شي.

---

(۱) مسلم، په (کتاب الصلاة، باب النهي عن قراءة القرآن في الركوع والسجود) کښې روایت کړي، حدیث نمبر /٤٧٩.

او له خپل رب څخه به د دنیا او آخرت د خیر غوښتنه کوئ، که لمونځ فرضي وي او که نفلي.

او دواړه متې له تخرګو څخه، اوخیټه له ورنوو څخه، او ورنونه له پنډیو څخه جودا (لیري) ساتي، او همدا راز څنګلی به له ځمکې څخه پورته نیسي؛ ځکه پیغمبرﷺ فرمائي: "**اعتدلوا في السجود، ولا يبسط أحدكم ذراعيه انبساط الكلب**"[1].

ترجمه: ځان په سجده کښې ښه برابر وي، او یو کس ستاسي د ي خپلی څنګلي نه غوړوي پشان د غوړولو د سپي.

۱۰- له سجدی څخه به په داسي حال کښې سر راپورته کړي چې (**الله أكبر**) به وائي، او چپه پښه (قدم) به څملوي (پریباسي) او وربانډی به کښینې، او ښي پښه (قدم) به ودروي، او لاسونه به په ورنونو او زنګنونو کیږدي، او دا دعاء به وائي: "**رب اغفر لي، وارحمني، واهدني، وارزقني، وعافني، واجبرني**" (ای الله تعالی! ماته بخښنه وکړه، او رابانډي مهربانه شه، او هدایت راته

---

(۱) بخاري، په (کتاب الاذان، باب لا يفترش ذراعيه في السجود) کښې روایت کړي، حدیث نمبر /۸۸۲.

وکړه، او روزي راکړه، او مات عافيت راکړه، او نقصان مي پوره کړه.

او په دی کښې به له أرامي او اطمئنان څخه کار اخلي، يعني تيزي به نه کوي.

۱۱- تکبير (الله أكبر) به ووائې، او دوهمي سجدی ته به ولاړ شي، او د لومړی سجدی په شان به يې وکړي.

۱۲- بيا به تکبير (الله أكبر) ووائي، او سر به له سجدي څخه راپورته کړي، او د دواړو سجدو تر منځ ناستي په شان به لږ (مختصر) کښيني، او دی ناستی ته (جلسة الاستراحة) ويل کيږي، او دا مستحب کار دی، او پريښودل يې ګناه نه لري، او کوم ذکر او دعاء هم په کښې نشته.

بيا به دوهم رکعت ته په داسی حال کښې پاڅيږي چې لاسونه به يې په زنګنونو تکيا کړي، اوکله چې پاڅيد نوسورت فاتحه (الحمد لله) او ورسره به کوم سورت يا آياتونه چې ورته آسانه وي ولولي، او بيا به دا رکعت هم د لومړي رکعت په شان وکړي.

۱۳- که چيري لمونځ دوه رکعتي وو لکه د سهار يا د جمعې، اويا د اخترونو لمونځ، نو له دوهمي سجدې وروسته به داسي کښيني، چې ښي پښه (قدم) به ودروي، اوچپه پښه (قدم) به څملوي (پرېباسي) او ښي لاس به په ښي ورانه کيږدي، او د اشارې له ګوتې پرته به نورې ګوتې راټولي کړي، او په دې يوه ګوته به توحيد (د الله يو والي) ته اشاره کوي.

او که داسي يې وکړل چې د ښي لاس کوچنۍ ګوته، او ورسره دوهمه ګوته راټولي کړي، او د منځ ګوته له غټې ګوتې سره حلقه (دائره) کړي،او د شهادت په ګوته اشاره وکړي، نو هم ښه کار دی؛ ځکه د إشاري دا دواړه طريقې له پيغمبر ﷺ څخه ثابتې دي، اوبهتره دا ده چې کله په يو ډول اوکله په بل ډول إشاره وکړي، او له هغې وروسته به دا تشهد ووائي: **"التحيات لله، والصلوات، والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عبادالله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله"**

ترجمه: ټول سلامونه يا ټول حمدونه او ثناګاني او ټول لمونځونه او دعاء ګاني ټول ښه أعمال او أقوال، خاص الله تعالى لره دي، سلام، او د الله رحمت او برکتونه دي پر تا وي

اي پيغمبر ﷺ، سلام دي وي پر مونږ، او د الله په نيكو بندګانو، زه دا ګواهي وركوم چې د الله تعالى څخه بغير د عبادت بل مستحق نشته، او دا ګواهي وركوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دى.

او بيا به دا درود ووائي: "**اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد**".

ترجمه: اى الله تعالى رحمت نازل كړه په محمد ﷺ باندې او د هغه په كورينې، لكه څرنګه چې تا رحمت نازل كړي وو په إبراهيم عليه السلام او د هغه په كورينې، بيشكه ته ستايل شوى، ا ود لوى عظمت څښتن يې، او بركت نازل كړه په محمد ﷺ باندې او د هغه په كورينې، لكه څرنګه چې تا بركت نازل كړى وو په إبراهيم عليه السلام او د هغه په كورينې.

او بيا به ددى دعاء په ويلو سره له څلورو شيانو څخه پناه وغواړي.

"اللهم إني أعوذ بك من عذاب القبر، ومن عذاب جهنم، ومن فتنة المحيا والممات، ومن شر فتنة المسيح الدجال".

ترجمه: ای الله تعالی! زه له تا څخه د دوزخ او قبر له عذاب څخه، او د ژوند او مرګ له فتني څخه، او د دجال له فتني څخه پناه غواړم.

بيا دي د دنيا او آخرت له خيرونو څخه چې څه غواړي د هغی دعاء دي وکړي، او که د مور او پلار او نورو مسلمانانو لپاره يې دعاء وکړه، نو هم پروا نه لري، که فرض لمونځ وي، اوکه نفل او سنت وي؛ ځکه چې ابن مسعود رضي الله عنه په حديث کښې کله چې پيغمبر ﷺ ورته تشهد وښودلو، دا وينا عامه ده چې: **"ثم يتخير من الدعاء أعجبه إليه فيدعوه"**[1]، او په بل روايت کښې فرمايي: **"ثم ليتخير من المسألة ما شاء"**[2].

---

(۱) بخاري په (کتاب الاذان باب ما يتخير من الدعاء بعد التشهد) کښې روايت کړي، حديث نمبر/۸۳۵.

(۲) مسلم، په (کتاب الصلاة، باب التشهد في الصلاة) کښې روايت کړي، حديث نمبر/۴۰۲.

ترجمه: بیا به چې کومه دعاء یې ښوښه وي هغه دي ووائي، او په دی دواړو روایتونو کښې د پیغمبرﷺ وینا عامه ده، ټولو هغه دعاګانو ته شاملیږي، چې بنده ته په دنیا او آخرت کښې ګټه او فائده رسوي.

بیا به په پای کښې ښي او چپ طرف ته سلام وګرځوي، او "السلام علیکم ورحمة الله" به ووائي: (یعنی: سلام او د الله رحمت دي وي پر تاسو باندی).

۱۴- که چیري لمونځ دري رکعتي وو، لکه د مابنام لمونځ، یا څلور رکعتي وو، لکه د ماسپښین، مازدیګر، او ماخوستن لمونځونه، نو مخکي ذکر شوي تشهد، او درود، به ووائي، بیا به (دریم رکعت ته) پاڅیږي، او د پاڅیدو په وخت به لاسونه په زنګنونو تکیا کړي.

او همدا راز به دواړه لاسونه د اوږو یا غوږونو تر برابر پورې پورته کړي، او (الله أکبر) به ووائي، او لاسونه به پر سینه کیږدي، لکه څرنګه چې مخکي ذکر شو، او یواځي سورت فاتحه (الحمد لله) به ووائي، او که یې کله کله د ماسپښین د لمانځه په دریم او څلورم رکعت کښې له (الحمد لله) وروسته

بل سورت يا څه آياتونه ولوستل نو هم پروا نه لري؛ ځكه چې د أبو سعيد ﷺ په حديث كښې چې له پيغمبر ﷺ څخه يې روايت كړي دي، ددى خبرې دليل شته.

او كه چيرې د اول تشهد څخه وروسته يې درود ونه ويلو نو پروا نه لري؛ ځكه چې دا مستحب دى او په اول تشهد كښې واجب نه دى.

بيا به د مانبام له دريم ركعت، او د ماسپښين او مازديګر او ماخوستن له څلورم ركعت وروسته هماغسې تشهد ووايې، لكه د دوه ركعتي لمانځه په بيان كښې مو چې ذكر كړو، او بيا به ښي او چپ طرف ته سلام وګرځوي.

له سلام ګرځولو وروسته به درى ځلي "أستغفر الله" (يعني: بخښنه غواړم له الله تعالى څخه)، او بيا دا دعاء ووايې: "**اللهم أنت السلام ومنك السلام، تباركت يا ذا الجلال والإكرام**".

ترجمه: اى زما الله! ته سلام يې، او سلامتيا ستا له طرفه ده، د بركت خاوند يې، اى د لوي (عظمت) او اكرام څښتنه.

بيا به دا دعاء ووائي: "**لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، اللهم لا مانع لما أعطيت ولا**

معطي لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد، لا حول ولا قوة إلا بالله لا إله إلا الله ولا نعبد إلا إياه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن، لا إله إلا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون".

ترجمه: نشته مستحق د عبادت او بندګی مګر يواځي يو الله تعالى دى، يوځي دى شريك نه لري، د پادشاهي خاوند دى، ټول حمد او ثنا او صفت هغه لره دي، او هغه پر هر څه قدرت لري، اى زما الله! نشته څوك منع كوونكي د هغه څه چې ته يې وركوى، او نه وركونكي د هغه څه چې ته يې منع كوي، او مالداره كس ته ستا په وړاندى د هغه مالداري ګټه نه رسوي، له ګناهونو څخه څوك نه شي راګرځيدلاى، او نه هم څوك دا توان او قدرت لري مګر د الله تعالى په توفيق سره، نشته مستحق د عبادت مګر يواځي يو الله تعالى دى، او مونږ د هغه پرته د بل چا عبادت نه كوو، نعمت او إحسان خاص د ده له جانبه دى، او غوره ستاينه خاص دى الله تعالى لره ده، نشته مستحق د عبادت مګر يواځي يو الله تعالى دى، بندګي مو خاص هغه لره ده، كه څه هم كفار پري خوښ نه دي.

او دري ديرش (٣٣) ځله به "سبحان الله" او دري ديرش (٣٣) ځله به "الحمد لله" او دري ديرش (٣٣) ځله به "الله أكبر" ووائي، او

دا ټول نه نوي (۹۹) ځل شو، او د سلم (۱۰۰) ځل د پوره كولو لپاره به يو ځل "لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير" ووائي.

ترجمه: نشته لائق د عبادت مګر يواځي يو الله تعالى دى، هغه يو دى شريك نه لري، د پادشاهي خاوند دى، او د حمد او ثنا او صفت مستحق دى، او په هر څه قدرت لري.

او همدا راز به له هر لمانځه څخه وروسته، آيت الكرسي،[1] ﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ﴾،او﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ۝١ ﴾ او﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ ﴾ ووائي، او د دى دريو سورتونو د سهار او مابنام له لمونځونو وروسته دري دري ځله ويل مستحب دي؛ ځكه چې له پيغمبر ﷺ څخه په دى هكله آحاديث روايت شوي دي.

ا ودا ټول أذكار سنت دي، او ويل يې فرض نه دي. او د هر مسلمان سړي او ښځى لپاره په كار دى چې د ماسپښين د

---

(۱) آية الكرسي د سورت بقري (۲۵۵) آيت ته ويل كيږي.

لمانځه مخكي څلور ركعات (سنت)، او وروسته يې دوه ركعاته، او د ماښام له لمانځه وروسته دوه ركعاته، او همدا راز د ماخوستن له لمانځه وروسته دوه ركعاته، او د سهار له لمانځه څخه مخكى دوه ركعاته سنت وكړي، چې دا ټول دولس ركعته جوړيږي، او دى ته "سنن رواتب" ويل كيږي، او پيغمبر ﷺ به د إقامت په حالت كښې (يعنى چې په سفر كښې به نه وو) دا سنت په دوامداره شكل اداء كول، او په سفر كښې به يې پريښودل، ليكن وتر او د سهار سنت به يې په سفر او د اقامت په حالت كښې (چې مسافر به نه وو) هميشه كول.

او بهتره دا ده چې دا مؤكد سنت او وتر په كور كښې وكړل شي، او كه په مسجد كښې يې وكړي، نو هم پروا نه لري؛ ځكه پيغمبر ﷺ فرمائي: **"أفضل الصلاة صلاة المرء في بيته إلا المكتوبة"**[1] يعني له فرض لمانځه بغير د بنده غوره لمونځ هغه دي چې په كور كښې يې وكړي.

---

(١) بخاري په (كتاب الاعتصام، باب ما يكره من كثرة السؤال) كښې روايت كړي، حديث نمبر/ ٧٢٩٠، اومسلم، په (كتاب صلاة المسافرين، باب استحباب صلاة النافلة في بيته) كښې روايت كړي، حديث نمبر/ ٧٨١.

او په دوامداره شکل د دی سنتو أداء کول جنت ته د تللو سبب ګرځي، پیغمبر ﷺ په یو حدیث کښې چې إمام مسلم[1] روایت کړی دی فرمائي: "من صلى اثنتي عشرة ركعة في يومه وليلته تطوعاً، بنى الله له بيتاً في الجنة".

ترجمه: څوك چې په (یو شوارو) یعني شپه او ورځ کښې دولس رکعته نفل (له فرضو څخه بغیر نور لمونځ) وکړي، نو الله تعالی به ورته په جنت کښې کور جوړ کړي.

اوکه د مازدیګر له لمانځه څخه یې مخکې څلور رکعاته او د مابنام او ماخوستن د لمانځه څخه یې دوه دوه رکعاته نفل مخکې وکړي نو ښه به وي؛ ځکه چې له پیغمبر ﷺ څخه په دی اړوند صحیح ثبوت او دلیل شته.

او که د ماسپښین د لمانځه څخه یې څلور رکعاتونه مخکې وکړه او څلور یې تري وروسته وکړه نو هم ښه کار دی؛ ځکه

---

(١) مسلم په (كتاب صلاة المسافرين، باب فضل السنن الراتبة) کښې روایت کړي، حدیث نمبر/٧٢٨.

نبي ﷺ فرمايلي: "**من حافظ على أربع ركعات قبل الظهر وأربع بعدها حرمه الله تعالى على النار**".

ترجمه: چا چې د ماسپښين د لمانځه څخه مخکې او وروسته په ځلور رکعتونو همیشه والي وکړو؛ نو الله تعالى به دغه إنسان په اور (يعني جهنم) حرام کړي.

اوداحديث إمام أحمد اوأهل سنن په صحيح سند سره د أم حبيبي رضي الله عنها څخه روايت کړي.

ددی حديث مقصد دا دی چې په راتب سنتو به دوه رکعاتونه د ما سپښين د لمانځه څخه وروستو ورزياتوي؛ ځکه راتب سنت هغه د ماسپښين د لمانځه څخه ځلور رکعاتونه مخکې او دوه رکعاته وروسته دي، نوکله چې د ماسپښين د لمانځه څخه وروسته دوه رکعاته زياتي وکړي نو د أم حبيبة رضي الله عنها په حديث به عمل وشي.

والله ولي التوفيق، وصلى الله وسلم على نبينا محمد بن عبد الله، وعلى آله وصحبه، وأتباعه بإحسان إلى يوم الدين.

د مريض د لمانځه اداء كولو طريقه

علماؤ په دې إجماع كړې چې څوك د ودريدلو توان (قدرت) نه لري نو ورته جائز دي چې لمونځ په ناسته وكړي، او كه د ناستي د لمانځه څخه كمزوري شو نو لمونځ به په اړخ وكړي چې قبلي طرف ته به مخ كوي،او مستحب دا ده چې په ښي اړخ لمونځ وكړي، او كه چېرې په اړخ باندي د لمانځه كولو څخه كمزوري شو نو لمونځ دې په ستوني ستاق پريوتلو باندي وكړي، عمران بن حصين ته د نبي ﷺ له دې وينا له وجې چې فرمايلي: **صل قائماً فإن لم تستطع فقاعداً فإن لم تستطع فعلى جنب**".[1] بخاري روايت كړې او نسائي ورپكي دا هم زيات كړي "**فإن لم تستطع فمستلقياً**".

ترجمه: لمونځ په ولاړه وكړه كه قدرت يې نه لري نو په ناسته يې وكړه، او كه قدرت يې نه لري نو په اړخ يې وكړه. . . .او كه قدرت يې نه لري نو په ستوني ستاق پريوتلو يې وكړه.

---

(١) بخاري په (الجمعة)، كي په دي نمبر/١٠٥٠ روايت كړي دي، او أبوداود په (الصلاة) كي په دي نمبر/٨١٥ روايت كړي.

او څوك چې د ودريدلو قدرت ولري او د ركوع او سجدي كولو څخه عاجز وي نو په لمانځه كې ودريدل ورڅخه نه ساقط كيږي بلكي لمونځ به په ولاړه كوي او ركوع لپاره به اشاره كوي، او بيا به كښيني او سجدي لپاره به إشاره كوي، د الله تعالى ددى وينا له وجي چې فرمائي: ﴿وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾﴾ [البقرة: ٢٣٨].

ترجمه: او ودريږئ الله تعالى ته تابعداري كونكي.

او د نبي ﷺ ددى وينا له وجي چې فرمايلي: "صل قائماً". يعني: په ولاړه لمونځ وكړه.

او د الله تعالى ددى وينا د عموميت له وجى چې فرمايلي: ﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسْتَطَعْتُمْ﴾ [التغابن: ١٦].

ترجمه: نو ويره كوئ د الله تعالى څخه څومره چې ستاسو وس رسيږي.

او كه په سترګو باندي مرض وي او اعتمادي ډاكټرانو ورته وويل: كه ستوني ستاق دى لمونځ كاو نو علاج يې ممكن دى او كه نه وي نو نه دى ممكن؛ نو ورته جائز دي چې په ستوني ستاق باندي لمونځ وكړي، او څوك چې د ركوع او سجدي

کولو څخه عاجز وي نو دا دواړه به په إشاره کوي او په سجده کې به د رکوع څخه لږ ډېر ټیټیږي، او که یوائي د سجدي څخه کمزوري وي نو رکوع به کوي او سجده به په اشاره کوي، او که شاه راټیټول ورته ممکن نه وو نو خپل څټ به لږ راټیټ کړي، اویا به ملا ټیټی وي لکه د رکوع د حال په شان نو هر کله چې د رکوع کولو إراده وکړي نو خپل راټیټوالي کې به لږ زیاتوالي راولي، او په سجده کې به مخ ځمکي ته د رکوع څخه ډېر نیژدی کوي که ورته ممکن وي، او که چیري په سر د إشاري کولو قدرت نه لري، نو نیت او وینا کول ورلره کافي دي، او په هیڅ حالت کې تري لمونځ نه معاف کیږي تر څو چې عقل یې په ځای وي، او هر کله چې مریض د لمانځه په منځ کې د هغه څه قدرت ولري چې ورنه کمزوري وو، د ودریدلواو یا ناستي او یا رکوع او سجدي د جملي څخه، او یا د اشاري څخه نو هغه به شروع کړي او خپل لمونځ به سرته ورسوي، او کله چې مریض او یا روغ إنسان د لمانځه څخه اوده پاتي شي او یا تري هیر شي نو واجب دي په دي انسان چې دغه لمونځ د خوب نه د راپاڅیدو او یا د ورپه یادیدو څخه سمدستي وروسته وکړي.

او ددغه قضائي لمونځ پريښودل د هغه خپل وقت ته چې په هغه كې وكړي جائز نه دی د نبي ﷺ له دی وينا له وجی چې فرمايلي: "من نام عن صلاة او نسيها فليصلها متى ذكرها لا كفارة لها إلا ذلك".(١)

ترجمه: څوك چې د لمانځه څخه اوده پاتي شو او يا يې هير شو نو دغه لمونځ دي وكړي كله چې ورپه ياد شي، نشته بله كفاره دغه قضائي لمونځ لره مګر همدغه قضائي كول.

اوبيايې دالله داقول وويلو: ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ﴾[طه: ١٤].

ترجمه: او پابندي د لمانځه كوه لپاره د ياداشت زما.

او په هيڅ يو حالت كې د لمونځ پريښودل نه دي جائز، بلكي په عاقل بالغ باندی واجب دي چې د مرضتيا په ورځو كې په لمانځه ډير حرص او كوښښ وكړي د روغ والي د ورځو څخه، نو ده لره جائز نه دي د فريضي لمونځونو پريښودل تر

---

(١) بخاري په (مواقيت الصلاة) كې په دی نمبر/٥٢٢ روايت كړی دی، او مسلم په (المساجد ومواضع الصلاة) كې په دی نمبر/ ١١٠٢، ١١٠٤ روايت كړی دی.

دی چې وخت يې ووځي اګر که مريض وي؛ تر څو پورې چې عقل يې په ځای وي؛ بلکې ورباندې لازم دي چې په خپل وقت کې د خپل وسعې مطابق لمونځ وکړي.

او کله که قصداً لمونځ پريږدي او دا عاقل وي او د لمانځه په شرعي حکم خبر وي او په حکم شرعي مکلف وي ، او د کولو قدرت يې لري اګر که په إشاره وي نو يو ډله علماؤ په دی نظر دي چې په دی کار داسې کافر کيږي، د نبي ﷺ ددی وينا له وجې چې فرمائي: "**العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركها فقد كفر**".(١)

ترجمه: هغه معلومداره نښه او علامه زمونږ او ددوي تر منځ هغه لمونځ دی؛ نو چا چې لمونځ پريښودلو نو په تحقيق سره کفر يې وکړو.

---

(١) ابن ماجه په (كتاب إقامة الصلاة) باب ما جاء في من ترك الصلاة ،کې روايت کړی، او ترمذي په (الايمان) کې په دی نمبر/٢٥٤٥ روايت کړی.

او د نبي ﷺ ددی وینا له وجی چې فرمائي: "**رأس الأمر الإسلام وعموده الصلاة وذروة سنامه الجهاد في سبيل الله**".(۱)

ترجمه: د ټولو کارونو سر إسلام دی او ستن يې لمونځ او د ملا د تير اوچت ګوف يې جهاد في سبيل الله دی.

او که د هر لمونځ کول پري خپل وقت کې ګران وو نو جائز دي ورته چې د ماسپښين او مازديګر لمونځ يو ځای وکړي د ماسپښين په وقت کې، او د مابنام او ماخوستن لمونځ يو ځای وکړي د مابنام په وقت کې، او ديا ماسپښين او مازديګر لمونځ د مازديګر په کې وقت وکړي، او د مابنام او ماخوستن لمونځ د ماخوستن په وقت کې وکړي، ځرنګه چې ورته اسان وي.

اوکه خوښه يې وي مازديګر لمونځ دی ماسپښين ته مخکي کړي اويادی ماسپښين لمونځ مازديګر ته وروسته کړي ، او که خوښه يې شي نو ماخوستن لمونځ دی مابنام ته مخکي

---

(۱) ترمذي په (الايمان) کې په دی نمبر/ ۲۵۴۱ روايت کړی، او إمام أحمد په (مسند الانصار) کې په دی نمبر/۲۱۰۰۸، ۲۱۰۵۴ روايت کړی دی.

کړي، او یا دی د مانبام لمونځ ماخوستن ته وروسته کړي ، او هر چې د سهار لمونځ دی نو هغه نه د مخکي او نه د وروسته لمونځ سره یوځای کولای شي؛ ځکه وقت یې د مخکي او ورسته دواړو لمونځونو څخه ځانته دی.

دا ځني هغه څه دي چې د مریض حالاتو پورې په لمانځه او اوداسه کې تعلق لري.

د الله تعالی څخه غواړم چې د مسلمانانو مریضانو ته روغوالی په نصیب کړي، او ګناهونه یې معاف کړي، او پر مونږ ټولو په دنیا او اخرت کې د معافي احسان وکړي، بیشکه چې مهربان او عزتمند ذات دی.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه.

د رمضان المبارك د مياشتي د روژو نيولو او تراويح کولو فضيلت او د ځنيو هغو مهمو أحکامو بيانول چې کيدای شي ځنيو خلکو ته ښکاره او څرګنده نه وي

د عبد العزيز بن باز څخه هرهغه مسلمان ته چې دي لره ووينې، الله رب العزت دي ما او دوي دإيمان په لار روان کړي، او ما او دوي ته دي د قرآن کريم او د حديثو د پوهې توفيق راکړي. آمين.

سلام عليكم ورحمة الله وبركاته، أما بعد:

دا يولنډ او مختصر نصيحت دی چې د رمضان د مياشتی د روژي نيولو او تراويح کولو، او په دی مياشت کې نيکو کارونو ته د مخې کولو فضيلت سره تعلق لري ، سره د ځنې مهمو أحکامو بيانولو چې کيدای شي ځنې خلکو ته څرګند او ښکاره نه وي، د نبي ﷺ څخه ثابت دي چې ده به د رمضان مياشتي په راتلو خپلو ملګرو ته زيري ورکاوو ، او ددی خبر به يې ورته ورکولو چې په دی مياشت کې د مهرباني او رحمت او جنت دروازي بيرته کولاي شي او د جهنم دروازي بندولي شي

او شيطانان ورپكي تړلي شي،او نبي ﷺ فرمائي: "**إذا كانت أول ليلة من رمضان فتحت أبواب الجنة فلم يغلق منها باب وغلقت أبواب جهنم فلم يفتح منها باب وصفدت الشياطين، وينادي مناد: يا باغي الخير أقبل، ويا باغي الشر أقصر، ولله عتقاء من النار، وذلك كل ليلة**".(١)

ترجمه: كله چې د رمضان المبارك د مياشتي اوله شپه شي نو د جنت دروازې بيرته كړي شي؛ نو يوه دروازه تري هم بنده نه وي، او د جهنم دروازې بندي كړي شي نو يوه دروازه تري هم بيرته نه وي، او شيطانان وتړلې شي، او يو اواز كونكي اواز كوي: أي د نيكى طلب كونكي رامخامخ شه، او اى د بدى طلب كونكي د شر كولو څخه بند شه،او دالله لپاره د اور څخه ازاد كړي شوي دي ، او دا هره شپه وي.

---

(١) ترمذي په (الصوم، باب ما جاء في فضل شهر رمضان) كې په دى نمبر/٦٨٢ روايت كړي دي، او ابن ماجة په (الصيام، باب ما جاء في فضل شهر رمضان) كې په دى نمبر/١٦٤٢ روايت كړي دي.

او نبي ﷺ فرمائي: "**جاءكم شهر رمضان شهر بركة يغشاكم الله فينزل الرحمة ويحط الخطايا ويستجيب الدعاء، ينظر الله على تنافسكم فيه فيباهي بكم ملائكته، فأروا الله من أنفسكم خيراً فإن الشقى من حرم فيه رحمة الله**".[1]

ترجمه: راغله تاسي ته د رمضان مياشت، د برکتونو مياشت ده، پټوي تاسي لره الله رب العزت په خپلو رحمتونو کې، نو رحمتونه درباندي نازلوي، او ګناهونه درڅخه رژوي او دعاګانې مو قبولوي، ګورئ الله رب العزت ستاسي مخکي والي ته د يو بل څخه نيکو کارونو ته په دي مياشت کې؛ نو فخر کوي په تاسي په خپلو ملائکو باندي نو وښائي الله تعالى ته د خپلو ځانونو څخه د خير کارونه؛ نو بدبخته هغه څوک دي چې په دې مياشت کې د الله د رحمت څخه محروم کړی شي.

او نبي ﷺ فرمائي: "**من صام رمضان إيماناً واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه، ومن قام رمضان إيماناً واحتساباً غفر له ما تقد من**

---

(۱) په مجمع الزوائد کې هيثمي (۱۴۲/۳) ددي نسبت طبراني ته کړي په (الکبير) کې.

ذنبه، ومن قام ليلة القدر إيماناً واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه".(١)

ترجمه: چا چې د رمضان د مياشتي روژه د إيمانداري په خاطر او د ثواب په نيت ونيوله نو مخكنى ګناهونه به ورته وبښلى شي، او چا چې د رمضان تراويح د إيمانداري په خاطر او د ثواب په نيت وكړي نو مخكني ګناهونه به ورته وبښلى شي، او چا چې د ليلة القدر تهجد او تراويح د إيمانداري په خاطر او د ثواب په نيت وكړي نو مخكني ګناهونه به ورته وبښلى شي.

او نبي ﷺ وائي چې الله تعالى فرمايلي: **"كل عمل ابن آدم له، الحسنة بعشر أمثالها إلى سبعمائة ضعف إلا الصيام فإنه لي وأنا أجزي به، ترك شهوته وطعامه وشرابه من أجلي، للصائم فرحتان**

---

(١) بخاري په (صلاة التراويح، باب فضل ليلة القدر) كې په دى نمبر/٢٠١٤ روايت كړي دى، او مسلم په (صلاة المسافرين وقصرها، باب الترغيب في قيام رمضان) كې په دى نمبر/٧٦٠ روايت كړى دى.

فرحة عند فطره وفرحة عند لقاء ربه، ولخلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسك".[1]

ترجمه: دإنسان هر يو عمل خپل ځان لپاره دي، يوه نيكي يې په لس بدليږي تر اووه سوه پورى مګر روژه نيول، بيشكه دا خاص ما لره نيسي، او زه په دى بدله وركوم، خپل خواهشات او خوراك څښاك زما له وجي پريږدي ، روژه دار لپاره دوه خوشحالياني دي يوه يې د روژه ماتي په وقت كې ده، او بله يې كله چې د خپل رب سره مخامخ كيږي، او خامخا د روژه دار د خولي بوي د الله په نيزد دمسكو د خوشبوي څخه ډير د خوشبوي والا دي.

اود رمضان د روژى او تراويحو په فضيلت كې او دهر قسمه روژي په فضيلت كې ډېر زيات حديثونه موجود دي.

نو مؤمن ته مناسبه ده چې ددى فرصت (چانس) څخه فائده واخلي، او دا فرصت (چانس) هغه نعمت دى چې الله پري د

---

(١) بخاري په (الصوم، باب هل يقول إني صائم) كې په دى نمبر/١٩٠٤ روايت كړى دى.

روژي د میاشتي رالاندي کولو او ورسیدل وکړل؛ نو نیکو کارونو ته دي جلتي او مخکي والي کوي ، او د بدیو څخه دی ځان بچ ساتي ، اود هغه څه په أداء کولو کې دي کوښښ کوي چې الله پري فرض کړي، خاصکر پنځه وخته فرضي لمونځونه؛ ځکه لمونځ د إسلام ستن ده، او د کلمي نه وروسته ډیره لویه فریضه ده.

نو په هر مسلمان او مسلمانی په لمانځه همیشه والي کول اوپه خپل وقتونو کې ښه په قراره باندي کول واجب دي.

او د سړو په حق کې لمونځ په جمع کول ـ په هغه مسجدونوکي، چې الله تعالی پري حکم کړی چې ددغو مسجدونو عزت دی وکړی شي، او د الله تعالی نوم دی په دغو کښې یاد کړی شي ـ د ډیر مهمو واجباتوڅخه دی ؛لکه څرنګه چې الله تعالی فرمائي: ﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ [البقرة: ٤٣].

ترجمه: لمونځونه قائم کړئ او زکاتونه ورکړئ او لمونځ کونکو سره لمونځ وکړئ.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾ ﴾ [البقرة: ٢٣٨].

ترجمه: هميشه والي وکړئ په لمونځونو، اوخاصکر په منځني لمونځ (يعني د مازديګر) او ودريږئ الله ته په لمونځونو کې تابعدار.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١﴾ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ﴿٢﴾ ﴾ [المؤمنون: ١ – ٢].

ترجمه: په تحقيق سره کامياب دي هغه مؤمنان چې دوي په خپلو لمونځونو کې عاجزي کونکي دي.

ترډى چې الله فرمايلي: وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡفِرۡدَوۡسَ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾[المؤمنون: ٩ – ١١].

ترجمه: او هغه کسان چې په خپلو لمونځونو هميشه والي کوي، او هم دغه کسان وارثان د جنت دي، هغه کسان دي چې د جنت الفردوس حقدار به شي، او هم دوي به ورپکې هميشه لپاره وي.

او نبي ﷺ فرمايلي: "**العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركها فقد كفر**".(١)

ترجمه: هغه معلومداره ننبه او علامه زمونږ او ددوي تر منځ لمونځ دی، نو چاچې لمونځ پريښودلو؛ نو په تحقيق سره کفر يې وکړو.

او د لمانځه نه وروسته مهمه فريضه د زکات ورکول دي؛ لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ﴾ [البينة: ٥].

ترجمه: او دوي ته امر نه دی کړی شوی مګر په دی خبره چې يواځی د الله تعالى عبادت وکړی، په داسي حال کې چې عبادت به خاص الله لره وي، او له باطل پرستی نه به حق ته راګرځيدونکي او مايل وي، او لمونځ دی أداء کړي، او زکات

---

(١) إمام أحمد په (باقي مسند الانصار) کې د بريدة الأسلمي نه روايت کړي دی په دی نمبر/٢٢٤٢٨، او ترمذي په (الإيمان) باب ما جاء في ترك الصلاة، کې په دی نمبر/٢٢٢١ روايت کړی دی، او ابن ماجه په (إقامة الصلاة) باب ما جاء فيمن ترك الصلاة ،کې په دی نمبر/١٠٧٩ روايت کړی دی.

دى ورکړي، او همدارنګه کارونه چې أمر پرى کړى شوي محکم او کلك دين دي.

او فرمائي: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٥٦﴾﴾ [النور: ٥٦].

ترجمه: او لمونځ په ښه طريقه أداء کړى، او زکات ورکړى، او تابعداري د پيغمبر وکړئ ددى لپاره چې پر تاسې رحم وکړى شي.

او د الله کتاب او د پيغمبر حديثونه په دى دلالت کوي چې څوك د خپل مال زکات ورنه کړي، نو ددغه په سبب به ده ته عذاب ورکولى شي.

او د لمانځه او زکات نه وروسته د مهمو کارونو د جملي څخه د رمضان المبارك د مياشتي روژه نيول دي، اود رمضان روژه نيول د إسلام د هغه پنځو ارکانو څخه يو رکن دى چې د نبي ﷺ په دى قول کښې ذکر شوي: "بني الإسلام على خمس:

شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة وصوم رمضان وحج البيت".[1]

ترجمه: إسلام په پنځو بنيادونو جوړ او ولاړ دی، په دی إقرار کول چې بې له الله تعالی څخه د عبادت وړ او برحق معبود نشته، او محمد ﷺ د الله پيغمبر دی، او لمونځ کول او زکات ورکول او د رمضان د مياشتې روژه نيول او د کعبې شريفې حج کول د هغه چا لپاره چې هغې ته د تللو وس او توان ولري.

او په مسلمان لازم دي چې روژې او تراويح يې د هر هغه څه څخه رامنعه وساتي چې الله پرې حرام کړي د ويناوو او أعمالو څخه؛ ځکه د روژې نيولو مقصد د الله تعالی اطاعت او تابعداري ده، او د هغه د حرمتونو تعظيم کول دي،او د الله تعالی په تابعداری نفس عادتول دي او د خواهشاتو په مخالفتيا باندي، او د هغه څه څخه په صبر کولود نفس عادتول

---

(۱) بخاري په (الإيمان) باب بني الإسلام على خمس، کې په دی نمبر/۸ روايت کړی دی، او مسلم په (الإيمان) باب أركان الإسلام، کې په دی نمبر/۱۲ روايت کړی دی.

دي چې الله تعالى پرې حرام کړي دي، او د روژي نيولو مقصد تش د خوراك او څښاك، او د ټولو روژه ماتونکو شيانو پريښودل نه دي؛ نو له دى أمله د نبي ﷺ څخه په صحيح حديث کې راغلي چې فرمائي: "**الصيام جنة فإذا كان يوم صوم أحدكم فلا يرفث ولا يصخب فإن سابّه أو قاتله فليقل: إني صائم**".[1]

ترجمه: روژه ډال دى؛نو کله چې ستاسي يوکس روژه دار وي؛ نو کوروالي او شهوتي خبري او کارونه دى نه کوي، او نه دى شور شرغپ کوي، که چيري يو کس ده ته کنځلي وکړي، او يا ورسره جنګ جګړه وکړي؛ نو ورته دي ووايې: چې زه روژه دار يم.

او د نبي ﷺ څخه په صحيح حديث کې راغلي چې فرمائي: "**من لم يدع قول الزور والعمل به والجهل فليس لله حاجة في أن يدع طعامه وشرابه**".[2]

---

(۱) بخاري په (الصوم) باب هل يقول إني صائم إذا شتم، کې په دى نمبر/۱۹۰۴ روايت کړى دى.

(۲) بخاري په کتاب الصوم، باب من لم يدع قول الزور، کې په دى نمبر/۱۹۰۳ روايت کړي دي.

ترجمه: څوك چې دروغ ويل او وربانديي عمل او د جهل كارونه پري نه ږدي؛ نوالله رب العزت دده خوراك او څښاك پريښودلو ته هيڅ حاجت نه لري.

نو ددی او نورو دليلونو څخه معلوميږي چې په روژه دار واجب دي چې د هر هغه څه څخه ځان وساتي چې الله تعالى پري حرام كړي دي، او هميشه والي په هر هغه څه وكړي چې الله تعالى پري واجب كړي دي، او په دی سره ورلره د بښنی او اور څخه د خلاصي أميد لرلي شي، او دالله تعالى په نيزد د روژو او تراويحو قبليدل أميد لرلي شي.

او دلته يو څه شيان او كارونه دي چې كيدائشي په ځنيو خلكو پټ پاتی وي:

د هغي دجملي څخه ځني دا دي: چې په مسلمان واجب دي چې روژه په إيمانداري او د ثواب په نيت ونيسي، نه د ځان ښودني او مشهورتيا لپاره، او نه د خلكو سره د ځان يو شان كولو او يا د خپل كلي علاقي د خلكو د تابعداري لپاره، بلكي واجب وربانديي دادی چې سبب د روژي نيولو يې دده إيمان په دی وي چې الله وربانديي دغه روژه نيول فرض كړي دی، او دالله په نيزد يې ورپكي د أجر اوثواب نيت وي.

او همدارنګه په مسلمان د تراويح کول ضروري دي چې دا د إيمانداري او ثواب په سبب وکړي نه د بل کوم سبب په وجه، او له دی أمله نبي ﷺ فرمايلي: "من صام رمضان إيماناً واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه، ومن قام رمضان إيماناً واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه، ومن قام ليلة القدر إيماناً واحتساباً غفر له ما تقم من ذنبه".[1]

ترجمه: چا چې د رمضان د مياشتي روژه د إيمانداري په خاطر او د ثواب په نيت ونيوله؛ نو مخکيني ګناهونه به ورته وبښلي شي، او چا چې د رمضان تراويح د إيمانداري په خاطر او د ثواب په نيت وکړي؛ نو مخکيني ګناهونه به ورته وبښلي شي، او چا چې د ليلة القدر تهجد او تراويح د إيمانداري په خاطر او د ثواب په نيت وکړي؛ نو مخکيني ګناهونه به ورته وبښلی شي.

---

(۱) بخاري په (صلاة التراويح) باب فضل ليلة القدر، کې په دی نمبر/۲۰۱۴ روايت کړي دی، او مسلم په (صلاة المسافرين وقصرها) باب الترغيب في قيام رمضان، کې په دی نمبر/۷۶۰ روايت کړی دي.

اودهغه شیانو د جملي څخه چې په ځنیو خلکو یې حکم پټ پاتي وي: هغه څه دي چې روژه دار ته د زخمیوالي څخه او یا د پوزی نه د ویني راتللو،او یا ګرځون کولو، او یا د اوبو او پټرولو حلق ته بي اختیاره داخلیدلو څخه راپیښیږي؛ نو دا ټول شیان روژه نه فاسده (نه ماته) وي، خو که چا قصداً ګرځون وکړو نو روژه یې فاسده شوه د نبي ﷺ ددی وینا له وجي چې فرمائي: "**من ذرعه القيء فلا قضاء عليه، ومن استقاء فعليه القضاء**".[1]

ترجمه: د چا چې بي اختیاره ګرځون راغلو؛ نو قضائي روژه وربانديي نشته دی، او چا چې د ګرځون کولو کوښښ وکړو؛ نو په هغه د روژي قضائي نیول دي.

او د ځني دغو شیانودجملي څخه: هغه څه دي چې روژه دار ته د صباح راڅرګندیدو پوري د جنابت د غسلو وروسته والي

---

(۱) إمام احمد په (باب في مسند المكثرين)، کې د أبو هریره څخه په دی نمبر/۱۰۰۸۵ روایت کړي دی، او ابن ماجه په (الصیام) باب ما جاء في الصائم يقيء، کې په دی نمبر/۱۶۷۶ هم په دی لفظ روایت کړی دی.

څخه راپیښیږي، اوهغه څه دي چې دصباح راڅرګندیدلو پورې د حیض او څلویښتي غسلو وروسته والي څخه راپیښیږي، کله چې د ځان پاکوالي د صباح ختلو څخه مخکې ووینې؛ نو روژه وربانديي لازمي ده، او د غسلو کول د صبح صادق نه وروسته کولو څه ممانعت نشته، خو د لمر رانښکاره کیدو ته به یې نه پریږدي بلکې وربانديي واجب دي چې غسل او لمونځ د لمر رانښتلو څخه مخکې وکړي، او همدارنګه دجنابت غسل د لمر رانښتلو څخه وروسته کول جائز نه دی، بلکې پر ده د لمر رانښتلو څخه مخکې غسل او لمونځ کول واجب دي، او په سړي واجب دي چې سمدستي د جنابت غسل وکړي چې تر څو د سهار لمونځ په جمع سره وکړي.

او د هغه شیانودجملي څخه چې روژه نه فاسده (نه ماته) وي: د وینې تیستې کول، او د هغې ستنی وهل چې د خوراك پر ځای کار نه ورکوي، خو شپې ته وروسته کول یې بهتره دي که آسان

وي، د نبي ﷺ له دى وينا له وجهي چې فرمائي: "دع ما يريبك إلى ما لا يريبك".(١)

ترجمه: هغه څه چې په شك كې دى غورځوي پريږده هغه څه ته چې په شك كې دى نه غورځوي.

او د نبي ﷺ له دى وينا له وجهي چې فرمائي: "من اتقى الشبهات فقد استبرأ لدينه وعرضه".(٢)

ترجمه: چا چې ځان د شكي شيانو څخه وساتو نو په تحقيق سره خپل دين او عزت يې بچ وساتلو.

او د هغو شيانودجملي څخه چې حكم يې پر ځني خلكو پټ وي: په قلاره او اطمئنان لمونځ نه كول دي، كه هغه فرضي

---

(١) إمام أحمد په (باقي مسند المكثرين) كې د أنس بن مالك څخه په دى نمبر/١٢٨٩ روايت كړى دى، او بخاري په (كتاب البيوع) باب تفسير الشبهات، كې معلق روايت كړى دي، او النسائي په (الأشربة) باب الحث على ترك الشبهات، كې په دى نمبر/٥٧١١ روايت كړى دى.

(٢) بخاري په (الإيمان) باب فضل من استبرأ لدينه، كې په دى نمبر/٥٢ روايت كړى، او مسلم په (المساقاة) باب أخذ الحلال وترك الشبهات، كې په دى نمبر/١٥٩٩.

لمونځ وي اوکه نفلي وي، او د نبي ﷺ څخه صحيح حديثونه په دی دلالت کوي چې په لمانځه کي اطمئنان (أرام والي) د لمانځه د فرضونو څخه يو فرض دي، او بغير له دی لمونځ نه صحيح کيږي.

او دا اطمئنان په لمانځه کې په أرام ودريدل او عاجزي ورپکي کول او تيزي ورپکي نه کول دي، تر دی چې د ملا تير هر يو بند بيرته خپل ځای ته ورسيږي، او ډير خلك په رمضان کې د تراويح لمونځ کوي خو ورباندي پوهيږي نه، او نه يې په أرام کوي؛ بلکي د چرګ په شان ټونګی وهي، او دا قسمه لمونځ په دی طريقه باطل دي، او کونکي يې ګناهکار دی، او أجر او ثواب يې نه کيږي.

او د هغو شيانو دجملي څخه چې حکم يې پر ځينې خلکو پټ وي: د ځنيو دا ګمان دي چې د تراويح لمونځ د شلو رکعاتو څخه کم نه کيږي، او د ځنيو دا ګمان دي چې د تراويح لمونځ د يوولسو او يا ديارلسو څخه زياتول نه دي جائز، او دا ټول بې ځايه او خطأ ګمانونه دي، او د دليلونو مخالف دي، او د رسول الله ﷺ صحيح حديثونه په دی دلالت کوي چې د شپې لمونځ کې ډيره پرانښي ده يو تاکل شوي حد ورلره نشته چې د

هغه مخالفت نه وي جائز؛ بلکي د نبي ﷺ نه ثابته ده چې د شپې به يې يوولس رکعات لمونځ کاوو، او کله به يې ديارلس رکعات لمونځ کاوو، او کله به يې ددغه نه کم کاوو په روژه کې او بغير د روژې څخه.

او هر کله چې د نبي ﷺ څخه د شپې د لمانځه په باره کې پوښتنه وکړې شو؛ نو وي فرمايل: "**مثنى مثنى فإذا خشي أحدكم الصبح صلى ركعة واحدة توتر له ما قد صلى**".[1] **متفق على صحته.**

ترجمه: د شپې لمونځ دوه دوه رکعات دی کله که يو کس ستاسي د صبح صادق د راڅرګندېدلو څخه وويريږي؛ نو يو رکعت دي وکړي چې هغه لمونځ ورلره تاق(وتر) وګرځوي چې مخکي کړی وي.

او ټاکلي رکعاتونه يې نه دي مقرر کړي نه په رمضان کې او نه بغير د رمضان څخه، او له دی أمله أصحابو ﷺ د عمر بن

---

(۱) بخاري په (الجمعة) باب ما جاء في الوتر، کې په دی نمبر/۹۹۱ روايت کړی دی، او مسلم په (صلاة المسافرين وقصرها) باب صلاة الليل مثنى مثنى، کې په دی نمبر/۱۱۴۹ روايت کړی دی.

الخطاب ﷺ په زمانه کې په ځنې اوقاتو کې درویشت رکعاتونه کړي دي، او په ځنې اوقاتو کې یوولس رکعاتونه کړي دي، دا ټول د عمر ﷺ او د أصحابو ﷺ نه د هغه په زمانه کې ثابت دي، او ځنې سلف صالحینو به په رمضان کې شپږ دیرشت رکعاتونه کول، او وتر به یې دري رکعاته کول، او ځنیو به یو څلویښت رکعاتونه کول.

او ددوي څخه ددی یادونه شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه الله او نورو علماؤ کړي ده؛ لکه څرنګه چې هغه ددی یادونه هم کړی ده چې په تراویح کې پرانښي ده، او دا ئې ویلي: چې هغه څوك چې تلاوت او رکوع او سجدي اوږدي کوي نو ورلره بهتره ده چې کم رکعاتونه وکړي، او څوك چې کم تلاوت او لنډي رکوع او سجدي کوي نو د رکعاتونو ډیروالی ورلره بهتره دي، دا د هغه د خبري لنډیز دی، الله تعالی دی پری رحم وکړي.

او څوك چې د نبي ﷺ په سنت او طریقه کې سوچ او فکر وکړي نو پوهیږي چې بهتره په دی ټولو کې یوولس او یا دیارلس رکعاتونه کول دي، په رمضان او بغیر د رمضان کې؛ ځکه همدغه د نبي ﷺ د غالبو حالاتو د فعل او کړنی سره موافق

دي؛ او ځکه چې دا ډير آسان دي لمونځ ګزارو ته، او ډير نيژدي دي عاجزي او خشوع او أرام والي ته، او چا چې ددی څخه زيات وکړو نو هيڅ وربانديې نشته دی، او نه کوم کراهت ورپکي دی؛ لکه څرنګه چې مخکي تير شول.

او چا چې په جمع تراويح وکړي نو بهتره ورلره دا ده چې د إمام نه مخکي لاړ نه شي د نبي ﷺ له دی وينا له وجهي چې فرمائي: "**إن الرجل إذا قام مع الإمام حتى ينصرف كتب الله له قيام ليلة**".(١)

ترجمه: بيشکه يو سړی چې کله د إمام سره په تراويح لمونځ کښې ودريږي تر دی چې إمام تراويح ختمي کړي نو الله رب العزت ورلره د پوره شپی د ودريدلو أجر او ثواب وليکه.

او په دی مياشت کې ټولو مسلمانانو لره مستحب دي چې په مختلفه قسمه عبادتونو کې ډير کوښښ وکړي د نفلي لمونځ

---

(١) إمام أحمد په (مسند الأنصار) کې د أبي ذر الغفاري څخه په دی نمبر/٢٠٩١ روايت کړی دی، او ترمذي په (الصوم) باب ما جاء في قيام شهر رمضان، کې په دی نمبر/٨٠٦ روايت کړی دی.

کولو او په سوچ او فکر باندې تلاوت کول ، او تسبيحات او حمد او ثنا او تکبيرات ډير ويل، او ډيري ښې او شرعي دعاګانې غوښتل، او په نيکي أمر کول، او د بديو څخه منع کول، او الله طرف ته دعوت ورکول او رابلل او د غريبانو مسکينانو تسلي او کومك کول، او د مور او پلار سره په نيکي کولو کې کو ښښ کول او خپلولي پالل، او د ګاونډي عزت کول، او د مريض پوښتنه کول، او دارنګه د خير خيګړي نور قسمونه کول، د نبي ﷺ ددې حديث له وجهې چې فرمائي:

"ينظر الله إلى تنافسكم فيه فيباهي بكم ملائكته فأروا الله من أنفسكم خيراً فإن الشقي من حرم فيه رحمة الله".(١)

ترجمه: په دې مياشت کې الله رب العزت نيکو کارونو ته ستاسي د يو بل څخه مخکې والي ته ګوري؛ نو فخر کوي پر تاسي په خپلو ملائکو باندې؛ نو وښائي الله تعالى د خپلو ځانونو څخه د خير کارونه، نو بدبخته هغه څوك دي چې په دې مياشت کې د الله تعالى د رحمت څخه محرومه کړي شي.

---

(١) الهيثمي په مجمع الزوائد (١٤٢/٣) کې الطبراني ته نسبت کړي په الکبير کې.

د نبي ﷺ څخه روایت کړي شوي چې فرمائي: "**من تقرب فيه بخصلة من خصال الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه، ومن أدى فيه فريضة كمن أدى سبعين فريضة فيما سواه**".(۱)

ترجمه: چا چې الله ته ځان نیزدي کړو په دی میاشت کې د خیر خیګړی په یو صفت او کار؛ نو د هغه چا پشان دی لکه چې یو فرضي عمل وکړي د رمضان نه بغیر په بله میاشت کې، او چا چې ورپکی فرضي عمل وکړو؛ نو د هغه چا په شان دی لکه چې اویا فرضي عملونه یې کړي وي د رمضان نه بغیر په بله میاشت کې.

او نبي ﷺ په صحیح حدیث کې فرمایلي: "**عمرة في رمضان تعدل حجة أو قال حجة معي**".(۲)

---

(۱) ابن خزیمة په خپل صحیح کې (۱۹۱/۳) مختصر په دی نمبر/۱۸۸۷ روایت کړي دی.

(۲) بخاري په (الحج) باب حج النساء، کې په دی نمبر/۱۸۲۳ روایت کړی دی، او مسلم په (الحج) باب فضل العمرة في رمضان، کې په دی نمبر/۱۲۵۲ روایت کړی دی، او ابن ماجة په (المناسك) باب العمرة في رمضان، کې په دی نمبر/۲۹۹۱ روایت کړی دی.

ترجمه: عمره کول په رمضان کې د حج برابر ثواب لري، او یا یې ویلي دي: چې زما سره د حج کولو برابر ثواب لري.

او په دی مبارکي او عزتمندی میاشت کې د خیر خیګړي په کارونو کې د مخکي والي او مقابلي کولو جائز والي باندي ډیر آثار او احادیث دلالت کوي.

او د الله تعالی څخه غواړم چې مونږه او ټولو مسلمانانو ته د هغه څه توفیق راکړي چې د هغه رضاء ورپکي وي، او دا چې زمونږه روژې او تروایح قبولي کړي، او زمونږه حالات ډیر ښه کړي، او مونږ ټولو ته د فتنو د ګمراهي څخه پنا راکړي؛ لکه څرنګه چې تري غوښتنه کوو چې د مسلمانانو مشران او بادشاهان اصلاح کړي، او د حق لپاره یو موټي شي، بیشکه چې دا الله تعالی ددغه کار ساز دی، او وربانديي د قدرت والا دی.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

په حج او عمره کښې غوره کړی شوي علمي مسئلې

كتاب المناسك

۱- حج او عمره کول په هر ازاد او عاقل بالغ مسلمان باندي په ژوند کښې يو ځل واجب دي، د قدرت لرلو باوجود.

۲- د علماؤ په صحيح قول کښې حج سمدستي واجب دی هر کله چې يې طاقت ولري.

۳- حج په هر هغه چا واجب کيږي چې قرضداري وي او دحج کولو او قرض ورکولو دواړو طاقت ولري.

۴- د حج کولو لپاره قرض نه کول بهتره دي.

۵- هغه څوك چې لمونځ نه کوي حج يې نه صحيح کيږي، او همدارنګه د هغه چا حج نه صحيح کيږي چې کله لمونځ کوي او کله يې نه کوي، د نبي ﷺ له دی وينا له وجهي "**العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركها فقد كفر**" رواه الخمسة.

ترجمه: هغه معلومداره ننبه او علامه زمونږ او ددوي تر منځ لمونځ دی؛ نو چا چې لمونځ پريښودلو نو په تحقيق سره کفر يې وکړو.

دا حدیث پنځه إمامانو په صحیح سند سره روایت کړی چې: أحمد ، ترمذي، نسائي، ابن ماجة ،او أبو داود دي.

او د نبي ﷺ ددی وینا له وجهي چې فرمائي: "**بين الرجل وبين الشرك ترك الصلاة**" **رواه مسلم في صحيحه.**

ترجمه: د سړي او شرك تر منځ فرق د لمونځ پریښودل دي.

اودا حدیث إمام مسلم په خپل کتاب کښې روایت کړي.

۶- چا چې په حرام مال حج وکړو حج یې صحیح دی؛ ځکه د حج ټول کارونه بدن (جسم) پوری تعلق لري، او په ده باندي د حرام کسب کار څخه توبه ویستل لازم دي.

۷- بغیر د مُحرِم څخه د ښځی حج کول صحیح کیږي خو ګناهکاره ده؛ ځکه دی لره بغیر د محرم څخه سفر نه دی جائز، اګر که حج یا عمری لپاره وي.

۸- کله چې ماشوم یا غلام حج وکړي، نو د دواړو حج صحیح کیږي، او د فرضی حج څخه تري نه کافي کیږي، د ابن عباس رضي الله عنهما د حدیث له وجهي چې نبي ﷺ فرمائي: "**أيما صبي حج ثم**

بلغ الحنث فعليه أن يحج حجة أخرى، وأيما عبد حج ثم أعتق فعليه حجة أخرى".[1] أخرجه ابن أبي شيبة، والبيهقي بإسناد حسن.

ترجمه: کوم یو ماشوم چې حج کړي وي، او بیا بلوغ ته ورسیږي نو لازم دي پرې چې بل حج وکړي، او کوم یو غلام چې حج کړي وي، او بیا ازاد کړي شي نو بل حج کول پرې لازم دي.

دا حدیث ابن أبي شیبة او بیهقي په حسن سند سره روایت کړی.

۹- څوك چې د حج کولو طاقت لري او مړ شي او حج یې نه وي کړی نو د هغه د پاتي شوي مال څخه د هغه لپاره حج کول واجب دي، که وصیت یې کړي وي او کنه.

۱۰- په حج کې د هغه چا څخه نیابت کول چې روغ جوړ وي نه صحیح کیږي، اګر که غریب او فقیر وي، که فرضي حج وي او یا نفلي، او هر چې کمزوري بوډا یا هغه مریض چې أمید یې د روغ والي نشته، نو بیشکه په دی لازم دي چې څوك د فرضي حج او عمري کولو لپاره د ځان څخه نائب کړي، کله چې ددغو

---

(۱) البیهقي په سنن کبری کې په: باب جماع ابواب دخول مکه باب حج الصبي یبلغ والمملوك یعتق والذمي یسلم، کې په دي نمبر[۹۸۲۵] روایت کړي.

طاقت په خپل مال سره لري، د الله تعالى د دى قول د عمومیت له وجهي: ﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ [آل عمران: ٩٧].

ترجمه: او د الله تعالى لپاره په خلکو د بیت الله حج کول لازم دي، په هغه چا چې طاقت لري دغه ته د رسیدو.

١١- په حج کښې د نیابت لپاره ړوندوالى عذر نه دى، که فرض وي او که نفلي، اوپه ړوند باندي لازم دي چې پخپله حج وکړي که طاقت يې لري د دليلونو د عمومیت له پلوه.

١٢- چا چې فرضي حج کړي وي نو بهتره د اده چې د نفلي حج کولو خرچه او مصارف مجاهدينو ته ورکړي؛ ځکه نبي ﷺ په نفلي حج باندي جهاد مخکي کړى؛ لکه څرنګه چې په صحیح حدیث کښې راغلي دي.

١٣- په چا باندى چې فرضي حج کول اود واجبي روژى قضائي رايوځاى شي، لکه د کفاري روژي او يا د روژي د مياشتي قضائي روژي، او ددى دواړو په څير نوري نو حج به مخکي کولاى شي.

١٤- مونږ ته د يوي عمري او بلي عمري تر منځ دکمي مودى کوم پوهه او علم نیشته، او هرهغه څوك چې دمکي اوسیدونکي وي؛ نوهغه لره بهتره د اده چې ځان په طواف

اولمونځ کولوپه حرم شریف کښې مصروف کړي،اوالله ته دنیزدیکت په ټولوأعمالو،اودحرم شریف څخه د عمري لپاره بهر نه وتل، که چیرته یې فرضي عمره کړي وي.

باب دي په بیان د میقاتونو کښې

۱- په ټولو حاجیانو او عمره کونکو باندي واجب دي چې د هغو میقاتونو څخه چې دوي ور څخه تیریږي د إحرام نیت وکړي، او یا ددغو میقاتونو په برابري که په هوا او یا په وچه، او یا په دریاب کښې وي نیت وکړي، د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دحدیث له وجهي چې لږ مخکې یادونه وشوه.

۲- د پنځه واړو میقاتونو ټاکنه او مقررتیا نبي ﷺ کړی چې هغه: ذو الحلیفة ده او الجحفة ده، او قرن المنازل (السیل الکبیر)، او یلملم، او ذات عرق دي، خو د عمر رضي الله عنه اجتهاد د نبي ﷺ د سنتو سره موافق شو کله چې عراق والا خلکو لپاره یې ذات عرق میقات مقرر کړو، او دا ددي څخه نه وو خبر چې نبي ﷺ ورلره ذات عرق میقات مقرر کړي، نو اجتهاد یې د نبي ﷺ د سنتو سره موافق شو.

۳- څوك چې د میقات څخه بغیر د إحرام څخه تیر شو نو

میقات ته پرې بیرته واپسي واجب ده، او که بیرته راواپس نه شو؛ نو په ده باندې دم (فدیه) لازم شو چې هغه: د غوا اوومه برخه ده، او یا د اوښ اوومه برخه ده، او یا یوه ګډه بزه چې په قرباني کښې کافي کیږي، دا په هغه حالت کښې چې د حج او یا عمري نیت یې کړي وي، او د میقات څخه تیر شي -بغیر دإحرام أغستلو- د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د حدیث له وجهې چې په بخاري مسلم کښې موجود دي.

۴- څوك چې په مکه مکرمه کښې وي، اود حج کولو إراده یې وي؛ نو په کوم ځای کښې چې وي هم د هغه ځای څخه به إحرام تړي، او هر چې عمره ده نو ضروري دي ورپکي چې د حرم د حدودو څخه حل ته ووځي او د حل څخه احرام د عمري لپاره وتړي، د عائشي رضي الله عنها د حدیث له وجهې چې په دی باره کښې دي.

۵- څوك چې مکي مکرمي ته روان شو او د حج او عمري إراده یې نه وي نو إحرام تړل وربانديي واجب نه دي؛ ځکه بیشکه نبي ﷺ إحرام تړل په هغه چاواجب کړي چې د حج نیت یې کړي وی، او یا د عمري، او یا ددواړو، او دا ځکه چې عبادتونه توقیفي دي (یعني د الله تعالی او د رسول ﷺ په حکم به کیدای شي) او

هيڅ چا ته دا جائز نه دي چې هغه شي واجب وګرځوي کوم چې الله تعالى او د هغه پيغمبر ﷺ نه وي واجب کړی؛ لکه څرنګه چې ورته جائز نه دي چې يو شي حرام کړي، هغه چې الله او د هغه پيغمبر نه وي حرام کړي، خو که چا فرضي حج نه وي کړي، نو په دی إحرام ترڼ د حج لپاره واجب دي په خپل وقت کښې، او يا د عمري لپاره په هر وقت کښې چې وي د هر ميقات څخه چې تيريږي، د هغه څه د أداء کولو لپاره چې الله پري واجب کړي، چې هغه حج او عمره ده.

۲- د بهر څخه د راتلونکو لپاره جده ميقات نه دی، او بيشکه چې دا ميقات دی د جدي اوسيدونکو لپاره، او د هغه چا لپاره چې جدي ته راغلي وي، او د حج او عمري إراده يې نه درلوده، او بيا له همدي جدي څخه د حج او عمري نيت او شروع وکړي؛ خو که څوك حج او عمري ته راغی د جدي له لاری، او ديته د رارسيدلو څخه مخکې يو ميقات سره برابر نشو نو د جدي څخه به إحرام وترې.[1]

---

(۱) لکه د هغه چا په شان چې د درياب له لاري جدي ته راشي د سوډان د هغې برخې څخه چې جدي ته مخامخ پرته ده.

۷- د حج میاشتي: د وړوکي اختر او میاني میاشت او د غټ اختر د میاشتي اولني لس ورځي دي.

باب الإحرام

١- إحرام کونکي ته جائز دي چې په هغه څه تلفظ وکړي چې نيت يې کړي وي، د حج او يا دعمري او يا د حج قرآن نو وائي به: " **اللهم لبيك عمرة**"، که إراده يې دعمري کړي وي،او يا به وائي:" **اللهم لبيك حجاً**" که إراده يې دحج کړي وي، او يا به وائي: "**اللهم لبيك عمرة وحجاً**"، که إراده يې د حج او عمري دواړو کړي وي.

او څوک چې د حج په مياشت کښې مکي مکرمي ته راشي او هدي (قرباني) ورسره نه وي؛ نو بهتر ورلره دا ده چې يواځې د عمري لپاره إحرام وترې، او بيا به د حج لپاره تلبية يعني "**اللهم لبيك حجاً**" د ذي الحجي د مياشتي په اتم تاريخ ووائي، او إحرام به وترې، نبي ﷺ او أصحابو پسی اقتداء[1] په خاطر.

٢- ماشوم هلك او جيني چې نښه او بد نه پيژني د هغوي څخه

---

(١) د نبي ﷺ د سنتو؛ ځکه هغه چا ته يې ددغه کار امر کړي وو چې هدي (قرباني) يې نه وه راوستي، او هر چې نبي ﷺ وو نو هغه حج قِران وکړو، او ځان يې د احرام څخه حلال نه کړو؛ ځکه ده د ځان سره هدي (قرباني) راوستي وه.

به سرپرست نیت کوي، او هم دغه رقم به تري تلبية يعني "اللهم لبيك حجاً" او يا "عمرة" وائي، او د هر هغه څه څخه به يې بچ ساتي د کوم څه څخه چې محرم ځان بچ ساتي، او ددی دواړو جامی به د طواف کولو په وقت کښې پاکي وي.

۳- که چيري ماشوم هلك او جيني ښه او بد پيژني نو بيا به د خپل سرپرست په إجازه إحرام نيت وکړي، او هغه څه به کوي کوم څه چې غټان کوي، که د طواف او سعي کولو څخه عاجز شو نو په بل څه کښې به بارولي شي، او سرپرست به يې ددواړو د حج کولو مسؤوليت په غاړه اخلي، که پلار يې وي، او يا يې مور وي، او که بل کوم څوك وي.

۴- د چا څخه چې نيابت کولي شي نيت ور څخه کافي دي، او نوم يادولو ته يې حاجت نشته، او که د إحرام تړلو په وقت کښې ورلره نوم په خوله ياد کړو نو بهتره ده.

۵- چا چې د حج يا عمري تلبية (لبيك) د خپل ځان يا د بل چا لپاره وويله؛ نو بيا ورلره د يو سړي څخه د بل لپاره نيت بدلول جائز نه دي.

۶- چا چې د إحرام تړلو إراده وکړه؛ نو اودس او غسل کول

ورلره شرط نه دي؛ نو له دي أمله د حائضي، او څلويښتي مريضي ښځي إحرام صحيح کيږي، او د ټولو لپاره غسل کول مستحب دي، او مستحب دي چې د إحرام نيت د فرضي او يا نفلي لمونځ څخه وروسته وکړي شي بغير د حائضي او څلويښتي مريضي ښځي؛ ځکه ددي دواړو لمونځ نه صحيح کيږي.

۷- (أ) کله چې پر څلويښتي اوپه حيض مريضه ښځه ميقات ته ورسيدله نو پر دي دواړو واجب دي چې د إحرام نيت وکړي، که حج او عمره يې فرضي وي، او که چيري دغه دواړه نفلي وي،او مخکي دی دواړو فرض حج او عمره أداء کړي وي، نو بيا هم دی دواړو لره جائز دي چې د نورو پاکو ښځو پشان د حج او يا عمري نيت وکړي د خير حاصلولو او د نيکو أعمالو د زياتولو په خاطر، او الله تعالی ددی وينا له وجي: ﴿وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ ۚ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٧﴾﴾ [البقرة: ١٩٧]

ترجمه: او له ځان سره توخه خرچه واخلئ، بيشکه غوره توخه هغه تقوی ده، او خاص زما څخه وويريږئ ای د خالص عقل خاوندانو.

او د أسماء بنت عميس رضي الله عنها د حديث له وجي چې بيشکه د دې ماشوم محمد بن أبي بکر په ميقات کښې پيدا شو؛ نو نبي ﷺ ورته أمر وکړو چې غسل دي وکړي او د إحرام نيت دي وکړي، نو کله چې د ځلوينښتې او حائضه ښځه پاکه شوه نو دواړه به طواف او سعي د حج وکړي، او يا د عمري، او بيا به د خپل سر ويخته د معمول په اندازه کم کړي، که چيرې دي دواړو د حج او عمري دواړو لپاره د إحرام نيت کړي وي[1]، نو بيشکه چې دې دواړو ته جائز دي چې دغه إحرام نيت عمري لپاره وګرځوي، نو طواف او سعي به دواړه وکړي، او بيا به دواړه ويختان کم کړي، او ځانونه به حلال کړي، او بيا به د ذي الحجي د مياشت په اتم تاريخ حج لپاره د إحرام نيت وکړي؛ لکه د نورو ټولو حاجيانو، چې د عمري څخه يې ځانونه حلال کړي وي، او که دواړه په خپل إحرام پاتې شوي، او ځانونه يې حلال نه کړل؛ نو څه پروا نه لري، خو دا د سنتو خلاف کار دي؛ ځکه نبي ﷺ أصحابو ته د حجة الوداع په حج کښې أمر کړي وو چې دغه إحرام د عمري لپاره وګرځوي، او د عمري څخه وروسته

---

(١) او د ځانونو سره يې هدي (قرباني) نه وي راوستلی.

ځانونه حلال كړي، مګر هغه څوك چې هغه سره هدي (قرباني) ورسره وي.

(ب) حائضي ښځي لره قرآن لوستل جائز دي؛ ځكه په منع والي څه ښكاره دليل نشته، خو قرآن كريم سره به لاس نه لږوي، او حديث د: "لا تقرأ الحائض ولا الجنب شيئاً من القرآن".[1] ضعيف دى.

ترجمة: حائضه ښځه او جنابت والا دى د قرآن څخه څه شيى نه لولي.

٨- ښځى ته جائز دي چې په حج او رمضان كښې د حيض منع كولو ګولي وخوري، د متخصص ډاكټر د مشوري څخه وروسته، او چې ضرر ورته نه رسوي.

٩- نبي ﷺ به تلبية يعني: (اللهم لبيك حجاً او عمرة. . .) ويلو كله چې به يې سورلي پاځيده او روانه به شوه، او د سورلي پشان موټري هم دي؛ نو تلبية ويل مستحب دي په حج او يا

---

(١) إمام ترمذي په (الطهارة) باب ما جاء في الجنب والحائض أنهما لا يقرآن القرآن، كي په دي نمبر [١٣١] روايت كړي.

عمره کښې چې د ميقات څخه په موټر کښې سپور شي، او همدا رنګه کله چې د مکي مکرمي څخه مخ په منى په اتمه ورځ په موټر کښې سپور شي.

۱۰- شرط لږول د إحرام د تړلو په وقت دي، که حاجت ورته پيدا شو، د ضباعة بنت الزبير بن عبد المطلب په قصه کښې د عائشي رضي الله عنها د حديث له وجي چې دى وويل: اي د الله پيغمبره زه د حج إراده لرم او زه مريضه يم، نو نبي ﷺ ورته وويل: "**حجي واشترطي أن محلي حيث حبستني**".(۱)

ترجمه: حج وکړه او دا شرط کړه چې زما د حلالوالي ځائي به هغه وي چې زه ور پکي تا بنده او ناچاره کړم.

۱۱- د إحرام په جامو (څادرو) عطر پوري کول جائز نه دي، او بيشکه سنت دادي چې په بدن عطر ولږول شي د إحرام تړلو په وقت کښې، او که د إحرام په جامو (څادرو) باندي عطر پوري

---

(۱) إمام بخاري په النکاح، باب الأکفاء في الدين، کښې په دي نمبر/ ۵۰۸۹ روايت کړي. او مسلم په الحج باب جواز المحرم التحلل بعد المرض ونحوه، کښې په دي نمبر / ۱۲۰۷ روايت کړي.

کړي شو نو تر هغه پورې به نه اغوندي او په ځان کوي چې تر څو يې پريمنځلي نه وي.

۱۲- د إحرام د جامو (څادرو) بدلول څه پروا نه لري، که نوري نوي وي، او يا پريمنځل شوي وي؛ لکه څرنګه چې د إحرام جامو (څادرو) پريمنځل څه پروا نه لري کله که خيرني او يا پليتي ګنده شي، او د پليتي ګندګي څخه پريمنځل يې واجب دي.

۱۳- د چا په إحرام چې ډيره وينه پورې شي لمونځ دي ورپکي نه کوي او پريمنځل يې ورباندي واجب دي، او چې عرف او عادت کي کمه وينه وي هغه څه ضرر نه کوي.

۱۴- څوك چې د لنګ وهلو څادر ونه مومي نو پرتوګ دي واغوندي او څوك چې چپل بيا نه مومي موزي دي پخپو کړي بغير د پريکولو څخه، او هر چې د عبد الله بن عمر ﷺ حديث دي په پريکولو کې نو هغه منسوخ دی په صحيح قول د علماؤ کي، ځکه نبي ﷺ چې کله عرفات کښې خطبه وکړه، نو خپله خطبه کښې يادونه وکړه چې وفرمايل: "أن من لم يجد إزاراً لبس

السراويل، ومن لم يجد نعلين لبس الخفين".(۱) او پريكول يې نه دي ذكر كړي، نو په منسوخيت يې دلالت كوي.

ترجمه: چاچې لنګ ونه مونده نو پرتوګ دي واغوندي، او چا چې چپلي ونه موندلي نو موزي دي پخپو كړي.

۱۵- ښځي لپاره د إحرام كومي معلومداره جامي نشته، او په كومو جامو كې چې خوښه شي د إحرام نيت دي وكړي، خو د ځان ښكاره كولو څخه به ځان ساتي ، او هغه جامي به نه اغوندي چې فتني ته رابلل كوي، او د لاسو د ستاني او د مخ پټولو نقاب به نه استعمالوي ، او دلاسونو او مخ پټول ورته بغير د دي دواړو څخه په بل څه جائز دي.

۱۲- په تحقيق سره علماء إجماع (اتفاق) كړي په صحيح والي د إحرام نيت كولو په هر يو قسم د حج ددري قسمونو څخه، نو چا چې د كوم يو حج نيت وكړو نو د إحرام نيت يې

(۱) إمام بخاري په الحج باب لبس الخفين للمحرم،كي په دي نمبر/۱۸۱۴ روايت كړي. أومسلم په الحج باب ما يباح للمحرم بحج او عمرة، كي په دي نمبر / ۱۱۷۹ روايت كړي دي.

صحیح دي، او دا خبره چې حج إفراد او حج قِران دواړه منسوخ شوي باطله خبره ده، خو د هغه چا لپاره چې هدي (قرباني) د ځان سره نه وي راوستي د علماء په صحیح قول کې تمتع حج ډیر بهتره دي، او هر هغه چا چې ځان سره هدي (قرباني) راوستي وي نو قِران حج ورلره بهتره دی، د نبي ﷺ د اقتداء په خاطر.

۱۷- چا چې د حج په میاشتو کې عمره وکړه او بیرته خپل کور ته ستون شو او بیا یې د إفراد حج إحرام نیت وکړو نو په ده د تمتع حج قرباني نشته؛ ځکه دا په حکم د هغه چا کښې دي چې یوائي إفراد حج وکړي، او دا وینا د عمر او د هغه د ځوي عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ده، او د نورو علماء هم ده، او هر هغه چا چې د خپل کلي وطن څخه بل ځاي ته سفر وکړي لکه مدیني منوري او یا جدي او یا طائف ته او یا داسي نور ځایونو ته او بیرته مکي ته د حج د إحرام په نیت راغي نو دغه کار یې په صحیح قول د علماء کي د تمتع حج د صفت څخه نه خارج وي، او په ده باندي د تمتع حج قرباني ده.

۱۸- څوك چې د حج په میاشتو کې د حج د إحرام نیت وکړي نو جائز دي ورته چې عمره یې وکړځوي، او همدارنګه چا چې حج

او عمري دواړو نيت کړي وي (يعني قارن وي) ورته جائز دي چې خپل إحرام عمري لپاره وګرځوي، کله چې دي دواړو ځان سره هدي (قرباني) نه وي راوستلي؛ ځکه د نبي ﷺ څخه په دې کې صحيح حديث شته، او دا دواړه به په دې کار کولو سره په حکم د متمتع کې وي.

۱۹- چا چې د تمتع او يا قِران حج نيت وکړو او بيا يې نيت بدل کړو إفراد حج ته مخکې له دي چې د يو لپاره ددې دواړو څخه إحرام وترې، او دا په ميقات کې وي، نو دا څه پروا نه لري (يعني جائز دي) او څه ګناه وربانديې نشته، ځکه د حج عبادت په إحرام ترلو سره لازميږي، او هر چې د إحرام ترلو څخه مخکې نيت دي هغه لازمونکي د حج نه دي، او څه ګناه پرې نشته.

۲۰- چا چې د قِران او يا تمتع حج لپاره تلبيه وويله نو إفراد حج ته اړول يې نه صحيح کيږي د هغه څه له وجې چې په مخکې مسأله کې تير شو.

۲۱- چا چې د عمري إحرام وترلو او بيا يې پريښودله نو الله ته دي توبه اوباسي، او د عمري د أعمالو پوره کول سمدستي

لازم دي د الله ددي قول له وجي: ﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ﴾

ترجمه: حج او عمره پوره کړي الله تعالى لپاره.

که خپلي ښځي سره يې کوروالي کړي وي نو په ده يو ګډه بزه حلالول دي، اود مکي مکرمي په غريبانو په مکه کې تقسيمول دي، دعمري د أعمالو پوره کولو باوجود، دياد شوي آيت دعموميت له وجي، او په ده بله عمره کول لازم دي د هغه ميقات څخه چې ده تري د فاسدي شوي عمري لپاره إحرام تړلي وي، اوهمدارنګه د ښځي حکم دي که چيري پري زور زياتي نه وي شوي، سره د توبي ويستلو ددغه کار څخه.

په إحرام کښې د ممنوع شيانو بيان

۱- محرم به د خپل ويختانو او نوکانو او پوستکي څخه هيڅ شي نه پريکوي تر څو چې ځان په أول حلال والي حلال نه کړي.

۲- خوشبوي صابون استعمالولو کي څه ګناه نشته؛ ځکه دا خوشبوي نه ده او استعمالونکي يې خوشبويدار نه شي نومولي؛ او بيشکه په دي کي خائسته بوي دي، إن شاء الله څه ضرر ورته نه رسوي، او که استعمال يې د تقوى له وجي پريښود نو ډير ښه کار دی.

۳- نکريزي خوشبوي نه ده، په محرم سړي او محرمي ښځي په دي کې هيڅ شي نشته.

۴- محرم لپاره إحرام په دسمال او پټي ترلو کې څه ګناه نشته.

۵- محرمي ښځي باندي په جورابو او موزو اغوستلو کي څه ګناه نشته؛ ځکه ښځه عورت ده، خو دستاني او نقاب (يعني هغه پرده به په مخ نه راخوره وي چې سترګو لپاره ورپکي سوري شوي وي)؛ ځکه نبي ﷺ محرمه ښځه ددغه کار څخه منع کړي، خو مخ به د نقاب څخه بغير په بل څه شي پټوي، او لاسونه به د دستانو څخه بغير په بل څه شي پټوي.

۶- ښځي ته جائز دي چې پړوني په مخ راښکته کړي، بغير د پټې ترلو څخه ؛ ځکه په پټې باندې يې ترل نه دي جائز، او که پړوني يې مخ سره لږي نو څه ورباندې نشته، او د پردو سړو په موجوديت کې ورباندې په پړوني مخ پټول واجب دي، او هر چې نقاب دی نو دغه ورته د إحرام په حالت کې جائز نه دي؛ ځکه نبي ﷺ محرمه ښځه ددغه څخه او دستانو څخه منع کړې؛ خو مخ او لاسونه به د نقاب او د دستانو څخه بغير په بل څه شي پټوي.

۷- څوك چې خپلې ښځې سره د أول حلال والي څخه مخکې کوروالي وکړي نو ددواړو حج باطل شو، او په هر يو ددې دواړو يو اوښ حلالول واجب شو، د حج د أعمالو پوره کولو باوجود؛ نوکه هر يو ددې دواړو څخه د ذکر شوي حکم پوره کولو څخه عاجز شو نو لس ورځې به روژه نيسي، او په دې دواړو حج په راتلونکي کال کې واجب دي، د طاقت لرلو په صورت کښې، او ښښنه غوښتل او توبه ويستل ورباندې لازم دي.

۸- څوك چې د أولنې حلال والي څخه وروسته او د دوهم څخه مخکې کوروالي وکړي؛ نو په دې او په ښځه يې که چيرې

ورسره په خوښه کوروالي کړي وي؛ نو يو بزه ګډه او يا اوومه برخه دغوا ده (يعني ذبحه کوي به يې) اوکوم يو چې طاقت نه لري نو لس ورځې روژه به نيسي.

۹- څوك چې د طواف زيارت نه مخکې او يا وروسته چې د سعي څخه مخکې کوروالي وکړي او په ده سعي وه؛ نو په ده ګډه بزه حلالول لازم دي.

۱۰- څوك چې د أول حلال والي څخه وروسته او دوهم څخه مخکې د ځان څخه شهواني أوبه (مني) قصداً وويستلي بغير دکوروالي کولو څخه نو هيڅ وربانډي نشته دي، اوکه دري ورځې روژه يې ونيوله او يا يې يوه ګډه بزه حلاله کړه، او يا يې شپږو فقيرانو ته د نيم کيلو په اندازه خوراك ورکړو نو ډير ښه کار دي، دهغه چادخلاف څخه ځان ساتلو لپاره چې فديه پرې واجبوي، او په دي کې ډير احتياط دي، او د نبي ﷺ په دې وينا: "**من اتقى الشبهات فقد استبرأ دينه وعرضه**"[1] د عمل کولو له

---

(۱) بخاري په الإيمان، باب فضل من استبرأ لدينه،کې په دي نمبر/ ۵۲ ، او مسلم په المساقاة، باب أخذ الحلال وترك الشبهات، کې په دي نمبر/ ۱۵۹۹ روايت کړي.

وجهي.

ترجمه: چا چې ځان وساتلو د مشتبه (شکي) شیانوځخه نو په تحقیق سره خپل دین او عزت یې پاك وساتلو.

۱۱- په چا چې شیطان اودس وارووه او دا محرم ؤو؛ نو بغیر د غسلو کولوځخه پرې بل هیڅ شي نشته.

باب الفدية

١. په مُحرم هيڅ شي نشته كله چې په بي فكري او يا په ناپوهي دغه راتلونكي كارونه وكړي: نوكان يې پريك كړه، او يا يې د تخرګي ويختان وويستل، او يا يې بريتان كم كړل، او يا يې د نامه څخه لاندي ځاي وخرولو او يا يې خوشبوي ولږوله، د الله تعالى ددي وينا له وجي چې فرمائي: ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا﴾[البقرة: ٢٨٦].

ترجمه: اي زمونږه ربه ته مونږ په هغه څه مه نيسه چې مونږ يې په بي فكري وكړو او يا ورپكي خطا شو.

او د نبي ﷺ له دي وينا له وجي چې فرمائي: "**قال الله قد فعلت**".(١)

ترجمه: نو الله تعالى وويل: دغه كار مي وكړو.

او د شُقِي والا د حديث له وجي.

٢. څوك چې د إحرام څادري لري كړي او په ناپوهي يې جامي

---

(١) مسلم په الإيمان، باب بيان إن الله سبحانه لم يكلف إلا ما يطاق، كي په دي نمبر /١٢٦ روايت كړي.

واغوستلي او يا د بي فکري په سبب، نو په ده لازم دي چې سمدستي جامي اوباسي کله چې پوهه شي، او يا يې راپه ياد شي، او هيڅ ورباندي نشته دي، د الله تعالى ددي وينا د عموميت له وجي چې فرمائي: ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا﴾ [البقرة: ٢٨٦]

ترجمه: اي زمونږه ربه ته مونږ په هغه څه مه نيسه چې مونږ يې په بي فکري وکړو اويا ورپکي خطا شو.

او د نبي ﷺ څخه ثابت دي چې هغه فرمائي: چې الله تعالى وويل: چې دغه کار مي وکړو - يعني دغه دعاء مي قبوله کړې.

او همدارنګه د نبي ﷺ څخه ثابت دي چې يو سړي په يوه اوږده شُقَه کي د إحرام نيت کړي وو، او خوشبوي په ځان لږولي وه؛ نو د نبي ﷺ څخه په دغه کي فتوا وتپوسله؛ نو نبي ﷺ ورته وويل: "اغسل عنك أثر الخلوق ثلاثًا، وانزع الجبة".(١)

---

(١) بخاري په الحج باب يفعل في العمرة ما يفعل في الحج، کي په دي نمبر/١٧٨٩ روايت کړي، او مسلم په الحج، باب ما يباح للمحرم بحج او عمرة، کي په دي نمبر /١١٨٠ روايت کړي.

ترجمه: د خپل ځان څخه د خوشبوي اثر دري ځلي پريمنځه او اوږده شُقَه دي اوباسه.

او نبي ﷺ ورته دده د ناپوهي له وجي د فدي ورکولو امر ونه کړو.

باب دي: په حرم کښې د ښکار د حکم په بيان کښې

۱- شرعي دليلونه په دي دلالت کوي چې د نيکيو اجر او ثواب څو أضعافه ډيريږي، يونيك عمل په لسو بدليږي، او په ډيرو أضعافو په بهتر وخت کښې بدليږي، لکه په رمضان او د ذي الحجه (د لوي اختر د مياشتي) لسو اولنيو ورځو کښې، اودارنګه په بهترو ځايونو کښې، لکه په دواړو حرمونو (مکه او مدينه) کښې، اوهر چې ګناهونه دي نو محققين علماء په دې دي چې دا زياتيږي د څرنګ والي له پلوه نه د شمار اوعدد له پلوه، دالله تعالى ددى وينا له وجي چې فرمائي: ﴿مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾﴾ [الأنعام: ١٦٠].

ترجمه: چا چې يوه نيکي وکړه نو ده لره ددغه نيکي لس أضعاف اجر او ثواب دي، او چا چې يوه ګناه وکړه نو بدله به نه

شي ورکولي مګر همدغي ګناه هومره، او ددوي سره به زياتي نه کيږي.

۲- چاچې دمکي مکرمي په حرم کښې په نيت کې بد نيتي راوستله نو ده ته ددردونکي عذاب د همکي ورکړي شوي؛ ځکه الله تعالى فرمائي: ﴿وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾﴾ [الحج: ۲۵].

ترجمه: څوك چې په دي حرم کې د حق څخه د اوړيدلو إراده وکړي په تجاوز او زياتي کولو سره نو وروبه ځکو ده ته د دردونکي عذاب څخه.

نو هر کله چې چا په حرم کښې هر قسم إلحاد وکړو - او دا د حق څخه اوړيدل دي – نو ده ته د دردونکي عذاب دهمکي ورکړي شوي، ددي آيت له وجي؛ ځکه په نيت کې د حق څخه اوړيدو راوستلو باندي عذاب ورکونه په دلالت کوي چې بذات خود په (إلحاد) باندي عذاب ورکونه ډير زيات غټ او سخت دي.

باب دی: مکي ته د ننوتلو د حکمونو په بیان کښې

۱- نبي ﷺ کعبي ته د باب السلام څخه د ننوتلو أمر نه دي کړي، خپله په باب السلام ننوتلي دي، که ددغه څخه ننوتل اسان وو او ددغه څخه مسلمان ننوتلو نو ډیره بهتره ده، او که آسان نه وي نو څه ګناه وربانديي نشته.

۲- محرم لپاره سنت طریقه دا ده چې خپلی دواړه اوګي دإحرام په څادر راپټي کړي، مګر په طواف القدوم: (یعني اول ځل لپاره چې حرم ته راورسیږي، او کوم طواف کوي هغه ته طواف قدوم وائي). چې د إحرام څادر به د خپل ښي لاس لاندي په چپه اوګه دپاسه واړوي، او ښي اوګه به ښکاره کړي، نو کله چې طواف ختم کړي نو بیرته به خپل څادر په دواړو اوګو باندي راخور کړي.

او اضطباع دا ده: چې د څادر منځ د ښي تخرګي لاندي وګرځوي، او دواړه طرفونه یې په خپله چپه اوګه راواړوي تر دي چې طواف ختم کړي، او بیا څادر په دواړو اوګو راخور کړي ددوه رکعاتو لمونځ کولو څخه مخکې.

۳- طواف کونکي ته جائز دي چې په هر چکر کې د حجر أسود

او رکن یماني سره لاس ولږوي، لکه څرنګه چې ورلره مستحب دي د حجر أسود ښکلول، او په ښي لاس مسح کول که اسان وي بغیر د مشقت او تکلیف څخه، او هر چې د مشقت ټیلوالو راټیلوالو سره وي نو ښکلول یې مکروه دي، او جائز دي چې حجر أسود ته د لري څخه په لاس یا په امساء إشاره وکړي شي، اوالله أکبر ورسره وویل شي، او هر چې رکن یماني دي نو دیته په إشاره کولو زمونږ د علم مطابق کوم څه دلیل موجود نه دی، او که حجر أسود سره یې لاس ولږولو او یا أمساء نو هغه به ښکل کړي نبيﷺ پسې د اقتداء کولو په خاطر،که د حجر أسود ښکلول ورته اسان نه وي.

۴- طواف کونکي ته د مقام إبراهیم شاته دوه رکعاته لمونځ جائز دي، د آیت کریمه او آحادیثو له وجي، که د مقام إبراهیم څخه شا ته ورته ځای پیدا نه شو نو د مسجد په هر ځاي کې چې خوښه شي دغه لمونځ وکړي.

۵- د علماؤ تر منځ معلومه خبره ده چې دوه یا ډیر طوافونه پرله پسې کول جائز دي، او بیا د هر طواف لپاره دوه رکعات لمونځ کول.

۶- د علماء په صحیح قول کې د طواف د صحیح والي لپاره

اودس شرط دی، او دا د ډیرو علماؤ وینا ده؛ ځکه نبي ﷺ چې کله د طواف کولو إراده وکړه نو اودس یې وکړو، او بیا یې طواف شروع کړو؛ لکه څرنګه چې د عائشې رضي الله عنها او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دي، چې نبي ﷺ فرمایلي: " **الطواف بالبيت صلاة إلا أن الله أباح فيه الكلام**".[1]

ترجمه: د کعبې شریفې طواف لمونځ دي، مګر الله تعالى ورپکې خبرې جائز کړي.

نو کله چې یې اودس مات شي نو لازم دي ورباندې چې بیا اودس وکړي، او طواف د أول چکر څخه بیرته شروع کړي، لکه د لمانځه، که طواف فرضي وي او که نفلي.

۷- راجحه او مضبوطه خبره دا ده چې لږه وینه وتل په طواف کوم اثر نه کوي، لکه د لمانځه کله چې ددواړه شرم ګاوو څخه

---

(۱) إمام أحمد ددي پشان په "مسند المكيين" کي د یو سړي هغه حدیث چې نبي ﷺ څخه یې پوښتلي وو په دي نمبر/۱۹۹۷ روایت کړي، او نسائي په مناسك الحج باب إباحة الكلام في الطواف، کي په دي نمبر/ ۲۹۲۲ روایت کړي دي.

نه وي وتلي.

۸- کله چې هغه ښځه چې ماشوم يې پيدا شوي وي د ځلويښت ورځو څخه مخکې پاکه شي؛ نو دي لره طواف وغيره جائز دي، او د ځلويښتي لپاره دکمي مودی تعيين نشته، او هر چې ډيره موده يې ده نو هغه ځلويښت ورځې دي، که ځلويښت ورځو څخه وروسته پاکه نه شوه نو غسل به وکړي او روژه لمونځ طواف به کوي، او خاوند ته جائز کيږي، او هر لمانځه ته به اودس کوي تر څو چې وينه بنده شي، لکه د مستحاضې ښځې پشان.

۹- د لمانځه کولو په خاطر چې چا طواف ودرولو نو د هغه ځاي څخه به طواف شروع کړي کوم ځاي ته چې يې رسولي وي، او د اول څخه شروع کول ورباندې لازم نه دي، د علماء په صحيح قول کې، او که د اول چکر څخه که شروع کړي د خلاف څخه د وتلو په خاطر نو إن شاء الله ډيره ښه خبره ده؛ ځکه په دی کې احتياط دی.

(أ) ماشوم ګرځونکي ته جائز دي چې د ځان او ماشوم څخه د طواف او سعي نيت وکړي؛ ځکه کله چې يوي ښځي د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه د ماشوم په حق کې چې وويل: أي پيغمبره!

آيا دده حج کيږي؟ نو نبي ﷺ ورته وفرمايل: "نعم ولك أجر".(١)

ترجمه: هو او ستا لپاره ثواب او أجر دي.

او نبي ﷺ ورته امر ونه کړو چې دغه ماشوم لره دي ځانله طواف او سعي وکړي، نو دا په دی دلالت کوي چې ددی طواف اوسعي کول ددواړو څخه کافي کيږي.

١٠- حج او عمره کونکي ته د زمزم اوبه څښل مستحب دي، کله چې ورته څښل آسان وي، او اودس کول ورته پر ي هم جائز دي، او که ضرورت ورته د استنجاء او جنابت څخه دغسلو کولو پيدا شي نو جائز دي ورته چې استنجاء او غسل پري وکړي.

او د نبي ﷺ څخه ثابت دي چې د هغه د ګوتو مبارکو څخه اوبه د چيني پشان راووتلي او بيا خلکو دخپل حاجت په أندازه ددغو اوبو څخه راوخستلي دڅښلو او اودس اوجامو وينځلو اواستنجاء لپاره، دا ټول کارونه واقع شوي،او د زمزم اوبه که ددغواوبو په شان نه وي نو پورته درجه هم تري نه لري؛ نو

---

(١) مسلم په باب صحة حجة الصبي، کې په دي نمبر/١٣٢٦ روايت کړي دي.

دواړه پاکي مبارکه اوعزتمندي اوبه دي.

۱۱- د زمزم اوبو خرڅولو او مکي څخه بهرته وړلو کې څه ګناه نشته.

۱۲- ډير نفلونو يا ډير طوافونو کولو کي چې کوم يو به ډير بهتره وي اختلاف دي. او مضبوطه او راجحه خبره دا ده چې نفلونه دي هم ډير وکړي او طوافونه دي هم، اګر که د لري ځای څخه راغلي وي، او ځني علماء وائي چې د لري ځای راغلي سړي لپاره ډير طوافونه کول بهتره دي، او د نورو لپاره نفلي لمونځونه کول بهتره دي، او په دي کې پرانښي ده د چا چې کوم عمل خوښ شي هغه دي وکړي، ولله الحمد.

۱۳- څوك چې حرم شريف ته د مازديګر يا سهار څخه وروسته ورسيدلو نو بغير د طواف د سنتو څخه دي نور لمونځ نه کوي، او يا هغه سنت چې د يوځه سبب په أساس کولي شي، لکه تحية المسجد (يعني مسجد ته د ننوتلو په سبب دوه رکعات لمونځ کول نو دا به کولي شي).

۱۴- هغه څوك چې سعي کوي هغه ته مستحب دي چې د سعي د اول چکر په ابتداء کې دآيت ولولي: ﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ

ٱللَّهِ ﴾[البقرة: ١٥٨].

او هر چې بيا بيا تكرارول دي نو زما په علم كښې داسي څه دليل نشته چې په مستحب والي يې دلالت كوي.

١٥- صفا او مروه غونډي ته ورښتل واجب نه دي، او سعي كونكي ته كافي دي چې ددواړو تر منځ لاړ راشي، خو ورښتل ورته كه اسان وي بهتره او سنت دي.

١٦- په دوهم چت كې سعي كول صحيح دي، لكه د لاندي چت؛ ځكه پورته په فضاء كې ساحه د لاندي بيخ او أساس تابع وي.

١٧- راجحه اومضبوطه خبره دا ده چې چا دسعي څخه څه شي پريښودلو او يا ور څخه هير شو، نو كه وقت ډير نه ؤو تللي پوره دي كړي.

١٨- چا چې يو چكر يا ډير د عمري په سعي كې پريښودلو نو لازم دي چې بيرته واپس شي اګر كه خپل وطن ته رسيدلي وي، او سعي دي پوره كامله وكړي، او دا د هغه إحرام په حكم كې دى چې دا خپلي ښځي سره د كوروالي څخه منع كوي، او د تولو ممنوع شوي شيانو څخه، او په ده لازم دي، چې د سعي

کولو څخه ورسته بيا د سر ويښتان کم کړي، اواولني ويښتانو کمول صحيح نه دي.

۱۹- چا چې بي اودسه سعي وکړه نو دغه سعي صحيح کيږي؛ ځکه په سعي کې اودس شرط نه دي، بلکي مستحب دی.

۲۰- چا چې د طواف څخه مخکي په خطا سعي وکړه او يا په بي فکري؛ نو هيڅ وربانديي نشته، او د نبي ﷺ څخه ثابت دي چې يو سړي ور څخه پوښتنه وکړه او وويل چې سعي مي د طواف څخه مخکي وکړه، نو نبي ﷺ ورته وويل: " لا حرج"[1] ترجمه: خير دي څه پروا نه لري.

نو دا په دی دلالت کوي چې که چيري سعي مخکي وکړي نو صحيح کيږي، خو احتياط دا دي چې قصداً دا کار ونه کړي، اوکه کله ور څخه په نا پوهي او يا په بي فکري وشي دا کار؛ نو بيا وربانديي څه نشته دی.

---

(۱) أبو داود په (المناسك) باب فيمن قدم شيئاً قبل شيء في حجه، کي په دي نمبر /۲۰۱۵ روايت کړي دي.

باب صفة الحج والعمرة

د حج او عمري كولو دطريقي بيان

١- هغه حاجي چې د عمري څخه يې ځان حلال كړي وي؛ نو ورته جائز دي چې (د ذي الحجي دمياشت) په اتمه ورځ د حج لپاره چې په كوم ځای كې وي إحرام وتړي، كه د مكي دننه وي او كه بهر وي، او يا په منى كې وي؛ ځكه نبي ﷺ هغو صحابو ته چې ځانونه يې د عمري څخه حلال كړي وو أمر وكړو چې د حج لپاره په اتمه ورځ د خپلو استوګن ځايونو څخه إحرام وتړي.

٢- څوك چې په اتمه ورځ د ذي الحجي په منى كې اوسيدونكي وي؛ نو هم د هغه ځای څخه به إحرام تړي، او مكي مكرمي ته د تللو يې كوم حاجت نشته، د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ددى حديث د عموميت له وجي: چې كله نبي ﷺ د ميقاتونو يادونه وكړه نو وفرمايل: " **ومن كان دون ذلك فمهله من حيث أنشأ حتى أهلُ مكةَ يُهِلّون من مكة**".(١)

---

(١) بخاري په (الحج) باب مهل أهل الشام، كي په دى نمبر ١٥٢٢ روايت كړي،

==

ترجمه: اوڅوك چې ددى ميقاتونو څخه مكي مكرمي طرف ته وي، نود إحرام ترلو اوتلبيې ځاى يې هغه دى چې دكوم ځاى څخه يې شروع وكړه؛ تر دي چې د مكي مكرمي والا به د مكي څخه إحرام تړي او تلبيه به وائي.

۳- څوك چې د عرفات د حدودو څخه بهر پاتي شي نو حج يې نه صحيح كيږي، اګر كه ورته نيژدي وي.

۴- څوك چې د عرفات په ميدان كې فقط د لمر د زوال څخه مخكي ودريدلو نو أكثر علماء په دى نظر دي چې دا ودريدل يې نه كافي كيږي، او إمام أحمد بن حنبل: او ځني نور علماء وائي چې: څوك د عرفات په ميدان كې د لمر د زوال څخه مخكي ودريدلو نو دغه ورلره كافي كيږي، د عروة بن مضرس د حديث د عموميت له وجي چې نبي ﷺ فرمايلي: ". . . **وقد وقف بعرفات قبل ذلك ليلاً او نهاراً**".(۱)

او مسلم په (الحج) باب مواقيت الحج والعمرة كې په دى نمبر ۱۱۸۱ روايت كړي.

(۱) إمام أحمد په (مسند المدنيين) كې د عروة بن مضرس نه په دى نمبر/۱۵۷۷۵ روايت كړي، او ترمذي په (الحج) باب ما جاء فيمن أدرك الإمام

==

ترجمه: او په تحقيق سره چې ودريدلي وي په عرفات ميدان کې مخکې له دينه د شپې او يا د ورځې.

نو نبي ﷺ مطلق ورځ يادې کړې، نو دوي وائي: چې دا د زوال څخه مخکې او وروسته دواړه حالاتو ته شامل ده، خو جمهور علماء ددې خبرې برعکس دي، او دا چې په عرفات کې ودريدل نه صحيح کيږي مګر د زوال څخه وروسته؛ ځکه نبي ﷺ د زوال څخه وروسته په عرفات کې ودريدلي، او هم دا خبره ډيره احتياطي ده.

۵- څوک چې په عرفات کې د زوال څخه وروسته ودريدلو نو دغه يې کافي دي، که د لمر پريوتو مخکې د عرفات څخه ووتلو نو په ده باندې دم ورکول دي، که بيرته د شپې عرفات ته وروا پس نه شي يعني د اختر د ورځې په شپه کې.

۶- څوک چې په عرفات کې د شپې ودريدلو؛ نو دغه ورلره کافي دي، اګر که ورباندې تير شي.

۷- په عرفات کې د ودريدلو وقت د نهمې ورځ د سهار څخه

بجمع، کې په دې نمبر/۸۹۱ روايت کړې دی.

تر د قرباني دورځي د شپې تر آخري پوري دي، د هغو آحاديثو له وجي چې په دی حقله راغلي دي، او بهتره او احتياطي خبره داده چې په عرفات کې ودريدل د زوال څخه وروسته وي، او يا د نهمي ورځ د شپې وي؛ ددی لپاره چې د جمهورو علماء کرامو د خلاف څخه ځان وساتل شي، چې هغوي ددی خبری ويونکي دي چې د زوال څخه مخکې په عرفات کې ودريدل نه صحيح کيږي.

۸- په حاجي باندي په مزدلفه کې د نيمي شپی پوري شپه تيرول واجب دي، او که ترسهار سپيني رڼائي پوري پاتي شو نو ډيره بهتره ده.

۹- دښځو لپاره د مزدلفي څخه د نيمي شپي وروسته تلل مطلق جائز دي، اګر که مضبوطي او قوي وي، او همدارنګه دنور کمزورو لپاره لکه: بوډاګان او مريضان او دوي سره چې څوك ملګري وي؛ ځکه نبي ﷺ په داسي حالت کې إجازت ورکړي.

۱۰- څوك چې په مزدلفه تير شو او شپه يې ورپکي ونه کړه، او د صباح راختو څخه مخکي ورته بيرته راواپس شو او لږ وقت يې ورپکي تير کړو نو په ده هيڅ نشته دی.

۱۱- چا چې په مزدلفه کې شپه تیرول پریښودل؛نو په ده باندې دم دی.

۱۲- لازمه نه ده چې کانې به د مزدلفې څخه راټولوي، بلکې د منی څخه هم جائز دي.

۱۳- د اختر دنیمې شپې څخه مخکې د جمرة العقبي (غټ شیطان) ویشتل جائز نه دي، او همدارنګه طواف زیارت.

۱۴- صحیح خبره دا ده چې د جمرة العقبي (غټ شیطان) ویشتل د أختر دنیمې شپې څخه وروسته د کمزورو او نورو لپاره صحیح کیږي، خو مضبوط او قوي مسلمان لپاره مستحب دي چې ددی کوښښ وکړي چې تر څو یې په رڼا ورځ کې وولي، ددی لپاره چې نبي ﷺ تابعداري ورپکې وکړي شي؛ ځکه نبي ﷺ جمرة العقبة د لمر راخرګندیدو څخه وروسته ویشتلي ده.

۱۵- د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دا حدیث چې وائي: " لا ترموا الجمرة حتى تطلع الشمس".[1] ضعیف دی.

---

(۱) إمام أحمد په (مسند بني هاشم) کې د عبدالله بن عباس د مسند په اولني

==

ترجمه: جمرة العقبة (غټ شيطان) مه ولي تر څو چې لمر راخرګند شي.

ځکه د الحسن العرني او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما تر منځ انقطاع راغلي، او که دا ومنو چې دا حديث صحيح دی؛ نو په مستحب والي حمل کولای شي؛ ددی لپاره چې د آحاديثو تر منځ توافق او جمع والي وکړي شي، لکه څرنګه چې دي خبري ته حافظ ابن حجر: إشاره کړي ده.

۱۲- په يوولسمه اودولسمه او ديارلسمه ورځ څوك چې په دولسمه د منی څخه نه وي ستانه شوي د زوال څخه مخکې د جمرو (شيطانانو) ويشتل ورته جائز نه دي؛ ځکه نبي ﷺ په دري واړو ورځو کې د زوال څخه وروسته ويشتلي دي، او دا يې فرمايلي دي: "خذوا عني مناسككم".[1]

سرکې په دي نمبر/۲۰۸۳ روايت کړي، او ترمذي په (الحج) باب ما جاء في تقديم الضعفة من جمع بليل، کې په دی نمبر/۸۹۳ روايت کړي.

(۱) ددي په شان مسلم په (الحج) باب استحباب رمي جمرة العقبة يوم النحر راكباً، کې په دی نمبر/۱۲۹۷ روايت کړي.

ترجمه: زما څخه د حج أحکام واخلي اوزده يې کړي.

او بله دا چې عبادتونه توقيفي دي، هغه څه ورپکي جائز نه دي چې هغه شريعت نه وي مقرر او رواء کړي.

۱۷- د شپې ويشتلو په منع والي باندي کوم دليل نه دي ثابت، او اصل يې جائز والي دي، او بهتره دا ده چې د أختر ټوله ورځ کې ويشتل کولای شي، او په دري ورستنيو ورځو کې د زوال څخه وروسته که آسان وي، او د شپې ويشتل يې صحيح کيږي د هغي ورځ څخه چې لمر يې پريوتلي وي، او د راتلونکي ورځي څخه نه کافي کيږي؛ نو د چا څخه چې د اختر په ورځ ويشتل د ورځي پاتي شو نو د يولسمي ورځ د شپې تر اخري پوري ويشتلي شي، اود چا څخه چې د يولسمي ورځ د لمر پريوتلو څخه مخکې ويشتل پاتي شو نو د لمر پريوتلو څخه دي وروسته ددولسمي په شپه وولي، او د چا څخه چې په دولسمه ورځ د لمر پريوتلو څخه مخکې ويشتل پاتي شو نو ددياارلسمي په شپه دي د لمر پريوتلو څخه وروسته وولي، او د چا څخه چې په ديارلسمه ورځ ويشتل پاتي شو تر دی چې لمر ډوب شو نو ويشتل ور څخه پاتي شو، او دم ورباندي واجب شو؛ ځکه د ويشتلو ټول وقت ددياارلسمي ورځ د لمر په

پریوتلو باندي ختمیږي.

۱۸- د ویشتلو په ځای کې د کانړو پاتي کیدل شرط نه دي، خو ورولیدل ورپکي شرط دي، که کانړي د ویشتلو په ځای کې ورولویږي، او بیا ور څخه بهر ته ووځي نو کافي کیږي، د علماء په ښکارندوي قول، او ددی خبري وضاحت إمام نووي په خپل کتاب المجموع کښې کړي دی، او د ډانچي ویشتل مستحب نه دي، بلکي سنت طریقه په هغه حوض کي کانړي وراچول دي.

۱۹- چا سره چې شك پیدا شو چې کانړي د ویشتلو په ځاي کې ورغورځیدلي او که نه، نو په ده لازم دي چې په یقیني توګه د کانړو شماره پوره کړي.

۲۰- کوم کانړي چې د ویشتلو په حوض کې وي په هغو دویم ځل ویشتل جائز نه دي، او کوم چې غاړو څنډو ته وي نو هغو کي څه خبره نشته.

۲۱- احتیاط او غوره خبره دا ده چې په کوم کانړي ویشتل شوي وي بیا ورباندي ویشتل ونه شي.

۲۲- چا چې اوه واړه کانړي په یو ځل وویشتل نو د یو کانړي

څخه کافي کيږي، او وروسته د نورو پوره کول لازم دي.

۲۳- د جمرو (شيطانانو) په ويشتلو کې ترتيب واجب دی، نو شروع به په اولني کوي، او بيا دويمه او بيا دريمه باندي چې جمرة عقبة ورته ويلي شي.

۲۴- د کانو وينځل مستحب نه دي، بلکي بغير د وينځلو به يې ولي؛ ځکه دا د نبي ﷺ او صحابو کرامو څخه نه دي روايت شوي.

۲۵- د ټولو ورځو ويشتل ديارلسمي ورځ ته وروسته کول که حاجت ورته پيښ شي صحيح کيږي، او بيا به ترتيبواري سره ويشتل کوي؛ نو اول به جمرة العقبة (غټ شيطان) د لسمي ورځي څخه وولي، او بيا به راواپس شي جمرة صغرى (وړوکي شيطان) به وولي، او بيا به جمرة الوسطى (منځني شيطان) وولي، او بيا به جمرة العقبة (غټ شيطان) وولي د يولسمي ورځ لپاره، او بيا به واپس شي او دري واړه جمري به ددولسمي ورځ لپاره وولي، او بيا به واپس شي او دري واړه جمري به ديارلسمي ورځ لپاره وولي که چيري يې تلوار نه وي کړي، خو سنت طريقه دا ده چې جمري (شيطانان) داسي وولي لکه نبي ﷺ چې څرنګه ويشتلي دي، نو جمرة العقبة په اووه

کانړو د اختر په ورځ وولي، بیا به په یولسمه ورځ دري واړه جمري (شیطانان) وولي، شروع به په جمرة صغری وکړي کومه چې مسجد خیف ته نژدي ده، بیا منځني، او بیا جمرة العقبة، او بیا به په دولسمه ورځ دري واړه هم دغه رنګه وولي، بیا به په دیارلسمه ورځ دري واړه وولي؛ لکه څرنګه چې په یولسمه او دولسمه ورځ ویشتلي وي، که په دولسمه ورځ یې د منی څخه په تللو کي تلوار نه وي کړي.

۲۶- دکمزورو څخه په جمرو ویشتلو کي نیابت جائز دي؛ لکه د مریضانو او بوډاګان او ماشومانو، او ددي په حکم کې هغه ښځه هم ده چې ماشومان ورسره وي، او داسي څوک ورسره نه وي چې د هغوي حفاظت او ساتنه وکړي.

۲۷- د جمرو په ویشتلو کې وکالت جائز نه دي مګر د شرعي عذر په خاطر؛ لکه څرنګه چې مخکي تیر شو.

۲۸- چا چې بل څوک په ویشتلو کې بغیر د عذر شرعي څخه وکیل کړو نو د کانړو ویشتل وربانديي پاتي دي، د علماء په صحیح قول، اګر که نفلي حج یې وي، او که خپله یې ونه ولي نو دم وربانديي لازم دی، چې په مکه کې به د غریبانو لپاره حلالولي شي کله چې یې وقت تیر شي، او په خپله جمري

(شیطانان) په کانړو ونه ولي.

۲۹- چا چې د بل چا څخه په ویشتلو کې وکالت وکړو نو د هري جمري ویشتلو په وقت به اول د ځان څخه وولي، او بیابه دهغه چا څخه چې وکالت یې ورلره کړي وي.

۳۰- چا چې د بل چا څخه د کانړو ویشتلو إراده وکړه، نو دا دوه حالات لري: او هغه دا چې خپل ځان لپاره دري واړه جمري وولي، او بیا د هغه چا لپاره د سره شروع وکړي چې نیابت ورلره کوي، او دویم حالت دا چې د خپل ځان له طرفه هره جمرة اول وولي، او بیا د هغه چا لپاره چې نیابت ور څخه کوي، او دا ډیره ښه خبره ده، د تکلیف او مشقت څخه د بچوالي په خاطر، او داسي کوم دلیل نشته دی چې هغه دی ددی مخالف طرف واجب کړي.

۳۱- کډې بزي اوښ حلالول په اولني ورځ غوره او بهتره دي ددویمي ورځ څخه، او په دویمه ورځ باندي بهتره دي ددریمي ورځ څخه، او په دریمه ورځ باندي بهتره دي څلورمي ورځ څخه.

۳۲- د سر ویختان په حج او عمره کې خرول ډیر بهتره دي؛

ځکه نبي ﷺ د سر خرونکي لپاره دري ځل د رحمت او مغفرت دعا کړي، او د ويختانو کمونکي لپاره يې يو ځل دعا کړي، او د سر ځني ويختان اخستل نه کافي کيږي، بلکي ضروري ده چې د ټول سر ويختان کم کړي شي لکه د خرولو، مګر که د عمري کول حج ورځو ته نيژدي وي نو کمول يې بهتره دي، تر څو په حج کې يې وخروي، او له دي أمله نبي ﷺ خپلو ملګرو ته په حجة الوداع کې د کمولو أمر کړي وو کله چې د طواف او سعي څخه فارغ شو؛ ځکه ددوي عمره کول د حج څخه لږې ورځي مخکي وو، مګر هغه څوك چې قرباني(هدي) ورسره وه؛ نو په خپل إحرام کې پاتي شو، او أمر يې ورته په خرولو ونه کړو.

(أ) چا چې د سر ځني ويختان په نا پوهي او يا په بي فکري سره کم کړي وي، نو د سر ټول ويختان دي کم کړي او څه ورباندي نشته دی، او ښځه به د هري کمښې څخه د ګوتې د يو بند هومره ويختان پريکوي، او يا لږ کم.

(ب) چا چې د سر خرول او يا کمول هير شو او د کاڼو ويشتلو څخه وروسته يې ځان حلال کړو (يعني خپلي جامي واغوستلي) نو دا چې کله ورپه ياد شو سمدستي به جامي اوباسي او سر

به وخروي، او يا به يې کم کړي، اوبيا به جامي بيرته واغوندي، او که په ناپوهي او يا په بي فکري سره يې جامي اغوستلي وي اوپه دي حالت کي ويختان کم کړل نو هيڅ ورباندي نشته د الله تعالى ددى وينا د عموميت په خاطر چې فرمائي: ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا﴾[البقرة: ٢٨٦].

ترجمه: أي ربه زمونږ په هغه څه مونږ مه نيسه چې هير يې کړو او يا ورپکي خطاء شو.

او د شُقي والا د حديث له وجي.

٣٣- د هغه چا لپاره دليل نشته چې وائي طواف زيارت به د ذي الحجي د مياشتي څخه نه شي وروسته کولاي، او روغه او صحيح خبره داده چې وروسته والي يې جائز دى خو غوره دا ده چې څومره زر يې وکړي نو ډيره ښه ده.

٣٤- په هغه ښځه چې حيض ورباندي د طواف زيارت څخه مخکي راشي سره د مَحرمه انتظار واجب دى چې تر څو پاکه شي او طواف زيارت وکړي، او که د انتظار طاقت يې نه لرلو نو سفر کول ورته جائز دي، او طواف زيارت کولو لپاره به بيرته واپس راځي، او که د واپس راتللو قدرت يې نه

درلودلو، او د لري وطنونو وه لکه د اندونیشیا، او یا المغرب، او یا ددی په شان د نورو ملکونو؛ نو صحیح خبره دا ده چې دی ښځي ته جائز دي چې پیمپر (یعني خپل د حیض وینه ښه پاکه او په یو داسي څه شي بنده کړي چې خارجیدو ته یې نه پریږدي) استعمال کړي، او د حج په نیت طواف وکړي، او دا د یوي ډلی علماؤ په نیزد کافي کیږي، یو ددغو علماؤ دجملي څخه شیخ الإسلام ابن تیمیة او علامة ابن القیم دي، او هم دارنګه ځني نور علماء کرام.

۳۵- په قِران او مُفرد حج کونکي باندي یوه سعي کول دي، که دي دواړو د طواف قدوم سره سعي وکړه نو همدغه ور څخه کافي کیږي، او بله سعي ورباندي لازمه نه ده، او که د طواف قدوم سره یې سعي ونه کړه نو بیا ورباندي واجب دي چې طواف زیارت سره سعي وکړي.

۳۶- معذورانو ته په منی کې شپه کول معاف دي، لکه اوبه راوړونکي او ورکونکي، او هغه مریض چې په منی کې ورته شپه کول مشقت او تکلیف رسوي، خو دوي لره مستحب دي چې کوشش وکړي چې د شپې څخه بغیر نور وقتونه په منی کې حاجیانوسره تیر کړي، کله که دغه ورته آسان وي نبي ﷺ او

أصحابو پسې د اقتداء کولو په نیت.

۳۷- اوبو رسونکو او چوپانانو او د حاجیانو د مصلحت لپاره کارکونکو ته اجازه ورکولې شي چې په منی کې شپه کول پریږدي، او د جمرو ویشتل دریمې ورځ ته وروسته کړي، مګر د لسمې ورځ د کانو ویشتل؛ ځکه د ټولو لپاره په دغه ورځ ویشتل مستحب دي، او بلې ورځ ته نه وروسته کول.

۳۸- چا چې په منی کې شپه تیرول پریښودلو د منی د حدودو د نه پیژندلو په خاطر، ددی باوجود چې په منی کې یې د شپې تیرولو قدرت لرلو؛ نو په ده باندې دم لازم دی؛ ځکه ده بغیر د کوم عذر شرعي څخه واجب پریښودلو، ځکه چې په ده تپوس کول واجب وو چې تر څو واجب أداء کړي.

۳۹- کله چې حاجي په منی کې د شپې تیرولو لپاره د ځای پیدا کولو کوښښ وکړي او پیدا یې نه کړي؛ نو څه ګناه وربانديې نشته چې بهر ورځخه شپه تیره کړي، او فدیة وربانديې نشته د الله تعالی ددی وینا د عمومیت په خاطر چې فرمائي: ﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ ﴾ [التغابن: ١٦].

ترجمه: د الله څخه ویره وکړئ څومره چې ستاسي په قدرت او

طاقت کې وي.

او د نبي ﷺ ددی وينا له وجي چې فرمائي: "**إذا أمرتكم بأمر فأتوا منه ماستطعتم**".[1]

ترجمه: کله چې تاسي ته په يو کار أمر وکړم نو هغه هومره يې وکړي چې څومره ستاسي په توان او قدرت کي وي.

۴۰- چا چې يولسمه او دولسمه شپه په منی کې بغير د عذرځخه پريښوده نو دم ورباندي لازم دي.

۴۱- چا لره چې په دولسمه ورځ لمر پريوتلو(په منی کي) رالاندي کړو او د منی څخه يې نقل حرکت شروع کړي وو؛ نودا د منی څخه دوتونکي په حکم کښې دی، او څه ورباندي نشته دی، او هر هغه چا لره چې لمر پريوتلو (په منی کي) رالاندي کړو او نقل او حرکت يې نه وو شروع کړي د مخکي څخه نو په ده د ديارلسمي شپه په منی کي تيرول واجب دي، او په

---

(۱) بخاري په (الاعتصام بالکتاب والسنة) باب الاقتداء بسنن رسول الله ﷺ ، کي په دی نمبر/۷۲۸۸ روايت کړی، او مسلم په (الحج) باب فرض الحج مرة في العمر، کي په دی نمبر/۱۳۳۷ روايت کړی.

ديارلسمه ورځ د زوال څخه وروسته پرې د کانړو ويشتل واجب دي، د الله تعالى ددې وينا په خاطر چې فرمائي: ﴿ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ﴾[البقرة: ٢٠٣]

ترجمه: چا چې تلوار وکړو په دوه ورځو کې نو کومه ګناه وربانديې نشته دي، اوڅوك چې ديارلسمي ورځې ته پاتې شو نو کومه ګناه وربانديې نشته دي.

او چا باندې چې په منى کې په دولسمه ورځ لمر پريوتلو مخکې له دې چې نقل او حرکت وکړي هغه ته تلوار کونکي نه شي ويلې.

۴۲- چا چې طواف الوداع (يعني د رخصتي طواف) پريښودو اويا يې ور څخه يو چکر پريښودلو؛ نو په ده دم لازم دى، چې په مکه کې به حلالولي شي، او د مکې په فقيرانو او غريبانو به تقسيمولي شي، اګر که بيرته مکې ته راواپس شي او طواف وکړي، نو بيشکه چې دا کار د ده څخه دم نه معاف کوي.

۴۳- طواف بغير د اودس څخه نه صحيح کيږي؛ ځکه نبي ﷺ

چې كله د طواف كولو إراده وكړه نو اودس يې وكړو، او بيشكه چې فرمايلي دي: "**خذوا عني مناسككم**".(١)

ترجمه: زما څخه د حج أحكام واخلي او زده كړه.

او له دى وجي چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه په صحيح روايت كې راغلي چې فرمايلي: "**الطواف بالبيت صلاة إلا أن الله أباح فيه الكلام**".(٢)

ترجمه: د كعبي څخه طواف كول لمونځ دي مګر الله تعالى ورپكي خبرې كول جائز كړي دي.

او دا روايت د نبي ﷺ څخه مرفوع روايت كړي شوي، خو صحيح داده چې دا په عبد الله بن عباس رضي الله عنهما باندي موقوف دي، او په حكم د مرفوع كې دي؛ ځكه ددى په شان حكم څوك

---

(١) ددى په شان مسلم په (الحج) باب استحباب رمي جمرة العقبة يوم النحر راكباً، كي په دى نمبر/١٢٩٧ روايت كړي.

(٢) بخاري په (الحج) باب طواف الوداع، كي په دى نمبر/ ١٧٥٥ روايت كړي. او مسلم په (الحج) باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض، كي په دى نمبر/ ١٣٢٨ روايت كړي.

د خپل ذهن او رأي څخه نشي ويلي.

۴۴- د څلويښتي او په حيض مريضي ښځې د رخصتي طواف نشته دی، د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ددی وينا له وجي چې فرمائي: "**أمر الناس أن يكون آخر عهدهم بالبيت إلا أنه خفف عن المرأة الحائض**".[1] **متفق عليه**

ترجمه: امر کړي شوي خلکو ته چې وي دي اخرني وقت ددوي بيت الله سره مګر خو دا کار آسان کړي شوي په حائضي باندي، او د علماؤ په نيزد دڅلويښتي مريضه ښځه د حائضي پشان ده.

۴۵- چا چې د کانو د ويشتلو پوره کولو څخه مخکې طواف رخصت وکړو نو دغه د طواف رخصت څخه نه کافي کيږي، ددی له وجي چې د خپل وقت څخه يې مخکې کړي، او که سفر يې وکړو نو دم ورباندي لازم شو.

---

(۱) بخاري په (الجنائز) باب الكفن في ثوبين، کي په دي نمبر/۱۲۶۵ روايت کړي، او مسلم په (الحج) باب ما يفعل بالمحرم إذا مات، کي په دی نمبر/۱۲۰۲ روايت کړي.

۴۶- چا چې طواف رخصت وکړو او څه شي اغستلو ته يې ضرورت پيدا شو اګر که د تجارت لپاره وي نو أغستل يې ورته جائز دي تر څو چې د طواف څخه وروسته وقت تيرول کم وي، ا و که په عرف او عادت کښې وقت اوږد شي نو بيرته به طواف رخصت وکړي.

۴۷- په عمره کونکي طواف رخصت نه دی واجب، د دليل د نشت والي له وجي، او دا د جمهورو علماؤ وينا ده، او ابن عبد البر په دی خبره د علماؤ إجماع او اتفاق رانقل کړي.

۴۸- څوك چې د حج د اعمالو کولو په حالت کې مړ شي نو دهغه څخه څوك حج نه شي پوره کولي، د هغه کس د حديث له وجي چې خپلي سورلي ورلره څټ مات کړي وو نو مړ شو، نو نبي ﷺ د هغه څخه د حج پوره کولو أمر ونه کړو، او دا يې وفرمايل: "إنه يبعث يوم القيامة ملبياً".(۱)

---

(۱) بخاري په (الجنائز) باب الكفن في ثوبين، کي په دی نمبر/۱۲۶۵ روايت کړي، او مسلم په (الحج) باب ما يفعل بالمحرم إذا مات، کي په دی نمبر/۱۲۰۶ روايت کړي.

ترجمه: بيشکه دا به په ورځ د قيامت تلبيه ويونکي راپاڅولي شي.

۴۹- هغه ډير خلك چې د حج څخه وروسته د تنعيم او يا جعراني څخه او يا د نورو ځايونو څخه ډيري عمري کوي، او د حج څخه يې مخکې عمره کړې وي نو په مشروعيت او جائز والي کوم دليل نشته دي؛ بلکې دليلونه په دي دلالت کوي چې بهتره دا ده چې عمره ونه کړي شي؛ ځکه نبي ﷺ او ملګرو يې په حجة الوداع کې دغه کار نه دي کړی.

۵۰- د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دا حديث چې فرمائي: "من ترك نسكاً أو نسيه فليهرق دماً".(۱)

ترجمه: چا چې د حج يو عبادت عمل پريښودلو او يا يې هير کړو نو وينه دي تويې کړي.

د مرفوع والي حکم يې دي؛ ځکه دا خبره د خپل ذهن او رأي

---

(۱) إمام مالك په الموطأ کې په (الحج) باب التقصير، کې په دی نمبر/۹۰۵ روايت کړي، او په باب ما يفعل من نسي نسكه شيئاً، کې په دی نمبر/۹۵۷ روايت کړي.

څخه څوك نه شي ويلي، او په دى خبره كې دأصحابو كرامو څخه كوم چا د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما مخالفت هم نه دي كړي، نو چا چې واجب عمل په قصداً او يا سهواً او يا په خطايې، اويا په ناپوهي سره پريښودلو، لكه د جمرو ويشتل، او په منى كې شپه تيرول او طواف رخصت پريښودل او داسي نور كارونه نو په هغه دم واجب دى، په مكه مكرمه كې به يې حلالوي، او د مكي په غريبانو به يې تقسيموي، او په دغه كي هغه څاروي كافي كيږي چې كوم په قرباني كې كافي كيږي، او دا د گډو بزو څخه يو سر دى، او يا اومه برخه د اوښ يا غوا څخه ده.

باب الزيارة

۱- د مسجد نبوي ليدنه او زيارت په ټولو وقتونو کې سنت ده، او حج سره يې هيڅ تعلق نشته دي، او واجب هم نه ده.

۲- دا حديث چې: "أن من صلى فيه - يعني المسجد النبوي - أربعين صلاة كانت له براءة من النار وبراءة من النفاق".[1]

ترجمه: چا چې په دى مسجد نبوي کې څلويښت لمونځونه وکړل نو دده لپاره به د اور او منافقت څخه خلاصي وي.

نو دغه پورته ذکر شوى حديث د أهل تحقيق په نيزد ضعيف او کمزوري دى اعتماد ورباندې نشي کيدلاى.

---

(۱) إمام أحمد په (مسند المكثرين من الصحابة) کې د أنس بن مالك په مسند کې په دى نمبر/۱۲۱۷۳ روايت کړې.

باب الفوات والإحصار

باب دى په بيان د حج او عمري فوت كيدلو او منع والي كښې

١- منع والي ددشمن يا دنور څه په سبب كيداي شي، لكه: دمرض، يا د خرچي نشتوالي، او د ځان حلالولو تلوار به نه كوي كله چې د مكي څخه منع كونكي شي په نيژدي وقت كي د إزالي اميدوار وي.

٢- څوك چې منع كړي شو نو ځان به نه حلالوي تر څو چې هدي (قرباني) حلاله نه كړي، او بيا د سر ويښتان كم او يا ونه خروي، او كه چيري يې د مخكي څخه د حلالوالي شرط لږولي ؤ نو ځان به حلال كړي، او هيڅ ورباندي نشته دى، نه هدي (قرباني) او نه بل څه، اوكه د هدي حلالولو څخه عاجز او كمزوري شو نو لس ورځي روژه به ونيسي، او بيا به د سر ويښتان وخروي، او يابه يې كم كړي، او ځان به حلال كړي.

٣- منع كړي شوي حاجي به په هغه ځاى كې خپله هدي(قرباني) حلالوي كوم ځاى كې چې منع كړي شوي وي، كه د حرم دننه وي او كه د حرم د حدودو څخه بهر وي، او غريبانو ته به ورکولي شي كه چيري دغلته غريبان نه وو نو هغوي ته يې رسول واجب دي.

باب دی په بيان د هدي او قرباني کولو کې

۱- د مکي په اوسيدونکو دتمتع او قِران هدي (قرباني) نشته دی اګر که د حج په مياشتو کې عمره وکړي او بيا ورپسې حج وکړي؛ دا ځکه چې الله تعالى کله د څاروي د حلالولو واجب والي يادونه په متمتع وکړه او روژه نيول کله چې ورنه عاجز او کمزوري شي، نو فرمايلي دي: ﴿ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُۥ حَاضِرِى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ﴾[البقرة: ١٩٦].

ترجمه: دا د هغه چا لپاره حکم دی چې کورني يې د حرم د حدودو څخه دننه نه وي.

۲- چا چې خپله هدي (قرباني) د اختر د ورځې څخه مخکې حلاله کړه نو دغه ورته نه کافي کيږي؛ ځکه نبي ﷺ او ملګرو يې د هدي (قرباني) څاروي نه دي حلال کړي مګر د اختر په ورځو کې، او که چيري د هدي د څاروي حلالول د اختر دورځې څخه مخکې جائز وي نو نبي ﷺ به ددغه بيان کړي وي، او که بيان يې کړي وي نو صحابه کرامو به روايت کړي وي. د هدي (قرباني) حلالول ديارلسمي ورځې ته وروسته کول جائز دي؛ ځکه د أختر ټولي ورځې د خوراك او څښاك او حلالکي ورځې

دي، او بهتره دا ده چې د أختر په ورځ يې حلال کړي.

۳- د أختر د ورځو روژي نيول جائز نه دي، که نفلي وي او که فرضي، مګر د هغه چا لپاره جائز دي چې د هدي (قرباني) وسعه او قدرت ونه لري، د عبد الله بن عمر او عائشي رضي الله عنهما د حديث له وجي چې دواړه فرمائي: "چې د أختر د ورځو روژي نيولو اجازت نه دي ورکړي شوي مګر هغه چاته چې د هدي (قرباني) قدرت او طاقت ونه لري".(۱) بخاري روايت کړي دي.

٤- هغه څوك چې د تمتع او قِران حج د قرباني څخه بې وسعه او کمزوری شي؛ نوورته بهتره ده چې دري ورځي روژي د عرفات د ورځي څخه مخکي ونيسي، او که داختر په ورځو کې ونيولي نو څه پروا نه لري، لکه څرنګه چې په مخکي تيره شوي مسألة کې يادونه وشوه.

٥- څوك چې د تمتع حج او قران حج د هدي (قرباني) قدرت او وسعه ولري، او روژه ونيسي نودده دغه روژي نه صحيح

---

(۱) بخاري په الصوم باب صيام أيام التشريق، کې په دی نمبر/۱۹۹۸ روايت کړي.

كيږي، او په ده لازم دي چې هدي قرباني كړي، اګر كه د أختر ورځي وتلي وي؛ ځكه د هدي (قرباني) دده په ذمه قرض ده.

٦- د هدي (قرباني) قيمت وركول جائز نه دي، او بيشكه چې قرباني كول يې واجب دي، او دا خبره چې قيمت وركول يې جائز دي د ځان څخه نوي شريعت جوړول او ډير بد كار دى، الله تعالى فرمائي: ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ ﴾[الشورى: ٢١].

ترجمه: آيا ددوي لپاره څه شريكان دي چې مقرر كړي يې ده څه برخه ددين د دوي لپاره هغه چې الله تعالى په دغه اجازه نه ده كړى.

٧- د هدي (قرباني) اخستلو او رانيولو لپاره قرضه كول جائز دي، او كه كله د پيسو قدرت نه لري نو قرضول يې واجب نه دي، او روژه نيول تري كافي كيږي.

٨- په فديه كې خوراك وركول او همدارنګه د څاروي حلالول دواړه د حرم شريف د غريبانو مسكينانو لپاره دي.

٩- د هدي قرباني به د مكي په غريبانو مسكينانو تقسيمولي شي،كه دمكي أصلي باشندهګان وي اوكه ورپكي بهرني

اوسيدونکي وي.

۱۰- چا چې خپل د هدي څاروي په داسي ځای کې پريښودلو چې فائده ورڅخه نشي أخستلي نو دغه ورڅخه نه صحيح کيږي.

۱۱- چا چې د هدي څاروي د حرم د حدودو څخه بهر قرباني کړو لکه په عرفات او جده کې نو دغه ورڅخه نه صحيح کيږي، اګر که د حرم په حدودو کښې دننه تقسيم کړي، او په ده باندي قضاء ده، که پوهه وي، او که ناپوه وي.

۱۲- د تمتع او قران حج دهدي څاروي او د قرباني د څارويو څخه خوراك او خيراتي ورکړه او چاته د تحفي او هديې په شکل ورکول مستحب دي.

۱۳- حاجي ته مستحب دي چې د هدي څاروي د قرباني کولو په وخت دا دعاء ووائي: "بسم الله والله أكبر اللهم هذا منك ولك". او د څاروي مخ به قبلي ته ګرځوي، او مخ ګرځول يې قبلي ته سنت دي، او واجب نه دي.

۱٤- د علماؤ په صحيح قول کې دأختر قرباني سنت مؤکده ده، مګر که وصيت يې چا کړي وي، نو د وصيت نافذول واجب

دي، او إنسان ته مستحب دي چې خپل مړي سره په قرباني کولو نیکي وکړي، او دارنګي په نورو صدقو او خیراتونو ورکولو باندي.

د حج په مقررتيا کې حکمت او دهغه فائدي او حکمونه [1]

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على عبده ورسوله وأمينه على وحيه وخليله وصفوته من عباده نبينا وإمامنا وسيدنا محمد بن عبد الله وعلى آله وأصحابه ومن سلك سبيله واهتدى بهداه إلى يوم الدين. أما بعد:

زه د الله تعالى ډير شکر ګذار يم چې پرما يې د زمکي په دي غوره برخه کې ورونو سره د مخامخ او يوځاي کيدو نعمت وکړو، ددى لپاره چې يو بل ته د حق پرستي لارښوونه او وصيت وکړو، او د يو بل خير خواهي په طلب کې شو، او يو بل سره په تقوى او نيکي کې لاس إمداد وکړو، او د الله تعالى او د هغه د حقوقو يادونه يو بل ته وکړو، او يو بل ته يادونه وکړو ددى غټې بندګى چې د حج بندګي ده، او د هغه څه يادونه چې په دى کې کوم غټ خير او لويي فائدي دي او د

---

(١) د مکي مکرمي په ثقافي او أدبي ټولنځاي کښې د ١٤١٢هـ په حج کې د شيخ عبد العزيز بن باز تقرير.

مسلمانانو لپاره ورپکي په هر ځای کې ډیري غوره او ښې نتیجې دي.

نو دالله تعالی څخه غواړم چې زمونږ دا اجتماع مبارکه وګرځوي، او زمونږه زړونه او کارونه ټول صالحه وګرځوي، او مونږ ته په دین پوهه او ټینګښت راکړي، او زمونږ او حاجیانو ورونو څخه یې قبول او منظور وګرځوي اود ټولو مسلمانانو څخه، او د الله تعالی څخه غواړم چې زمونږ ټول هغه عملونه چې الله تعالی ته پرې نیزدیکت غواړو قبول او منظور وګرځوي، او بیا د أم القری پوهنتون د مدیر او ددی نادي رئیس قدرمند ورور الشیخ: راشد الراجح دي اجتماع ته په رابلنه شکرګذار یم ، او دالله تعالی څخه غواړم چې الله تعالی دي په کوښښونو کې برکت واچوي، او هر د خیر خیګړي په کار دي دده إمداد وکړي، او دا چې مونږ او تاسي او دا د سمي لار اوهدایت موندونکو څخه وګرځوي او بیشکه دا الله تعالی غوره ده هغه چا دی چې غوښتنه تري کیدی شي.

أي ورونو د حج عبادت کار ډیر غټ دي او فائدي ډیري زیاتي دي، اوحکمتونه یې قسماقسم دي، اوچا چې دالله په کتاب او د پیغمبرﷺ په حدیثو کې په دی موضوع کې سوچ او

فکر وکړو نو د دغو شیانو څخه به ډیر څه وپیژني.

او په تحقیق سره الله رب العزت د حج عبادت خپلو بندګانو لپاره مقرر کړی؛ ځکه په دی کې ډیر غټ مصلحتونه دي، اویو بل سره تعارف او پیژاندنه ده، او یو بل سره د خیر په کارونو کې لاس إمداد کول دي، او یو بل ته په حق باندي تسلي او اطمئنان ورکول دي، او په دین کې پوهه حاصلول دي، او د الله تعالی د کلمي بلندي او توحید عقیده لرل دي، او الله لره إخلاص کول دي، او داسي نور غټ غټ مصلحتونه او هغه فائدي چې شمار یې نه شي کیدلاي.

او د الله تعالی د رحمت دجملي څخه دا ده چې حج یې په ټولو مسلمانانو فرض کړي دي، که هغه په مشرق کښې وي او که په مغرب کښې، نو حج په ټولو مسلمانانو عمومي فریضه ده که سړي وي او که ښځې، که عرب وي او که عجم وي، او که واکداران وي، او که عام اولس وي، د حج دطاقت او توان لرلوباوجود؛ لکه څرنګه چې الله تعالی فرمائي: ﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾[آل عمران: ۹۷]

ترجمه: په خلکو د الله تعالی لپاره د بیت الله حج کول لازم دي،

په هغه چا چې د رسيدلو قدرت او طاقت ورته ولري، او چا چې تري إنکار وکړو؛ نو بيشکه الله تعالى بې پروا دى د ټولو مخلوقاتو څخه (يعني حاجت ورته نه لري).

نو آيت کريمه واضحه ده په دى کې چې حج کول په ټولو مسلمانانو د قدرت لرلو باوجود واجب دي.

او حج په ټول عمر کښې يو ځل واجب دي؛ لکه څرنګه چې نبي ﷺ فرمايلي دي کله چې تري پوښتنه وکړي شو: آيا په هر کال کې حج کول دي اي پيغمبره؟ نو هغه وفرمايل: "لو قلتها لوجبت، الحج مرة، فمن زاد فهو تطوع".(١)

ترجمه: که چيرې مې ويلي وائي نو په هر کال کې به واجب کړي شوي وي، خو حج په ټول عمر کې يو ځل واجب دى او چا چې د يو ځل څخه ډير وکړو نو دغه نفلي دي.

اودا دالله تعالى آسانوالي او د هغه د لويو نعمتونو څخه دي

---

(١) إمام أحمد په (مسند بني هاشم) کې د عبد الله بن عباس مسند په شروع کې په دي نمبر/٢٢٣٧ روايت کړي دى، او الدارمي په (المناسك) باب كيف وجوب الحج، کې په دى نمبر/ ١٧٨٨ روايت کړي.

چې حج يې په عمره کښې يو ځل فرض کړي دی؛ ځکه که چيري ددی څخه زيات وی نو د هغه چا لپاره به ډير تکليف او مشقت وی چې ددی مبارکي ځمکي څخه لري وي؛ خولکن الله تعالی په خپل رحم او مهرباني سره حج په عمرکښې يو ځل فرض کړي دی، او چا چې ددی څخه زيات وکړو نو هغه نفلي دی.

او د نبي ﷺ په صحيح حديث کې راغلي چې فرمايلي: "**العمرة إلى العمرة كفارة لما بينهما والحج المبرور ليس له جزاء إلا الجنة**".(۱)

ترجمه: يوه عمره تر بلي عمري پورې د هغه ګوناهونو کفاره ده چې ددواړو تر منځ شوي وي، او نيکه عمله حج لپاره بدله نشته مګر جنت.

او په بخاري مسلم کې د نبي ﷺ څخه روايت دی چې فرمايلي: "**من حج فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولدته أمه**".(۲)

---

(۱) بخاري په (الحج) باب وجوب العمرة وفضلها، کې په دی نمبر/ ۱۷۷۳ روايت کړې، اومسلم په (الحج) باب فضل الحج والعمرة ويوم عرفة، کې په دی نمبر/۱۳۴۹ روايت کړی.

(۲) بخاري په (الحج) باب فضل الحج المبرور، کې په دی نمبر/ ۱۵۲۱ روايت کړی دی، اومسلم په (الحج) باب فضل الحج والعمرة ويوم عرفة، کې په دی

==

ترجمه: چا چې حج وكړو او جماع او شهواني كارونه ورپكي ونه كړي، او نه يې ورپكي نور ګوناهونه وكړل؛ نو بيرته به داسي واپس شي لكه څرنګه چې مور زيږولي وي. (يعني د ګوناهونو څخه به پاك شي).

او همدا رنګه نبي ﷺ فرمايلي: "**تابعوا بين الحج والعمرة فإنهما ينفيان الفقر والذنوب كما ينفي الكير خبث الحديد والذهب والفضة، والحج المبرور ليس له ثواب إلا الجنة**".(١)

ترجمه: د حج او عمرو تر منځ پرله پسي والي وكړئ ؛ ځكه دا دواړه غريبي او ګناهونه ختموي، لكه څرنګه چې مشك (بنى) د اوسپنې او سرو او سپينو زرو خرابي او خيرني برخي ختموي، او نيك عمله حج لپاره بدله او ثواب نشته مګر جنت.

نو د حج ډير غټ شأن او ډيري فائدي دي، او د هغو غټو

نمبر/ ١٣٥٠ روايت كړى دى.

(١) إمام أحمد په (مسند المكثرين من الصحابة) كي دعبد الله بن مسعود په مسند كي په دى نمبر/ ٣٦٢٠ روايت كړى، اوترمذي په (الحج) باب ما جاء في ثواب الحج والعمرة، كي په دى نمبر/ ٨١٠ روايت كړى دي.

فائدو دجملي څخه يې دا ده کله چې نيك عمله وي نو بدله يې جنت او نيکبختي او د ګناهونو بښنه ده، او دا يې غټه فائده او ګټه ده چې د بل هيڅ شي سره نه شي سمولي.

او الله رب العزت بيت الله ځای دأمن او ثواب ګرځولي؛ لکه څرنګه چې الله فرمائي: ﴿ وَإِذْ جَعَلْنَا ٱلْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا ﴾[البقرة: ١٢٥].

ترجمه: او ياد کړه هغه وقت لره چې مونږه بيت الله وګرځاوو لپاره د خلکو ځای د أمن او ثواب.

چې راځي دي بيت الله ته د هرځای څخه بيا بيا او دي بيت الله ته د راتللو څخه نه مړيږي او نه ستړي کيږي؛ ځکه دي ته په راتګ کې غټ خير او ډير زياتي فائدي دي، او ددي بنياد کيښودی شوي د الله په توحيد اوإخلاص سره، الله تعالى فرمائي: ﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِى شَيْـًٔا وَطَهِّرْ بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾ ﴾ [الحج: ٢٦].

ترجمه: او ياد کړه هغه وقت لره چې تيار کړو مونږه إبراهيم عليه السلام لپاره ځای د بيت الله، او دا چې شريك به نه ګرځوي زما سره هيڅ څوك، او پاك کړۀ کور زما لپاره د طواف کونکو او

ودريدونكو د الله د عبادت لپاره او د لمونځ كونكو لپاره.

نوالله تعالى برابر او تيار كړو دا بيت الله د خپل دوست إبراهيم عليه السلام لپاره چې جوړ يې كړو، د الله په توحيد او هغه لپاره د إخلاص په وجه، او د شرك د نه كولو لپاره، او د نبي ﷺ نه پوښتنه كړي شوي چې د خلكو لپاره كومه كوټه (بيت الله) اوله جوړ كړي شوي نو وفرمايل: "هو المسجد الحرام".(1) دغه مسجد حرام دى، او الله رب العزت په خپل كتاب كې فرمائي:

﴿ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ ﴾ [آل عمران: ٩٦]

ترجمه: بيشكه د خلكو د عبادت لپاره چې اول كور جوړ كړي شوي هغه دي چې په مكة المكرمة كې دى چې بركتي دي، او ځاى د هدايت دى لپاره د خلكو.

نو اول بيت الله جوړ كړي شوي دعمومي عبادت لپاره، او الله رب العزت بيان كړي چې د بيت الله بنياد په توحيد

---

(1) بخاري په (أحاديث الأنبياء) باب قول الله تعالى: "ووهبنا لداود سليمان"، كې په دى نمبر/٣٤٢٥ روايت كړي، اومسلم په (المساجد ومواضع الصلاة)، كتاب په اول كې په دى نمبر/ ٥٢٠ روايت كړي.

اوإخلاص باندي ايښودي شوي.

نو په هر مسلمان واجب دي چې ددی بيت الله د راتلو قصد يې کړي وي چې خاص يواځې الله لره خپل عبادت وکړي، او په دی کې کوښښ وکړي چې ټول عملونه يې يواځې الله لپاره وي: لمونځونه او دعاګاني او طواف او سعي ټول عبادتونه يې الله لپاره وي، او له دی أمله الله تعالى فرمايلي: ﴿وَطَهِّرْ بَيْتِيَ﴾ [الحج: ٢٦]. يعني پاك کړه ځای د بيت الله د شرك کولو څخه د طواف کونکو لپاره، او په تحقيق سره شروع يې په طواف کړي؛ ځکه طواف نه شي کولای مګر په دی بيت الله کې، داسي هيڅ يو عبادت په دنيا کې نشته چې په هغه کې طواف وي مګر ددی بيت الله چاپيره به وي، او هرچې د قبرونو او کانو ونو څخه طواف دي نو دا شرك أکبر دي او داسې دي لکه دغو لپاره چې لمونځونه او سجدي کوي، او که چيري ددغو شيانو طواف وکړو الله ته د نيزديکت په خاطر نو دغه بدعت دي، هيڅ يو داسي طواف نشته چې الله تعالى ته پري څوك ځان نيزدي کوي مګر ددی بيت الله طواف دي، او ددی بيت الله پاکوالي به وي د شرك او ګمراهي او بدعتونو څخه په پاکوالي باندي، او دا چې دده ګرد چاپيره به نه وي مګر د الله توحيد او هغه لپاره

إخلاص، او هغه عبادت چې الله مقرر کړي او روا کړي دی.

نو په چارواکو او ساتونکو ددی بیت الله واجب دي چې دا بیت الله د شرك او بدعتونو او ګناهونو څخه پاك کړي تر څو دغه بیت الله محترم او پاك شي د هر هغه څه څخه چې الله حرام کړی؛ لکه څرنګه چې الله مقرر کړی.

او په بیت الله کې ښکاره او واضحه نښې او علامې دي: مقام إبراهیم دي، او د حرم ځمکه چې ټوله د إبراهیم عليه السلام مقامونه دي، نو صفا او مروه او زوړ ازاد بیت الله او منی او مزدلفه او عرفات دا ټول هغه ځایونه دي چې را په یادولي شي ددی په سبب عزتمند او غټ پیغمبر إبراهیم عليه السلام او د هغه کوښښونه او غټو کارونه چې د الله د توحید او إخلاص په لاره کې خرچ کړي دي، اود هغه خپل قوم ته دالله دتوحید او دهغه د شریعت تابعداري ته دعوت.

او الله رب العزت د حج په دی عظیم عبادت کې فرمائي:

﴿ٱلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَٰتٌ﴾[البقرة: ١٩٧].

ترجمه: حج په معلومو میاشتو کې دي.

چې هغه د دواړه أختر او د میاني میاشت ده او د غټ اختر د

مياشتي لس اولني ورځي دي، يعني دوه مياشتي اود مياشتي يو څه برخه، او بيا الله تعالى فرمائي: ﴿فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ﴾[البقرة: ١٩٧].

ترجمه: په چا چې په دى دري مياشتو کې حج فرض شو، نو نشته په حج کښې د شهوت خبري او کارونه، او نه د ګناه کارونه، او نه جنګ جګړه کول.

اودا د عظيمو منفعتونو او غټو فائدو څخه دي چې بيت الله ته راتلونکي دى ددى لپاره راغلي چې الله تعالى لپاره يواځي عبادت وکړي بغير د شرك کولو څخه، سره د هر هغه څه څخه د پاکي او ځان ساتلو څخه چې د شريعت مخالف وي، تر دي چې ټول عبادت الله تعالى لپاره شي، چې هيڅ قسم ته کمي ورپکي نه وي، او په دى سره د ګناهونو څخه داسي پاك ووځى لکه چې مور زيږولي وي، کله چې حج وکړي او کوروالي او شهوتي کارونو څخه ځان وساتي، او په حج کې ګناهونه ونه کړي.

او رفث: کوروالي ته وائي او هغه څه ته چې رابلنه کوي دغه کار ته، که هغه کتل وي يا لاس لږول وي او يا خبري، او يا داسي نور شيان لکه څرنګه چې علماء ددغو شيانو بيان کړي.

او فسوق: هر قسم ګناهونو ته وائي چې په حج کې يې کول حرام وي او يا مطلقي حرام وي، او د هغه شيانو دجملي څخه چې په حج کې کول حرام دي: د إحرام تړلو څخه وروسته د نوکانو پريکول دي او د ويښتانو کمول، اوخوشبوي استعمالول، او د جامو اغوستل، او سړي لپاره د سر پټول، او سړي او ښځي دواړو لپاره دستاني په لاس کول، او ښځي لپاره نقاب استعمالول دي، او داسي نور چې الله په محرم باندي حرام کړي وي.

او همدارنګه نور عام حرام شيان دي: لکه زنا او غلا او زور زياتي کول په مال او عزت او نفس کې، او د سود خوړل، او داسي نور هغه چې الله تعالى په حج او غير د حج کې په ټولو حرام کړي وي.

﴿ وَلَاجِدَالَ ﴾ [البقرة: ١٩٧]. او په مؤمن باندي لازم دي چې د جنګ جګړو او هغو لانجو څخه لري اووسيږي چې زړه بدوالي راپيداکوي؛ نو حج د مينې محبت او مدد او پاك نيتي وسيله ده، او د غټو حکمتونودجملي څخه يې د هغه څه پريښودل دي چې د بغض او کيني اوزړه بدوالي سبب کيږي: د شهوتي کارونو او ګناهونو او جنګ جګړو څخه؛ نو دا حج غټه وسيله

ده د زړونو د پاکي او د هماهنګی او په نیکي او پرهیزګاری باندي د یو بل سره په مدد کولو، او په ټوله ځمکه د الله کې د خلکو تر منځ پیژندل، او د جاهلیت په زمانه کې به د عربانو جنګ جګړې وي، نو الله ددغه کار څخه منع کړل، نو په حج کې جنګ جګړه او لانجې نشته دي، نو هغه څه چې د زړه بداوالي او کینې سبب کیږي دغه ټول ناجائز دي، کله که د یو ورور په حق کې درځخه غیبت وشي نو الله ته ددغه څخه توبه وباسه، او ددغه معافي ورڅخه وغواړه؛ تر څو په حج کې ټولي خبرې نیکي او خیر او تقوی ته رابلونکي شي، او د یو بل سره د خیر د کارونو او پاك نیتي سبب شي، او د هر هغه څه څخه چې سبب د جودائي او د اختلاف کیږي لرې والي اختیار کړه.

او هر چې بحث مباحثه ده په ادبي طریقه نو په هر وقت کې ددغه غوښتنه کیدلای شي الله تعالی فرمائي: ﴿ ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ ﴾[النحل: ١٢٥].

ترجمه: رابلل وکړه لاري د رب خپل ته په حکمت او نیك وعظ سره، او جواب ددوي د خبرو کوۀ په ښې طریقي سره.

نو دا د مُحرِم او غیر مُحرِم څخه مطلوب دي. او الله تعالی

فرمائي: ﴿وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ﴾[العنكبوت: ٤٦]

ترجمه: بحث مباحثه مه کوی د أهل کتابو سره مګر په هغه طريقه چې خائسته وي.

نو په هغه بحث مباحثي کې څه مشکل نشته چې په خائسته طريقه وي، د شکونو او شبهو لري کولو لپاره، او د حق ښکاره کولو لپاره د حق په دليلونو، او ددشمني اوکينې او زړه بداوي د اسبابو څخه دلري والي صورت کښې.

او بيا الله فرمائي: ﴿وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُ﴾[البقرة: ١٩٧].

ترجمه: هغه څه چې تاسي کوي د څه نيکي څخه نو الله تعالى پري خبردار دى.

او په دى کې تيزي ورکول دي د نيکى په قسمونو، او په حاجي لازم دي چې د نيکي په کولو کې په هر وسيله کوښښ وکړي، اوالله رب العزت پري خبردار دي او بدله پري درکوي، او نيکي شامله ده وينا او عمل دواړو ته؛ نو ښه خبره او خير خواهي او په نيکي أمر کول او د بدي څه منع کول د اټول نيکي ده، او صدقه کول او د يو بل تسلي مدد کول او ورك شوي ته لارښودل او ناپوهه پوهه کول دا ټول نيکي ده، نو ټول هغه وينا

او عمل يا کار چې حاجي ته فائده رسوي او يا مسلمان ته فائده رسوي دهغه څه څخه چې الله رب العزت روا او مقرر کړي ټول نيکي ده.

بيا الله فرمايلي: ﴿وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ﴾ [البقرة: ١٩٧].

ترجمه: ځان سره دلاري توخه واخلي او غوره د توخي څخه د پرهيزګاري توخه ده.

نو الله رب العزت حاجي ته امر کړي ځان سره د توخي خرچي اخستلو، او د هر هغه شي چې په حج کې ورته منفعت رسوي د فائدمند علم او پوهي څخه، او فائدمند کتابونه او هر هغه شي چې ځان ته پري فائده رسوي، او يا بل چاته، او کلمه د "تزودوا" عامه کلمه ده هر قسم توخي ته شامله ده، که دنيوي کارونو نه وي او که ديني، ابن عباس ﷺ فرمائي: خلکو به حجونه کول بغير د توخي لرلو څخه او دا به يې ويل چې مونږ توکل کونکي يو؛ نو الله تعالى دا آيت راوليږو: ﴿وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ﴾ [البقرة: ١٩٧].

او آيت عام دی ټولو خلکو ته شامل دی؛ نو په ټولو خلکو لازم دي ددنيا په ګوټ ګوټ کې چې ځانونو په علم او پوهي او مال

او په هر هغه شي سمبال کړي چې دوي ته په حج کې منفعت ورسوي؛ تر څو خلکو ته محتاج نشي، او الله تعالى فرمائي: ﴿ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ [البقرة: ١٩٧]. يعني غوره توخه د مؤمن مسلمان او د هغه د ورونو لپاره تقوى ده، دا چې د الله څخه وويريږي په إطاعت او په إخلاص کولو الله لره، او حاجيانو ورونو ته د منفعت په رسولو کې او د هغوي پام نيکو کارونو ته راوګرځوي ، او په نيکي ورته أمر وکړي، او د بديو څخه يې منع کړي، او د محتاجه تسلي وکړي په خائسته طريقه او په مناسبه لهجه باندي.

او الله رب العزت دوباره بيا فرمايلي: ﴿ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ [البقرة: ١٩٧].

ترجمه: او زما څخه وويريږي أي خاوندانو د صفا عقلونو.

أمر دي وروسته د أمر څخه چې الله تعالى ورپکې په پرهيزګاري تأکيد کړي دي؛ ځکه په دې کې ډير خير دى، لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ﴾ [الحجرات: ١٣].

ترجمه: أي خلکو بيشکه مونږه پيدا کړي وي تاسي د نارينه اوزنانه څخه، او ګرځولي مي يې قومونه او خيلونه، ددی لپاره چې يو بل پري وپيژنئ، او بيشکه عزتمند ستاسي د الله په نيزد پرهيزګاره ستاسي دي.

او د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړي شو چې کوم يو د خلکو ډير عزتمند دي، نو هغه وفرمايل: "أتقاهم"[1] يعنی غوره ددوي پرهيزګاره ددوي دي؛ نو پرهيزګاره د خلکو الله ته ډير عزتمند او بهتره دي، که د عربو څخه وي اوکه عجمو څخه وي، اوکه د ازاد او اصيلو څخه وي که د غلامانو څخه وي، او که سړي وي او که ښځي. او که إنسانان وي او که پيريان وي، او د ټولو په سر کښې پيغمبران دي، او بيا د هغوي څخه وروسته ډير بهتره او بيا بهتره. او په تحقيق سره الله تعالى فرمايلي: ﴿وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ﴾[البقرة: ١٩٧]. أولي الألباب – او دا هغه صفا او

---

(١) بخاري په (آحاديث الانبياء) باب قول الله "واتخذ الله إبراهيم خليلاً"، کي په دی نمبر/٣٣٥٣ روايت کړي، او مسلم په (الفضائل) باب يوسف، کي په دی نمبر/٢٣٧٨ روايت کړی.

صحيح عقلونه دي - ځكه هم دوي هغه څوك دي چې د الله خبري په عقل كې راولي، او دوي هغه څوك دي چې د الله په مراد باندي پوهيږي، او دوي خبري په عقل كې راولي، او دوي هغه څوك دي چې د وعظونو او د امرونو قدر او درناوي كوي، په خلاف د بي عقلو؛ ځكه ددوي هيڅ ارزښت نشته دى، او څوك چې د الله څخه وګرځيدو او ځان يې نا خبره كړلو د هغه څخه؛ نو د أولي الألباب څخه نه دى، او بيشكه چې أولي الألباب الله طرف ته ورګرځيدونكي وي، او د هغه په تابعدارى كې مينه لرونكي وي، او په هغه څه كې مينه لرونكي دي چې خلكو ته فائده رسوي، او ټول خلكو ته په پرهيزګاري أمر كړي شوي دي، خو أولي الألباب لپاره خاصه بهتري ده، د هغه څه له وجې چې الله تعالى دويته وركړي چې هغه عقل او پوهه ده؛ لكه څرنګه چې الله تعالى په يو بل آيت كې فرمايلي: ﴿وَلِيَذَّكَّرَ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ [إبراهيم: ٥٢].

ترجمه: اوددى لپاره چې پند او نصيحت دى واخلي خاوندان د صفا عقل والا.

نو مونږ ټولو ته په پرهيزګاري او پند او نصيحت اخستلو

باندي أمر کړي شوي، خو د أولي الألباب لپاره ځانته شأن او بهتري ده د الله تعالى د أمرونو په پوهيدو او تطبيقولو کې، او همدارنګه الله تعالى فرمايلي: ﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾[آل عمران: ١٩٠].

ترجمه: بيشکه د أسمانونو او ځمکو په پيدائش کې او په تلو راتلو د شپې او ورځ کې خا مخا ننبې او علامې دي په قدرت د الله تعالى د صفا عقل والا لپاره.

په دې کې د ټولو او هر يو کس لپاره ننبې او علامې دي خو نه پرې پوهيږي، او په عقل کې يې نه شي راوستلي او نه يې قدر پيژني مګر د صفا عقل والا.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ ﴾ [الحج: ٢٧].

يعني أي إبراهيم عليه السلام خبرداري او إعلان وکړه خلکو ته د حج کولو.

او په تحقيق سره دغه کار يې کړی او خلکو ته يې اواز کړی ددغي خبري، او نبي ﷺ هم ددغي خبري إعلان کړي، او الله ته رابلونکي هم، إبراهيم عليه السلام او د هغه څخه وروسته نورو پيغمبرانو او زمونږ پيغمبر پسې د اقتداء کولو په خاطر.

﴿ يَأْتُوكَ رِجَالًا ﴾ [الحج: ٢٧]. يعني راځي به تاته پياده، او ځني علماء ددی آيت څخه دا نتيجه اخستلی چې پياده حج ته تلل ډير بهتره دي، خو دا خبره واضحه نه ده؛ ځکه رسول الله ﷺ حج په سورلي کړي وو، او دا پيشوا دی، ليکن د پياده تلونکي دا کار دده په حج کولو کې په ډير قوي او مضبوطه مينه دلالت کوي، خو ددی څخه دا نه لازميږي چې پياده تلل دي حج ته بهتره وي، څوك چې حج ته پياده راغلو نو ده لپاره خپل أجر او ثواب دی، او په سپرلي راتلونکي چې د الله په رحمت او فضل کې مينه او رغبت لري هغه لپاره خپل أجر او ثواب دی، او دا د پياده څخه بهتره دي.

﴿ وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴾ [الحج: ٢٧].

ترجمه: او راځي به په خوار اوښ، او راځي به د هري لارې ژوري څخه.

(من كل فج) يعني راځي د لرې پراخو لارو د مشرق او مغرب څخه، او د هر طرف اوهر ځای څخه چې غواړي د الله رضا او کور د آخرت.

ولي راځي؟ ﴿ لِّيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ ﴾ [الحج: ٢٨].

ترجمه: ددی لپاره چې د دوي منفعتونو ته حاضر شي.

نو دا منفعتونه الله تعالی دلته مبهم ذکر کړي خو په نورو ډيرو ځايونو کې ددی بيان کړي دي، ځني ددغو منفعتونودجملي څخه په دی قول د الله تعالی کې دی چې فرمائي: ﴿وَيَذْكُرُواْ ٱسْمَ ٱللَّهِ فِيٓ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ﴾ [الحج: ٢٨].

ترجمه: ددی لپاره چې په هغو ورځو معلومو کې د الله نوم ياد کړئ.

او هر هغه څه چې حاجي دالله د تابعداري او بندګانوته د نفعي رسولو لپاره کوي، دکومو چې يادونه وشو اويا نه ده شوي؛ نو ټول په منفعتونو کې شامل او داخل دي، اوهم دا دالله حکمت دي د منفعتونو په مبهم ذکر کولو کې؛ تر دی چې داخل شي په کې هر هغه څه چې مؤمن سړي او ښځه يې کوي د تابعداري او بندګانو د منفعتونو رسولو څخه.

په غريب صدقه کول منفعت دي، او ناپوهه پوه کول منفعت دي، او أمر بالمعروف او نهي عن المنکر منفعت دي، او الله تعالی ته په رابللو کې ډير غټ منفعت دی، او په مسجد حرام کې لمونځ کول منفعت دی، او تلاوت کول منفعت دی، او علم

زده کول منفعت دی، او هر هغه څه چې ته یې کوي چې خلکو ته فائده پرې رسوي که هغه وینا وي او که عمل او که صدقه او یا نور داسي هغه کارونه چې الله روا کړي وي دا هم په منفعتونو کې داخل دي.

نوحاجي لره مناسب دي چې ددی لوي چانس څخه فائده واخلي، اوځان دالله په پرهیزګاري خائسته او آباد کړي، او په ټولو هغو منفعتونو کښې کوښښ وکړئ چې الله راضي کوي، او بندګانو ته پرې فائده رسیږي؛ نوحاجي به په مکه او نورو مشاعروکښې ځان دالله تعالی په ذکر مشغولوي ، او په هغه څه به مشغولیږي چې د الله تعالی إطاعت وي او خلکو ته ورپکي فائده ورسیږي، که چیرې ورسره علم وي نو خلکو ته به علم ورښائي او په دین به یې پوهه کوي، او الله ته به یې رابلي او لارښودنه به ورته کوي، او په نیکي به ورته أمر کوي، او د بدیوڅخه به یې منع کوي، اوکه چیرې ورسره مال وي نو خلکو سره به خیر خیګړه کوي، او د غریب کومك به کوي، او دحق په مشکلاتوکې به یې لاس إمداد کوي ، او دالله په ذکر او د قرآن کریم په تلات به خپل وقت خائسته اوآبادوي، او دحج د أعمالو په أداء کولو به إهتمام کوي؛ لکه څرنګه چې الله

مقرر کړي دي، او په دغو کې به د پيغمبر ﷺ د سنتو او طريقو لټون کوي.

او د غټو فائدودجملي څخه دا ده چې مقصد يې په ټولو کارونو کې الله تعالى لره إخلاص او د هغه توحيد وي، او د پيغمبر ﷺ تابعداري او پيروي وي.

او ځني د هغه څه د جملي څخه چې حاجي ته مناسب دي، هغه دا دی چې په دين کې پوهه حاصله کړي، او کله چې ورسره پوهه او علم نه وي پوښتنه دي وکړي ، او د علم او پوهې مجلسونو ته دي په مسجد حرام کې حاضر شي، او د مکې په نورو مسجدونوکښې، او په مسجد نبوي کې، او د علماؤ څخه دي پوښتني وکړي، او فائدمند کتابونه دي طلب وکړي، او د هغه إسلامي بدني عبادت په لټون کي دي شي چې شرعي مخالفتيا ورپکې نه وي، او ځان د بدعتونو اوکمزورو أقوالو څخه دي وساتي، او د پيغمبر ﷺ د تابعداري او پيروي تلاش دي وکړي؛ تر څو يې حج نيك عمله شي، او تر دی چې دغه سفر يې دده او د نورو لپاره برکتي او د منفعت والا شي، او دا چې په خپل وطن کې د حج څخه وروسته تري فائده واخلي.

د حج أحکام اوأعمال پیژندل شوي او د علماؤ په نیزد معلوم دي، او ډیرو هغو مسلمانانو هم پیژندلي دي چې حج ته بیا بیا راځي؛ خو ډیر د خلکو څخه په دغو أحکامو ناپوهه دي؛ نو په حاجي لازم دي چې د علماؤ څخه د هغه څه زده کړه او پوښتنه وکړي چې ده ته مشکل وي، او د حج په مسألوکې د شرعي أحکامو د پیژندلو کوښښ وکړي ، او همدارنګه ددغه عبادت خاوند به په هر عبادت کې د نبي ﷺ د سنتو او طریقو تالاش کوي، اوځان به وربانديي مضبوطه وي، او همدارنګه به د علماؤ په هغو کتابونواهتمام کوي چې د حق په واضحه کولو اوپه دلیل إهتمام کوي؛ نو مناسب دي چې په دی قسمه کتابونو اهتمام وکړي شي.

او په مؤمن حاجي او په نورو د هر هغه څه څخه ځان ساتل واجب دي چې الله پري په حج کې او بغیر د حج څخه دده په کور او لاره او ټولنه کې حرام کړي وي،او په هر ځای کې چې وي، او په دغه کې د الله څخه توفیق او مدد وغواړي ، او الله تعالی خوښوي چې هغه ته خپل بندګان عاجزي وکړي، اوغوښتنه تري وکړي، او دا الله تعالی کریم او سخي ذات دی.

او حاجي لپاره غسل کول مستحب دي کله چې ميقات ته ورسيږي که ورته اسان وي، او اودس به وکړي او دوه رکعات سنة الوضوء لمونځ به وکړي، مګر که د إحرام نيت ترڅ يې د فرضي لمونځ څخه وروسته وي نو دغه فرضي لمونځ ورلره کافي دی؛ ځکه نبي ﷺ په حجة الوداع کې د ماسپښين لمانځه څخه وروسته د ذو الحليفي څخه إحرام ترڅلي وو، او کله که يې کور ميقات ته نيژدي وي لکه د طائف او مديني خلك، او په کور کې غسل وکړي نو دغه ورلره کافي دي، خو د إحرام نيت به نه کوي مګر کله چې ميقات ته ورسيږي، او مراد په إحرام سره د حج يا عمري نيت کول دي او يا ددواړو، او په هغه باندي تلبيه ويل دي -يعني لبيك اللهم حجاً أو عمرة أو حجاً وعمرة - او هر چې د جامو ويستل شو نو د إحرام نيت څخه مخکې ويستل يې څه پروا نه لري که په کور کې اوباسي او يا په لار کې، او همدارنګه غسل کول لکه څرنګه چې مخکې تير شول.

او ګنډلي جامي به اوباسي او د إحرام څادري به په ځان کوي، او بيا به په موټر کې سپريږي، او بهتره داده چې د حج يا عمري د إحرام نيت د موټر د سپريدو څخه وروسته وي؛ ځکه نبي ﷺ خپلي سپرلي باندي د سپريدو څخه وروسته د إحرام

نیت کړي وو، او مراد په إحرام سره په حج یا عمره کې د داخلیدلو نیت کول دي، بیا به تلبیه ډیره او دوامداره وائي سره د نور ذکرونو او تسبیحاتو او دالله څخه به ښښنه غواړي او الله ته به توبې وباسي، او په نیکي باندي به أمر کوي، ا ود بدیو څخه به منع کول کوي، او الله تعالی طرف ته رابلل کوي؛ تر دی چې د عمري طواف شروع کړي، که إحرام یې د عمري لپاره کړي وي، نو کله چې په طواف شروع وکړي نو تلبیه به بس کړي، او که إحرام یې چیري د حج وو نو دوامداره تلبیه به وایې تر دی چې جمرة العقبة (غټ شیطان) د اختر په ورځ وولي، د اختر په ورځ به د جمری د ویشتلو څخه وروسته تلبیه بس کړي، او ځان به په تکبیراتو مصروف کړي.

او د جمرو په ویشتلو کې ضروري ده چې یقین او یا غالبه ګمان یې راشي چې کانې هغه حوض ته ورولیدلي دي، او که داسي نه وي نو بیرته به یې بیا وولي په هم هغه وقت کې، او که د منی څخه لاړو او بیرته یې بیا ونه ویشتلو نو په ده دم لازم شو؛ ځکه چې ده واجب پریښودلو، او که ورته اسان وي د منی په ورځو کې چې په دویم ځل جمري وولي نو بیا دي وولي په ترتیب سره او هیڅ ورباندي نشته دی.

او معلومه خبره ده چې ددولسمی ورځي د زوال څخه وروسته حاجي ته د جمرو د ویشتلو وروسته جائز دي چې تلوار وکړي،اوکه سفر کول يې غوښتل نو طواف وداع دي وکړي، او بيا دي سفر وکړي، دا په هغه وقت کې چې د حج طوافي يې کړي وي.

اوکه د حج طواف يې نه وي کړي نو هيڅ ممانعت نشته دی چې د حج طواف طواف الوداع وکړځوي نو طواف زيارت يې د طواف وداع څخه کافي کيږي کله چې ورڅخه سمدستي وروسته سفر وکړي، او که په منی کې پاتي شوو او د زوال څخه وروسته په دیارلسمه ورځ جمري وويشتلي نو دا ډير بهتره کار دي، او همدا کار نبي ﷺ کړي، او په چا چې په منی کې ددولسمي ورځ لمر پريوتلو نوپه منی کي شپه تيرول او په دیارلسمي ورځ د زوال څخه وروسته پري ويشتل لازم شو، او په چا چې ددیارلسمي ورځ لمر پريوتلو او ويشتل ور څخه پاتي شو نو ددغه واجب په پرينښودلو پري دم لازم شو.

او هر هغه څه چې عرفات سره تعلق لري نو دا د حج غټ رکن او فرض دي د نبي ﷺ ددی وينا په وجه چې فرمايلي: "الحج عرفة"[1] - يعني عرفه کې ودريدل حج دي- د حج احکامو څخه په عرفات کې په نهمه ورځ د زوال څخه وروسته ودريدل ضروري دي، او همدا خبره د جمهور علماؤ په نيزد مشهوره ده.

او ځني وائي: کله که په عرفات کې د زوال څخه مخکې هم ودريدلو نودغه ورلره کافي کيږي؛ ځکه دغه ودريدل په عرفات کې شمار دي، خو صحيح خبره داده چې د زوال څخه وروسته د لمر پريوتلو پورې به ودريږي - يعني عرفات کې پاتي کيږي - او که د أختر په شپه ورپکې د صباح راښتلو څخه مخکې ودريدلو نو دغه تري کافي کيږي، او د چا څخه چې په عرفات کې ودريدل پاتي شو تر دی چې د أختر ورځ صباح راځرګند شو نو حج تري پاتي شو، او څوك چې په عرفات کې په نهمه ورځ ودريدو او د لمر پريوتو څخه مخکې ورځخه لاړو

---

(١) إمام أحمد په (مسند الكوفيين) کې د عبد الرحمن بن يعمر الديلي څخه په دی نمبر/١٨٤٧٥ روايت کړي دی، او ترمذي په (الحج) باب ما جاء فيمن أدرك الإمام بجمع فقد أدرك الحج، کې په دی نمبر/٨٨٩ روايت کړي دی.

نو ده واجب پریښودلو، او د جمهورو علماؤ په نیزد پري دم لازم شو.

او حاجي ته په عرفات کې مستحب دي چې ډیري دعاګاني وکړي، او ذکر أذکار او تلبیه ډیره ووائي سره د لاس اوچتولو څخه؛ لکه څرنګه چې نبي ﷺ کړي دي، او سنت طریقه ده چې د ماسپښین او مازدیګر دواړه لمونځونه د ماسپښین په وقت کې دوه دوه رکعاتونه وکړي په یو آذان او دوه إقامتونو باندي په مسجد نمره کې که ورته آسانه وي، او که دا ورته آسان نه وي نو هره یوه ډله دي په خپل خپل ځای کې لمونځ وکړي د نبي ﷺ د تابعداري په خاطر، بیا به حاجي په خپل ځای کې پاتي کیږي او عرفات ټول د ودریدو ځای دی، او په ټولو حالاتو کې به الله څخه دعاګاني غواړي، که ناست وي او که ولاړ وي او که ډډه یې لږولي وي، او ذکر او تلبیه به ډیره ووائي، تر دی چې لمر پریوځي نو بنه په ارام او قراره به مزدلفي ته روان شي، او په مزدلفه کې به د مابنام او ماخوستن دواړه لمونځونه په یو آذان او دوه إقامتونو وکړي مخکې له دی څخه چې خپل سامان ځای په ځای کړي، د مابنام لمونځ به دري رکعات کوي، او د ماخوستن لمونځ به دوه رکعات کوي، او

دواړه لمونځونو تر منځ به هیڅ قسم لمونځ نه کوي، او نه په عرفات کې د ماسپښین او مازدیګر لمونځونو تر منځ؛ ځکه نبي ﷺ ددواړو ترمنځ نور کوم لمونځ نه دی کړی.

او د مانښام او ماخوستن لمونځونوځخه وروسته حاجي لره ممکن دي چې څه کول غواړي که خو ب کول غواړي، اوکه خوراك، او که تلاوت، او که د الله ذکر أذکار یې خوښیږي، او کمزورو ته ممکن ده چې د نیمي شپې څخه وروسته منی ته وکوچیږي او بهتره داده چې د سپوږمي د پناه کیدو څخه وروسته او د ګڼې ګونې جوړیدو څخه مخکې منی ته کوچ وکړي؛ ځکه رسول الله ﷺ دوي ته إجازت ورکړي دی په دوي باندي د شفقت او مهرباني او د آسانتیا په خاطر، او د صباح راښتلوځخه مخکې ورته د جمرة العقبي ویشتل جائز دي ، او چا چې د جمري ویشتل څانښ وقت ته وروسته کړل نو څه پروا نه لري، او د مضبوطو خلکو لپاره په څانښت کې د جمري ویشتل بهتره دي، او هم دا سنت طریقه ده لکه څرنګه چې نبي ﷺ کړي دي.

او چا چې د جمري ویشتلو څخه وروسته یا مخکې طواف وکړو نو ورلره کافي دي ، خو لیکن طواف د جمري ویشتلو او

قرباني او سر خرولو څخه وروسته کول بهتره دی، نبي ﷺ پسې د اقتداء په خاطر، خو که مخکې يې وکړو نو څه پروا نه لري، او د اختر په ورځ د نبي ﷺ څخه پوښتنه نه ده شوي د هيڅ يو شي چې مخکې او يا وروسته کړي شوي وي د جمري ويشتلو او قرباني کولو او سر خرولو او يا کمولو او طواف او سعي کولو څخه مګر فرمايلي دي: "لا حرج".[1] - يعني: څه وربانديې نشته دی.

او لنډه خبره دا ده چې د اختر په ورځ سنت طريقه دا ده چې: اول د جمري ويشتل وشي، او بيا قرباني، او بيا سر خرول يا کمول، او خرول بهتره دي، او بيا ځان حلالول، او بيا طواف کول، او بيا سعي کول، که سعي وربانديې پاتې وي.

او الله تعالى څخه غواړم چې مونږ او تاسي ټولو مسلمانانو ته د علم نافع او نيك عمل کولو توفيق راکړي، او د اچې ټولو ته په دين کې پوهه او په دين باندې کلك ودريدل را په برخه

---

(١) بخاري په (العلم) باب الفتيا وهو واقف على الدابة وغيرها، کې په دی نمبر/٨٣ روايت کړی دی، او مسلم په (الحج) باب حلق قبل النحر أو نحر قبل الرمي، کې په دی نمبر/١٣٠٢ روايت کړي دی.

کړي، او د مسلمانانو حالات ښه کړي په هر ځای کې چې وي، او پوهه ورته په دین کې ورکړي، او دوامداره چالاکي ورته ورکړي ددیني کارونو پیژندلو لپاره، او زده کولو د هغه څه چې د الله له طرفه دي. لکه څرنګه چې تري غواړو چې په دوي غوره ددوي مقرر کړې، او مشران یې نیك عمله کړي، او دا چې د مسلمانانو ټولو بادشاهانو ته چې په هر ځای کې وي د شریعت تطبیقولو توفیق ورکړي، او په هغه باندي د رضامندي او د شریعت غوره کول په نور نظامونو باندي، بیشکه دا الله تعالی کریم او سخي ذات دی.

وصلى الله وسلم وبارك على عبده ورسوله نبينا محمد وعلى آله وأصحابه وأتباعه بإحسان.

مهمي څيرنې او بحثونه [1]

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده وعلى آله وصحبه، أما بعد:

بيشکه ددی وينا د ليکنې سبب د زکاة د فرضوالي نصيحت او يادونه ده چې ډيرو مسلمانانو ورپکې سستيا اختيار کړې ده، او سره له دی چې ددی شأن ډير لوي دی، بيا هم خلکو په هغه طريقه نه دی ورکړی په کومه طريقه چې الله تعالى مقرر کړې، او د إسلام د پنځو هغو ارکانو څخه يو رکن دی چې بغير له دغه څخه إسلام نه پوره کيږي؛ د نبي ﷺ ددی وينا له وجې چې فرمائي: "**بني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلا الله وأن**

---

(١) دا د شيخ ابن باز وينا ده په عنوان د (بحوث هامة حول الزكاة) چې نشر شويده په يو وړوکي کتاب کې په دي عنوان (رسالتان موجزتان في الزكاة والصيام) چې دار الإفتاء په ١٤٠١هـ چاپ کړي، او دغه رنګه په مجلة الدعوة عدد [١٠٨٩] په ١٤٠٧/٨/٢٩هـ کې نشر شوي دي.

محمداً رسول الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة وصوم رمضان وحج البيت".(١)

ترجمه: إسلام د پنځه شيانو څخه جوړ دی: د لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله دکلمي ويلو څخه ، او د لمانځه د پابندی او قائمولو څخه، او د زکاة ورکولو څخه ، او د رمضان مياشت روژي نيولو څخه، او د بيت الله دحج کولو څخه.

او په مسلمانانو د زکاة فرض والي د إسلام د ښکاره محاسنو څخه دي، او د إسلام منونکو د کارونو د خيال اولحاظ ساتلو څخه دي؛ ځکه د زکات فائدي ډيري دي، او د غريبانو مسلمانانو حاجت ورته ډير زيات دی؛ نو د فائدو دجملي څخه يوه فائده يې دا ده چې د غريب او مالداره تر منځ د مينې او محبت ريشتي مضبوطي وي؛ ځکه چې إنساني

---

(١) بخاري په (الايمان) باب بني الإسلام على خمس، کي په دی نمبر/٨ روايت کړي دي، او مسلم په (الايمان) باب بيان أركان الاسلام ودعائمه العظام، کي په دی نمبر/١٢ روايت کړی دی، او ترمذي په (الإيمان) باب ما جاء بني الإسلام على خمس، کي په دی نمبر/٢٢٠٩ روايت کړي، هم په دی ألفاظو.

نفسونه د هغه چا سره په مينه محبت كولو پيدا كړي شوي چې ښه ورسره وكړي.

او بله فائده يې: د نفسونو پاكوالي او صفائي ده، او د بخيلي او كلك والي د خويې او بوي څخه لري والي دي؛ لكه څرنګه چې قرآن كريم دى خبري ته إشاره كړي، الله تعالى فرمائي: ﴿ خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا ﴾[التوبة: ١٠٣].

ترجمه: ددوي د مالونو څخه زكات اخله، چې پاكوي ته دوي لره (دګناهونو) څخه،او زياتي كوي دوي لره مال په سبب د هغي.

او بله فائده يې په حاجتمندو باندي په سخاو او مهرباني كولو د مسلمان عادتول دي.

او بله فائده يې: د بركت او زياتوالي او د الله تعالى له طرفه د زكات په بدل كې وركړه راجلبول دي؛لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥۚ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَهُوَ يُخۡلِفُهُۥۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٣٩﴾ ﴾ [سبأ: ٣٩].

ترجمه: ته ووايه بيشكه رب زما روزي فراښوي چا لره چې وغواړي د خپلو بندګانو څخه او كموي هغه لره، او هغه چې

تاسي خرچ کوی څه شي نو عوض به درکوي د هغي، او بيشکه الله تعالى غوره روزي ورکونکي دی.

او د نبي ﷺ په صحيح حديث کې وينا ده چې الله تعالى فرمائي: "**يا ابن آدم أنفق أُنفق عليك**".(١)

ترجمه: أي بني آدم نفقه صدقه وکړه زه به پر تا نفقه وکړم.

او زکات داسي نوري ډيري فائدي لري.

او د هغه چا په هکله ډيره سخته د همکي راغلي چې په زکات کې بخيلي کوي، او يا يې په ورکړه کې سستيا کوي، الله تعالى فرمائي: ﴿وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ٣٤ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ٣٥﴾ [التوبة: ٣٤ – ٣٥].

---

(١) بخاري په (النفقات) باب فضل النفقة على الأهل، کې په دی نمبر/**٥٣٥٢** روايت کړي دي، او مسلم په (الزكاة) باب الحث على النفقة، کې په دی نمبر/**٩٩٣** روايت کړي دي.

ترجمه: او هغه كسان چې سره او سپين زر جمع كوي، او د الله تعالى په لار كښې نه خرچ كوي؛ نو زيري واوروۀ دويته په دردناك عذاب په هغى ورځ چې ګرمولي به شي دغه شيان په اور د جهنم كښې نو داغلي به شي په هغي سره تندي ددوي او اړخونه ددوي، او شاګاني ددوي، ويلي كيږي به دويته چې دا هغه څه دي چې تاسو د ځانونو لپاره جمع كړي ۇ، نو وڅكئ سزا د هغه چې تاسو جمع كول.

نو هر هغه مال چې زكات يې نه شي وركولي هغه كنز (خزانه) ده، او خاوند به يې په ورځ د قيامت پري عذابولي شي؛ لكه څرنګه چې د نبي ﷺ څخه صحيح حديث په دى دلالت كوي چې فرمايلي دي: "**ما من صاحب ذهب ولا فضة لا يؤدي منها حقها إلا إذا كان يوم القيامة صحفت له صفائح من نار فأحمي عليها في نار جهنم، فيكوى بها جنبه وجبينه وظهره، كلما بردت أعيدت له في يوم كان مقداره خمسين ألف سنة حتى يقضي بين العباد فيرى سبيله إما إلى الجنة وإما إلى النار**".[1]

---

(١) مسلم په (الزكاة) باب إثم مانع الزكاة، كې په دى نمبر/٩٨٧ روايت كړى دى.

ترجمه: نشته یو خاوند د سر واو یا سپینو زرو چې ددغو څخه حق نه ورکوي (یعني زکات تري نه ورکوي) نو کله چې ورځ د قیامت راشي نو دغه سرو او سپینوزرو څخه به تختې جوړې کړی شي، او بیا به دغه په اور د جهنم کښې ګرمولی شي، نو داغلي کیږي به په دغه سره دده اړخ او تندی او شاه، نو کله چې دغه یخ شي نو بیا به ګرمولي شي، او دا کار به پرې کولي شي، په هغه ورځ کښې چې اندازه به یې پنځوس زره کاله وي، تر څو چې فیصله وکړی شي د بندګانو تر منځ، نو بیا به دا خپله لار وویني یا د جنت خواته او یا د اور (جهنم) خواته.

بیا نبي ﷺ د اوښانو او غواګانو او ګډو بزو د خاوند یادونه وکړه چې هغه یې زکات نه ورکوي، او ددی خبرداري ورکړو چې دا به په په ورځ د قیامت په دغه عذابولي شي.

او د نبي ﷺ څخه په صحیح حدیث کې راغلي چې فرمایلي دي: **"من أتاه الله مالاً فلم يؤد زكاته مُثّل له ماله شجاعاً أقرع له زبيبتان يطوقه يوم القيامة ثم يأخذ بلهزمتيه - يعني شدقيه - ثم يقول: أنا مالك أنا كنزك ثم تلا النبي ﷺ قوله تعالى: ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ**

ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا۟ بِهِۦ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾[آل عمران: ١٨٠].(١)"

ترجمه: چا لره چې الله تعالى مالداره کړي، او ددغه مال څخه زکات نه ورکوي؛ نو ددغه مال څخه به يو ګنجۍ سرى مار جوړ شي، او ددغه مار به دوه سترګې وي د ممیزو پشان، او ددى سړي د څټ څخه به تاو شي، بيا به ددغه سړي دواړه وخکي راونيسي او ورته به ووائي: زه ستا مال يم، زه ستا خزانه يم، بيا نبي ﷺ دا قول د الله تعالى ولوستلو: ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا۟ بِهِۦ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾[آل عمران: ١٨٠].

ترجمه: ګمان دى نه کوي هغه کسان چې شومتيا کوي په هغه مال کښې چې ورکړي دوي ته الله تعالى د خپل فضل څخه، چې دا غوره دي ددوي لپاره، بلکي دا بد دى دوي لره،

---

(١) بخاري په (الزكاة) باب إثم مانع الزكاة کې په دى نمبر/١٤٠٣ روايت کړى دى.

زر دی ددوي غاړي ته به واچولي شي په ورځ د قیامت هغه شی چې دوي په هغه کښې شومتیا کوي.

او زکات په څلور قسمه شیانو کې واجب دي: د کر کروندي په دانو (غلو) او میوو کې، او په هغه څارویو کې چې په قدرتي وخو او ګیا باندي ساتل کیږي، او په سرو او سپینو زرو کې، او د تجارت په شیانو کې.

او د هر یو قسم لپاره مقرر او ټاکلي نصاب دی چې د هغه څخه په کم کې زکات نه واجب کیږي، نو د غلي دانو او میوو نصاب پنځه اوسق دی: او یو وسق شپیته صاع دي د نبي ﷺ د وقت په صاع باندي؛ نو د کجورو او کشمشو او غنمو او وربشو او وریجو او داسي نورو شیانو د نصاب اندازه به د نبي ﷺ د وقت په صاع دري سوه صاع وي، او دا صاع د متوسط خلقت والا سړي په ډکو لاسونو څلور لپي دی.

او په دغه کې لسمه برخه زکات واجب دی کله چې کجوري یا نور فصلونه بغیر د مصرف څخه خړوبولي شي؛ لکه په بارانونو او خوړونو سیندونو او روانو چینو باندي، او ددی پشان نورو باندي، او هر کله چې په سخته او مصرف خړوبولي شي لکه واټر پمپ باندي او ددی پشان نوري ماشیندري

باندي؛ نو په دی کې د لسمي برخي نیمائي یا نصفه زکات ورکول واجب دي؛ لکه څرنګه چې په دی کې صحیح حدیث د نبي ﷺ څخه راغلی.

او هر چې د اوښانو او غواګانو او ګډو بزو نصاب دي؛ نو نبي ﷺ په صحیحو حدیثونو کې ددی تفصیل بیان کړی، او مینوال یې کولای شي چې ددغه پوښتنه د علماؤ څخه وکړي، او که د لنډوالي إراده مو نه وي نو د فائدی د پوره والي په خاطر به مونږ بیان کړي وي.

او هر چې د سپینو زرو نصاب دی نو یو سل او څلویښت مثقال دي، او اندازه یې د سعودي عربستان په درهم شپږ پنځوس ریال دي، او د سروزرو نصاب شل مثقال دی، او اندازه یې د سعودي عربستان په جنیه یوولس جنیه دي، او د یو جنیه د اووه برخو څخه دري برخي دي، او په ګرام باندي اندازه دوه نوي ګرامه ده.

او په دی سرو اوسپینو زرو کې د لسمي برخي څلورمه حصه ورکول په زکات کې واجب دي، په هغه چا چې ددواړو څخه د نصاب خاوند شو، او یا د یو،او پوره یو کال پري تیر شو، او ګټه أصل سره شمار ده؛ نوي کال ته حاجت نه لري، لکه څرنګه

چې د څارویو بچي أصل سره شمارېږي او نوي کال ته حاجت نه لري کله چې أصل نصاب ته رسیدلي وي.

او د سرو او سپینو زرو په حکم کي هغه نوټونه دي کومو نوټونو باندي چې نن سبا خلك اخستل او خرڅول کوي، که درهم ورته ویلي شي او یا دینار او یا ډالر او یا داسي نور نومونه کله چې قیمت یې د سرو او یا سپینو زرو نصاب ته ورسیږي او پوره یو کال پري تیر شي نو زکات ورکول ورپکي واجب شو.

او د پیسو په حکم پسي د ښځو ګانې ټرل کیږي، او خاصکر چې د سرو یا سپینو زرو څخه وي کله چې نصاب ته ورسیږي او پوره یو کال پري تیر شي نو په دغه ګانې کې زکات دی په صحیح قول د علماؤ کې، اګر که دغه ګانې د استعمالولو او یا چاته د لږ وقت ورکولو لپاره وي، د نبي ﷺ ددی وینا د عمومیت له وجي چې فرمائي: " **ما من صاحب ذهب ولا فضة لا**

يؤدي منها حقها إلا إذا كان يوم القيامة صفحت له صفائح من نار. . . ".[1] د مخكي تير شوي حديث تر اخري سرپوري.

ترجمه: نه دى هيڅ يو د سرو او سپينو زرو لرونكي چې زكات يې نه وركوي مګر كله چې ورځ د قيامت شي نو ددغو څخه به د اور تختي جوړې كړې شي.

او د نبي ﷺ څخه ثابت دي چې ده د يوي ښځي په لاس د سرو زرو دوه بنګړي وليدل، نو ورته وفرمايل: "**أتعطين زكاة هذا؟** " ترجمه: ته ددى بنګړو زكات وركوي؟ نو هغي ورته وويل: نه يې وركوم، نو نبي ﷺ ورته وفرمايل: "**أيسرك أن يسورك الله بهما يوم القيامة سوارين من نار؟** ".

ترجمه: آيا تالره داخوشحاله وي چې الله تعالى ددى دواړوه په مقابل كې په ورځ د قيامت داور دوه بنګړي در په لاس كړي، نو سمدستي يې دواړه وغورځول او وويل: دا دواړه د

---

(١) مخكي تخريج تير شوي دي.

الله او د رسول په نامه شو.[1] دا حدیث إمام أبو داود او نسائي په حسن سند سره روایت کړي ، او د أم سلمة رضي الله عنها څخه ثابت دي چې دی به دسرو زرو ګاڼه أچوله، نو وویل: أي د الله پیغمبره آیا دي ته خزانه ویلي شي؟ نو نبي ﷺ ورته وفرمایل: "ما بلغ أن یزکی فزکي فلیس بکنز".[2] په دی هکله نور هم ډیر حدیثونه دي.

ترجمه: کوم شي چې د زکات نصاب ته ورسیږي او زکات یې ورکړي شو نو هغه خزانه نه ده.

او هر چې د تجارت ساز او سامان دی، او دا هغه د خرڅلاو شیان دي چې خرڅولو لپاره تیار کړي شوي وي؛ نو دغه ټول سامانونه به د کال په اخر کې قیمت کولي شي او د لسمي برخي د قیمت څلورمه حصه به یې په زکات کې ورکولي شي که قیمت یې ددغو شیانو د پیسو په اندازه وي او که ډیر وي او

---

(۱) أبو داود په (الزکاة) باب الکنز ما هو وزکاة الحلي، کې په دی نمبر/۱۵۶۳ روایت کړی دی.

(۲) أبو داود په (الزکاة) باب الکنز ما هو وزکاة الحلي، کې په دی نمبر/۱۵۶۴ روایت کړی دی.

که کم، د سمرة ﷺ د حدیث له وجي چې فرمائي: "كان رسول الله ﷺ يأمرنا أن نخرج الصدقة من الذي نعده للبيع".[1] أبو داود روایت کړي دی.

ترجمه: مونږ ته به رسول الله ﷺ أمر کولو چې د هغه څه څخه زکات ورکړو چې مونږ يې د خرڅلاو لپاره تیار وو.

او د تجارت په ساز او سامان کې هغه ځمکي او بلډنګان او موټري او واټر پمپونه او داسي نور شیان داخل دي چې د خرڅلاو لپاره وي، او هغه بلډنګان او آبادی چې کرایا لپاره تیار کړي شوي وي نه د خرڅلاو لپاره نو زکات يې د کرایا په پیسو کې دی، کله چې ورباندي یو کال تیر شي، او هر چې نفس بلډنګ یا آبادي ده نو په هغي کې زکات نشته دی، ددی امله چې خر څلاو لپار ه نه ده، او همدارنګه شخصي او د ټکسي موټري کې زکات نشته دی کله چې د خرڅلاو لپاره نه وي، او مالك يې د استعمالولو لپاره اخستي وي، او کله چې د

---

(١) أبو داود په (الزكاة، باب العروض إذا كانت للتجارة، کي په دی نمبر/١٥٦٢ روایت کړی دی.

مزدوري موټر مالك او يا بل چا سره دومره پيسي راجمع شي چې نصاب ته رسيږي نو زکات يې ورباندي لازم دی، کله چې يو کال ورباندي تير شي.

نو بيا که دغه پيسي يې د خرچی او مصرف لپاره ساتلي وي او که د واده کولو لپاره، او يا د ځمکي اخستلو لپاره، او يا د قرض خلاصولو لپاره، او يا د کوم بل مقصد لپاره، د شرعي دليلونو د عموميت له وجي چې په داسي حالاتو کې د زکات په واجب والي دلالت کوي.

او صحيح قول د علماؤ د اقوالو څخه دا دی چې قرض د زکات مانع کيداي نه شي، لکه څرنګه چې مخکي تير شول.

او همدارنګه د يتيمانو او ليونيو په مالونو کې د جمهورو علماؤ په نيزد زکات واجب دی کله چې نصاب ته ورسيږي او يو کال ورباندي تير شي، او ددوي په سرپرستانو يې د کال په تيريدو سره ددوي څخه په نيت کولو سره د زکات ورکول واجب دي، د دليلونو د عموميت له وجي؛ لکه د نبي ﷺ وينا معاذ ﷺ ته کله چې يمن ته ليږلو نو ورته وفرمايل: "إن الله

افترض عليهم صدقة في أموالهم تؤخذ من أغنيائهم وترد في فقرائهم".(١)

ترجمه: بیشکه الله په دوي باندي ددوي په مالونو کښې زکات ورکول فرض کړي، چې د مالدارو څخه به اخستلي شي او غریبانو ته به یې ورکولي شي.

او زکات د الله تعالی حق دي؛ نو په ورکړه یې هغه چاته ځان محبوب کول نه دي پکار چې مستحق یې نه وي، او نه دا چې په دغه زکات د ځان لپاره څه منفعت ګوري او یا پرې د ځان څخه څه ضرر دفع کوي، او نه دا چې په زکات ورکولو سره د خپل مال ساتنه کوي، او یا پرې د ځان څخه څه ملامتیا (بد ویل) دفع کوي، بلکې په مسلمان د زکات ورکول هغه چا ته واجب دي چې حقدار یې وي، ډیر ښه په خوشحالي او إخلاص باندي؛ ځکه چې دوي یې مستحق دي، نه د کوم بل غرض

---

(١) بخاري په (الزکاة) باب وجوب الزکاة، کې په دی نمبر/١٣٩٥ روایت کړي دی، او مسلم په (الایمان) باب الدعاء إلی الشهادتین، کې په دی نمبر/١٩ روایت کړی دی.

لپاره، تر دی چې زمه داري يې ختمه شي، او د ډير أجر او ثواب او بدلي مستحق شي.

اوالله تعالی په قرآن کريم کې دزکات حقداران ښکاره بيان کړيدي چې فرمائي: ﴿ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٦٠ ﴾ [التوبة: ٦٠].

ترجمه: بيشکه زکات ورکولای شي محتاجو او غريبانو ته، او هغه کارکونکو ته چې د زکات په مال مقرر وي ، او هغه څوك چې خوشحالولي شي زړونه د هغوي، او په ازادولو د څټونو کښې، او قرضدارو ته، او د الله تعالی په لار کښې، او مسافرو ته، د الله تعالی له طرف دا زکات فرض کړي شوي، او الله تعالی پوهه او د حکمتونو والا دی.

او ددی آيت د اخري برخي په دی دوه عظيمو نومونو ختمول کې خبرداري دي د الله له طرفه بندګانو ته چې دا الله خبردار دی په ټولو حالاتو د بندګانو او د هغه چا په حال چې د زکات حقدار دی، او يا يې نه دي، او دا الله تعالی د حکمت والا دی په خپل شريعت او تقدير کې؛ نو نه مقرروي ځني

حکمونه مګر دغو شیانو سره په مناسب ځایونو کې، اګر که په ځني خلکو د الله تعالی د حکمت ځني رازونه پټ وي؛ ددی لپاره چې د بندګانو اطمئنان یې په شریعت وشي، او ځانونه د الله حکم ته تسلیم کړي.

او د الله څخه غواړو چې مونږه او ټولو مسلمانانو ته په دین د پوهې توفیق راکړي، او د هغه په معاملو کې د رشتیا ویلو توفیق راکړي ، او هر هغه څه ته د تیزي کولو توفیق راکړي چې پرې راضي کیږي، او د هر هغه څه څخه دبچوالي توفیق راکړي چې د الله د غضب سبب کیږي؛ ځکه دا الله اوریدونکي او نیژدی دی.

وصلی الله علی عبده ورسوله محمد وآله وصحبه وسلم

سؤال: هغه سړي ته موځه نصيحت دی چې زکات نه ورکوي، کيداي شي چې زړه يې په دغه نصيحت نرم شي او حق ته راوګرځي؟[1]

جواب: زما نصيحت هغه چا ته چې د زکات ورکړه کې بخيلي کوي دادی چې د الله څخه دی وويريږي او يا داشت کې دي راولي چې هغه ذات چې دغه مال يې ورکړي، نو په ده باندي ددغه مال په سبب إمتحان کوي.

او کوم چا چې مال ورکړي نو په دغه مال پرې امتحان کوي نو که د الله ددغه نعمت شکر ګذاري وکړه او زکات يې ورکړو نو کامياب دی، او که چيرې په زکات کې بخيلي وکړه او د مالداري د نعمت حق يې ورنه کړو نو تاواني او نا أميده به وي، او ددغي بخيلي عذاب او بدله به ورته په قبر او په ورځ د قيامت کې ورکول کيږي، الله څخه تري بچوالي غواړو.

---

(١) دا د هغو سؤالونو د برخي څخه يوسؤال دي چې د شيخ ابن بازڅخه په الرياض جامع الکبير کې ددي تقرير(الزکاة ومکانتها في الإسلام) کولو څخه وروسته ور څخه شوي دي.

نو مال د ختميدو والا دي او خبره يې ډيره خطرناكه ده، او أنجام يې ډير خراب دی هغه چا لپاره چې زكات يې نه وركوي، او بخيلي پري كوي، او ډير ژر به دغه مال نورو ته پريږدي، او په ده باندي به يې حساب كتاب او بوج وي، نو په هر مالداره مسلمان واجب دي چې د الله څخه وويريږي او په ياد كې راولي چې د الله په وړاندی به په ورځ د قيامت ودريږي ، او دغه الله به هر يو إنسان ته د خپل عمل بدله وركوي او ياد دي كړي چې دا مال دده لپاره يو ازمايښت او يو مصيبت دي؛ لكه څرنګه چې الله تعالى فرمائي: ﴿ إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ ﴾[التغابن: ١٥].

ترجمه: بيشكه ستاسي مالونه او بچي ستاسي د ازمايښت او فتنې لپاره دي.

او الله تعالى فرمائي: ﴿وَنَبۡلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلۡخَيۡرِ فِتۡنَةٗ ﴾[الأنبياء: ٣٥].

ترجمه: او ازميښت كوو مونږ په تاسي باندي په سختى او په آرام سره لپاره د إمتحان.

نو مال ازمايښت او إمتحان دی كه د الله شكر ګذاري دی ورپكي وكړه او حقدارانو ته دی تري زكات وركړو نو كاميياب شوي په پوره كاميابي، او دغه مال تالره نعمت وګرځيدلو، او

څه ډیر ښه ملګري دي مؤمن لره دا مال چې خپلولي پري پالي او په دی مال سره هغه حقوق پوره کوي چې په ده باندي وي، او د خیر خیګړي په کارونو کښې پري برخه اخلي، اوکمزورو ته منفعت او تسلي رسوي؛ نو دده په حق کې ډیر غټ نعمت دی، او کله که وربانديي بخیلي وکړي نو دا مال وربانديي ډیر غټ مصیبت او ازمایښت دی، او أنجام یې ډیر خراب او خطرناك دی د الله تعالی څخه دغان او ټولو مسلمانانو لپاره د هر مصیبت څخه بچوالي غواړم.

چا چې څومره کلونه زکات ورنه کړو نو د هغو ټولو کلونو زکات ورکول وربانديي لازم دي.

سؤال: زه یو سړي یم چې شاوخوا دري کلونو راهیسي مي زکات نه دي ورکړی د هغه وقت څخه چې زه د نصاب مالك شوي یم، او هغه مال چې زما سره دی او یا زما په بل چا پوري دی معلومداره اندازه دی، نو آیا زه د تیر شوو دري کلونو زکات ورکړم کله چې په دی روان کال کې دریم کال پوره شي ؟

او معلومه دي وي چې زه يې طاقت او قدرت لرم او يا بل کوم څه کار وکړم؟ (۱)

جواب: د تيرو دوه کلونو زکات ورکړه، او د خپل رب څخه ښښنه وغواړه او ددغه ورسته والي څخه توبه اوباسه ، او کله چې دريم کال پوره شو نو د هغه زکات هم ورکړه، او زکات ورکول مه وروسته کوه بلکي ددوه کالو په زکات ورکړه کې تيزي وکړه سره د ښښني غوښتلو او توبې ويستلو څخه، نو کله چې دريم کال پوره شو نو زکات يې ورکړه.

د زکات په فرض والي نا خبري زکات نه معاف کوي

سؤال: و. م. ب. د رياض څخه په خپل سؤال کې وائي: زما سره د پنځه کالو راهيسي څه اندازه مال دي او دغه اندازه کميږي او ډيريږي،او په دې روان کال کې مي د يو ورور سره د زکات په باره کې خبرې اتري وکړي او راته يې وويل چې هر څومره اندازه مال چې إنسان يې په ملکيت کې ولري، او يو

---

(۱) دا د هغو سؤالونو له جملي څخه دي چې محترم شيخ صاحب ته د هغې ندوي څخه وروستو وړاندي کړی شوي ؤ کومه چې په الجامع الکبير کښې د (الربا وخطره) په عنوان وړاندی کړی شوي وه.

کال وربانډی تیر شي نو په هغه زکات دی که د واده لپاره یې جمع کوي او که د کور اخستلو لپاره یې جمع کوي؛ نو سماحة الشیخ آیا په ما باندي د تیرو شوو کلونو زکات لازم دی؟؛ ځکه چې زه ناخبره ووم چې په ما به زکات وي، او یا ددی کال زکات ورکړم چې زه ورپکي خبر شوم چې په ما زکات دی؟ فتوی راکړئ الله تعالی دی جزاء خیر درکړي.(۱)

ځواب: د ټولو تیر شوو کلونو زکات ورکول دربانډی لازم دي، او ستا ناخبري در څخه زکات نه معاف کوي؛ ځکه د زکات فرض والي په دین کې معلومداره خبره ده، او د زکات حکم په مسلمانانو پټ نه دی، او زکات د إسلام د أرکانو څخه دریم رکن دی، او په تا د ټولو مخکنیو کلونو د زکات په ورکولو کې جلتي او تیزي واجب ده، سره د توبې ویستلو الله تعالی ته ددغه وروسته والي څخه ، الله دی تا او مونږه او ټولو

(۱) دا د هغو سؤالونو د جملي څخه دی چې محترم شیخ ته د (المجلة العربیة) لخوا پیش کړی شوي ؤ، او ددی سوال جواب په مکه کښې د محترم شیخ له دفتر څخه په (۱۴۱۸/۹/۲۴هـ) باندي صادر شوی.

مسلمانانو ته معافي وکړي، او الله تعالى توفيق ورکونکي دى.

ديتيمانو د مالونو څخه دزکات ورکولو حکم:

سؤال: يو سړي مړ شوي او مالونه او يتيمان ورڅخه پاتي شوي نو آيا په دى مالونو کې زکات ورکول شته دى؟ او که داسي وي نو څوك به يې ورکوي؟[1]

جواب: د يتيمانو په مالونو کې زکات ورکول واجب دي، که پيسي وي او که تجارتي ساز او سامان وي، او که څاروي وي، چې په قدرتي ګيا او وخو ژوند تيروي، او که غلى داني وي، هغه چې زکات ورپکي واجب کيږي، او د يتيمانو په سرپست لازم دي چې زکات په خپل وقت ورکړي که د مړ شوي پلار له طرفه يې سرپرست نه وي؛ نو محکمي ته ددوي کار ورسپارل واجب دي؛ تر څو محکمه دوي لپاره سرپرست مقرر کړي چې ددوي او د مالونو کارونو إداره کول يې په غاړه واخلي، او په

---

(١) دا د شيخ صاحب په کتاب (تحفة الإخوان) ١٥٠ مخ، او په (مجموع فتاوى سماحة الشيخ ٣٧/٥) کښې خپور کړى شوي.

ده لازمه ده په دغه کې پرهيزګاري او د هغه څه کول چې د يتيمانو او د هغوي د مالونو ورپکي إصلاح وي، د الله تعالى ددى وينا له وجي چې فرمائي: ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْيَتَٰمَىٰ ۖ قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ﴾[البقرة: ٢٢٠].

ترجمه: او پوښتنه کوي ستا څخه په باره د يتيمانو کې نو ورته ووايه: چې ددوي لپاره خير خواهي بهتره ده.

او د الله تعالى ددى وينا له وجي چې فرمائي: ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا۟ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ﴾[الأنعام: ١٥٢].

ترجمه: او مه نيژدى کيږى د يتيم مال ته مګر په هغه طريقه چې ډيره ښه وي، تر هغي چې ځواني ته ورسيږي.

او په دى حقله ډير آياتونه شته دى، او ددوي په مال د کال تيريدل ددوى د پلار د مړګ څخه شمارل کيږي؛ ځکه دغه مالونه ددوي په ملکيت کې دده د مړګ څخه وروسته داخليږي، والله ولي التوفيق.

د ما شومي جيني د مال څخه زكات وركول[1]

سؤال: زه د يوي ماشومي جيني ساتنه كوم چې عمر يې پنځه كاله (۵) دی، او زما خاوند ورلره ځني مال او پيسي وركوي چې زه يې په فيصل الإسلامي بنك كي كيږدم نو ددی ماشومي په مال كې زكات وركول واجب دي او كه نه؟

جواب: په تا يې د زكات وركول واجب دي؛ ځكه ته يې سرپرسته يې.

خاوند د خپل مال څخه د خپلې ښځی د زكات وركولو حكم:

سؤال: آيا جائز دي چې زما خاوند زما د مال زكات وركړي، معلومه دي وي چې زما خاوند ماته دغه مال راكړي؟ او آيا ددغه زكات وركول زما يتيم خوري ته جائز دي چې ځواني ته

---

(۱) دا يو شخصي فتوی أم عبد العزيز د محترم شيخ صاحب څخه كړي او جواب يې د شيخ صاحب له دفتر څخه په دي (۱۴۱۵/۹/۹هـ) تاريخ باندي صادر كړی شوي.

رسيدلي اود واده په سوچ فکر کې دي؟ په دی هکله معلومات راکړئ.[1]

جواب: ستا په مال کې زکات ورکول په تا واجب دي، کله چې ستا سره د سرو او يا سپينو زرو څخه د نصاب په اندازه او يا ډير وي، او يا د نور مالونو څخه چې زکات ورپکي ورکولي شي، او که ستا خاوند ستا په إجازه ورکړو نو څه پروا نه لري، او همدارنګه که ستا پلار او يا ستا ورور او بل کوم يو کس ستا په إجازه ورکړو نو څه پروا نه لري، او خور يې ته دی زکات ورکول جائز دي، په واده کې د کومك په خاطر کله چې د واده د مصرف او خرچې څخه عاجز او کمزوري وي.

وفق الله الجميع لما يرضاه

---

(۱) دا په (المجلة الدعوية) ۹۴۷ شماره کښې په دي ۱۴۰۴/۹/۱۹هـ تاريخ خپور کړی شوي.

سؤال: آیا خاوند د ښځې د ګانې زکات ورکولی شي.[1]

جواب: په خاوندد ښځی له طرفه زکات ورکول لازم نه دي؛ خو که إمداد يې ورسره په دغه کې وکړو او ښځه پرې راضي شوه نو پروا نه لري، او که داسي نه وي نو په ښځه د خپلی ګانې زکات لازم دی ؛ ځکه ټول حدیثونه په دی هکله روایت شوي په دي دلالت کوي چې د ګانې زکات ورکول په ښځه لازم دی نه د هغي په خاوند.

---

(۱) د «نور علی الدرب» پروګرام څخه راخستل شوي.

تحفة الأخيار ببيان جملة نافعة مما ورد في الكتاب والسنة من الأدعية والأذكار

الحمد لله نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله ﷺ وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

أما بعد: بيشكه بهتره د هغه څه چې إنسان يې خپل عادت جوړوي، او ژبه پرې خوزوي هغه د الله تعالى ډير ذکر کول او د هغه پاکي او ثناء او صفت بيانول دي، او د قرآن کريم تلاوت کول دي، او پيغمبر ﷺ باندي درود شريف ويل دي، او ورسره د الله تعالى څخه د ډيرو دعاګانو غوښتل دي، او ټول دنيوي او ديني حاجتونه د هغه څخه غوښتل دي، او په هغه باندي کومك او إمداد حاصلول دي، او هغه طرف ته پناه په رښتوني إيمان او عاجزي او إخلاص حاصلول دي، او د زړه توجو چې د الله يادونکي او رابلونکي پرې د الله تعالى لوي والي او د هغه په هر شي د قدرت لرلو استحضار وکړي شي، او همدا راز د هغه په هر شي د علم لرلو او د عبادت مستحق والي استحضار وکړي.

او د ذکر او دعاء په فضيلت کښې ډير زيات آياتونه او د نبي ﷺ صحيح حديثونه راغلي دي، کوم چې راته په ذهن کښې په آسانی سره راشي د هغې يادونه کووم، الله تعالی فرمايلي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُصَلِّي عَلَيۡكُمۡ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا ﴿٤٣﴾ ﴾ [الأحزاب: ٤١ – ٤٣].

ترجمه: أي هغو کسانو چې إيمان لری الله تعالی ياد کړئ په ډيرو يادولو سره، او سبا بيګاه يې پاکي بيانوئ، او دا الله تعالی هغه ذات دی چې په تاسو رحمتونه کوي، او ملائکي ستاسو لپاره دعاء کوي، له دی وجی چې د تورو تيارو څخه مو رڼا ته راوباسي، او دا الله تعالی په مؤمنانو مهربانه دی.

او الله تعالی فرمايلي: ﴿ فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ﴾ [البقرة: ١٥٢].

ترجمه: نو يادوئ ما لره زه به تاسي يادووم، او شکر ګزار شئ زما او نا شکري مه کوئ.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ ﴾ تر دى چې فرمايلي: ﴿ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴾[الأحزاب: ٣٥]

ترجمه: بيشكه مسلمانان سړي او ښځي او مؤمنان سړي او ښځي اوتابعداره سړي او ښځې. - تر دى چې فرمايلي يې دي - : او الله تعالى لره يادونكي ډير سړي او ښځې چې الله تعالى ورلره ښښنه او ښه بدله تياره كړى ده.

او الله تعالى فرمايلي: ﴿ إِنَّ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٠﴾ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ ﴾[آل عمران: ١٩٠- ١٩١].

ترجمه: بيشكه د أسمانانو او ځمكو په پيدائيش او د شپې او ورځې بدليدو رابدليدو كښې خامخا د صفا عقل خاوندانو لپاره نښې او علامې دي، او هغه كسان لپاره چې الله تعالى يادوي په ناسته او ولاړه او په اړخونو.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَٱثْبُتُوا۟ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾ [الأنفال: ٤٥].

ترجمه: أي إيمان والاو کله چې تاسو دشمن سره مخ شئ نو مضبوط قدم شئ، او الله تعالى ډير يادوئ، ددى لپاره چې تاسي کاميابه شئ.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا ﴾[البقرة: ٢٠٠].

ترجمه: نوکله چې پوره کړئ أحکام د حج نو پس يادوئ الله تعالى په شان د يادولو ستاسو د پلارانو خپلو لره؛ بلکې ددغه څخه ئې هم ډير يادوئ.

او الله فرمائي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴾ [المنافقون: ٩].

ترجمه: أي إيمان والاو غافله دى نه کړي تاسو د الله تعالى د ذکر څخه مالونه او بچيان ستاسو، او چا چې دغه کار وکړو نو همدغه کسان تاوانيان دي.

او الله تعالى فرمائي: ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴾ [النور: ٣٧].

ترجمه: سړي دي چې نه غافله کوي دوي لره سوداګري، او نه اخستل خرڅول د الله تعالی د ذکر او یادولو څخه، او د لمانځه د پابندی څخه او د زکات ورکولو څخه، او ویره کوي دوي د هغی ورځ څخه چې ګډوډ به شي په هغي کښې زړونه او سترګې.

او الله تعالی فرمائي: ﴿ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾ ﴾ [الأعراف: ٢٠٥].

ترجمه: او رب خپل په زړه کښې په عاجزۍ او ویري سره یادوه، په قلاره وینا سبائي او بیګائي کښې او د غفلت کوونکو څخه مه کیږه.

او الله تعالی فرمایي: ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٠﴾ ﴾ [الجمعة: ١٠].

ترجمه: کله چې د جمعي لمونځ ختم شي، نو په ځمکه کښې خواره شئ، او د الله تعالی د رزق په تلاش کښې شئ، او الله تعالی ډیر یادوئ؛ ددی لپاره چې تاسي کامیاب شئ.

او د الله تعالى څخه ډيره غوښتنه او د هغه ډير ذکر کول په ټولو وختونو او پروګرامونو کښې مستحب دي، او همدا راز په سبائي او بيګائي کښې، او د اوده کيدو او ويخيدو په وخت کښې، او کور ته د ننوتلو او وتلو په وخت کښې ، او همدا راز مسجد ته د ننوتلو او وتلو په وختونو کښې، د مخکي تير شوو آياتونو له وجي، او د الله تعالى ددى قول له وجي: ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِيِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٥٥﴾﴾ [غافر: ٥٥].

ترجمه: بيګائي او سبائي دخپل رب پاکي او ثناء او صفت بيان کړه.

او ددى قول له وجي چې فرمائي: ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ ٱلْغُرُوبِ ﴿٣٩﴾﴾ [ق: ٣٩].

ترجمه: د لمر راختلو او پريوتلو څخه مخکي دخپل رب پاکي او ثناء او صفت بيانوه.

اوفرمائي: ﴿وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ﴾ [الأنعام: ٥٢].

ترجمه: او مه شړه هغه کسان چې خپل رب رابلي په سبائي او بيګائي کښې، چې په دي سره د خپل رب د ذات ديدار غواړي.

او فرمائي: ﴿فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا۟ بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿١١﴾﴾ [مريم: ١١].

ترجمه: إشاره يې وکړه دوي ته چې د الله تعالى پاکي سبائي او بيګائي بيانوئ.

او فرمائي: ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَٰرَ ٱلنُّجُومِ﴾ [الطور: ٤٨ – ٤٩].

ترجمه: دخپل رب پاکي بيانوه سره د ثناء او صفت څخه، په هغه وقت کښې چې ودريږى، او د شپې يې هم تسبيح وايه، او د ستورو د ګرځيدو په وخت، - يعني صباح راڅرګندېدلو په وخت کښې هم-.

اوفرمائي:﴿فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴿١٨﴾﴾ [الروم: ١٧ – ١٨].

ترجمه: نو پاکي وايې د الله تعالى کوم وخت چې بيګاه کوي او کوم وخت چې سباء کوي، او خاص هغه لره ثناء او

صفت د (الإلهية) دی په أسمانونو او ځمکو کښې، او په مازديګري کښې او کوم وخت چې ماسپښين کوئ تاسو.

او فرمائي: ﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾ ﴾ [غافر: ٦٠].

ترجمه: ستاسو رب ويلي دي چې حاجتونه غواړئ زما څخه، زه به ستاسو حاجتونه پوره کوم، بيشکه هغه کسان چې لوئي کوي د عبادت (دعاء) زما څخه، زر دي چې داخل به شي جهنم ته ذليله به وي.

اوفرمائي: ﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ﴾[البقرة: ١٨٦].

ترجمه: او کله چې پوښتنه وکړي ستا څخه زما بندګان زما په باره کښې نو ورته اووايه چې بيشکه نيزدي يم قبلوم دعاء د دعاء کونکو کله چې دعاء وغواړي زما څخه.

او فرمائي: ﴿ ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٥٥﴾ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾ ﴾ [الأعراف: ٥٥ – ٥٦].

ترجمه: د رب خپل څخه دعاء غواړئ په عاجزی او په پټه سره، بيشكه الله تعالى محبت نه كوي د حد څخه د تجاوز كونكو سره، او وراني مه كوئ (په شرك سره) په ځمكه كښې وروسته د إصلاح د هغي څخه، او د الله تعالى څخه دعاء غواړئ په ويرى او طمعى سره، بيشكه رحمت د الله تعالى نيزدى دى خائسته عمل كونكو ته.

او فرمائي: ﴿ أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ ﴾[النمل: ٦٢].

ترجمه: آيا هغه څوك چې د ډير ناچاره دعاء قبلوي، هر كله چې د هغه څخه دعاء وغواړي، او لري كوي مصيبتونه.

او په صحيح مسلم كښې د عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دى چې وائي: نبي ﷺ راووتلو او مونږ په صُفة مقام كښې وو نو وفرمايل: **"أيكم يحب أن يغدو كل يوم إلى بطحان أو إلى العقيق فيأتي منه بناقتين كوماوين في غير إثم ولا قطع رحم" فقلنا يا رسول الله نحب ذلك قال: "أفلا يغدو أحدكم إلى المسجد فيعلم أو يقرأ آيتين**

من كتاب الله عز وجل خير له من ناقتين وثلاث خير له من ثلاث، وأربع خير له من أربع، ومن أعدادهن من الإبل"[1].

ترجمه: كوم يوكس ستاسو څخه دا خوښوي چې هر سهار بطحان او يا عقيق مقام ته ولاړ شي، او دوه غټ ګوفي اوښي راولي، بغير په كومه ګناه او صله رحمه قطع كولو كښې؛ نو مونږ وويل: مونږ ټول دغه خوښوو، نو وويل: (آيا يوكس ستاسو څخه ولى نه ځي د سهار لخوا مسجد ته چې ښوونه او يا لوستنه كوي د قرآن كريم ددوه آياتونو، چې دا ورلره ددوه اوښو څخه بهتره دي، او دري آياتونه ورلره د دري اوښو څخه بهتره دي، او څلور آياتونه ورلره د څلورو اوښانو څخه بهتره دي، او ددى آياتونو په شمير د اوښانو څخه بهتره دي.

او په صحيح بخاري كښې عثمان ﷺ د نبي ﷺ څخه روايت كوي چې فرمايلي دي: **"خيركم من تعلم القرآن وعلمه"** [2].

---

(١) إمام مسلم په كتاب صلاة المسافرين، باب فضل قراءة القرآن في الصلاة، كښې په دى نمبر/ ٨٠٣ روايت كړى دى.

(٢) إمام بخاري په كتاب فضائل القرآن، باب خيركم من تعلم القرآن وعلمه، كښې په دى نمبر/ ٥٠٢٧ روايت كړي دي.

ترجمه: بهتره ستاسو څخه هغه څوك دى چې قرآن كريم ياد كړي او بل چاته يې وښائي.

او په صحيح مسلم كښې د أبو أمامة الباهلي ﷺ څخه روايت دى چې وائي: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې فرمايل: "اقرءوا القرآن فإنه يأتي يوم القيامة شفيعاً لأصحابه" (١).

ترجمه: قرآن كريم ولولئ بيشكه چې قرآن په ورځ د قيامت خپلو لوستونكي لپاره شفاعت كوي.

او همدا راز په صحيح مسلم كښې د النواس بن سمعان ﷺ څخه روايت دى چې وائي: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې فرمايل: "يؤتى بالقرآن يوم القيامة وأهله الذين كانوا يعملون به تقدمه سورة البقرة وآل عمران" وضرب لهما رسول الله ﷺ ثلاثة أمثال

---

(١) إمام مسلم په كتاب صلاة المسافرين، باب فضل قراءة القرآن وسورة البقرة، كښې په دى نمبر/ ٨٠٤ روايت كړي دي.

مانسيتهن بعد قال: "كأنهما غمامتان أو ظلتان سوداوان بينهما شرق أو كأنهما حزقان من طير صواف تحاجان عن صاحبهما"[1].

ترجمه: راوبه وستلي شي قرآن کريم په ورځ د قيامت او د قرآن واله هغه کسان چې عمل به يې پري کاوو، چې سورت بقرة او آل عمران به يې مخکې وي، او ددی دواړو لپاره نبي ﷺ دري مثالونه بيان کړل چې تر اوسه پوري مي نه دي هير کړي، نو وفرمايل: ګويا کښې دا دواړه هغه غټي سپيني وريځي به وي، أو يا دا دواړه هغه تکي طور ګوري وريځي به وي چې د دي دواړو ترمنځ درنا سپيني شغلي ښکاري، او يا به دا دواړه د مرغانو دوه سيالونو په شان وي، چې له دغه لوستونکي څخه به دفاع کوي.

او عبد الله بن مسعود ﷺ وائي: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې فرمايل يې: **"من قرأ حرفاً من كتاب الله فله به حسنة**

---

(١) إمام مسلم په کتاب صلاة المسافرين، باب فضل قراءة القرآن وسورة البقرة، کښې په دی نمبر /٨٠٥ روايت کړي دي.

والحسنة بعشر أمثالها،لا أقول (الم) حرف ولكن (ألف) حرف و (لام) حرف و (ميم) حرف"[1]. رواه الترمذي بسند صحيح.

ترجمه: چا چې يو توري د قرآن کريم ولوستلو نو په دغه ورلره يوه نيکي ده، او يوه نيکي په لس چنده ده، او زه دا نه وايم چې (الم) يو حرف دی، بلکي (ألف) ځانله حرف دی (لام) ځانته حرف دی، او (ميم) ځانله حرف دی.

إمام ترمذي په حسن سند سره دا حديث روايت کړی دی.

---

(۱) إمام ترمذي په کتاب فضائل القرآن، باب ما جاء فيمن قرأ حرفاً من القرآن ما له من الأجر، کښې په دی نمبر / ۲۹۱۰ روايت کړی دی.

فصل

د پنځه وخته لمونځونو د سلام ګرځولو څخه وروسته د مستحبو ذكرونو بيان

بيشكه د رسول الله ﷺ څخه ثابت دي چې ده به كله د فرضي لمونځ څخه سلام وګرځولو نو دري كرتي به يې (استغفر الله) وويل، او بيا به يې دا دعاګاني ويلي: (اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت يا ذا الجلال والإكرام.[1] لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير. اللهم لا مانع لما أعطيت ولا معطي لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد.[2] لا حول ولا قوة إلا بالله لا إله إلا الله ولا نعبد إلا إياه، له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن لا إله إلا الله مخلصين له الدين ولو كره

---

(١) إمام مسلم په كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته، كښې په دى نمبر /٥٩١ روايت كړى دى.

(٢) إمام بخاري په كتاب الأذان، باب الذكر بعد الصلاة، كښې په دى نمبر/٨٤٤، او مسلم په كتاب المساجد، باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته، كښې په دى نمبر/٥٩٣ روايت كړى دى.

الكافرون.[1] - ويسبح الله ثلاثاً وثلاثين، ويحمده مثل ذلك، ويكبره مثل ذلك، ويقول تمام المائة - "لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير"[2] ويقرأ آية الكرسي و﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴾ و﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ﴾ و﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾ بعد كل صلاة).

ترجمه: أي الله تعالى ته د سلامتيا مالك يې، او ستا له طرفه سلامتياده، او ته ډير برکتناك يې، أي مالك د لويې مهربانی.

نشته مستحق د عبادت او بندګی مګر يو الله دی، يو دی شريك نه لري، د پادشاهي مالك دی، ټول حمد او ثنا او صفت هغه لره دي، او هغه پر هر څه قدرت لري، ای زما الله! نشته څوك منع كوونكي د هغه څه چې ته يې وركوی، او نه وركونكي د هغه څه چې ته يې منع كوي، او مالداره كس ته

---

(۱) إمام مسلم په کتاب المساجد، باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته، کښې په دی نمبر/۵۹۴ روایت کړی دی.

(۲) إمام مسلم په کتاب المساجد، باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته، کښې په دی نمبر/۵۹۳ روایت کړی دی.

ستا په وړاندې د هغه مالداري ګټه نه رسوي، له ګناهونو څخه څوك نه شي راګرځيدلای او نه هم څوك دا توان او قدرت لري مګر د الله په توفيق سره، نشته مستحق د عبادت مګر يو الله تعالى دى، او مونږ د هغه څخه بغير د بل چا عبادت نه كوو، نعمت او إحسان خاص د ده له جانبه دى، او غوره ستاينه خاص دى لره ده، نشته مستحق د عبادت مګر يو الله تعالى دى، بندګي مو خاص هغه لره ده، كه څه هم كفار پري خوښ نه وي.

او دري ديرش (٣٣) ځل به سبحان الله وائي.

او دري ديرش (٣٣) ځل به الحمد لله وائي.

او دري ديرش (٣٣) ځل به الله أكبر وائي.

او د سلو د پوره كولو لپاره به دا دعاء وائي: "**لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير**".

او بيا به آيت كرسي او ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ﴾ او: ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ﴾ سورتونه د هر لمانځه څخه وروسته وائي.

او د سهار او مابنام د لمونځونو څخه وروسته ددی دري سورتونو دري دري ځل ويل مستحب دي، له دی وجي چې نبي ﷺ څخه ورپكي صحيح حديث راغلي دي.

اوهمدا راز دسهار اومابنام لمونځونو څخه وروسته د مخكي تيرو ذكرونو سره لس (١٠) ځل إضافه دا قول تكرارول: **"لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحيي ويميت وهو على كل شيء قدير"**[١].

ترجمه: نشته دی لائق دعبادت مګر يواځي يوالله تعالى دی، چې شريك نه لري، او همده لره بادشاهي او ثناء او صفت دي، ژوندي كول او مړه كول كوي، او همدا په هر شي د قدرت والا دی.

ځكه دا د نبي ﷺ څخه ثبوت لري، او كه چيري إمام وي نو ددري كرته "استغفرالله" او ددی دعاء **"اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت ربنا يا ذا الجلال والإكرام"** ويلو څخه به وروسته خلكو ته

---

(١) إمام أحمد په باقي مسند الأنصار كښې د أبي سعيد الأنصاري؛ څخه په دی نمبر/٢٣٠٠٧ روايت كړی دی.

راوګرځي او مخامخ به شي ورته، بيا به ذکرونه او دعاګاني وائي؛ لکه څرنګه چې په دی د نبي ﷺ څخه ډير زيات حديثونه دلالت کوي چې يو د هغو دجملي څخه په صحيح مسلم کښې د عائشي رضي الله عنها حديث دی.

ا ودا ټول ذکرونه (دعاګاني) سنت دي فرض نه دي.

فصل

د هغو ذکرونو او دعاګانو په بيان کښې دی چې د آذان په وخت او د آذان ځخه وروسته يې ويل مستحب دي

د أبو سعيد الخدري ﷺ ځخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**إذا سمعتم النداء فقولوا مثل ما يقول المؤذن**"[1] متفق عليه.

ترجمه: کله چې تاسو آذان واورئ نو هغه څه وايئ چې مؤذن يې وائي.

او د جابر بن عبد الله ﷺ ځخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**من قال حين يسمع النداء: اللهم رب هذه الدعوة التامة، والصلاة القائمة، آت محمداً الوسيلة والفضيلة، وابعثه مقاماً محموداً الذي وعدته، حلت له شفاعتي يوم القيامة**"[2].

---

(١) إمام بخاري په کتاب الأذان، باب ما يقول إذا سمع المنادي، کښې په دی نمبر/٦١١، او مسلم په کتاب الصلاة، باب استحباب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه، کښې په دی نمبر/٣٨٣ روايت کړی دی.

(٢) إمام بخاري په کتاب الأذان، باب الدعاء عند النداء، کښې په دی نمبر/٦١٤ روايت کړی دی.

رواه البخاري وزاد البيهقي في آخره بإسناد حسن: "إنك لا تخلف الميعاد"(١).

ترجمه: چا چې د آذان اوريدلو په حالت كښې دا وويل: (اي الله تعالى ددى مكملي بلنې او د كيدونكي لمونځ پروردګاره! محمد ﷺ ته په جنت كښې خاصه درجه او خاص فضيلت ورکړى، او هغه ستايلي شوي مقام ته ورسوى، د كوم چې ورسره تا وعده کړى ده، نو د هغه لپاره په ورځ د قيامت زما شفاعت حلال او جائز شو. دا حديث بخاري روايت کړي، او إمام بيهقي په حسن سند سره په اخري كښې إضافه کړي دي: **(إنك لا تخلف الميعاد)**: چې بيشكه ته د خپلى وعدى مخالفت نه كوى.

او سعد بن أبي وقاص ﷺ څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: **"من قال حين يسمع المؤذن: أشهد أن لا إله إلا الله وحده**

---

(١) إمام بيهقي په السنن الكبرى، (١/ ٤١٠) كښې په دى نمبر/ ١٧٩٠ روايت کړى دى.

لا شريك له وأن محمداً عبده ورسوله، رضيت بالله رباً وبمحمد رسولاً وبالإسلام ديناً غفر له ذنبه"[1]. رواه مسلم.

ترجمه: چا چې د آذان اوريدلو په وخت کښې دا وويل: چې ګواهي کوم چې لائق د عبادت نشته مګر يواځي يو الله تعالى دى، چې شريك نه لري، او ددى ګواهي چې محمد ﷺ د الله ﷻ پيغمبر او بنده دى، راضي يم په الله تعالى باندي د رب (پالونکي) په حيثيت ، او په محمد ﷺ باندي د پيغمبرى په حيثيت، او په إسلام باندي ددين په حيثيت، نو بخښنه به وشي دى ته د ګناهونو.

عمر بن الخطاب ﷺ وائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: **"إذا قال المؤذن: الله أكبر الله أكبر، فقال أحدكم: الله أكبر الله أكبر، ثم قال: أشهد أن لا إله إلا الله، قال: أشهد أن لا إله إلا الله، ثم قال: أشهد أن محمداً رسول الله، قال: أشهد أن محمداً رسول الله، ثم قال: حي على الصلاة، قال: لا حول ولا قوة إلا بالله، ثم قال: حي على الفلاح،**

---

(١) إمام مسلم په کتاب الصلاة باب استحباب قول المؤذن لمن سمعه، کښې په دى نمبر/٤٨٢ روايت کړى دى.

قال: لا حول ولا قوة إلا بالله، ثم قال: الله أكبر، قال: الله أكبر، ثم قال: لا إله إلا الله، قال: لا إله إلا الله من قلبه دخل الجنة"[1]. رواه مسلم.

ترجمه: كله چې مؤذن (بانګ ويونكي) دا ووائي: **الله أكبر الله أكبر** (الله تعالى ډير لوي دى الله تعالى ډير لوي دى) او يو ستاسو څخه هم دا ووائي: **الله أكبر الله أكبر**، او بيا مؤذن ووائي: **أشهد أن لا إله إلا الله** (زه ګواهي كوم ددى چې نشته دى لائق دعبادت مګر يواځي يو الله تعالى دى) او دغه كس ورپسى ووائي: **أشهد أن لا إله إلا الله**، او بيا مؤذن دا ووائي: **أشهد أن محمداً رسول الله** (زه ګواهي كوم ددى چې په تحقيق سره محمد ﷺ د الله ﷻ ليږل شوي پيغمبر دى) او دغه كس ورپسى دا ووائي: **أشهد أن محمداً رسول الله**، بيا مؤذن دا ووائي: **حي على الصلاة** (راشئ لمانځة ته) او دغه كس ورپسى دا ووائي:**لا حول ولا قوة إلا بالله** (نشته له ګناهونو څخه

---

(١) إمام مسلم په كتاب الصلاة، باب استحباب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه، كښې په دى نمبر/٣٨٥ روايت كړى دى.

راګرځيدل او نه طاقت د نيکيو ورکول مګر يواځي د الله له طرف دي) بيا مؤذن دا ووائي: **حي على الفلاح** (راشئ کاميابی ته) او دغه کس ورپسی دا ووائي: **لا حول ولا قوة إلا بالله**، بيا مؤذن دا ووائي: **الله أكبر الله أكبر**، دغه کس ورپسی دا ووائي: **الله أكبر الله أكبر**، بيا مؤذن ووائي: **لا إله إلا الله** (نشته دی لائق د عبادت مګر يواځي يو الله تعالی دی) او دغه کس ورپسی دا ووائي: لا إله إلا الله، د زړه د إخلاص دا ووائي نو جنت ته به داخل شي) إمام مسلم دا حديث روايت کړی دی.

د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ څخه يې اوريدلي چې فرمايل يې: "**إذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما يقول، ثم صلوا علي فإنه من صلى علي صلاة صلى الله عليه بها عشراً، ثم سلوا الله لي الوسيلة، فإنها منزلة في الجنة لا تنبغي إلا لعبد من عباد الله وأرجو أن أكون أنا هو، فمن سأل الله لي الوسيلة حلت له الشفاعة**"(١).

---

(١) إمام مسلم په کتاب الصلاة، باب استحباب القول مثل قول المؤذن، کښې په دی نمبر/٣٨٤ روايت کړی دی.

ترجمه: کله مو چې د مؤذن اواز واوریدلو نو هغه څه ورسره ووائي چې هغه یې وائي، او بیا پر ما درود شریف ووائي؛ ځکه بیشکه چې چا پر ما یو ځل درود شریف ووایو نو الله تعالی به پرې لس ځل رحمتونه ولیږي، او بیا زما لپاره د الله تعالی څخه وسیله درجة وغواړي، بیشکه چې دا یو منزله (مرتبه) ده په جنت کښې چې نه ده مناسب مګر د الله تعالی د بندګانو څخه یو بنده لپاره، او زه أمید لرم چې زه به دغه بنده یم؛ نو چا چې زما لپاره د الله تعالی څخه وسیله مرتبه وغوښتله، نو د هغه لپاره زما شفاعت حلال او جائز شو.

دا حدیث إمام مسلم په خپل کتاب صحیح مسلم کښې روایت کړې دی.

فصل

سلام كول اود هغه جواب وركول،او پرنجي كونكي ته دعاء كول كله چې الحمد لله ووائي، او د مريض پوښتنې كولو د مستحب والي بيان

د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دى چې يو سړي د نبي ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې كوم إسلام بهتره دى؟ نو و فرمائل: "**تطعم الطعام وتقرأ السلام على من عرفت ومن لم تعرف**" [1] **متفق عليه.**

ترجمه: چې خوراك وركړي او په أشناء او نا أشنا باندي سلام وكړي.

د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دى چې وائي رسول الله ﷺ فرمايلي: "**لا تدخلون الجنة حتى تؤمنوا، ولا تؤمنوا حتى تحابوا، أولا**

---

(١) إمام بخاري په كتاب الإيمان باب اطعام الطعام من الإسلام، كښې په دى نمبر/١٢ روايت كړى دى، او مسلم په كتاب الإيمان، باب بيان تفاضل الإسلام وأي أموره أفضل، كښې په دى نمبر/٣٩ روايت كړى.

أدلكم على شيء إذا فعلتموه تحاببتم؟ أفشوا السلام بينكم" [1]. رواه مسلم.

ترجمه: جنت ته نشي ننوتلئ تر څو چې مؤمنان جوړ نشي، او مؤمنان نشي جوړيدلي تر څو چې يو بل سره محبت ونه کړئ، او آيا يو داسي شی نه درښايم چې هغه وکړئ؛ نو د يو بل سره به مو محبت پيدا شي؟ خپل منځ کښې سلام رواج (خپور) کړئ.

او د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمائلي: **"خمس تجب للمسلم على أخيه: رد السلام، وتشميت العاطس، وإجابة الدعوة، وعيادة المريض، واتباع الجنائز"** [2]**، متفق عليه.**

---

(١) إمام مسلم په کتاب الإيمان، باب بيان أنه لا يدخل الجنة إلا المؤمنون، کښې په دی نمبر/٥٤ روايت کړي.

(٢) إمام بخاري په کتاب الجنائز، باب الأمر باتباع الجنائز، کښې په دی نمبر/١٢٤٠، او مسلم په کتاب السلام، باب حق المسلم على المسلم رد السلام، کښې په دی نمبر/٢١٢٢ روايت کړی دي.

ترجمه: د يو مسلمان په بل مسلمان ورور پنځه شيان واجب دي: د سلام جواب، پرنجي کونکي لپاره دعاء، د دعوت قبلول، د بيمار پوښتنه کول، او جنازو پسې تلل.

او هم د دې أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي: **"حق المسلم على المسلم ست: إذا لقيته فسلم عليه، وإذا دعاك فأجبه، وإذا استنصحك فانصحه، وإذا عطس فحمد الله فشمته، وإذا مرض فعده، وإذا مات فاتبعه"** (١). رواه مسلم.

ترجمه: د مسلمان په مسلمان شپږ حقونه دي: کله چې ورسره مخ شي نو سلام پرې وکړه، او کله چې دعوت درکړي نو قبول يې کړه، او کله چې درڅخه غوښتنه د نصيحت او خير خواهي وکړه نو د خيرخواهي لاره وروښايه، او کله چې پرنجی وکړي او الحمد لله ووائي نو دعاء ورلره وغواړه، او کله که مريض شي نو پوښتنه يې وکړه، او کله که مړ شو نو جنازي پسې لاړ شه.

---

(١) إمام بخاري په کتاب الجنائز، باب الأمر باتباع الجنائز، کښې په دی نمبر/ ١٢٤٠ او مسلم په کتاب السلام، باب حق المسلم على المسلم رد السلام، کښې په دی نمبر/ ٢١٢٢ روايت کړی.

او د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دى چې نبي ﷺ فرمايلي: "**إن الله يحب العطاس ويكره التثاؤب فإذا عطس أحدكم فحمد الله حق على كل مسلم سمعه أن يشمته، وأما التثاؤب فإنما هو من الشيطان فليرده ما استطاع، فإذا قال: هاء، ضحك منه الشيطان**" [1] متفق عليه.

ترجمه: بيشكه الله تعالى خوښه وي پرنجي او بد ګڼي ارګمي؛ نو كله چې يو كس ستاسو پرنجي وكړي، او الحمد لله ووائي نو هر مسلمان چې واوري لازم دي پري چې دعاء ورلره وغواړي، او هر چې ارګمي دى نو بيشكه چې دا د شيطان له طرفه دي، او منع دي كړي تر څو چې په وسعه كي وي، نو كله چې په ډكه خوله هاو وكړي نو شيطان وربانديې په خندا شي.

دا حديث إمام بخاري او مسلم روايت كړى دى.

---

(١) إمام مسلم په كتاب الزهد والرقائق، باب تشميت العاطس وكراهية التثاؤب، كښې په دى نمبر/٢٩٩٤ روايت كړى دى.

او أبو هريرة ﷺ وائي چې نبي ﷺ فرمايلي: "**التثاؤب من الشيطان فإذا تثاءب أحدكم فليكظم ما استطاع**"(١). رواه مسلم.

ترجمه: ارګمي د شيطان له طرفه دی؛ نو کله چې يو کس ستاسو ته ارګمي راشي نو منع او پټ دي کړي، تر څو چې وسعه لري. إمام مسلم دا حديث روايت کړی دی.

أبو سعيد الخدري ﷺ وائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:"**إذا تثاءب أحدكم فليمسك بيده على فيه فإن الشيطان يدخل**"(٢)رواه مسلم.

ترجمه: کله چې يو کس ستاسو ته ارګمي راشي نو لاس دی په خوله کيږدي ځکه چې شيطان ورپکي ننوځي.

د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**إذا عطس أحدكم فليقل: الحمد لله، وليقل له أخوه أو صاحبه:**

---

(١) إمام مسلم په کتاب الزهد والرقائق، باب تشميت العاطس وكراهية التثاؤب، کښې په دی نمبر/٢٩٩٥ روايت کړی دی.

(٢) إمام بخاري په کتاب الأدب، باب إذا عطس كيف يشمت، کښې په دی نمبر/٢٢٢٤ روايت کړی دی.

يرحمك الله، فإذا قال له: يرحمك الله، فليقل: يهديكم الله ويصلح بالكم" [1]. رواه البخاري.

ترجمه: **كله چې يوكس ستاسو پرنجى وكړي نو الحمد لله دى ووائي، نو ورور او يا ملګري دي ورته يرحمك الله** (**يعني الله دى دربانديي رحم وكړي**)، **ووائي، نو كله چې ورته يرحمك الله ووائي نو په جواب كښې دى ورته ووائي: يهديكم الله ويصلح بالكم** (**الله دى درته هدايت په نصيب كړي، او كارونه دى الله إصلاح كړه**) **ووائي.** إمام بخاري دا حديث روايت كړى دى.

او أبو موسى الأشعري ﷺ وائي چې نبي ﷺ **څخه يې اوريدلي دي چې فرمايل يې: "إذا عطس أحدكم فحمد الله فشمتوه فإن لم يحمد الله فلا تشمتوه"** [2] **رواه مسلم.**

---

(١) إمام بخاري په كتاب الأدب، باب إذا عطس كيف يشمت، كي په دي نمبر/٦٢٢٤ روايت كړي دي.

(٢) مسلم په كتاب الزهد والرقائق، باب تشميت العاطس وكراهية التثاؤب، كښې په دى نمبر/ ٢٩٩٢ روايت كړى دى.

ترجمه: کله چې یو کس ستاسو څخه پرنجی وکړي او الحمد لله ووائي نو هغه لپاره دعاء وغواړئ یعني (یرحمك الله ورته ووایئ) او که چیري یې الحمدلله ونه ویله نو دعاء ورلره مه غواړئ. دا حدیث إمام مسلم روایت کړی دی.

فصل

د خوراك او څښاك په شروع او انتهاء كښې د مستحبو ذكرونو او دعاء ګانو بيان

عمر بن أبي سلمة ﷺ وائي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل:

"يا غلام سم الله وكل بيمينك وكل مما يليك" [1] **متفق عليه.**

ترجمه: أي ماشومه بسم الله ووايه، او په ښې لاس خوراك كوه، او د هغه ځايه خوراك كوه چې تاته نيژدي وي.

دا حديث بخاري او مسلم روايت كړى دى.

عائشه ﷺ وائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: **"إذا أكل أحدكم فليذكر اسم الله تعالى في أوله، فإن نسي أن يذكر الله تعالى في أوله**

---

(١) بخاري په كتاب الأطعمة، باب التسمية على الطعام والأكل باليمين، كښې په دى نمبر/٥٣٧٦ روايت كړى دى، او مسلم په كتاب الأشربة، باب أدم الطعام والشراب وأحكامهما، كښې په دى نمبر/٢٠٢٢ روايت كړى دى.

فليقل: بسم الله أوله وآخره" [1]. رواه أبو داود والنسائي والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح، وصححه الإمام حاكم والذهبي.

ترجمه: کله چې يو کس ستاسو څخه خوراك کوي نو په اول کښې دی بسم الله ووائي، او که بسم الله ويل ترينه په اول کښې هير شو نو بيا دی [**بسم الله أوله وآخره**] (شروع کوم په نوم د الله په اول او آخر کښې) ووائي.

أنس ﷺ وائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**إن الله ليرضى عن العبد أن يأكل الأكلة فيحمده عليها أو يشرب الشربة فيحمده عليها**"[2] **رواه مسلم.**

ترجمه: بيشکه الله تعالى راضي کيږي د هغه بنده څخه چې خوراك وخوري او د الله تعالى حمد او ثناء صفت ورباندي

---

(١) أبوداود په کتاب الأطعمة، باب التسمية على الطعام، کښې په دی نمبر /٣٧٢٧ روايت کړی دی، او ترمذي په کتاب الأطعمة، باب ما جاء في التسمية على الطعام، کښې په دی نمبر/١٨٥٨ روايت کړی دی.

(٢) مسلم په کتاب الذكر والدعاء، باب استحباب حمد الله تعالى بعد الأكل والشرب، کښې په دی نمبر/٢٧٣٢ روايت کړی دی.

ووايي، او يا څښاك وكړي او د الله تعالى حمد او ثناء صفت وربانديي ووايي. إمام دا حديث مسلم روايت كړى دى.

معاذ بن أنس ﷺ وائي چې نبي ﷺ فرمايلي: "**من أكل طعاماً فقال: الحمد لله الذي أطعمني هذا ورزقنيه من غير حول مني ولا قوة غفر له ما تقدم من ذنبه**"[1]. **رواه أبو داود والترمذي وابن ماجة بسند حسن.**

ترجمه: چا چې خوراك وكړو او دا يې وويل: (**الحمد لله الذي أطعمني....**) ثناء او صفت دى هغه ذات لپاره چې پر ما يې دا خوراك وكړو، او ما ته يې دا خوراك راكړى، بغير د كوم طاقت زما او يا كوم قوت څخه، نو بخښنه به وشي دى ته د هغو ګناهونو څخه چې دى مخكې كړي دي. إمام أبو داود او ترمذي او ابن ماجة په حسن سند سره روايت كړى دى.

---

(١) أبوداود په كتاب اللباس، كښې په دى نمبر/٤٠٢٣ ، او ترمذي په كتاب الدعوات، باب ما يقول إذا فرغ من الطعام، كښې په دى نمبر/٣٢٥٨، او ابن ماجة په كتاب الأطعمة، باب ما يقال إذا فرغ من طعامه، كښې په دى نمبر/٣٢٥٨ روايت كړى دى.

د أبو أمامة ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ به د خوراك څخه وزګار شو نو دا به يې وويل: **الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه غير مكفي ولا مودع ولا مستغن عنه ربنا**"[1]. **روا البخاري.**

ترجمه: الله تعالى لره ټول ثناء او صفت دي، داسي ثناء صفت چې ډير دي او ډير ښه دي، چې په برکت رانښغتي دي، چې نه پوره کولي شي أو نه پرېښودي شي، او نه تري إنسان بېغمه کيداي شي أي زمونږه پروردېګاره.

---

(١) بخاري په کتاب الاطعمة، باب ما يقول إذا فرغ من طعامه، کښې په دی نمبر/٥٤٥٨ روايت کړی دی.

فصل

هغه ذكر او دعاء چې د خوب او د خوب څخه د بيداري په حالت كښې يې ويل مستحب دي

حذيفه ﷺ وائي چې رسول الله ﷺ به د شپې په خپل ځائي كښې ډډه واچوله نو لاس به يې د خپل اننګي لاندي كړو او بيا به يې دا وويل: "اللهم باسمك أموت وأحيا"

ترجمه: أي الله ستا په نوم اوده كيږم او راپاڅيږم.

او كله چې به د خوب څخه رابيدار شو نو دا به يې وويل: "الحمد لله الذي أحيانا بعدما أماتنا وإليه النشور"[1]

ترجمه: ټول ثناء او صفت هغه ذات لره دي چې مونږ يې راژوندي كړو (راپاڅولو) وروسته د هغه څخه چې مونږ يې مړه (اوده) كړي ؤو، او هغه ته ورجمع كيدل دي.

إمام بخاري دا حديث روايت كړى دى.

---

(١) إمام بخاري په كتاب الدعوات، باب وضع اليد اليمنى تحت الخد الأيمن، كي په دى نمبر/٦٣١٢ روايت كړى دى.

اود أبو ذر ﷺ څخه يې ددی پشان حديث هم روايت کړی دی، او إمام مسلم د حذيفة ﷺ د حديث په شان حديث د البراء بن عازب ﷺ څخه روايت کړی دی.

او د عائشي ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ (به کله خپله بيستره کښې هره شپه څملاستلو نو دواړه لاسونه به يې رايو ځای کړل، او بيا به يې ورپکي ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ۝١﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١﴾ سورتونه ولوستل او بيا به يې په لاسونو پوک کړل، او بيا به يې دواړو لاسونو په خپل جسم رانښکودل تر کوم ځای چې به رسيدل، چې په دواړو به يې د سر او مخ څخه شروع کوله، او د جسم د مخي طرف څخه، چې دا کار به ئې دري ځلي کاوو) [1]. متفق عليه.

او د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې: (ده ته يو راتلونکي راغي چې د صدقي (دمال) څخه يې په لپه راخستل کول، او نبي ﷺ دا ابو هريرة په دغو صدقاتو پيردار (څوکيدار) مقرر

---

(١) إمام بخاري په کتاب فضائل القرآن، باب فضل المعوذات، کښې په دی نمبر/٥٠١٨ روايت کړی دی.

کړی وو، او داکار يې دوه شپې پرلپسې وکړو؛ نو هر کله چې په دريمه شپه راغی نو أبو هريرة ﷺ ورته وويل: قسم په الله دی خامخا به دی رسول الله ﷺ ته پيش کوم، نو هغه ورته په ځواب کښې وويل: ما پريږده او زه به درته څه کلمات وښايم چې الله به درته پري نفعه دروروسوي؛ نو أبي هريرة ﷺ وائي ما وويل: چې دغه کلمات څه دي؟ نو هغه راته وويل: کله چې خپله بستره کښې څملی نو آيت کرسي ولوله ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ . . . ﴾ [البقرة: ٢٥٥]، تر دی چې آيت ختم کړي؛ نو بيشکه چې د الله تعالی له طرفه به پر تا هميشه يو ساتونکي وي، او شيطان به درته نشي نيژدي کيدلای تر څو چې صباح کړی، نو نبي ﷺ وفرمايل: "**صدقك وهو كذوب، ذاك شيطان**"[1] **رواه البخاري.**

ترجمه: رشتيا يې درته ويلي دي، او دا ډير دروغژن دی، دا شيطان دی.

---

(١) إمام بخاري په کتاب فضائل القرآن، باب فضائل سورة البقرة، کښې په دی نمبر/ ٥٠١٠ روايت کړی دی.

د أبو مسعود الأنصاري ﷺ څخه روايت دى چې نبي ﷺ فرمايلي: "**من قرأ الآيتين من آخر سورة البقرة في ليلة كفتاه**"[1]. **متفق عليه.**

ترجمه: چا چې د سورت بقري دوه أخرني آياتونه په شپه كښې ولوستل نو دغه دواړه ولره كافي كيږي.

او البراء بن عازب ﷺ وائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**إذا أتيت مضجعك فتوضأ وضوءك للصلاة ثم اضطجع على شقك الأيمن، وقل: اللهم أسلمت نفسي إليك، ووجهت وجهي إليك، وفوضت أمري إليك، وألجأت ظهري إليك رغبة ورهبة إليك لا ملجأ ولا منجا منك إلا**

---

(١) إمام بخاري په كتاب فضائل القرآن، باب فضائل سورة البقرة، كښې په دى نمبر/ ٥٠١٠ روايت كړى دى. او مسلم په كتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب فضائل الفاتحة وخواتيم سورة البقرة، كښې په دى نمبر/٨٠٧ روايت كړى دى.

إليك، آمنت بكتابك الذي أنزلت، ونبيك الذي أرسلت، فإن مت ليلتك مت على الفطرة واجعلهن آخر ما تقول"[1]. متفق عليه.

ترجمه: كله چې خپلى بستري كښې د اوده كيدو إراده وكړى؛ نو د لمانځه د اودس پشان اودس وكړه، بيا په ښي اړخ (طرف) باندې څمله ا ودا دعاء ووايۀ: (**اللهم أسلمت نفسي إليك.** . .) تر أخري پورى، چې ترجمه يې داسي ده: أي الله تعالى ما خپل ځان تا ته تسليم كړى دى، او خپل كار مى تا ته وسپارلو، او خپل مخ مي تاته وګرځولو او خپله شاه مي تا ته تكيا كړه (يعني اعتماد پر تا دى) په داسي حالت كښې چې ستا له عذاب څخه ويريږم، او ستا رحمت ته أميد لرم، له تا څخه بل هيڅ د خلاصي او پناه ځاى نشته، إيمان لرم ستا پر هغه كتاب چې تا نازل كړى دى، او ستا پر هغه پيغمبر ﷺ چې تا (مونږ ته) راليږلى دى.

---

(١) بخاري په كتاب الوضوء، باب فضل من بات على الوضوء، كښې په دى نمبر/٢٤٧، او مسلم په كتاب الذكر والدعاء، باب ما يقول عند النوم وأخذ المضجع، كښې په دى نمبر/٢٧١٣ روايت كړى دى.

بيا ورته نبي ﷺ وويل: كه چيرى په دغى شپه كښې مړ شي نو په فطرت (مسلماني) به مړ شي. او د مسلم په يو روايت كښې دي: "**واجعلهن من آخر كلامك**".

ترجمه: دا دعاء ستا د خبرو أخرني برخه وګرځوه، (يعني د ټولو څخه يې وروسته ووايئ).

د أبو هريره ﷺ څخه روايت دى چې نبي ﷺ به كله په خپله بستره كښې پريوتلو نو دا (دعاء) به يې وويله: "**اللهم رب السماوات ورب الأرض ورب العرش العظيم، ربنا ورب كل شيء فالق الحب والنوى، ومنزل التوراة والإنجيل والفرقان، أعوذبك من شر كل شيء أنت آخذ بناصيته، اللهم أنت الأول فليس قبلك شيء، وأنت الآخر فليس بعدك شيء، وأنت الظاهر فليس فوقك شيء، وأنت الباطن فليس دونك شيء اقض عنا الدين وأغننا من الفقر**" [1] رواه مسلم.

---

(١) مسلم په كتاب الذكر والدعاء، باب ما يقول عند النوم وأخذ المضجع، كښې په دى نمبر/٢٧١٣ روايت كړى دى.

ترجمه: أي الله! د أسمانونو او د ځمکو او د لوي عرش پروردیګاره او زمونږ او د هر شي پروردیګاره، او د دانو او زړو چونکیه، د تورات او إنجیل او قرآن کریم نازلونکیه، پناه غواړم په تاسره د هر هغه شي له شر څخه چې ته نیونکي یې د هغه (یعني ته یې مالك یې)، أي الله! ته أول یې له تا څخه مخکې څه نشته او ته أخر یې له تا څخه وروسته څه نشته، او ته ښکاره (ظاهر) یې له تا څخه بل شی بره نشته، او ته (د ذات په لحاظ له نورو څخه) پټ یې او له تا څخه هیڅ شي پټ نه دی، زمونږ څخه قرض لیرې کړی، او له غریبي څخه مو شتمن او مالداره کړی.

د حفصة أم المؤمنین رضي الله عنها څخه روایت دی چې نبي ﷺ به کله د ویده کیدو إراده وکړه نو خپل ښي لاس به یې د ښي اننګې لاندې کیښودو، او درې ځلي به یې دا (دعاء) وویله: "**اللهم قني عذابك يوم تبعث عبادك**" (١).

---

(١) إمام أحمد په مسند المكثرين، مسند عبد الله بن مسعود، کښې په دی نمبر/٣٧٨٢، او أبو داود په کتاب الأدب، باب ما يقال عند النوم، کښې په دی نمبر/٥٠٤٥ روایت کړی دی.

إمام أحمد او أبو داود په حسن سند سره روايت كړى.

ترجمه: أي الله په هغه ورځ مو ستا دعذاب څخه بچ وساتي چې خپل بندګان راژوندي كوى.

د أنس ﷺ څخه روايت دى چې كله به نبي ﷺ په خپله بستره كښې څملاستلو نو وبه يې فرمايل: "**الحمد لله الذي أطعمنا وسقانا وكفانا وآوانا، فكم ممن لا كافي له ولا مؤوي**" [1] رواه مسلم.

ترجمه: ټول ثناء او صفت هغه الله تعالى لره دي چې مونږ ته يې خوراك او څښاك راكړى دى، او له شره څخه يې ساتلي يو، او مونږ ته يې د اوسيدلو ځاى راكړى دى، څومره ډير خلك داسي شته چې دوي لره د شر څخه ساتونكي ا ود اوسيدلو ځاى وركونكي نشته.

او د عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دي چې هغه يو سړي ته حكم وكړو كله چې خپله بستره كښې څملي نو دا (دعاء) دي

---

(١) مسلم په كتاب الذكر، باب ما يقال عند النوم وأخذ المضجع، كښې په دى نمبر/٢٧١٥ روايت كړى دى.

ووائي: **"اللهم خلقت نفسي وأنت تتوفاها لك مماتها ومحياها إن أحييتها فاحفظها، وإن أمتها فاغفر لها، اللهم إني أسألك العافية"** (١).

ابن عمر رضي الله عنهما وائي چې مادا حديث د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي.

ترجمه: أي الله! په رښتيا سره تا زما روح پيدا كړى دى، او ته يې مړ كوي، او تا لره يې مرګ او ژوند دى، كه دى ژوند ورکړلو نو حفاظت يې وكړى، او كه دى مړ كړلو نو بخښنه ورته وكړى، اى الله! زه درڅخه روغتيا غواړم.

د أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي ﷺ فرمايلي: **"إذا آوى أحدكم إلى فراشه فليأخذ داخلة إزاره فلينفض بها فراشه وليسم الله فإنه لا يعلم ما خلفه بعده على فراشه، فإذا أراد أن يضطجع فليضطجع على شقه الأيمن وليقل: سبحانك اللهم ربي بك وضعت**

---

(١) مسلم په كتاب الذكر، باب ما يقال عند النوم وأخذ المضجع، كښې په دى نمبر/٢٧١٢ روايت كړى دى.

جنبي، وبك أرفعه، إن أمسكت نفسي فارحمها وإن أرسلتها فاحفظها بما تحفظ به عبادك الصالحين" [1] متفق عليه.

ترجمه: کله چې له تاسو څخه يو خپلي بستري ته راشي، نو د څادر په پلو دی هغه ټك وهي او بيا دی بسم الله پري ووائي؛ ځکه هغه نه پوهيږي چې د هغه بستري ته له هغه څخه وروسته څه شی راغلي دي، او چې کله څملي نو په ښي اړخ دی څملي او دا (دعاء) دي ووائي: "**سبحانك اللهم.....** "

ترجمة: پاکي ده تا لره أي الله تعالى چې زما رب يې، ستا په مدد او اعتماد مي خپله ډډه ولګوله، او ستا (په مدد سره يې) بيرته راپورته کوم، که چيرى دی زما روح قبض کړو؛ نو رحم پري وکړه، او که دی بيرته راوليږه؛ نو ساتنه يې وکړه په هغه څه سره چې د خپلو نيکو بندګانو ساتنه پري کوي.

---

(١) بخاري په کتاب التوحيد، باب السؤال بأسماء الله تعالى والاستعاذة بها، کښې په دی نمبر/٧٣٩٣، او مسلم په کتاب الذکر والدعاء، باب ما يقال عند النوم وأخذ المضجع، کښې په دی نمبر/٢٧١٤ روايت کړی دی.

او د علي ﷺ څخه روايت دی چې فاطمة ﷺ نبي ﷺ ته راغلله چې خادم يې ترينه غوښتلو نو نبي ﷺ يې ونه مونده، او عائشه ﷺ يې وليدله، او خپل مقصد يې ورته وويلو.

علي ﷺ وائي نو نبي ﷺ زمونږ کور ته راغی او مونږ په خپله بستره کښې څملاستلي وو، نو وفرمايل: "**ألا أدلكم على ما هو خير لكما من خادم؟ إذا أويتما إلى فراشكما فسبِّحا ثلاثاً وثلاثين، وحمِّدا ثلاثاً وثلاثين، وكبِّرا أربعاً وثلاثين فإنه خير لكما من خادم**".

ترجمه: آيا تاسي دواړو ته هغه څه در ونه ښايم چې ستاسي دواړو لپاره د خادم څخه بهتره وي؟ کله چې خپله بستره کښې څملی نو دواړه دري ديرش (۳۳) ځل **سبحانه الله** ووائي، او دري ديرش (۳۳) ځل **الحمد لله** ووائي، او څلور ديرش (۳۴) ځل **الله أكبر** ووائي، بيشکه دا ستاسي دواړو لپاره د خادم څخه بهتره دي.

علي ﷺ وائي: (نو ما دغه نه دي پريښودلي د کومي ورځې ځخه مي چې د نبي ﷺ ځخه اوريدلي دي) [1] متفق عليه.

د عبادة بن الصامت ﷺ ځخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي: **"من تعار من الليل فقال: لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، الحمد لله، وسبحان الله، ولا إله إلا الله والله أكبر، ولا حول ولا قوة إلا بالله، ثم قال: اللهم اغفر لي، او دعا استجيب له، فإن توضأ وصلى قبلت صلاته"** [2] رواه البخاري.

ترجمه: څوك چې د شپې راويښ شي، ا ودا (دعاء) ووائي: **(لا إله إلا الله. . .)** تر اخره پوري. چې معنی يې داده: نشته دی لائق د عبادت مګر يوائي يو الله تعالى دی چې شريك نه لري، او ده لره بادشاهي ده، او ده لره ټول ثناء او صفت دي، او همدا په هر شي قدرت والا دی، ټول ثناء او صفت خاص الله لره دي،

---

(۱) بخاري په کتاب الدعوات، باب التكبير والتسبيح عند المنام، کښې په دی نمبر/۲۳۱۸، او مسلم په کتاب الذكر والدعاء، باب التسبيح أول النهار وعند النوم، کښې په دی نمبر/۲۷۲۸ روايت کړی دی.

(۲) بخاري په کتاب الجمعة، باب فضل من تعار من الليل فصلى، کښې په دی نمبر/۱۱۵۴ روايت کړی دی.

او پاکي ده الله تعالی لره، او نشته لائق د عبادت مګر الله تعالی دی، او الله تعالی ډیر لوي دی، او نشته راګرځیدل د ګناه څخه، او نه قوت په (عبادت) مګر خاص د الله تعالی له طرفه دي، او بیا دا ووائي: ای الله تعالی ماته بخښنه وکړه، او یا دعاء وکړي نو قبوله به شي، او که چیري اودس یې وکړو او لمونځ وکړي نو لمونځ به یې قبول شي.

د الله تعالى د ذكر او د ستاينې او د (لا إله إلا الله) او د هغه د پاكي بيانولو او دعاء فضيلت

د الله تعالى د ذكر او حمد ثناء او صفت او د يو والي بيانولو، او په هر وخت كښې دالله تعالى څخه او خاصةً په سبائي او بيګائي كښې او د فرضي لمونځونو څخه وروسته د دعاء او استغفار غوښتلو په فضيلت كښې د نبي ﷺ څخه ډير زيات حديثونه ثابت دي، چې ځني يې مونږ ذكر كوو:

نو ددغو حديثونو دجملي څخه د نبي ﷺ دا قول دى چې فريلي دي: "سبق المفردون" قالوا: يا رسول الله! من المفردون؟ قال: "الذاكرون الله كثيراً والذاكرات" [1].

ترجمه: مخكې دى (المفردون) نو صحابه كرامو وويل: اى د الله رسول ﷺ (المفردون) څوك دي؟ نو هغه وفرمايل: "دا هغه نارينه او زنانه دي چې الله تعالى ډير يادوي".

---

(١) إمام مسلم په كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب الحث على ذكر الله تعالى، كښې په دى نمبر/ ٢٦٧٢ روايت كړى دى.

إمام مسلم دا حديث په خپل صحيح مسلم کښې د أبو هريرة ﷺ څخه روايت کړی دی.

او نبي ﷺ فرمايلي: "**أحب الكلام إلى الله أربع لا يضرك بأيهن بدأت: سبحان الله، والحمد لله، ولا إله إلا الله، والله أكبر**" (١) رواه مسلم

ترجمه: الله تعالى ته د خبرو څخه څلور غوره دي، ضرر دي ونه رسوي تاته په کوم يو چې دی شروع وکړله، چې هغه (**سبحان الله، او الحمد لله، او لا إله إلا الله، او الله أكبر**) ويل دي.

او همدا راز په صحيح مسلم کښې د سعد بن أبي وقاص ﷺ څخه روايت دی چې دا وائي: يو باندچې پيغمبر ﷺ ته راغی نو وويل: ماته يوه خبره راوښايه چې زه يې وايم، نو پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: "**قل لا إله إلا الله وحده لا شريك له الله أكبر كبيراً والحمد لله كثيراً، وسبحان الله رب العالمين، ولا حول ولا قوة إلا بالله العزيز الحكيم**".

---

(١) إمام مسلم په کتاب الأدب، باب كراهة التسمية بالأسماء القبيحة وبنافع، کښې په دی نمبر/٢١٣٧ روايت کړی دی.

ترجمة: ووايه ځي نشته لائق د عبادت مګر يواځي يو الله تعالى دي، چې شريك ورسره نشته دي، الله تعالى لوي دي په لويوالي سره، او الله تعالى لره ډير زيات حمدون هاو ثناء صفتونه دي، او پاكي ده هغه ذات لره چې پالونكي دي د ټولوو مخلوقاتو، او نشته راګرځيدل د بديو څخ هاو نه قوت په عبادتك ولو مګر د الله تعالى له طرفه، چې غالبه او حكمتونو والا دي.

نو هغه وويل: اى د الله رسول ﷺ دا ټول خو زما د رب لپاره دي؛ نو زما لپاره څه دي؟ نو نبي ﷺ ورته وفرمايل: "**قل: اللهم اغفر لي وارحمني واهدني وارزقني**" (١).

ترجمه: وايه: اى الله زما ګناهونه معاف كړه او پر ما مهرباني وكړه، او ماته هدايت وكړه، او ماته روزي راكړه.

او همدا راز نبي ﷺ فرمايلي: "**الباقيات الصالحات: سبحان الله، والحمد لله، ولا إله إلا الله والله أكبر، ولا حول ولا قوة إلا بالله**" (١).

---

(١) مسلم په كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء، كښې په دى نمبر/٢٦٩٢ روايت كړى دى.

ترجمه: الباقيات الصالحات دغه راتلونکي دي: **سبحان الله، او الحمد لله، او لا إله إلا الله، او الله اکبر، او لا حول ولا قوة إلا بالله دي.**

دا حديث نسائي روايت کړی دي، او ابن حبان او إمام حاکم ورته صحيح ويلي دي، د أبو سعيد الخدري ﷺ څخه يې روايت کړی دي.

او همدا رانګه نبي ﷺ فرمايلي: **"ما عمل ابن آدم عملاً أنجا له من عذاب الله من ذكر الله"** (٢).

ترجمه: بني آدم هيڅ يو عمل نه کوي چې هغه ډير خلاصونکي وي دی لره د الله تعالی د عذاب څخه مګر د الله تعالی ډير يادونه او ذکرونه.

دا حديث ابن أبي شيبة او الطبراني په حسن سند سره د معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت کړی دی.

---

(١) إمام أحمد بن حنبل په مسند المكثرين، مسند أبي سعيد الخدري ﷺ ،کښې په دی نمبر/١١٣١٢ روايت کړی دی.

(٢) الطبراني په المعجم الكبير کښې په دی نمبر (١٢٢/٢) روايت کړی دی.

او معاذ بن جبل ﷺ وائي چې نبي ﷺ فرمايلي: "**ألا أخبركم بخير أعمالكم وأزكاها عند مليككم، وأرفعها في درجاتكم، وخير لكم من إنفاق الذهب والفضة، وخير لكم من أن تلقوا عدوكم فتضربوا أعناقهم ويضربوا أعناقكم؟ قالوا: بلى يا رسول الله، قال: ذكر الله**"[1].

ترجمه: آيا خبر درنه کړم په بهتره اوصفا ستره عملونو ستاسي د بادشاه په نيزد، او ډير پورته کونکي ستاسي مرتبو لره، او ډير بهتره دی تاسو لره د سرو او سپينو زرو د خرچه (صدق) کولو څخه، او بهتره دی تاسو لره ددی څخه چې تاسو د دشمن سره مخامخ شئ، او تاسو د هغوي څټونه ووهئ، او هغوي ستاسو؛ نو صحابه کرامو په ځواب کښې وويل: هو همداسي ده ای د الله تعالی پيغمبر ﷺ مونږ ته خبر راکړه، نو هغه ورته وفرمايل: چې دا د الله تعالی ذکر دی.

---

(۱) ترمذي په کتاب الدعوات، باب منه، کښې په دی نمبر/۳۳۷۷، او ابن ماجة په کتاب الأدب، باب فضل الذكر ،کښې په دی نمبر/۳۷۸، او إمام أحمد په مسند الأنصار، حديث معاذ بن جبل، کښې په دی نمبر/۲۱۰۲۵ روايت کړی دی.

دا حديث إمام أحمد او ترمذي او ابن ماجة په صحيح سند سره روايت كړى دى.

او نبي ﷺ فرمايلي:"**لا يقعد قوم يذكرون الله عزوجل إلا حفتهم الملائكة وغشيتهم الرحمة ونزلت عليهم السكينة وذكرهم الله فيمن عنده**" (١).

ترجمه: نه كښيني يو قوم چې د الله تعالى ذكر كوي، مګر ملائكي ورڅخه ګرد چاپيره وي، او رحمت راپټ كړي وي دوي لره، او نازليږي پر دوي اطمئنان او تسلي، او الله تعالى به يادوي دوي په هغه چا كښې چې هغه سره وي.

داحديث إمام مسلم د أبوهريرة اوأبوسعيدالخدري څخه روايت كړى دى.

او نبي ﷺ فرمايلي: "**من قال لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير عشر مرات كان كمن أعتق أربعة أنفس من ولد إسماعيل**" (١).

---

(١) مسلم په كتاب الذكر والدعاء، باب فضل الاجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر، كښې په دى نمبر/ ٢٧٠٠ روايت كړى دى.

ترجمه: چا چې دا (دعاء) (لا إله إلا الله وحده لا شريك له . .) تر اخره پوري لس (۱۰) ځلي وويله نو داسي دی لکه دی چې څلور (۴) نفسونه د إسماعيل عليه السلام د اولادی څخه ازاد کړي وي.

داحديث بخاري او مسلم دأبوأيوب الأنصاري رضي الله عنه څخه روايت کړی دی.

او په بخاري او مسلم کښې د أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دي چې دا وائي نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "من قال لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير في يوم مائة مرة كانت له عدل عشر رقاب، وكتبت له مائة حسنة ومحيت عنه مائة سيئة، وكانت له حرزاً من الشيطان يومه ذلك حتى يمسي، ولم يأت أحد بأفضل مما جاء به إلا رجل عمل أكثر من ذلك، ومن قال:

---

(۱) بخاري په كتاب الدعوات، باب فضل التهليل، كښې په دی نمبر/ ۵۹۲۵، او مسلم په كتاب الذكر والدعاء، باب فضل التهليل والتسبيح، كښې په دی نمبر/۲۶۹۳ روايت کړی دی.

سبحان الله وبحمده في يوم مائة مرة حطت خطاياه ولو كانت مثل زبد البحر" (١).

ترجمه: چا چې دا (دعاء) **(لا إله إلا الله وحده لا شريك له. . . على كل شيء قدير)** په ورځ كښې سل (١٠٠) ځلي وويله، نو وي به دى لره په برابر د لسو (١٠) غلامانو، او سل (١٠٠) نيكې به ورلره وليكل شي، او سل (١٠٠) بديانې به ورڅخه لرى (محوه) كړل شي، او د شيطان څخه به ورلره ساتندوي وي په دغى ورځ كي تر څو چې بيګاه كړي، او هيڅوك به له دى څخه په ډير بهتره عمل راتګ ونه كړي مګر هغه سړى چې له دى څخه يې دغه (دعاء) ډيره وويله، او چا چې (سبحان الله والحمد لله) په ورځ كښې سل (١٠٠) كرتي وويل؛ نو ګناهونه به ترينه ورژيږي اګر كه د درياب د زګونو هومره وي.

---

(١) بخاري په كتاب الدعوات، باب فضل التهليل، كښې په دى نمبر/٥٩٢٤، او مسلم په كتاب الذكر والدعاء، باب فضل التهليل والتسبيح، كښې په دى نمبر/٢٢٩١ روايت كړى دى.

او په بخاري او مسلم کښې د نبي ﷺ څخه روايت دي چې فرمايلي دي: "**كلمتان خفيفتان على اللسان حبيبتان إلى الرحمن، ثقيلتان في الميزان، سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم**" (۱).

ترجمه: دوه کلمي دي چې په ژبه ډيرې آساني دي، او رحمان ذات ته ډيري محبوبي دي ، او په تله (د أعمالو کښې) ډيرې درنې دي چې هغه: سبحان الله وبحمده، او سبحان الله العظيم دي.

او ترمذي او نورو په حسن سند سره له أبو سعيد او أبو هريرة رضي الله عنهما څخه روايت کوي چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "**ما قعد قوم مقعداً لم يذكروا اسم الله فيه عزوجل ولم يصلوا على النبي ﷺ إلا كان عليهم ترة فإن شاء عذبهم وإن شاء غفر لهم**" (۲).

---

(۱) بخاري په کتاب الدعوات، باب فضل التسبيح، کښې په دې نمبر/ ۲۴۰۲، او مسلم په کتاب الذکر والدعاء، باب فضل التهليل والتسبيح، کښې په دې نمبر/ ۲۲۹۴ روايت کړې دی.

(۲) ترمذي په کتاب الدعوات، باب ما جاء في القوم يجلسون ولا يذکرون الله، کښې په دې نمبر/ ۳۳۰۸ او أبو داود په کتاب الأدب، باب کراهية أن يقوم الرجل من مجلسه ولا يذکر الله، کښې په دې نمبر/ ۴۲۱۵ روايت کړې دی.

ترجمه: نه کيښنې يو قوم په يو ځای دکيښناستلو کښې چې د الله تعالی ذکر (يادونه) ورپکې ونه کړي، او په نبي ﷺ درود شريف ونه وائي مګر دا به له دوي لپاره د نقصان سبب وي، نو که د الله تعالی خوښه شوه دوي ته به عذاب ورکړي، او که خوښه يې شو نو بخنه به ورته وکړي.

عائشه رضي الله عنها وائي: " نبي ﷺ به د الله تعالی ذکر په هر وقت کښې کاوو "[1]. دا حديث مسلم روايت کړی دی.

د أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي: "**ما اجتمع قوم في بيت من بيوت الله يتلون كتاب الله ويتدارسونه بينهم إلا نزلت عليهم السكينة وغشيتهم الرحمة وحفتهم الملائكة وذكرهم الله في من عنده، ومن بطأ به عمله لم يسرع به نسبه**"[2] رواه مسلم.

ترجمه: نه راجمع کيږي يو قوم په يو کور د کورونو د الله تعالی کښې چې د الله تعالی د کتاب تلاوت کوي، او په خپل

---

(١) مسلم په کتاب الحيض، باب ذكر الله تعالى في حال الجنابة وغيرها، کښې په دی نمبر/٣٧٣ روايت کړی دی.

(٢) مسلم په کتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب فضل الاجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر کښې په دی نمبر/٢٦٩٩ روايت کړی دی.

منځ کښې يو بل ته يې زده کړه کوي مګر نازليږي پر دوي باندي د زړه اطمئنان، او راپټوي دوي لره رحمت، او ګرد چاپيره ترينه ملائکي وي، او الله تعالى يې يادوي د هغه چا په مجلس کښې چې هغه سره وي، او څوك چې خپل عمل ورسته کړو نو نسب يې نشي مخکي کولى.

او په بخاري او مسلم کښې (چې لفظ د مسلم دى) د أبو بکر الصديق ﷺ څخه روايت دى چې دى نبي ﷺ ته وويل: اى د الله تعالى رسول ﷺ ماته يوه دعاء راوښايه چې زه پرې لمونځ او کور کښې دعاء غواړم، نو هغه ورته وفرمايل: وايه: "**اللهم إني ظلمت نفسي ظلماً كثيراً ولا يغفر الذنوب إلا أنت فاغفر لي مغفرة من عندك وارحمني إنك أنت الغفور الرحيم**" (١).

ترجمه: أي الله تعالى ما پر خپل ځان ډير زيات زياتى او ظلم کړى دى، او ګناهونه نه بخښي (بل څوك) مګر ته يې بخښې،

---

(١) بخاري په کتاب الأذان، باب الدعاء قبل السلام، کښې په دى نمبر/٨٣٤، او مسلم په کتاب الذکر والدعاء. . . باب استحباب خفض الصوت بالذکر، کښې په دى نمبر/٢٧٠٥ روايت کړى دى.

نو ماته بخښنه وکړه ستا له طرفه، او پر ما مهرباني وکړه، بيشکه چې بخښونکي او مهربان ذات يې.

او د نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "**الدعاء هو العبادة**" (۱).

ترجمه: دعاء همدا عبادت دی.

دا حديث ترمذي او نسائي أو أبو داود او ابن ماجه په صحيح سند سره روايت کړی دی.

عبد الله بن عمر ﷺ وائې چې رسول الله ﷺ به فرمايل: "**اللهم إني أعوذبك من زوال نعمتك، وتحول عافيتك، وفجاءة نقمتك، وجميع سخطك**" (۲).

---

(۱) ترمذي په کتاب تفسير القرآن، باب ومن سورة البقرة، کښې په دی نمبر/۲۹۶۹، او أبو داود په کتاب الصلاة، باب الدعاء، کښې په دی نمبر/۱۴۷۹، او ابن ماجة په کتاب الدعاء، باب فضل الدعاء، کښې په دی نمبر/۳۸۲۸ روايت کړی دی.

(۲) مسلم پ کتاب الذکر والدعاء والتوبة، باب أکثر أهل الجنة الفقراء، کښې په دی نمبر/۲۷۳۹ روايت کړی دی.

ترجمه: ای الله تعالی زه پناه غواړم پر تا باندې ستا د نعمت د لرې کیدو څخه، او د سلامتیا د اوړیدلو څخه، او ستا د ناڅاپي کړاوونو او عذابونو څخه، او ستا د ټول قهر او غضب څخه.

دا حدیث إمام مسلم روایت کړی دی.

اوعبد الله بن عمر رضي الله عنهما وائي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "**اللهم إني أعوذبك من غلبة الدين وغلبة العدو وشماتة الأعداء**" (۱).

ترجمه: ای الله زه پناه غواړم پر تا با ندي د قرض دغلبي څخه، او د دشمن د زورورتیا څخه، او د دشمن د خوشحالی څخه پر ما باندي.

دا حدیث إمام نسائي روایت کړی دی، او إمام حاکم ورته صحیح ویلي دي.

بریدة رضي الله عنه وائي چې نبي ﷺ د یو سړي څخه واوریدل چې ویل یې: **اللهم إني أسألك بأني أشهد أنك الله لا إله إلا أنت الأحد الصمد**

---

(۱) نسائي په کتاب الاستعاذة، باب الاستعاذة من غلبة الدين، کښې په دی نمبر/**۵۴۷۵** روایت کړی دی.

الذي لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفواً أحد، فقال رسول الله ﷺ: "لقد سأل الله باسمه الذي إذا سئل به أعطى، وإذا دعي به أجاب" (١).

ترجمه: ای الله زه ستا څخه سؤال کوم په دی چې زه ددی ګواهي کوم چې ته الله يې چې نشته دی لائق د عبادت مګر يواځی ته يې، او بې نيازه يې هغه ذات چې نه دی څوك زيږولی دی، او نه ته چا زيږولی يې، نشته تا لره هيڅ سيال.

نو رسول الله ﷺ وفرمايل: په تحقيق سره د الله تعالى څخه يې په هغه نوم غوښتنه وکړله، کله چې پرې د هغه څخه غوښتل وشي نو ورکړه کوي، او کله که پرې د هغه څخه دعاء وکړل شي نو قبلوي يې.

أبو هريرة ﷺ وائې چې رسول الله ﷺ به فرمايل: **"اللهم أصلح لي ديني الذي هوعصمة أمري وأصلح لي دنياي التي فيها معاشي،**

---

(١) أبو داود په کتاب الصلاة، باب الدعاء، کښې په دی نمبر/١٤٩٣، او ترمذي په کتاب الدعوات، باب ما جاء في جامع الدعوات عن النبي ﷺ، کښې په دی نمبر/٣٤٧٥، او ابن ماجة په کتاب الدعاء، باب اسم الله الأعظم، کښې په دی نمبر/٣٨٥٧ روايت کړی دی.

وأصلح لي آخرتي التي فيها معادي، واجعل الحياة زيادة لي في كل خير، واجعل الموت راحة لي من كل شير" [1] رواه مسلم.

ترجمه: اى الهي! الله ته ماته ما لره زما دين صحيح کړی، کوم چې په هغه کښې زما ساتنه او بچوالی وي، او زما لپاره زما هغه دنيا صحيح کړی چې په هغې کښې زما زندګي وي، او زما آخرت ما لره صحيح کړی کوم ته چې زما واپسي وي، او زما ژوند په هر خير کښې سبب د ډيروالي وګرځوی، او زما مرګ زما لپاره د هر شر څخه آرام وګرځوي.

د أبو موسى الأشعري ﷺ څخه روايت دی چې وائې نبي ﷺ دعاء کوله: **"اللهم اغفر لي خطيئتي وجهلي وإسرافي في أمري، وما أنت أعلم به مني، اللهم اغفرلي جدي وهزلي وخطئي وعمدي، وكل ذلك عندي، اللهم اغفر لي ما قدمت وما أخرت وما أسررت وما أنت**

---

(١) مسلم په کتاب الذكر والدعاء، باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل، کښې په دی نمبر/ ٢٧٢٠ روايت کړی دی.

أعلم به مني، أنت المقدم وأنت المؤخر، وأنت على كل شيء قدير"[1]. متفق عليه.

ترجمه: اى الله! بخښنه وكړى ماته زما د خطايانو او نا پوهى، او زما په كار كښې زما إسراف، او د هغه څه معافي وكړى چې ته پرى زما څخه ډير خبر يې، الهي! ماته بخښنه وكړى زما د (ګناهونو) او ټوقو ټقالو، او زما د خطائي او قصدي (ګناهونه)، او ټولو هغو څه چې ما كړى دي، الهي! زما هغه ګناهونه وبخښى چې ما مخكې كړي دي، او وروسته مي كړي وي، او كه په پټه مي كړي وي، او كه ښكاره مي كړي وي، او هغه ګناهونه چې ته پر هغى له ما څخه ښه خبر يې، او ته مخكې كونكي يې، او ته وروسته كونكي يې، او ته په هر شي د قدرت والا يې.

---

(١) بخاري په كتاب الدعوات، باب قول النبي ﷺ: اللهم اغفر لي ما قدمت وما أخرت، كښې په دى نمبر/٢٣٩٨، او مسلم په كتاب الذكر والدعاء، باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل، كښې په دى نمبر/٢٧١٩ روايت كړى دى.

أنس ﷺ وائي چې نبي ﷺ به فرمايل: "**اللهم انفعني بما علمتني وعلمني ما ينفعني وارزقني علماً ينفعني**"[1] رواه النسائي والحاكم.

ترجمه: أي الهي! فائده راورسوی ماته په هغه څه چې ماته دی راښودلي دي، او هغه څه راوښايه چې فائده رارسوي ماته، او ماته د فائدي رسولو پوهه راکړی.

أبو هريرة ﷺ وائي: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې فرمايل يې: "**والله إني لأستغفر الله وأتوب إليه في اليوم أكثر من سبعين مرة**" [2]. بخاري روايت کړی دی.

ترجمه: قسم په الله دی چې زه د الله تعالی څخه په ورځ کښې د اويا ځلو څخه ډيره بخښنه غواړم، او توبه ورته وباسم.

---

(۱) ترمذي په کتاب الدعوات، باب العفو والعافية، کښې په دی نمبر/۳۵۹۹ روايت کړی دی.

(۲) بخاري په کتاب الدعوات، باب استغفار النبي ﷺ، کښې په دی نمبر/۶۳۰۷ روايت کړی دی.

ابن عمر رضي الله عنهما وائي: مونږ به د رسول الله ﷺ لپاره په يو مجلس کښې سل (۱۰۰) ځل دا قول د هغه شمارلو (**رب اغفر لي وتب علي إنك أنت التواب الغفو**)[۱] رواه أبو داود والترمذي وقال حديث حسن صحيح.

ترجمه: اى ربه زما! ماته بخښنه وکړى، او زما توبه قبوله کړى ؛ دا ځکه چې بيشکه همدا ته توبه قبولونکي او بخښونکي يې.

د شداد بن أوس رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**سيد الاستغفار أن يقول العبد: اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت خلقتني وأنا عبدك، وأناعلى عهدك ووعدك ماستطعت، أعوذ بك من شرما صنعت، أبوء لك بنعمتك علي، وأبوء بذنبي فاغفرلي فإنه لايغفر الذنوب إلا أنت**" [۲] رواه البخاري.

---

(۱) أبو داود په کتاب الصلاة، باب في الاستغفار، کښې په دى نمبر/۱۵۱۲ ،او ترمذي په کتاب الدعوات، باب ما يقول إذا قام من المجلس، کښې په دى نمبر/۳۴۳۴ روايت کړى دى.

(۲) بخاري په کتاب الدعوات، باب فضل الاستغفار، کښې په دى نمبر/۶۳۰۶ روايت کړى دى.

ترجمه: لوي او غوره د بخښنې غوښتلو هغه دا ده چې بنده ووائي: ای الله! ته زما پروردیګار یې، بغیر له تا څخه د عبادت مستحق نشته، تا زه پیدا کړی یم، او زه دی بنده یم، او زه د خپل توان سره ستا پر عهد او وعده ولاړ یم، او زه پر تا د خپلو کارونو له شر څخه پناه غواړم، او زه ستا په هغه نعمت إقرار کوم چې ماته دی راکړی دی، او په خپله ګناه إقرار کوم، نو ماته بخښنه وکړه، او بغیر له تا څخه هیڅوک ګناه نشي بخښلی.

فصل

د سبائي او بيګائي ذكرونو په بيان كښې

د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي: "**من قال حين يصبح وحين يمسي سبحان الله وبحمده مائة مرة لم يأت أحد يوم القيامة بأفضل مما جاء به إلا أحد قال مثل ما قال، أو زاد عليه**" [1] رواه مسلم.

ترجمه: چا چې د سبائي او بيګائي وخت كښې: سبحان الله وبحمده، سل (۱۰۰) ځله وويلو، نو هيڅ يو كس به په ورځ د قيامت ددی څخه په څه بهتره شي راتګ ونكړي د هغه څخه چې دی پری راتګ كړي دی، مګر هغه كس چې ددی په شان او يا يې ترينه زيات سبحان الله وبحمده ويلي وي.

عبد الله بن مسعود ﷺ وائي نبي ﷺ به چې كله بيګاه كړلو نو فرمايل به يې: "**أمسينا وأمسى الملك لله والحمد لله، لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، رب**

---

(۱) مسلم په كتاب الذكر والدعاء، باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء، كښې په دی نمبر/۲۲۹۲ روايت كړی دی.

أسألك خير ما في هذه الليلة وخير ما بعدها، وأعوذبك من شر هذه الليلة وشر ما بعدها، رب أعوذبك من الكسل وسوء الكبر، رب أعوذبك من عذاب في النار وعذاب في القبر"، او کله چې به يې سباء کړو نو همدغه (أذکار) به يې ويل (**أصبحنا وأصبح الملك لله**) [1] رواه مسلم.

ترجمه: بيګاه کړو مونږ، او بادشاهي هم الله تعالى لره بيګاه کړو، او ټول ثناء او صفت خاص الله تعالى لره دي، نشته دی لائق د عبادت مګر یواځی یو الله تعالى دی چې شریك نه لري، دی لپاره بادشاهي او ثناء او صفت دي، او همدا په هر شي باندی قدرت والا دی، ای زما ربه د هغه څه خیر غواړم چې په دی شپه کښې دي، او ددی څخه وروسته وي، او پر تا د هغه شر څخه پناه غواړم چې په دی شپه کښې دي، او یا ددی څخه وروسته وي، ای زما ربه زه پناه غواړم پر تا د ناراستی او د

(۱) مسلم په کتاب الذکر والدعاء. . . ، باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم یعمل، کښې په دی نمبر/۲۷۳۳ روایت کړی دی.

بدتره ډير عمر څخه، اى زما ربه زه پناه نيسم پر تا د اور عذاب څخه، او د عذاب څخه په قبر كښې.

او كله چې به يې سباء كړو نو دغه (أذكار) به يې ويل، او دا به يې ورپكي وويل: مونږه سهار كړو او بادشاهي هم الله لره سهار كړو.

د شداد بن أوس ﷺ څخه روايت دى چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "**سيد الاستغفار:"اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت، خلقتني، وأنا عبدك، وأنا على عهدك ووعدك ما استطعت، أعوذبك من شر ما صنعت، أبوء لك بنعمتك علي، وأبوء بذنبي فاغفرلي، فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت" قال:"ومن قالها من النهار موقنًا بها فمات من يومه قبل أن يمسي فهومن أهل الجنة، ومن قالها من الليل وهو موقن بها فمات قبل أن يصبح فهو من أهل الجنة**" [1] رواه البخاري.

---

(١) بخاري په كتاب الدعوات، باب فضل الاستغفار، كښې په دى نمبر/٢٣٠٦ روايت كړى دى.

ددی حدیث د (سید الاستغفار) څخه تر (لا إله إلا أنت) پورې ترجمه مخکې تیره شوې ده[1].

او نبي ﷺ د دی دعاء په باره کښې وفرمایل: که چا د ورځې وویله د زړه د یقین څخه او په دغې ورځ مړ شو مخکې له دی چې بیګاه شي پرې؛ نو د جنتیانو څخه دی، او چا چې د شپې وویله د زړه له یقین څخه او د سباء راختلو څخه مخکې مړ شو نو دا د جنتیانو څخه دی.

عبد الله بن حبیب رضي الله عنه وائي: مونږ د باران په توره تیاره شپه کښې د نبي ﷺ په لټون پسې ووتلو؛ ددی لپاره چې مونږ له د جمع لمونځ وکړي، نو مونږ پیدا کړو؛ نو وویل: **"قل، فلم أقل شيئاً، ثم قال: قل، فلم أقل شيئاً، ثم قال: قل، فقلت يا رسول الله ما أقول؟ قال: قل: ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ والمعوذتين حين تمسي وحين تصبح ثلاث مرات تكفيك من كل شيء"** [2].

---

(۱) صفحة نمبر ۵۱۲ وګوره.

(۲) ترمذي په کتاب الدعوات، باب في انتظار الفرج وغير ذلك، کښې په دی نمبر/۳۵۷۵ او أبو داود په کتاب الأدب، باب ما يقول إذا أصبح، کښې په دی نمبر/۵۰۸۲ روایت کړی دی.

أبو داود او ترمذي او نسائي په حسن سند سره روايت کړی دی.

ترجمه: "ووايه نو ما هيڅ ونه ويل، بيا يې وويل: ووايه، نو ما هيڅ ونه ويل، بيا يې وويل: ووايه: نو ما وويل: ای د الله رسول ﷺ څه ووايم؟ نو وفرمايل: ﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ﴾ او معوذتين، يعني ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ۝١ ﴾ او ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ ﴾ سورتونه دری دری ځلي ووايه کله چې بيګاه او سباء کوي، نو د هر شي څخه درته کافي کيږي.

أبو هريرة رضي الله عنه وائي چې نبي ﷺ به خپلو صحابو ته تعليم ورکولو نو ورته فرمايل به يې: "**إذا أصبح أحدكم فليقل: اللهم بك أصبحنا وبك أمسينا وبك نحيا وبك نموت، وإليك النشور، وإذا أمسى فليقل: اللهم بك أمسينا وبك أصبحنا وبك نحيا وبك نموت وإليك المصير**" (١).

---

(١) أبو داود په کتاب الأدب، باب ما يقول إذا أصبح، کښې په دی نمبر/٥٠٦٨، او ترمذي په کتاب الدعوات، باب ما جاء في الدعاء إذا أصبح وإذا أمسى، کښې په دی نمبر/٣٣٩١ روايت کړی دی.

دا حديث أبو داود او نسائي او ترمذي او ابن ماجة روايت کړی دی، او د أبو داود او بن ماجة په نيزد يې سند صحيح دی.

ترجمه: کله چې يو کس ستاسو سبا کړي نو ودی وائې: الهي! (ستا په حکم) مونږ سهار کړو او (ستا په حکم) مونږ مابنام کړو، او (ستا په حکم سره) ژوند کوو، او (ستا په حکم سره) مړه کيږو، او تا لره بيا درتګ (ژوندي کيدل) دي، او کله که ورباندي بيګاه شي نو ودی وائې: الهي! (ستا په حکم) مونږ بيګاه کړو، او (ستا په حکم سره) مو سهار کړو، او (ستا په حکم) ژوند کوو، او (ستا په حکم سره) مړه کيږو، اوستا طرف ته درګرځيدل دي.

د أبو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې أبو بکر الصديق ﷺ وويل: ای د الله رسول ﷺ! ماته په داسی کلماتو حکم وکړه چې زه کله سبا او بيګاه کړم چې زه يې وايم، نو ورته يې وفرمايل: وايه: "**اللهم فاطر السماوات والأرض عالم الغيب والشهادة، رب كل شيء ومليكه، أشهد أن لا إله إلا أنت، أعوذبك من شر نفسي وشر**

الشيطان وشركه، وأن أقترف على نفسي سوءاً أو أجره إلى مسلم، قال: قلها إذا أصبحت وإذا أمسيت وإذا أخذت مضجعك" [1].

دا حديث إمام أحمد او أبوداود او ترمذي او نسائي او بخاري په الأدب المفرد كښې په صحيح سند سره روايت كړي، ا ودا لفظ د أحمد او بخاري دى.

ترجمه: الهي! د أسمانونو او ځمكو پيداكونكيه، او په پټو او ښكاره عالمه (خبرداره) پالونكيه او واكمنه زه ګواهي وركوم چې بغير له تا ځخه د عبادت مستحق نشته، زه په تا سره د خپل نفس د شر ځخه او د شيطان د شر او شرك ځخه پناه غواړم، او له دى ځخه پناه غواړم چې زه بدي وكړم، اويا (بل) مسلمان ته بدي ورسوم.

بيا يې ورته وفرمايل: دا وايه كله چې دى سهار كړو او مابنام كړو، او بستره كښې ځملاستلى.

---

(١) أبو داود په كتاب الأدب، باب ما يقول إذا أصبح، كښې په دى نمبر/٥٠٦٧، او ترمذي په كتاب الدعوات، باب منه، كښې په دى نمبر/٣٥٢٩ او أحمد په مسند العشرة المبشرين بالجنة، مسند أبي بكر الصديق ﷺ كښې په دى نمبر/٨٢ روايت كړى دى.

عثمان بن عفان ﷺ وائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "**ما من عبد يقول في صباح كل يوم ومساء كل ليلة: بسم الله الذي لا يضر مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم، ثلاث مرات لم يضره شيء**" (۱).

دا حديث إمام أحمد او ترمذي او ابن ماجة روايت کړی دی، او ترمذي وائي حسن صحيح دی.

ترجمه: کجوم يو بنده چې د هری ورځی په سهار او د هری شپی په مابنام دا (دعاء): "**بسم الله الذي لا يضر مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم**" شروع کوم په نوم د الله تعالی هغه ذات چې د هغه د نوم سره ضرر نشي رسولي هيڅ يو شي، نه په ځمکه کښې او نه په أسمان کښې او هغه د هر څه اوريدونکي دي، او په هر څه پوهه دی. - يعني تر اخره پورې- دری کرته ووائي نو هيڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي.

---

(۱) ترمذي په کتاب الدعوات، باب ما جاء في الدعاء إذا أصبح وإذا أمسى، کښې په دی نمبر/۳۳۸۸، او ابن ماجة په کتاب الدعاء، باب ما يدعو به الرجل إذا أصبح وإذا أمسى، کښې په دی نمبر/۳۸۶۹ روايت کړی دی.

د نبي ﷺ خدمتګار ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دی چې وائي نبي ﷺ فرمايلي: "**ما من عبد مسلم يقول: حين يصبح وحين يمسي ثلاث مرات رضيت بالله رباً وبالإسلام ديناً وبمحمد ﷺ نبياً إلا كان حقاً على الله أن يرضيه يوم القيامة**" (١).

ترجمه: هيڅوك او يا كوم بنده مسلمان نشته چې د سهار او مانښام په وخت كښې درى ځلي دا ووائي (**رضيت بالله ربا وبالإسلام دينا وبمحمد ﷺ نبيا**) مګر په الله تعالى باندي حق دي چې هغه به په ورځ د قيامت خوشحاله كوي.

دا حديث إمام أحمد او أبو داود او ابن ماجة په حسن سند سره روايت كړى دى، او په دى لفظ أحمد روايت كړى دى، خو ده ورپكى د ثوبان نوم نه دى ذكر كړى، او ترمذي په خپل روايت كښې د ثوبان نوم ذكر كړى دى، او نسائي په خپل كتاب: **عمل اليوم والليلة** كښې د أحمد په لفظ روايت كړى دى.

---

(١) ترمذي په كتاب الدعوات، باب ما جاء في الدعاء إذا أصبح وإذا أمسى، كښې په دى نمبر/٣٣٨٩، او أبو داود په كتاب الأدب، باب ما يقول إذا أصبح، كښې په دى نمبر/٥٠٧٢ روايت كړى دى.

او په صحيح مسلم كښې د أبو سعيد الخدري ﷺ څخه روايت دى چې نبي ﷺ فرمايلي: "من رضي بالله رباً وبالإسلام ديناً وبمحمد نبياً، وجبت له الجنة" (١).

ترجمه: څوك چې په (كارسازى) د الله تعالى او د إسلام په دين او د محمد ﷺ په پيغمبرى راضي شو نو هغه لپاره جنت واجب شو.

او همداراز په صحيح مسلم كښې د عباس بن عبد المطلب ﷺ څخه روايت دى چې نبي ﷺ فرمايلي: "ذاق طعم الإيمان من رضي بالله رباً وبالإسلام ديناً وبمحمد رسولاً" (٢).

ترجمه: د إيمان خوږوالى هغه څوك څكلى شي چې په (كارسازى) د الله تعالى او د إسلام په دين او د محمد ﷺ په رسالت او پيغمبرى راضي شي.

---

(١) مسلم په كتاب الإمارة، باب بيان ما أعده الله للمجاهدين في الجنة، كښې په دى نمبر/١٨٨٤ روايت كړى دى.

(٢) مسلم په كتاب الإيمان، باب الدليل على أن من رضي بالله رباً... فهو مؤمن وإن ارتكب المعاصي الكبائر، كښې په دى نمبر/٣٤ روايت كړى دى.

د أنس بن مالك ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي: "**من قال حين يصبح أو يمسي: اللهم إني أصبحت أشهدك وأشهد حملة عرشك وملائكتك، وجميع خلقك، بأنك أنت الله لا إله إلا أنت وحدك لا شريك لك، وأن محمداً عبدك ورسولك، أعتق الله ربعه من النار، ومن قالها مرتين أعتق الله نصفه من النار، ومن قالها ثلاثاً أعتق الله ثلاثة أرباعه من النار، فإن قالها أربعاً أعتقه الله من النار**" (١).

ترجمه: څوك چې سهار او يا مابنام کړي ا ودا (دعاء) ووائي: الهي! بيشکه ما سهار کړو، او تا ګواه کوم او د عرش بارووونکي (ملائکي) ګواه کوم، او ستا ملائکي، او ټول مخلوقات ګواه کوم چې بيشکه همدا ته الله تعالى يې، چې نشته مستحق د عبادت مګر يواځې ته يې، چې شريك نه لري، او دا (ګواهي) چې محمد ﷺ ستا بنده او پيغمبر دی.

نو الله تعالى به يې څلورمه برخه د اور څخه ازاده کړي، او که چا دا (دعاء) دوه ځلی وويله نو الله تعالى به يې نيمائي برخه

---

(١) أبو داود په کتاب الأدب، باب ما يقول إذا أصبح، کښې په دی نمبر/٥٠٦٩ روايت کړی دی.

د اور څخه ازاده کړي، او که چا دری ځلی وویله نو الله تعالی به يې دری برخي د اور څخه ازادی کړي، او که چا څلور ځلی وویله نو الله تعالی به يې ټول د اور څخه ازاد کړي.

داحدیث أبوداود په حسن سند سره روایت کړی دی، اونسائي په خپل کتاب: **عمل اليوم والليلة** کښې په حسن سند سره روایت کړی دی په دی لفظ "**من قال حين يصبح: اللهم إني أشهدك وأشهد حملة عرشك وملائكتك وجميع خلقك أنك أنت الله لا إله إلا أنت وحدك لا شريك لك، وأن محمداً عبدك ورسولك، أعتق الله ربعه ذلك اليوم من النار، فإن قالها أربع مرات أعتقه الله ذلك اليوم من النار**" (١).

د عبد الله بن غنام ﷺ څخه روایت دی چې نبي ﷺ فرمایلي: "**من قال حين يصبح: اللهم ما أصبح بي من نعمة أو بأحد من خلقك فمنك وحدك لا شريك لك، فلك الحمد ولك الشكر، فقد أدى شكر يومه ومن قال ذلك حين يمسي فقد أدى شكر ليلته**" (٢).

---

(١) نسائي په کتاب عمل اليوم والليلة، کښې (١٣٨/١) روایت کړی دی.

(٢) أبو داود په کتاب الأدب، باب ما يقول إذا أصبح، کښې په دی نمبر/٥٠٧٣ روایت کړی دی.

دا حديث أبو داود او نسائي په كتاب: عمل اليوم والليلة كښې په حسن سند سره روايت كړی دی، هم په دی لفظ خو "حين يمسي" ورپكي نه دی ذكر كړی، او ابن حبان د نسائي په لفظ د ابن عباس ځخه روايت كړی دی.

ترجمه: څوك چې سهار كړي اودا (دعاء) ووائي: الهي! كوم نعمت چې ماته اويا ستا بل كوم مخلوق ته د سهار په وخت رسيدلي نو هغه يواځي ستا له طرفه دي، تا لره شريك نشته نو تا لره ټول او غوره ستاينه او شكر دی.

نو ددغی ورځی شكر يې أداء كړو، او چا چې دا (دعاء) د مانښام په وخت كښې وويله نو ددغی شپی شكر يې أداء كړو.

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وائي: چې نبي ﷺ به دا دعاء ګانی سهار او مانښام هميشه لپاره لوستلي: "**اللهم إني أسألك العافية في الدنيا والآخرة، اللهم إني أسألك العفو والعافية في ديني ودنياي وأهلي ومالي، اللهم استر عوراتي وآمن روعاتي، اللهم احفظني من**

بين يدي ومن خلفي وعن يميني وعن شمالي، ومن فوقي وأعوذ بعظمتك أن أغتال من تحتي" (١).

دا حديث إمام أحمد او أبو داود او نسائي روايت كړی دی، او حاكم ورته صحيح ويلي.

ترجمه: الهي! زه له تا څخه په دنيا او أخرت كښې سلامتيا غواړم، الهي! زه له تا څخه په خپل دين او دنيا او خپل أهل او مال كښې معافی او سلامتيا غواړم، الهي! زما عيبونه پټ كړی، او ويره ترهه راڅخه لري كړی، الهي! ما د مخی او له شا او ښي اړخ او چپ اړخ څخه او له بره طرفه محفوظ كړی، او زه ستا په لويې سره له دی څخه پناه غواړم چې د لاندی طرفه ناڅاپي هلاك شم.

أبو هريرة ﷺ وائي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: **"من قال لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء**

---

(١) أبو داود په كتاب الأدب، باب ما يقول إذا أصبح، كښې په دی نمبر/٥٠٧٤ روايت كړی دی، او إمام أحمد په مسند المكثرين من الصحابة، مسند عبد الله بن عمر ﷺ كښې په دی نمبر/ ٤٧٧٠ روايت كړی دی.

قدير، من قالها عشر مرات حين يصبح كتب الله له مائة حسنة، ومحا عنه مائة سيئة، وكانت له عدل رقبة، وحفظ بها يومئذ حتى يمسي، ومن قالها مثل ذلك حين يمسي كان له مثل ذلك" (١).

إمام أحمد داحديث په مسند كښې په حسن سند سره روايت كړى دى.

ترجمه: څوك چې دا (دعاء) **"لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير"** كله چې سهار كړي لس ځلي ووائي نو الله به ورله پري سل (١٠٠) نيكيى وليكي، او سل (١٠٠) بدياني به ورڅخه ختمي كړي، او د يو غلام (ازادولو) په برابر والي به ورله وي، او دده ساتنه به كيږي په دغى (دعاء) سره تر څو چې مانښام كړي، او څوك چې مانښام كړي او دغه رنګه دعاء ووائي نو همدغه رنګ بدله به يې وي.

أبو هريرة ﷺ وائي چې نبي ﷺ فرمايلي: **"من قال إذا أمسى ثلاث مرات: أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق لم تضره حمة تلك الليلة"**(١)

---

(١) إمام أحمد په مسند المكثرين، كښې د أبو هريرة ﷺ څخه په دى نمبر/٨٥٠٢ روايت كړى دى.

إمام أحمد او ترمذي په حسن سند سره روایت کړی دی.

ترجمه: څوك چې مانښام کړي او دری ځلي دا ووائي: "د الله تعالی په کامل او پوره کلماتو سره د هغه د مخلوقاتو له شر څخه پناه غواړم؛ نو په هغه شپه کښې به (د زهر ناکو خزندو) زهر ورته څه ضرر ونه رسوي، او (الحمة) د زهرجنو خزندو زهرو ته وائي، لکه لړم او مار او داسي نور.

په صحیح مسلم کښې د خولة بنت حکیم رضي الله عنها څخه روایت دی چې نبي ﷺ فرمایلي: **"من نزل منزلاً فقال: أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق، لم يضره شيء حتى يرتحل من منزله ذلك"**(٢).

ترجمه: څوك چې په یو ځای کښې کیښني (دمه وکړي) او دا (دعاء) ووائي: د الله تعالی په کامل او پوره کلام سره د هغه د

---

(١) ترمذي په کتاب الدعوات، باب الاستعاذة، کښې په دی نمبر/٣٩٢٢، او إمام أحمد په باقي مسند المكثرين، مسند أبي هريرة رضي الله عنه کښې په دی نمبر/٧٨٣٨ روایت کړی دی.

(٢) مسلم په کتاب الذكر والدعاء. . . باب التعوذ من سوء القضاء، کښې په دی نمبر/٢٧٠٨ روایت کړی دی.

مخلوقاتو له شر څخه پناه غواړم، نو هیڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي تر څو چې له دغه ځای څخه ولاړ شي.

عبد الله بن عبد الرحمن بن أبزی ﷺ د خپل پلار څخه روایت کوي چې نبي ﷺ به کله سهار او مانښام کړو نو ویل به یې: **"أصبحنا على فطرة الإسلام، وعلى كلمة الإخلاص، وعلى دين نبينا محمد ﷺ، وعلى ملة أبينا إبراهيم حنيفاً مسلماً وما كان من المشركين"** (۱)

إمام أحمد په مسند کښې په صحیح سند سره روایت کړی دی.

ترجمه: مونږ دإسلام په فطرت او په کلمه د إخلاص او په دین د محمد ﷺ او په طریقه زمونږ د پلار إبراهیم عليه السلام سهار کړو، چې حق ته مائل وو، او له مشرکانو څخه نه وو.

دعبد الرحمن بن أبي بكر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې هغه خپل پلار ته وویل: ای پلاره زه ستا څخه اورم چې هرسهارته دا

---

(۱) إمام أحمد په مسند المكثرين کښې د عبد الرحمن بن أبزی الخزاعي، نه په دی نمبر/۱۴۹۳۵ روایت کړی دی.

(دعاء) غواړی: "**اللهم عافني في بدني، اللهم عافني في سمعي، اللهم عافني في بصري لا إله إلا أنت**".

ترجمه: الهي! ماته په بدن کښې روغتیا راکړی، الهي! ماته په غوږونو کښې روغتیا راکړی، الهي! ماته په سترګو کښې روغتیا راکړی، بې له تا څخه بل د عبادت مستحق نشته.

چې دری دری ځلی یې وائې کله چې سهار او مانښام کړی، او دا وائې: "**اللهم إني أعوذ بك من الكفر والفقر، وأعوذ بك من عذاب القبر لا إله إلا أنت**" (١).

ترجمه:الهي! زه په تاسره له کفر اوغریبی څخه پناه غواړم، اوپه تا سره د قبرله عذاب څخه پناه غواړم، بغیرله تا څخه بل د عبادت مستحق نشته.

چې دری دری ځلی یې وائې، کله چې سها راو مانښام کړی، نو ځواب یې راکړو: هو! ای بچوړیه، بیشکه ما د نبي ﷺ څخه

---

(١) أبو داود په کتاب الأدب، باب ما يقول إذا أصبح، کښې په دی نمبر/٥٠٩٠ ،او أحمد په اول مسند البصريين، کښې د ،بو بکرة ﷺ څخه په دی نمبر/١٩٩١٧ روایت کړی دی.

اوريدلي دي چې په دى سره يې دعاء غوښتله، او زه دا خوښوم چې د هغه په سنت طريقه روان شم.

دا حديث إمام أحمد او هم بخاري په الأدب المفرد كښې روايت كړى دى، او أبوداود او نسائي په حسن سند سره روايت كړى دى.

او هر مسلمان سړي او مسلماني ښځى ته مستحب دي چې د هرى ورځى په سهار سل (١٠٠) ځلى دا ووائي: "**لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير**".

تر څو د شيطان څخه په دغى ورځ كښې په أمان وي تر د مانښام پورى، له دى كبله چې مخكې په بخاري او مسلم كښې د أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت وو چې نبي ﷺ فرمايلي: "**من قال لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، في يوم مائة مرة كانت له عدل عشر رقاب، وكتبت له مائة حسنة، ومحيت عنه مائة سيئة، وكانت له حرزاً من الشيطان يومه ذلك حتى يمسي، ولم يأت أحد بأفضل مما جاء به إلا رجل**

عمل أكثر من ذلك، ومن قال: سبحان الله وبحمده في يوم مائة مرة حطت خطاياه ولو كانت مثل زبد البحر" (۱).

ترجمه يې مخکې ذکر شوی ده (۲).

---

(۱) بخاري په کتاب الدعوات، باب فضل التهليل، کښې په دی نمبر/۵۹۲۴، او مسلم په کتاب الذکر والدعاء، باب فضل التهليل والتسبيح، کښې په دی نمبر/۲۶۹۴ روایت کړی دی.

(۲) ترجمه يې په صفحه نمبر ۵۲۷ کښې تيره شوې ده.

فهرست

م	موضوع	مخ
١	د مترجم وړاندیز (سریزه)	١
٢	د علمي كميټې سریزه.	٣
٣	د إسلامي فقهي أهميت بيان.	٤
٤	صحيح عقيده او د هغې متقابل او منافي شيان.	٢٠
٥	دهغه چاپه حكم مضبوط دليلونه قائمول چې دالله تعالى څخه بغير بل چاته فريادونه اوچغې كوي،اويا د نجوميانو اوپالګرو تصديق كوي. او په ديكي دري رسالي دي:	٦٥
٦	أوله رساله: په نبي ﷺ باندي د مدد او كومك غوښتلو په حكم كښې ده	٦٩
٧	دوهمه رساله: پيريانواوشيطانانوته دفرياد او چغو وهلو اوهغوي لپاره دمنختو (نذرونو) كولو دحكم په بيان كې ده	٩٢
٨	دريمه رساله:په بدعي او شركي وظيفوسره د بندګي كولو د حكم په بيان كښې ده .	١٢١
٩	دبدعاتوڅخه ځان ساتنه (كركجني) او په دي كښې څلور رسالي دي	١٥٣

	أوله رساله: د پیغمبر ﷺ یا د نور چا د پیدا ئښت د ورځې په مناسبت دمحفلونو جوړولو د حکم په بیان کښې ده.	
۱۰	دوهمه رساله: دمعراج د شپې درناوی او په دغه مناسبت د خاصو مراسمو ترسره کولو د حکم په بیان کښې ده.	۱۷۱
۱۱	دریمه رساله: دشعبان (برات) دمیاشتی دپینځلسمې شپې د خاص درناوي او عبادت لپاره د همدغی شپې د تخصیص اوتعین په هکله د شرعي حکم په بیان کښې ده	۱۸۱
۱۲	څلورمه رساله: د مسجد نبوي خادم شیخ أحمد ته د دروغو منسوب وصیت په باره کښې مهم خبرداری.	۲۰٤
۱۳	د کوډو او جادو اودی دواړو سره تعلق لرونکو شیانو حکم.	۲۲٥
۱٤	په قبرونو د مسجدونو جوړولو څخه دځان ساتنې بیان	۲٤٥
۱٥	په مسجدونو کښې مړي خخول دشرك یوه وسیله ده.	۲٥۳
۱٦	لمونځ او د هغه أهمیت.	۲٥۷
۱۷	د پیغمبر ﷺ د لمانځه طریقه.	۲۷۲
۱۸	د مریض د لمانځه أداء کولو طریقه.	۲۹۳

١٩	د رمضان المبارك د مياشتي د روژو نيولو او تراويح کولو فضيلت او د ځني مهمو أحکامو بيانول يې چې کيداى شي ځني خلکو ته ښکاره او څرګنده نه وي.	٣٠٠
٢٠	په حج او عمره کښې غوره کړى شوي علمي مسئلې.	٣٢٣
٢١	باب دي: د ميقاتونو په بيان کښې.	
٢٣	په إحرام کښې د ممنوع شيانو بيان.	٣٤٢
٢٤	باب الفدية.	٣٤٦
٢٥	باب دي: په حرم کښې د ښکار د حکم په بيان کښې.	٣٤٨
٢٦	باب دى: مکي ته د ننوتلو دحکمونو په بيان کښې.	٣٥٠
٢٧	دحج اوعمري کولودطريقي بيان	٣٥٨
٢٨	باب الزيارة.	٣٨٠
٢٩	باب الفوات والإحصار: باب دى په بيان د حج او عمري فوت کيدلو او منع والي کښې.	٣٨١
٣٠	باب دى: د هدي او قرباني کولو په بيان کښې.	٣٨٢
٣١	دحج په مقررتيا کې حکمت او دهغه فائدي او حکمونه.	٣٨٧
٣٢	مهمي څيړنې او بحثونه.	٤١٩
٣٣	تحفة الأخيار ببيان جملة نافعة مما ورد في الكتاب والسنة من الأدعية والأذكار.	٤٤٦

٣٤	فصل دی: د پنځه وخته لمونځونو د سلام ګرځولو څخه وروسته د مستحبو ذکرونو په بیان کښې.	٤٥٩
٣٥	فصل دی: د هغو ذکرونو او دعاګانو په بیان کښې چې دآذان په وخت اودآذان څخه وروسته یې ویل مستحب دي	٤٦٤
٣٦	فصل: سلام کول اود هغه جواب ورکول،او پرنجي کونکي ته دعاء کول کله چې الحمد لله ووائي، او د مریض پوښتنې کولو د مستحب والي بیان.	٤٧٠
٣٧	فصل: د خوراك او څښاك په شروع او انتهاء کښې د مستحبو ذکرونو او دعاء ګانو بیان.	٤٨٧
٣٨	فصل: هغه ذکر اودعاء چې دخوب اود خوب څخه د بیداري په حالت کښې یې ویل مستحب دي	٤٨١
٣٩	د الله تعالی د ذکر او د ستاینې او د ﴿لا إله إلا الله﴾ او د هغه د پاکي بیانولو او دعاء فضیلت.	٤٩٤
٤٠	فصل: د سبائي او بیګائي ذکرونو په بیان کښې.	٥١٣
٤١	فهرس الموضوعات.	٥٣٣